

اغراض الجامي

پښتو شرحه

د ملاجامي

(كامله معرب)

افادات:
شيخ عطاء الرّحمن مدظله العالى
صدر مدرس تعليم القرآن باره گيټ پشاور

مرتب:
مولانا وحيد الله حقانى
مدرس تعليم القرآن باره گيټ پشاور

جديد مكتبه رشيديه
قصه خوانى بازار محله جنگى پشاور
091-2580074

کفایت اللہ ابن صدیق
ٹیلی گرام واٹس نمبر
+923247442395
+923052488551

کفایت pdf واٹس ایپ ٹیلی
گرام چینل دینی کتب خانہ

الصرف ام العلوم و النحو ابوها

اغراض الجامی

پښتو شرح

شرح جامی

افادات

حضرت شیخ عطاء الرحمن مدظله العالی
صدر مدرس تعلیم القرآن باړه گیټ پشاور

مرتب

مولانا وحید الله حقانی
مدرس تعلیم القرآن باړه گیټ پشاور

ناشر

مکتبه رشیدیه

جی ټی روډ سردار پلازه اوړه خټک ضلع نوښهره

د کتاب نوم اغراض الجامی پښتو شرح شرح جامی

افادات مولانا عطاء الرحمن مدظله العالی

ترتیب مولانا وحید الله حقانی صاحب

ضخامت ۳۸۴

ستینګ بختور شاه آفریدی

زیری نګرانی مولانا سید محمد حقانی

د طباعت تاریخ رمضان ۱۴۳۵ھ / جولائی ۲۰۱۴

ناشر

مکتبه رشیدیه

جی، ٹی روڈ سردار پلازه اکوڑه خټک ضلع نوشهره

۰۳۴۴-۹۰۸۴۲۹۳

د کتاب ترلاسه کولو ځایونه

(۱) جلال آباد	(۴) پروان	(۷) کابل	(۱) پشاور
(۲) خوست	(۵) کندوز	(۸) قندهار	(۲) اکوړه خټک
(۳) غزنی	(۶) بغلان	(۹) لوګر	(۳) کوئټه

د مضامینو فهرست

بسم الله الرحمن الرحيم

د نحو لغوی معنی او وجه تسمیه

الحمد لله وحده و الصلوة والسلام على من لانبى بعده اما بعد

په دي سبق کښي دوه خبري پیژندل ضروري دي . (۱) مغنی لغوی د نحوی او وجه دتسمیي. معنی لغوی یي تقریباً اته دی، (۱) په معنی ده قصد سره لکه عرب وائی نحوت هذانحواً ای قصدت هذا قصداً (۲) په معنی دمثل سره : لکه هذا نحوه ای مثله. (۳) په معنی د طرف سره : لکه نحوالبیت . (۴) په معنی د نوع او قبسم سره لکه علی اربعة انحاء ای انواع . (۴) په معنی د فصاحت سره : لکه ما احسن نحوك فی الکلام ای فصاحتك وبلاغتك فی الکلام .(۵) په معنی د اړولو سره لکه نحوت بصری الیك ای صرفت بصری الیك .(۲) په معنی د لاری سره لکه هذا النحو السوی، (۸) په معنی د حفاظت سره : کما في قول علی ﷺ یقول الله یوم القیامة للملئکة فی حق النحویین نحوه من النار کما نحو کلامی من الخطاء .

وجه دتسمیي: دینه مخکښی موجد پیژندل پکار دی . اول قول د ابوبکر انباری دي چه په ۳۲۸ ھ کښي وفات شوي دي. دي وائی چه موجد دنحو حضرت عمر ﷺ دي . دي وائي چي یو اعرابي راغي هغه دا اوویل چه (ان الله بری من المشرکین ورسوله) پکار خو دا وه چه ورسولُهُ یي وئیلی وي په لفظ د الله ﷻ یي عطف کړي وي. خو ده په لفظ د المشرکین عطف کړو نو حضرت عمر ﷺ ابو الاسود دولی ته امر وکړو چي څه قواعد وضع کړه. ابو الاسود دولی په ۷۹ ھ کښي وفات شوي دي .

(۲) دویم قول دادي چي موجد یي حضرت علی ﷺ دي یو اعرابی راغي او هغه د (لا یاکله الا الخاطئون) پرځاي لا یاکله الا الخاطئین) وویل . نو حضرت علی ﷺ ابو الاسود دولی ته امر وکړو چي څه قواعد وضع کړه نو هغه قواعد وضع کړل .

(۳) دریم قول دادي چي دابو الاسود دولی یوه لور وه هغي داسې ووئیل چي (ما احسن السماء) نو ده ورته ووئیل چه نجومها نو هغي ورته اووئیل چي زه تپوس نه کوم بلکه تعجب کوم نو ابو الاسود ورته اووئیل چي بیا (ما احسن السماء) وایه نو بیا د دي واقعي نه بعد دهٔ څه قواعد دنحو وضع کړل بهر حال هغه اولني قواعد دا وو

چي الکلام کله اسم وفعل وحرف. فا الاسم ما أنبا، عن المسمیٰ . والفعل ما أُنبیٔ به والحرف ما افاد المعنی . نو حضرت علی رضی الله عنه ورته اووئیل چي ما احسن هذا النحو الذی نحوته داي وجه د تسمیي شوه. خو دلته نحو په معنی دلاري سره راځی، د ابو الاسود الدولی شاګردان میمون الاقرن، عبد الله ابن اسحاق الخضرمی. عیسی ابن عمر الثقفی . چی وفات یي په ۱۴۹ ﻫ کښي شوي دي. بل شاګرد یي ابو عمرو بن العلاء دي چي په ۱۵۴ ﻫ کښي وفات شوي دي. ابو عمر عیسی ابن عمر الثقفی دوه کتابونه لیکلي دي یو جامع او بل اکمال او امام خلیل رحمه الله د ده شاګرد وو دي یو خپل خپل شعر کښي وائي

بطل النحو جمیعاً کله | غیر ما احدیث عیسی ابن عمر
ذاك اکمال وهذا جامع | فهما للناس شمس وقمر

او خلیل بیا دغه دوه کتابونو ته ترتیب هم ورکړو دخلیل شاګرد سیبویه دي مشهور مصنفین جار الله زمخشری عقیده کښي معتزلي وو او په فروعو کښي حنفی دي ، دده کتاب المفصل دي ۵۳۸ ﻫ کښي وفات شوي دي . دویم شاګرد یي مشهور مصنف هغه ابو عبد الله محمد بن مالك دي دده کتاب الفیه لابن مالك ده دا ټول اشعار دي ۶۷۲ ﻫ کښي وفات شوي دي .

(۳) مشهور مصنف هشام ابن مالك وو د ده کتاب اوضح المسالك الی الفیه لابن مالك او بل دده کتاب په نحو کښي مشهور په مغنی اللبیب وو

د مصنف حالات

دمصنف ځیني حالات: خپل نوم ئي عبد الرحمان . لقب ئي عما الدین یا نور الدین او کنیت ئي ابو البرکات دي . د پلار نوم یي احمد او دنیکه نوم یي محمد دي، نو نسب یي داسي شو . عبد الرحمن بن احمد بن محمد . او په نسب کښي امام محمد ته رسیږی . دا په ایران کښي دا سفهان وو دمحلي نوم دشت وو، دي وجه نه ورته دشتی هم وائي . د یو حادثي دوجي نه جام نومی ځاي ته راغي. ځکه ورته جامی وائي دده پیدائش ۲۳ شعبان ۸۱۷ کښي شویدي، ابتدائی کتابونه ئي د خپل پلار نه وئیلی

وو. په استاذانو کښې ئې میر سید سند او تفتازاني راځي ، او دي شاعر هم وو. دي وجه نه د نبی ﷺ په صفت کښې ئې ډیر نعتونه وئیلي دی. او په تصوف کښې هم ډیر مشهور نوم لري . یوځلي ئې خوب ولیده په خوب کښې ورته اووئیل شول چې اتخذ حبیباً یهدیك، نو په هندوستان کښې یو پیر وو عبید الله احرار هغه ته د بیعت دپاره روان شو. هلته چه ورسیدو نو ګوري چې یوه غټه قافله را روانه وه ده هغوی سره اوښان هم وو . نو ده د اوښانو تپوس وکړو. چه دادچا دي نو خلکو ورته په خواب کښې اووئیل چې داد عبید الله احرار دي . دي سخت خفه شو او ځان سره یې اووئیل چې تا خو هسې ځان په تکلیف کړو هلته یې په دیوال باندې دا شعر اولیکه چې «نه آنکس که دنیا را دوست دارد» بیرته خپل ځاي ته راغي بیا په خوب کښې ګوري چې دقیامت ورځ ده او دا هم ډیر وار خطا وو نو عبید الله احرار په مخه ورغي. دي یې ده لاس نه ونیولو ورته وائې چې څرنګه وار خطا یې راځه ما سره . نو چې را پاڅیدلو نو بیا ډیر خفه شو چې ته خو هسې راغلي نو بیا ورغي او ورسره ملاؤ شو او عبید الله احرار صاحب ته اووئیل چې اول ما ماف کړه بیا به درته نوره قصه اوکړم . پیر صاحب ورته اووئیل چې هله به دي معاف کړم چې دغه نیم بیتی راته پوره کړې. عبد الرحمان صاحب ورته اووئیل چې نه دا به راته تاسو وائې . هغه بیا ورته دا شعر اووئیلو چې "اګر دارد برای دوست دارد" د عبد الرحمان صاحب ډیر مشهور اشعار دی بیا دا په ۱۸ محرم په ۸۹۸ ه‍ کښې په هرات کښې وفات شو. بیا په دغه ځاي دبل چا تسلط راغي نو د ده ځوئ ضیا الدین یوسف ددشمنانو د ویرې نه ددې ځاي څخه منتقل کړو اوس ئې د قبر پوره معلومات نه کیږي ، ټول تصنیفات ئې څلور پنځوس ۵۴ دي او دجامی په ابجد کښې حساب هم ۵۴ راځي ، په ټولو کښې مشهور هغه شرح جامی ده دي ته خدای لوي مقام هم ورکړي دي چې دهغه وخت نه تر اوسه پورې په مدارسو کښې تدریس کیږي ددي ۲۶ شپږ ویشت شروح دی . مشهوره شرح ئې عبد الغفور ده او دا ددې نه هم ګران کتاب دي . او شرح جامی در شارح هندی او شارح رضی نه ماخوذ ده. او د شارح هندی نوم شهاب الدین دولت آبادی دي په ۸۴۸ ه‍ کښې وفات شوي دي. ځوئ دپاره لیکلي وو د عبد الغفور د شرح په باره کښې یو شاعر داسي وئیلي دی ،

مخ دي شارح دشرملا دي خال دي غفور دي ګرانوی عبارتونه

په الف لام کښی مذاهب

الحمد لوليه

په الحمد کښي پنځه خبري دی، (١) وجه د ايراد دحمد. (٢) الف لام. (٣) معنى د حمد. (۴) وجه د اختيار ددي جملي (۵) معنى ددي جملي.

١ : د ايراد دحمد وجه خو مشهوره ده او ډيره تيره شوي ده.

د حمد معنى او وجه تسميه، تشريح

٢ : په الف لام کښي دري مذهبه دی. (١) صاحب کشاف جار الله زمخشري فرمائي چي دلته الف لام دپاره د جنس دي يعني جنس حمد الله ﷻ لپاره ثابت دی. الف لام جنسي دي ته وائي چي حکم شوي وی په طبعيت باندي قطع نظر د لحاظ افرادو نه لکه په منطق کښي الانسان نوع، نو يو انسان خو نوعه نده يا. الرجل خير من المراة. ديته په منطق کښي قضيه طبعيه وائی. دويم قول د محققين لکه علامه تفتازانی فرمائي چي دلته الف لام دپاره استغراق دي. الف لام استغراقی دي ته وائي چي حکم وشی په ټولو افرادو باندي نو معني به داسي شی چه هر فرد دافرادو دحمد دا ثابت دي الله ﷻ لره دي ته په منطق کښي قضيه موجبه کليه مسوره بحرف السور وائي، پدي دواړو قولينو باندي اعتراض واريديږي. هغه دا چه که هر فرد د افرادو د حمد شی نو هر فرد د افرادو د حمد خوالله ﷻ لره ندي ثابت لکه ښائسته پکي يا ښه موټر او داسي نور (لسان نه مراد مبدء دتعبير ده لهذا اعتراض نه وارديږی چه حمد د الله ﷻ ترينه خارج شو يا مراد زمونږه خاص حمد دي چه هغه حمد د انسان دي، او که الف لام جنسي شی نو جنس خو په يو فرد کښي هم متحقق کيږی. ددي اعتراض جواب: داټول صفات الله ﷻ ته ثابت دی حالاوی او که مالاوی نو حالاخو انسان دا پکي جوړ کړي دي او انسان الله ﷻ جوړ کړي دي بيا آخر رجوع الله ﷻ ته کيږی. شعر

حمد را با توست نسبت درست بر هر در که رفت بر در توست.

٣ : دريم قول دا دي چي الف لام عهد خارجی دي. الف لام عهدي خو

معهود غواړی فَأَيْنَ المعهود . **جواب** : مراد د حمد نه هغه صفتونه دي چه هغه مختص وي الله ﷻ پوري دي ته د منطقيانو په اصطلاح کښي قضيه موجبه جزئيه وائي.

د حمد او شکر تعريف

۳ : دريمه خبره معنیٰ دحمد ، ۱ : محققين وائی چه حمد شکر او مدحه يو شئ دي . ۲ : بعضي وائي چه حمد عبارت دي د هو الثناء با للسان على الجميل الاختيارى سواء كان بمقابله النعمة او لا با اللسان سره شکر خارجه شوه ځکه شکر عام دي ، هغه په جوارحو سره هم وی او على الجميل سره سخريه خارجه شوه او د اختيارى سره مدحه خراجه شوه ځکه مدحه عامه ده غير اختيارى هم وی نو حمد خاص شو په اعتبار د مورد سره او عام دي په اعتبار دمتعلق سره ۳ : شکر په لغت کښي فعل شئ من تعظيم المنعم لکونه منعماً . شکر عام شود په اعتبار دمتعلق سره خاص دي ځکه چي دا صرف په مقابله د نعمت کښي وي نو دحمد او د شکر په مابين کښي نسبت دعموم او خصوص من وجه دي يوه ماده د اجتماع او دوه مادي د افتراق غواړي ، مدحه صفت کول دي په هغه صفاتو سره چه د محمود په اختيار کښي نه وی لکه عرب وائي مدحت اللؤ لؤ على صفائها يا مدحت زيداً على حسنه ۴ : وجه د اختيار ددي جملي ،

اعتراض : مصنف ولی مخالفت وکړو دنورو کتابونو نه .

جواب : يو وجه دا ده چي مصنف اشاره کوی دي ته چي داحمد زما تقليدي ندي بلکه دا زما د زړه نه دي نو ددي وجي نه ئي جمله بدله کړه . دويمه وجه دا وه چي دمتوهم دا وهم رانشی چي حمد صرف الحمد لله وئيل وي په خوله باندي که د زړه نه وي او که نه وي خو نه مصنف وائي چه هر لفظ وي خو چه دزړه نه وی.

قاعده کليه

قاعده: کله چي حکم وشی په يو مشتقی باندي نو مبدء داشتقاق علت وی ددي حکم لکه اکرم هذا العالم نو عالم مشتقی دي حکم ئي اکرام دي نو مبداء داشتقاق علم دي نو دا علت او باعث دحکم دي چي اکرام دي نو دريمه وجه دا ده چي دلته دعوی سره ددليلهٔ نده بخلاف الحمد لله لکه الله ﷻ فرمائي - يا ايها الناس اعبدوا ربکم- حکم د عبادت دي او علت او دليل د حکم هم شته دي. چه هغه ربکم دي

او دي ته منطقيان قضايا قياستها معها وائي . څلورمه خبره معنی د جملی د الحمد لوليه هر فرد د افرادو نه حمد دهر حامد نه په هره زمانه کښي چه وی ثابت دي الله ﷻ لره په دي کښي دري تعميمات او يو تخصيص راغي د حذف د فاعل نه نو دلته فاعل ځرنګه راغي دا خو جمله فعليه په تجدد او تحدث دلالت کوی نو موئږ جمله اسميه کړه . دپاره د دلالت د استمرار او د دوام . فعل فاعل مو حذف کړو حمداً نکره پاتي شو په الف لام سره مو معرفه کړو ،دريم تعميم حذف دفعل نه راغي چه فعل حذف شو نو زمانه هم حذفه شوه نو زمانه غير معينه شوه . لوليه خاص الله ﷻ لره دا تخصيص د لام د لوليه نه راغي ځکه لام دپاره دتخصيص دمعني دحمد دي . د "ولی" څلور معنی دي " ولی " په معني د لائق . په معني د محبت . په معني د متصرف . په معني د قريب، خو دلته اوله معني مراد ده لائق د حمد لپاره چه الله ﷻ دي حمد هغه لره دي . دويم الله ﷻ دوست دحمد دي

د صلوة معنی او تشريح

والصلوٰة على نبيه: ضمير راجع دي "ولی" ته په صلوة کښي دري خبري دي (۱) وجه دايراد دصلوة (۲) معني لغوي ، (۳) ما هو المراد من الصلوة :

۱ : اوله وجه د ايراد يا ايها الذين آمنوا صلوا عليه الخ . ۲ : معني لغوی د صلوة کښي اختلاف دي صلوة جار الله زمخشری فرماني تحريك الصلوين ته وائی بيا ددي معني نه را نقل شو نوم شو دپاره د ارکان مخصوصه مناسبت دادي چه لمانځه کښي هم تحريك الصلوين کيږي ، ۲ : دويم جمهور وائی چه صلوة په لغت کښي دعا ته وائی بيا را نقل شو ارکان مخصوصه وته ځکه لمونځ هم مشتمل دي په دي ، ۳ : ما هو المراد من الصلوة پدي کښي هغه څلور نسبته دي چه د صلوة نسبت الله ﷻ وشی مراد ترينه نزول د رحمت وي په نبی ولی دهغه باندی نبيه کښي ضمير چاته راجع دي راجح قول دادي چه راجع دي ولی ته. دويم قول دادی چی راجع دي حمد ته يعني په نبی د حمد باندي. حمد مصدر دي کله په معنی د فاعل سره وی کله په معنی د مفعول . دلته په معنی د فاعل سره دي. والصلوة علی نبی الحامد اللهم لااحصی ثناء عليك انت کما اثنيت علی نفسك او کما قال ﷺ حديث حمد مصدر دي په معنی د مفعول

سره وي والصلوة على نبى المحمود داقول ضعيف او مرجوح دي چه ضمير حمد ته راجع کړي ځکه چه حمد ته راجع شي او په معنى دفاعل يا مفعول سره شي نو اسماء الهى توقيفى دى حامد محمود پکښي نشته.

د ال معنى او تشريح

وعلى آله: ضمير نبى ته راجع دي ۱ : صيغه د آل. ۲ : ما هو المراد ، ۳: بيان ديو څو نکتو ۱: ال په اصل کښي اهل وو په دليل د اهيل سره بيا اعلال سره آل شو. ۲ : آل نه مراد يا اهل بيت دى سره د ازواج مطهرات نه رد دي په اهل تشيع باندي يا آل نه مراد کل تقى ونقى فهو آلى دي پدي الفاظو سره داحديث نشته ، ۳ : يو نکته آل او اهل مينځ کښي فرق: آل استعماليږي په اشرافو کښي برابره خبره ده. شرافت دنيوى وى او که اخروى اهل عام دي اشرافو او ارزالو دواړو کښي استمعاليږي ، دويمه نکته ئي کلمه دعلى راوړه لپاره د رد په اهل تشيع باندي ځکه هغوي د ځان نه يو روايت جوړ کړي دي " من فرق بينى وبين آلى بعلى فقد جفانى " دريمه نکته صلوة سلام په آل وائى دپاره د خوشحالي د نبى ﷺ

دصحابى تعريف او تشريح

واصحابه: (۱) : واحد ئي څه دي ، (۲): معنى د صحابى او دنبى ، (۳): بيان د **نکتي.** ۱: واحد کښي دري قوله دى. واحد ئي صاحب دي لکه اشهاد جمع د شاهد ۲ : دويم قول واحد ئي صحب دي لکه انهار جمع د نهر دي ، ۳ : دريم قول چه واحد ئي صحب دي لکه انمار جمع دنمر ده . ۴: صحابى هغه دي چي نبى ﷺ يي په حالت د ايمان کښي ليدلي وى بيا مړ وي په همدغه حالت دايمان کښى او مينځ کښي مرتد شوي نه وي ليدل عام دي حقيقتاً وي او که حکماً لکه عبد الله ابن ام مکتوم ﷺ . ۵ : که آل نه مراد هر تقى ونقى شى نو ذکر داصحابه پس د آل نه دا تخصيص بعد التعميم دي . او که آل نه مراد اهل بيت شى نو ذکر د اصحاب دا تعميم پس دتخصيص نه دي او نسبت پکښي عموم او خصوص من وجه دي آل دي صحابي دي لکه على ﷺ آل ندي صحابى دي لکه ابوبکر ﷺ آل دي صحابي ندي لکه ددي وخت سيدان

المتادبين بادابه معناه: داسي صحابه کرام ﷺ چه غايت ادب ناک وو په مثل د

جنس د ادب د نبی ﷺ باندي ،

پدي ترجمي سره دوه اعتراضه دفع شول ، اعتراض اول : المتادبين جمع ده او پدي الف لام استغراقی داخل شوي دی نو معنی شوه ټول صحابه کرام ﷺ او " بادابه " هم جمع ده نو معنی ده شوه چي ټول صحابه کرام ﷺ مؤدب وو په ټولو ادابو دنبی ﷺ باندي نو لازم شود مساوات ، دويم اعتراض دادي چي ادب خو عرض دي انتقال پکښي نه راځي ځکه انتقال داعراضو دا مستلزم دي انعدام داعراضو لره نو څنګه منتقل شو صحابه ؤ ته ؟

جواب: اول اعتراض دفع شو په قيد د جنس د ادب د نبی ﷺ سره نو الف لام جنسی دي استغراقی ندي او قرينه پدي باندي داده چه المتادبين جمع ده او آدابه هم جمع ده او جمع چه په مقابله د جمع کښي راشي نو مقصود تقسيم وی په افرادو باندي لکه عرب وائي رکبواد وابهم لبثوا ثيابهم ،

ددويم اعتراض نه جواب دادي چه مونږ قيد ولړولو چه په مثل د جنس د ادب دنبی ﷺ باندي .

بيان د اما بعد

اما بعد: دينه بعد ديباچه ده او پدي کښي عام طور سره دري خبري ذکر کيږي .

١ : اول باعث د تصنيف ، ٢ : صفت د کتاب ، ٣ : خپل نوم او دپلار نوم .

اوله خبره " بعد " د ظروفو نه دي او ددي دپاره څلور حالات دی ، وجه د حصر : که مضاف اليه ورسره ذکر وه نو پدي حالت کښي معرب او که مضاف اليه ورسره ذکر نه وه نو بيا به خالي نه وي يا به نسياً منسياً وی او يا به منوی وی که اول وو بيا به معرب او که ثاني وو بيا به خالي نه وی يا به پري تنوين وی او يا نه که تنوين پري وي نو بيا هم معرب لکه رب بعد خير من قبل او که ثاني وو نو مبنی به وی په ضمی سره .

فهذه فوايد وافية: د اما حضر په ذهن د مصنف کښي په حضور اجمالی سره کا لمحسوس فوائد وافيه دي په دي ترجمي سره دري اعتراضه دفع شو ،

اول اعتراض : هذه اسم اشاره ده مشاره اليه غواړی نو ما حضر فی ذهن المصنف ئي مشار اليه شوه

او دویم اعتراض دادي چي هذه سره اشاره مفرد ته کیږی او فوائد خو جمع ده
جواب: نو جواب ئي داده چي په حضور اجمالی سره یعني دا فوائد اجمالاً په ذهن د مصنف کښي امر واحد وګرځیدو او د دریم اعتراض دا وو چي هذه سره اشاره محسوس ته کیږی او کتاب خو محسوس ندي؟ نو جواب دادي چي دا د کمال استحضار دو جي نه کالمحسوس وګرځیدو ، فوائد جمع د فائده ده فائده وائی آنچه داده گرفته میشود از دانش ومال ، بحل مشکلات الکافیه . بحل جار مجرور متعلق دي په فوائد پوري، دا فوائد داسي دي چي پدي سره حل دمشتبهاتو د کافیه راځي ، کافیه اصل کښي صفت دي اوس نوم وګرځولي شو د پاره د کتاب او په کافیه کښي تاء درپاره دنقل دوصفیت نه علمیت ته .

پخ علامة باندی اعتراض او جواب

للعلامة: للعلامة جار او مجرور متعلق دي په صَنَّفَ پوري علامه مبالغه ده په عالم کښي او علامة دا هغه عالم ته وائی چه عالم وی په علومو نقلیه او عقلیه باندي، علامة کښي تا دپاره دمبالغي ده ،
اعتراض: چه "تا "دپاره دمبالغي شوه نو پکار ده چه د علامة اطلاق په الله ﷻ باندي وشی .
جواب: په دي کښي لږه شبهه د تانیث ده لکه څرنګه چه الله ﷻ پاك دي د تانیث حقیقی نه دارنګي د ده اسماء هم د شبهه د تانیث نه پاك دی .

شیخ چاته وائی؟

لشیخ ابن الحاجب: شیخ دا بدل د علامة نه دي نو علامة مجرور ، شیخ بوډا ته او یا ماهر فی الفن ته وائي . ماشوم چه په خیټه د مور کښي وي هغه ته جنین وائي ، او چي پیدا شی تر دوه کالو پوري هغي ته رضیع او طفل وائی او د دوه نه تر اوو کالو پوري دي ته صبی وائي، او د اوو کالو نه تر پنځلسو کالو پوري دیته مراهق وائي او دپنځلسو نه تر دیرشو یا څلویښتو پوري دي ته شاب وائي او د دیرشو نه یا څلویښتو نه تر اتیا کالو پوري دي ته شیخ وائي . او دي نه اخوا ته چي وي هغي ته کهول وائي ، ابن حاجب ئي اسم کنیه ده او لقب ئي جمال الدین دي او نوم ئي عثمان دي تولد ئي

۵۷۰ هـ کښي شوي دي او وفات ئي ۶۳۶ هـ کښي شوي دي خو دي کښي اختلاف دي.

تغمده الله بغفرانه: پټ دي کړي الله ﷻ گناهونه د ده په خاص پټولو سره دي معني سره يو اعتراض دفع شو هغه دا چي تغمدا او غفران دواړه پټولو ته وائي او بغفرانه کښي "باء" سببيه ده نو لازم شو سبب د شئ خپل نفس لره نو مونږه جواب وکړو. چي په خاص پټولو سره نو سببيت د خاص راغي عام لره، عام پټول دا چي گناهونه ورته وبخښي او خاص پټول دا چي گناهونه ئي په نيکيو سره بدل کړي، او ددي اثبات د قرآن نه هم شوي دي لکه الله ﷻ فرمائي. چي (فاولئك يبدل الله سيأتهم حسنات) او د حديث نه ئي هم اثبات شته حديث شريف کښي راځي چي بنده به الله ﷻ راولي او ورته به او فرمائي چي (اتعرف ذنبك كذا وكذا) او واړه واړه گناهونه به ورته وښائي دا بنده به اوايي چي لوي گناهونه دالله ﷻ نه هير دي، نو ددي گناهونو په بدله کښي به يوه يوه نيکي ورکړي شي نو دي به وائي چي يا الله ﷻ! ما هغه لوی لوی گناهونه هم کړي دی، دو هم جواب داده چي مونږ په دي ځائي کښي تجريد کوو تجريد دي ته وائي چي استعمال د لفظ او کړي په بعضي معني کښي لکه (سبحٰن الذی اسری بعبده ليلاً) نو دلته غفران معني پټول د گناهونو دي نو مونږه به معني داسي او کړو چي پټ د کړي الله ﷻ گناهونه د ده.

واسكنه بحبوحة جنانه: بحبوح په معني د درميان او ياد بهتر سره راځي، معني سکونت دي ورکړي الله ﷻ ده ته په درميا ن د جنت او يا په بهتر جنت کښي.

نظمتها فی سلك التقرير وسمط التحرير. (۱) دي ځاي نه اوس صفت دخپلي شرحي کوي. (۲) باعث دتصنيف ذکر کوی، (۳) خپل عزم، (۴) وجه تسميه، (۵) خپل عجز ذکر کوي نظم وائي په تار کښي دملغلرو اچول. سلك خالی تار د ملغلرو ته وائي او سمط چي ملغلري پکښي وي ددي شرح الفاظ سلك دي معاني ئي پشان دسمط دي.

للولد العزيز: باعث د تصنيف ذکر کوی، للولد جار مجرور يا متعلق دي په نظمتها پوري او يا متعلق دي په صنفتها پوري، عزيز هغه ځامنو ته وائي چي ډير کم پيدا کيږی ضياء الدين ئي لقب او نوم ئي يوسف دي.

حفظه الله سبحانه وتعالى عن موجبات التلهف والتاسف: بچ دي كړي الله ﷻ ده لره دهغه اسبابو نه چي سبب د تلهف او تاسف وی ، تلهف او تاسف دواړه غم ته وائي نو دا الفاظ مترادفه شو ، بعضي وائي چي تلهف هغه غم ته وائي چي راشی په سبب د داسي كار كولو چي ترك ئي ضروري وي لكه جواری كول او تاسف هغه غم ته وائي چي په ترك د داسي كار سره راشی چه كول ئي ضروری وی لكه لمونځ كول ، بعضي وائی چه تلهف خوف ته وائی چي مخكښي د لحوق د مكروه نه وي لكه ناكامی د امتحان او تاسف هغه حزن ته وائي چي پس دنتيجی نه وی لكه ناكامی دامتحان .

وسميتها بالفوائد الضيائيه: دلته نوم د شرح ذكر كوی ، **قاعده:** د سمی يسمی باب چه كله نسبت مفعول اول ته وشی نو معنی بيا ذكر وی لكه چه مفعول مالم يسم فاعله كښی ، او كله چي اضافت وشی مفعولين ته نو بيا په معنی د نوم ايښودلو سره راځی لكه هو " سماكم المسلمين الايه " دلته په معني د نوم ايښودلو سره راغلي دي ،

وجه تسميه د كتاب

لانه لهذا الجمع التاليف الخ: دي سره وجه د تسميه ذكر كوی او دفع د اعتراض ده د كتاب نسبت مصنف ته كيږی او تا ځوی‌ته كړيدی پكار دا وو چي تا فوائد جاميه وئيلی وی ، نو مصنف رحمه الله جواب وكړو ، چه زما ځوی دپاره دتصنيف پشان دعلت غائی دی ځكه مي نسبت ورته كړي دي .

اعتراض : جمع او تاليف يو شی دي لهذا ذكر د تاليف پس دجمع نه مستدرك يعنی بلا فائدي دي ،

جواب: جمع مطلق جمع كولو ته وائی او تاليف جمع سره د ترتيب ته وائی نو ذكر د خاص شو وروسته دعام نه ، علت په څلور قسمه دي ، وجه د حصر ، دا علت به خالی نه وي يا به داخل وی په معلول كښی او يا به خارج وی د معلول نه كه داخل وی نو بيا به خالی نه وی يا بالقوة وی او يا به بالفعل وی كه بالقوة وو نو دا علت مادی او كه بالفعل و نو داعلت صوري او كه خارج وو د معلول نه نو بيا به خالی نه وی يا به وجود ددي مقدم وی د معلوم نه او يا به مؤخر وی كه اول وو نو دا علت فاعلی او كه ثانی وو نو دا علت غائی ، دلته هم څلور علته دی خاكه دشرح جامی دا علت مادي او ترتيب

خاص دا علت صوري او مصنف علت فاعلي او خوي دا علت غائي دي.

نفعه الله تعالى بها وسائر المبتدين: د سائر دوه معني دي يو په معنى د باقي سره لكه سؤر الحمار او دويم په معنى د جميع سره لكه سور البلد. **من اصحاب التحصيل:** د خاوندانو د تحصيل نه.

د توفيق لغوى اصطلاحى تعريف

وما توفيقى الا بالله: توفيق په لغت كښي دست دادن را دركاري او په اصطلاح كښي جعل الاسباب موافقة للمطلوب بعضي عالمان پكښى قيد د خير زياتوى اود بد كار اسباب تياولو ته خذلان وائى.

وهو حسبى ونعم الوكيل الخ: قاعده: كله چې د يوي جملى عطف په بله جمله راځي نو په هغي كښى تغاير من وجه او اتحاد من وجه ضروري دي كه من كل الوجوه اتحاد وى، بيا عطف نه صحيح كيږي ځكه عطف دشئ راځي په خپل نفس باندي او كه من كل الوجوه تغاير وى نو بيا هم عطف نه صحيح كيږى ځكه عطف د يو مباين راځى په مباين آخر باندي نو اوس نعم الوكيل عطف دي په وهو حسبى باندي هو مبتدا حسبى مضاف مضاف اليه خبر ، جمله اسميه شوه نعم الوكيل فعل مدح او الوكيل ئى فاعل دي . فعل فاعل جمله انشائيه لازم شو عطف د انشاء په خبر باندي او ددي په مينځ كښي من كل الوجوه تغائر دي ځكه اخبار موجود شى وى او انشا ايجاد دمايوجد ته وائى ددي نه جواب. ۱ : اول جواب دادي چه لانسلم يعنى مونږه دا خبره نه منو چه داندي جائز ځكه دا به عطف شى دقبيلي ديوي قصي په بلي قصى باندي او داسي عطف جايز دي او مناسبت هم دواړو په مينځ كښي شته چه دواړه په مقام ددعا كښي دي.

۲ : **هو حسبى** اګر كه فلظاً خبر دي خو معنىً انشا ده ځكه مقام ددعا دي او مقام ددعا كښي ټول اخبار انشاء وي.

۳ : **نعم الوكيل** عطف دي صرف په حسبى باندي نو بيا خو عطف د جملي راځي په مفرد باندي ، جواب : حسبى په معني د يحسبنى سره دي نو عطف دانشاء په انشاء باندي راغلو يحسبنى په معني دكافي دي ما لره يعني كافى شى ماله يا الله ﷻ.

غرض دِ شارح په اعلم کښې

اعلم ان الشيخ لم يصدر رسالته هذه الخ: اغراض دشارحینو په اعلم سره څو اشیاء دي ۱ : کله غرض د شارح بیان دمذاهبو وي . ۲ : کله غرض بیان د دلائلو دمذاهبو وي ۳ : کله غرض د شارح بیان د ترجیح ماهو الراجح وي ، کله دشارح د ماتن رایه نه وي خوښه نو دهغې رد کوی، ۴ : کله په ماتن اعتراض راځي نو شارح ورسره قید ولګوی ، ۵ : کله ترتیب کښې خفا وي نو شارح ورسره قید ولګوی ، ۶ : کله ترکیب کښې خفاء وی نو شارح دهغې ازاله وکړي ، ۷: کله شارح تتمیم د متن کوی دا اغراض د شارح دي او دلته غرض دشارح دفعه داعتراض ده

اعتراض: الحمد لله دي ولې رانه وړو د قرآن حدیث او سلفو نه دي مخالفت اوکړو شارح چه "اعلم" راوړي نو ددي دري غرضه وي . ۱ : جواب دسوال کوي ، ۲ : اختلاف ذکر کوي ، ۳ : زیاتي مسئله ذکر کوي ، اعلم جواب دي د سوال مقدر نه ، دلته پنځه خبري دي ، ۱ : اعتراض ، ۲ : دفع داعتراض ، ۳ : دفع داعتراض، ۴ : جواب دخپل اعتراض نه ، ۵ : دفع داعتراض ،

ان الشيخ لم يصدر رسالته هذه بحمد الله سبحانه وتعالى: دا اعتراض شو مینځ کښې ئي قید دهذه راوړي په دي سره دفع داعتراض ده چي مصنف خو رساله کښې الحمد راوړي چي منتخب الوصول ده نو دي هذه سره اشاره کافیه ته کوی چي دیکښې ئي نده راوړي ، **بان جعله جزءً منها الخ:** دي سره د دریم اعتراض دفع ده ، اعتراض دا دي چي تا ته څه پته ده کیدي شي په خوله ئي وئیلی وي دي وائي چه مراد ددي نه چي جزء يي ندي ګرځولي ددي کتاب نه، څلورم غرض جواب دي چه هضماً لنفسه هضم هم جائزدي د هضم معني ده دنفس ماتول متعدي دي او هضم معني ده نفس ماتیدل لازمي دي ،

بتخيل ان كتابه: دا معني د هضماً لنفسه ده ، ده الحمد لله را نه وړه پدي خیال سره چي کتاب دده پشان دسلفو نه دي ، **من حيث انه كتاب الخ** : دي سره غرض دفع د **اعتراض** : اعتراض دادي چي دده کتاب پشان دسلفو ندي ولي ندي په دي کښې هم مسایل دنحوي دي . **جواب:** خلاصه داده چي ددي کتاب دوه حیثیة دي يو دا چي دا کتاب دنحوي دي نو دي حیثیت سره دسلفو نه هم مخکښې دي او بل حیثیت دا چي

زما کتاب دي او زه خلف یم دهغوي نه نو زه هغوي ته نشم رسیدي حتي یصدر به ، دا تفریع ده په منفي باندي چي کتب السلف دي نو معني داسي شو ه چي که کتاب د ده پشان دسلفو وي نو ده به مصدر کړي په الحمد لله سره په طریقو د سلفو سره. **ولا یلزم من ذلک عدم الابتداء الخ:** دي عبارت سره غرض دفع دیو **اعتراض**: او هغه دا چي ملا صاحب دا خو آسانه خبره ده چي یو سړي به مونځ نه کوی او هغه به دا وائی چه لمونځ خو یو ډیر لوئ کار دي او زه ډیر گناهگار یم نو دمصنف دا توجیه ښه نه ده ځکه چه دحدیث نه مخالفت راځي. **جواب**: نو ولا یلزم سره جواب ته اشاره ده چي حدیث کښي خو لیکل ندي راغلی بلکي لم یبدأ دي نو دا ابتدأ دري صورته دی ، ۱ : زړه کښي راتلل ، ۲ : لیکل ، ۳ : په ژبه وئیل. نو کیدي شی چه په ژبه یا په زړه کښي ئي وئیلی وي،

حتی یکون: دا تفریع ده په لا یلزم باندي معني داسي ده چي که لازمیدي د ترک د حمد نه "دُمْ بریده والی " نو زما کتاب به هم اقطع شوي وي ، **نوټ**: دلته دوه خبري د کتاب نه بهر دي : اوله خبره داده چي ده "بتخیل " اووئیلو دا لفظ د خیال ئي ولي راوړو ددي په ځاي به ځاي تعقیل وئیلی وي ددي دپاره نکته داده چي عقل تابع ده خیال دي، مثلاً یو کس په لاره روان دي نو دده قدم یوه خښته ځاي نیسی نو که دیوي خښتي دیوال وي نو عقل خو دا وائي چي داکس پري په منډه تللي شی لکین خیال ورته دا وائي چي مه ځه غورځیږي، دغه ډول دلته مصنف ته عقل وائي چي ستا کتاب دسلفو کتابانو ته نشي رسیدلي ، ځوك به ئي قبول کړي او که نه، دویمه نکته داده چي دا هضماً لنفسه مفعول له د چا د پاره دي نو داد فعل مقدر دپاره دي چي ترك التصدیر دي، ترك فعل فاعل او التصدیر مفعول به دي او هضماً مفعول له دي او دا علت وي نو هضماً لنفسه دا علت شو دپاره د ترك التصدیر ، که ځوك اووائي چي دا مفعول له د پاره د فعل مقدر گرځوي نو دفعل مذکور چي هغه لم یصدر دي ولي مفعول له نه گرځوي او نقصان پکښي هم شته

جواب: په ظاهر کښي دا مفعول له دفعل مذکوره دپاره جوړیږي خو که په جور نظر سره ورته اوگوري نو بیا نه صحیح کیږي ځکه نه صحیح کیږي چي لم یصدر کښي دوه کلمي دي یو لم دي او بل یصدر دي که دا هضماً لنفسه مفعول له د پاره د لم شی نو

لم خو حرف دي او هغه غير مستقل دي او مفعول له داد مستقل دپاره راځي ، او د دواړو نه كه مفعول له شي نو بيا هم نه صحيح كيږي او ددي عدم صحت دا بناء دي په يو قاعدي باندي ، قاعده داده چي يو فعل وي او هغه مقيد وي په يو قيد سره او دغه فعل باندي تا نفي داخله كړه نو دا نفي متوجه كيږي دغه قيد ته نو مقيد به په ځاي پاتي كيږي لكه (ما جاءني زيد راكباً) جاء فعل دي او قيد ئي راكباً دي نو نفي به متوجه وي دغه قيد ته چي راكباً دي دا قاعده اكثريه ده كليه نده ځكه قرآن كريم كښي راځي (ان الله ليس بظلام للعبيد) بظلام كښي مبالغه ده او په ظلم كښي دا مبالغه يو قيد دي نو تا پري نفي داخله كړه چي ليس دي او س داسي نشي وئيلي چي دلته نفي متوجه ده قيد ته چي مبالغه ده، نو بيا به معني داسي شي : چي الله ﷻ ډير ظالم ندي خو نعوذ با الله لږ ظالم دي، يا لكه بل ځائ كښي الله ﷻ فرمائي، (ولاتطع كل حلاف) نو تطع دا مقيد دي په حلاف سره نو دلته دا نفي متوجه نده دغه قيد ته چي حلاف دي ځكه معنى كښي بيا تغير راځي، نو اوس راځو خپل مطلوب ته نو يصدر فعل دي مقيد دي په قيد دهضماً سره پدي باندي تا "لم" داخل كړو نو قاعده خو مونږ وئيلي نو معني داسي شوه چي دا الحمد لله ئي را نه وړه د هضم دنفس دوجه نه او دا بل څه دوجه نه ئي را وړه او داندي مگر عكس المطلوب.

بيان د الكلمة

وبدا بتعريف الكلمة والكلام الخ: ددي عبارت سره غرض د مصنف دفع داعتراض ده ، ۲ : قدم الكلمة سره دفع ددويم اعتراض ده ، ۳ : توطيه او تمهيد ذكر كوي لپاره د متن.

اعتراض: مقصود په نحو كښي مرفوعات منصوبات اومجرورات دي او تا په كلمه او كلام كښي شروع اوكړه ، دا خوغير مقصود دي پكار وه چي مقصود كښي دي شروع كړي وي.

جواب: مرفوعات منصوبات او مجرورات دا احوال د كلمي دي او تا چي كلمه نه وي پيژندلي نو څنگه به يي د احوالو نه بحث وشي دموقوف عليه نه دا عين بحث وي په موقوف كښي ، كيف يبحث كښي استفهام انكاري دي معني داده چي بحث نه شي كيدي ، په "متى لم يعرفا" كښي دوه نسخي دي ، اوله نسخه داده چي داد مجردو نه

شی يعني لم يعرفا نو معني داسي شوه چي تر څو پوري معرفت د کلمي نه وي شوي تر هغي بحث نشی کيدي، او دوهمه نسخه دا ده چي د مزيدو نه شی يعني لم يعرفا نو معني داسي شوه چي تر څو پوري تعريف د کلمي نه وي شوي نو بحث په احوالو کښي نشی کيدي، پدي دواړو نسخو اعتراض وارديږي، اوله نسخه باندي اعتراض دادي چي ته معني دا واخلي چي تر څو معرفت د کلمي نه وي راغلي نو تقريب دي پوره نه شو تقريب وائي سوق الدليل علی وجه يستلزم منه المطلوب په اصطلاح دفن د مناظري کښي اوس دلته مطلوب شروع کول په تعريف کښي نو مدعي دي يوه شوه او دليل دي بل شو دعوه دي تعريف دي او دليل نه دي معرفت ثابتيږي ځکه تا د مجردو معني واخستله ، دويم شق د اعتراض دادي که دا د مزيدونه واخلي نو بيا خو دي دليل او مدعی سره يو شول دليل دي تام شو خو دا " فی نفسه " صحيح ندي ځکه معرفت بوجهها دا کافی وي په يو شی کښي د بحث کولو دپاره.

جواب: دواړه نسخي صحيح دي که د مجردو نه شی نو هم صحيح ده ځکه معرفت دا فرد دي د افرادو دتعريف نه نو چه احتياج معرفت ته راغي نو دا داسي ده لکه چي تعريف ته راغی نو دليل تام شو، دوهمه نسخه هم صحيح ده ځکه مراد دبحث نه بحث علی وجه البصيرة دي نوعلی وجه البصيرة بحث دا موقوف دي په تعريف پوري که مطلق بحث کوي نو بيا "معرفت لوجه ما" هم کافی دي.

وجه تسميه تقديم د کلمه په کلام باندی

وقدم الكلمة على الكلام الخ: دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده ،

اعتراض: کلمه ئي ولی مقدم کړه په کلام باندي سره ددينه چي کلمه مفيد دفائده تامي نده او کلام مفيد د فائده تامی دي، پکار وه چي کلام ئي مقدم کړي وي،

جواب: خلاصه د جواب داده چي کلمه مقدمه وه طبعاً نو مونږه مقدمه کړه ضوعاً دپاره ددي چي مناسبت دوضعي راشی د وطبعي سره مقدم طبعي ديته وائی چي دا مخکښي شی محتاج اليه دپاره دمؤخر او مقدم علت نه وي دپاره د مؤخر، مثلاً پلار او خوی ، نو دلته کلمه محتاج اليه ده دکلام دپاره او کلام ورته محتاج دي خو کلمه علت ندی د پاره دکلام، يو تقدم با لشرف دي لکه تقدم داستاذ په تلاميذاو باندي، يوتقدم

با لزمان دي لكه تقدم دآدم عليه‌السلام په نور اولاد خپل ، يو تقدم با لمكان دي لكه تقدم ديو كور په بل كور ، يو تقدم ذاتي دي تقدم ذاتي ديته وائي چي مقدم علت وي دپاره دمؤخر لكه تقدم دالله جلاله په صفاتو خپلو نو الله جلاله علت دي دپاره دصفاتو خپلو . " لكون افرادها جزءً " الخ :

اعتراض: افراد د كلمي خوجزء ندي افرادو دكلام نه

جواب: مفهوم اجمالي د افرادو د كلمي داجزء دي دمفهوم تفصيلي دافرادو دكلام نه ، ومفهومها جزء من مفهومه ، او مفهوم د كلمه دا جزء دي مفهوم دكلام نه او جزء مقدم دي په كل باندي طبعاً . فقال الكلمه : دي عبارت سره غرض د مصنف توطيه او تمهيد دي په الكلمة باندي داعتراض كولو .

اعتراض: " قال " فعل دي او ضمير پكښي هو دي چي راجع دي شارح ته نو هغه ئي فاعل او الكلمي ئي مرفوع ووئيله پكار وه چي الكلمة ئي منصوب وئيلى وي چي مفعول واقع شوي وي ؟

جواب: اعراب په دوه قسمه دي ، ۱ : حالي ، ۲ : حكائي ، دلته اعراب حكائي دي .

غرض دِ شارح په الكلمة كښي

الكلمة: غرض دشارح ددي عبارت نه شپږ اغراض ذكر كول دي : او هغه دا چي اول اختلاف ذكر كول دي ، دويم ديو قول ضعف ته اشاره كوي ، دريم ذكر د دليل ، څلورم اختلاف ذكر كول ، پنځم بيا دليل ذكر كول ، شپږم جواب وركوي : ددي شپږ وارو اغراضو تفصيل :

۱ : جمهور وائي چي دا اسماء برأسهما دي ، ۲ : بعضي علماء وائي چي دا مشتق دي كلمٌ يا كلِمٌ نه ، اشتقاق په لغت كښي چاودلو ته وائي او په اصطلاح كښي ان تجد بين اللفظين تناسباً في اللفظ والمعني ، دجمهورو دليل دادي چي دارو مدار د اشتقاق دا بناء دي په تكلفاتو بعيده و باندي يو تكلف دادي چي كلم په معني د جرحي سره دي او هره كلمه خو جرحه نه كوي بلكه كلمه سيئه جرحه كوي او ددي په منځ كښي هيڅ مناسبت نشته او بل تكلف دا دي چي كلمه غوڅول نه كوي ، بل دا چي جرحه سره په څه كښي مشابهت لري په حزن كښي ، نو دا ټول تكلفات دي، دويم مذهب

ضعیف دي ځکه چه مصنف په قیل سره ذکر کړیدي او اختلاف پکښي موجود دي، دلیل دبعضو دپاره هغه دا شعر دي:

جراحات السنان لها التیام   ولا یلتام ماجرح اللسان

اختلاف په لفظ کلام کښي

قیل هی الکلام: دلته مصنف هی ضمیر راوړو او کلام ئي په اسم ظاهر سره ذکر کړو ځکه چه کلمه مخکښي ذکر وه صراحتا او کلام نه وو ذکر ، والکلام جنس لاجمع، کلمه جنس او که جمع ، پدیکښي دوه مذهبه دي ۱: جمهور ، ۲: بعضي ، جمهور وائي چي دا جنس دي جمع نه ده او ددوي دپاره څلور دلائل دي، اول دلیل دادي چي تمیز دعدد اوسط مفرد نکره راځي لکه اثناعشر کلماً او مفرد نه وي مګر جنس، دویم دلیل دادي چي تصغیر ددي بنفسه کلیم راځي مفرد ته نه رد کیږي ، دریم دلیل دادي چي ددي وزن دجمعي په اوزانو کښي نشته دي څلورم دلیل دادي چي په قرآن کریم کښي راځي (الیه یصعد الکلم الطیب) الطیب صفت د کلم دي چي دا جمع ده جنس ندي جمع وائي (ما یطلق علی ثلاثة فصاعدا له مفرد من لفظه نحو مسلمون) او جنس هغه دي چي (مایطلق علي الماهیة معري عن الافراد نحو انسان ولیس له مفرد من لفظه) او ددي بعضو دپاره دلیل دادي چي ددي اطلاق په ثلاثة او په فصاعدا باندي کیږي ، دوي رد کوي په جمهورو باندي ، هغوي د اول دلیل نه جواب داسي کوي چي زه دا نه منم چي تمیز دعدد اوسط کلماً راځي بلکي کلمه راځي، او ددویم دلیل نه جواب دا کوي چي تصغیر اول رد کیږي مفرد ته یعني کلمه ته او بیا ئي تصغیر کلیم راځي ، او د دریم دلیل نه جواب دا کوي چي وزن ئي په جمعو کښي شته چي همدا وزن دي، او څلورم دلیل نه جواب دا کوي چي دا آیت مؤل دي په تاویل دبعضو سره یعني داسي دي بعض الکلم الطیب نو الطیب صفت د بعض واقع شوي او بعض مفرد دي مونږه د جمهورو به ملګرتیا کوو اول دلیل نه جواب دا کوو چي ستاسي دعوه بلا دلیله ده ځکه په کلام دعربو کښي ددي ثبوت نشته دي ، او دوهم رد نه هم جواب دادي چي ستاسي دعوه بلا دلیله ده، دریم دلیل نه جواب دادي چي دا خو مصادره علی المطلوب کوي تاسي یعني په دلیل کښي هم هغه دعوه راوړي .او څلورم رد نه جواب دادي چي

تاویل هغه وخت کیږي چي استعمال د حقیقت متعذر وي جمهور ددوي دلیل نه جواب کوی چي یو استعمال دي او بل وضع ده اصل وضع د کلمْ د مفرد تثنیي او جمعي تولو دپاره شوي ده او کله کله استعمال خلاف الوضع راځي.

اعتراض: مصنفه ! تا اول تحقیق داشتقاق وکړو او بیا دي دجنس وکړو او اوس د الف لام کوي پکار وه چي اول دي بحث د الف لام کړي وي او بیا د په نفس کلمه کښي کړي وي،

جواب: کلمه معروضه ده او الف لام عارض دي کلمي ته او معروض مقدم وي په عارض باندي.

والکلام کښي غرض دِ شارح

والکلام فیها للجنس، غرض دشارح اول تعین دالف لام دي، ۲ : تعین دتاء دي، ۳ : دریم نمبر دفع داعتراض ده ، ۴ : څلورم قول آخر ذکر کوي ؛ اول نمبر بحث دالف لام دي الف لام په دوه قسمه دي ، ۱ : اسمی، ۲ : حرفی ، الف لام اسمی هغه دي چي په اسم فاعل او اسم مفعول کښي وي نو په الکلمة کښي خو الف لام اسمي نه دي ځکه کلمه نه اسم فاعل ده او نه اسم مفعول ، او الف لام حرفي هغه دي چي ماسوا د اسمْ فاعل او اسم مفعول کښي وي خو الف لام حرفي په دوه قسمه دي ، ۱ : زائد ، ۲ : غیر زائد . زائد هغه دي چي سقوط ئي مخل نه وي معني لره ، نو دلته دا هم نه دي ځکه سقوط سره ئي نکارت دمبتداء لازمیږي، غیر زائد په څلور قسمه دي ، ۱ : جنسی ، ۲ : **استغراقی** ، ۳ : **عهد خارجی** ، ۴ : **عهد ذهنی**، دلته استغراقي هم نه صحیح کیږي ځکه چي استغراق په افرادو کښي راځي او مونږ تعریف کوو او تعریف دماهیت کیږي نه د افرادو او تعریف د ماهیت په ماهیت سره کیږي او تعریف د ماهیت په افرادو سره نه کیږي، لکه تعریف د انسان په خامر مخامخ سره نو دا خو هر شی کیدي شی، دا رنګ تعریف د افرادو په ماهیت سره نه کیږي لکه تعریف د ضیاء الحق په حیوان ناطق سره نو حیوان ناطق خو بل څوك هم کیدي شی ، او الف لام عهد خارجي هم صحیح ندي،ځکه دا په قوت د نکري کښي وي اګر چه تعریف لفظي کښي فائده ورکوي نه معنوي کښي ، نو پاتي شو جنسي نو جنسي هم نه صحیح کیږي ځکه چي جنس مقتضي دتعدد دي او دوحدت دتعدد سره منافات دي .

جواب: دلته الف لام جنسي دي او (تا) يا دپاره دتانيث ده اويا (تا) دپاره د وحدت ده.

د وحدت اقسام

والتاء للوحدة ولا منافاة بينهما الخ دي عبارت سره مصنف دا دويم غرض چي تعين د (تاء) دي او دريم غرض چي دفع د اعتراض ده ذكر كوي ، نو شارح فرمائي چي (تاء) دپاره د وحدت ده او دريم غرض دفع داعتراض ده

اعتراض: داوو چي الف لام دپاره دجنس دي او (تاء) دپاره د وحدت ده ،او ددوي دواړو په مابين كښي منافات دي .

جواب: مونږ جواب وركوو په دي الفاظو سره چي (ولامنافاة بينهما) او هغه داسي چي وحدت په څلور قسمه دي ، **وحدت جنسي** ، **وحدت نوعي** ، **وحدت صنفي** ، **وحدت فردي**، يا **شخصي** ، نو دجنس چي كوم منافات دي هغه دوحدت فردي يا شخصي سره دي نه د نورو سره او په اصطلاح داهل منطقو كښي ديته منافي غير لازم لازم غير منافي وائي ،

لجواز اتصاف الجنس بالوحدة والواحد بالجنسية الخ : د وجي دتصادق دجنس نه په وحدت باندي او دوجي دتصادق دواحد نه په جنسيت باندي،

اعتراض: دتوضيح دممثل دپاره مثال واحده كافي وي او تا دوه مثالونه ولی راوړل ؟

جواب: تصادق دا مصدر دي دباب تفاعل نه يو خاصيت ئي تشارك دي او دي سره اشاره ده طرفينو ته يعني واحد په جنسيت او جنس په وحدت باندي صادقيږي ،

ويمكن حملها على الخارجي الخ: دي عبارت سره څلورم غرض ذكر كوي چي هغه قول آخر دي، او دلته الف لام عهد خارجي هم صحيح كيږي كه څوك اعتراض اوكړي چي الف لام عهد خارجي خو معهود غواړي وههنا ليس كذالك ؟ نو جواب ورته وكړه چي كل متكلم يتكلم با صطلاحه نو مراد د كلمي نه هغه كلمه ده چي جاري وي په السنه ؤ دنحاتو باندي، مصنف رحمه الله (والتاء للوحدة) اووئيل او وروسته ئي لفظ اوويل لفظه ني او نه ووئيل لانه لم يقصد الوحدة، نو مصنف په عبارت كښي تعارض راغي ، جواب دادي چي په الكلمه كښي (تاء) دپاره د تانيث وه بيا نقل شوه د تانيث نه وحدت ته نو څكه مصنف لفظ ووئيل او لفظه ني او نه وئيل،

اعتراض: ته وائي چي معهود پدي سره هغه کلمه ده چي جاري ده په السنهؤ د نحاتو نو السنه د نحاتو خو معهود ندي ،

جواب: معهود کله کله صراحتاً ذکر وي لکه ﴿ فعصیٰ فرعونُ الرسول ﴾ الرسول کښي الف لام عهدي دي معهود پدي سره موسیٰ علیه السلام دي او هغه مخکښي صراحتاً معهود دي ، او معهود کله مقام نه معلوميږي لکه ﴿ ولابويه لكل واحد منهما السدس ﴾ نو ابويه کښي ضمير ميت ته راجع دي او معهود دي مقام نه چه مقام دميراث دي معهود کله کله ضمناً ذکر وي لکه ﴿ انی نذرت لك مافی بطنی محرراً ﴾ دلته ما عامه ده مذکر او مؤنث دواړو ته شامليږي او وربسي محرراً نه مذکر معلوميږي او په وليس الذکر کښي الف لام عهدي دي او معهود پدي سره هغه مذکر دي چي د قريني دمحرراً نه معلوميده ضمناً ، نو جواب داشو چي دلته السنه دنحاتو د قريني دمقام نه معلوميږي چي مونږ په مقام دنحوي کښي يو نو مراد هغه کلمه ده چي جاري ده په السنهؤ دنحاتو .

د لفظ معنی او تشريح

قوله لفظ: دي ځائ نه مصنف رحمه الله په تني درس کښي لس خبري ذکر کوی، ۱: معني لغوی دلفظ ، لفظ په لغت کښي مطلق رمی ته وائي که دفم نه وي او که دغير دفم نه چي دفم وي او لفظ وي لکه زيدٌ قائمٌ ، ۲ : دويمه خبره محاوره دعربو چي لفظ پکښي مستعمل شوي وي لکه اکلت التمرة ولفظت النواة ، محاوره د عربو دپاره دقواعدو عربيه پشان دنصوصو دقرآن دي دپاره داحکام شرعيهؤ، ۳ : دريمه خبره دفع داعتراض ده .

اعتراض: تا ووئيل چي رمی عامه ده چي دفم نه وي او که د غير فم نه او مثال دي ﴿ لفظت النواة ﴾ راوړو دينه معلوميږي چي رمی خاص ده په فم پوري.

جواب: مصنف رحمه الله په رميتها سره جواب ورکړو چي هډوکي مي تري وويستلو او ګذار مي کړو نور مي تر سره شوه ، ثم نقل في عرف النحاة ، ۴ : څلورمه خبره هغه معنی اصطلاحي ده لفظ معني لغوی نه معني اصطلاحي ته نقل شو چي ما يتلفظ به الانسان دي خودا نقل په دوؤ طريقو سره دي اوله طريقه داده چي دا لفظ

ابتداءً نقل شو ما يتلفظ به الانسان ته او دويمه طريقه داده چي دا لفظ مصدري دي او مصدر كله مبني للفاعل وي او كله مبني للمفعول نو دلته مبني للمفغول دي په معني د ملفوظ سره او بيا نقل شو معني اصطلاحي ته او ديته تسميه دمسبب وائی په اسم دسبب سره .

ما يتلفظ به الانسان دلته (باء) دپاره تعديت ده نه ده سببيت دپاره كه دسببيت دپاره شي نو تعريف مانع نه گرځي خپلو افرادو لره داخليږي پكښي لسان څكه دلسان په سبب سره تلفظ كيږي پكار ده چي بيا لسان ته هم لفظ وويلی شي ،

حقيقتاً او حكماً موضوعاً كان او مهملاً الخ: پنځمه خبره دفع د اعتراض ده پدي عبارت سره،

اعتراض: الكلمة معرف ده او لفظ ئي معرف دي نو پدي سره لفظ مهمل خارجيدو وضع ته څه ضرورت نه وو او لفظ موضوعه دلالت كوي په معني باندي نو لمعنی ته ضرورت نه وو او په الكلمه كښي (تا) دپاره د وحدت ده نو مفرداً ته ضرورت نه وو؟

جواب: هر تعريف مشتمل وی په جنس او فصل باندی نو لفظ دا جنس وو او په جنس كښي عموم وی نه اخراج ، او لفظ ، موضوع او مهمل اوهمدارنگه مفرد او مركب ټولو ته شامل وو نو مونږ قيودات ولگول نو په وضع لمعنیً سره لفظ مهمل خارجشو او په مفرداً سره مركب خارج شو .

د لفظ اقسام او تشريح

واللفظ الحقيقي: شپږمه خبره تقسيم دلفظ دی قسمين ته ، لفظ په دوه قسمه دی ،(١) حقيقي ، (٢) حكمي ، لفظ حقيقي دا هغه دی چي دمقولی دحرف او صوت نه وی لكه زيدٌ او ضرب ، (٢) حكمي دا هغه دي چي مقولی د صوت او حرف نه، نه وی لكه زيد ضرب كښي (هو) ضمير يا په اضرب كښي انت ضمير .

اعتراض: هلكه په منوی دي كاف تشبيه داخل كړو دينه معلوميږي چه د حكمی نور مثالونه هم شته او حالانكه د حكمی مثال همدا منوی دي فقط .

جواب: دا په اعتبار د كثرت اقسامو دمنوی چي مذكر مؤنث غائب او حاضر دي، **اوومه خبره ولم يوضع له لفظ** : دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده اعتراض

دادي چي هلکه " هو او انت " ته تا دحکمی مثال وائي او حالانکه پدي خو تلفظ کيږي د حقيقي نه ئي ولی نه شماري .

جواب: دي ته اشاره کوی په ولم يوضع له لفظ سره معنی داده چي دمنوی دپاره لفظ موضوعه نشته

وانما عبروعنه الخ: اتمه خبره دي عبارت سره بله دفع داعتراض ده او هغه دا چي دمنوی نه په څه شی سره تعبير کوی نو دي جواب کوی چي ضماير منفصله استعارةً اخستل شويدي دپاره دمنوی په منوی کښي دوه دعوی ذکر کوی يوه سلبی هغه دا چي منوی لفظ حقيقی نه دي او دليل ددي دادي چي : (ليس من مقولة الحر والصوت) او بله دعوه ايجابی ده اوهغه دا چي منوی لفظ حکمی دي او دليل ئي دادي چي (واجروا عليه احکام اللفظ .

والمحذوف لفظ حقيقة: نهمه خبره دفع داعتراض ده او هغه دا چي محذوف ته ولی لفظ حقيقی وائي سره ددينه چي ما يتلفظ به الانسان ندي لکه (واسئل القرية) کښی اهل محذوف دي اصل کښي اهل القرية دي نو دي جواب کوي چه (لانه قد يتلفظ به الانسان في بعض الاحيان وکلمات الله داخله)

لسمه خبره دفع داعتراض ده هغه دا چي هغه کلمات چي مختص دي په ذات د الله جل جلاله پوري هغه الفاظ دي او ما يتلفظ به الانسان ندي، همدارنګه کلمات د ملائکه ؤ الفاظ دي او ما يتلفظ به الانسان ندي لکه (ان فی الجنة نهراً من لبن لعلی وحسن وحسين رضي الله عنهم)

او همدارنګه کلمات الجن الفاظ دي او ما يتلفظ به الانسان ندي لکه قبر حرب بمکان قفر، وليس بقرب قبر حرب قبر .

نو دي جواب کوی چي دا ټول ما يتلفظ به الانسان دي په بعض احيانو کښي .

والد وال الاربعه کښی غرض د شارح

والدوال الاربع: غرض دشارح پدي عبارت سره رد کول دي په شارح هندي او شارح رضی باندي .

اعتراض: شارح رضی اعتراض کوي په ماتن باندي چي تابايد يو قيد لګولی وي

چي هغی سره دوال اربعه خارج شوي وي. نوشارح هندي جواب کوی چي قيد دلفظ سره دوال اربعه خارج شول . ځکه چي دا خو الفاظ نه دی شارح رضی بیا په شارح هندي باندي اعتراض کوی چي لفظ خو جنس دي او جنس دعموم لپاره وی نه د اخراج لپاره . شارح هندي جواب کوی چي جنس په دوه قسمه دي يو قسم هغه دي چي د جنس او د فصل په مابين کښي نسبت دعموم خصوص من وجه وی نو پدي کښي نسبت د اخراج کول جنس ته جائز دي او دلته د لفظ او وضع په مينځ کښي نسبت دعموم او خصوص من وجه دي لفظ به هم وی او وضع به ني هم شوي وي لکه لفظ دزيد او لفظ به وي او وضع به ني نه وي شوي لکه ديز. او وضع به ني شوي وي خو لفظ به نه وي لکه دوال اربعه . لهذا دا تعريف ناقص شو او هر ناقص باطل وي لهذا دا تعريف هم باطل شو شارح په دي دواړو باندي رد کوی شارح رضی تاواني چي خروج سبق دخول غواړي نو دلته دوال اربعه داخل ندي . شارح هندي ته واني چي ته خو اخراج د مخرج کوی دا دسره داخل ندي .

(وانما قال لفظ ولم يقل لفظة) دويمه خبره دفع داعتراض ده په منصف رحمه الله باندي اعتراض وارديږي چي هلکه ستا کتاب ماخوذ دي د صاحب مفصل نه. او صاحب مفصل په خپل کتاب کښی لفظة ويلی دي او ته مخالفت کړي د هغه نه. صاحب مفصل داسي ويلی دي (وهی اللفظة الدالة علی المعنی **جواب:** جواب دادي چي صاحب دمفصل قصد د وحدت کړي او ما قصد دوحدت نه دي کړي نو ثمره د اختلاف د راووتله چي عبد الله په نزد د صاحب مفصل مرکب دي او په نزد دماتن رحمه الله مفرد دي **والمطابقة غير لازمة الخ:** دريمه خبره دفع داعتراض ده **اعتراض:** دادي چي ترکيب غلط دئ ځکه چي الکلمه مبتدا ده او مؤنث ده او لفظ ئي خبر مذکر دي نو مطابقت په مابين د مبتدا او خبر کښي را نغلو

جواب: دادي چي مطابقت په مينځ دمبتدا او خبر کښي دا په شروط سبته باندي موقوف دي (۱): اول دا چي مبتداء او خبر به اسمين ظاهرين وي که يو هم ضمير وي نوبيا هم مطابقت ضروري ندي لکه (وهی اسم وفعل . (۲): دويم دا چي خبر به مشتق وي که خبر مشتق نه وي نو بيا هم مطابقت ضروری ندي لکه دلته په الکلمة لفظاً

کښي . ۳ : دریم شرط دادي چي خبر پکار ده چي مشتمل وي په یو ضمیر چي راجع وی مبتدا ته . که ضمیر نه وو نو بیا هم مطابقت ضروری ندي لکه ﴿ماء وجور ممتنع عن الصرف﴾ ۴ : څلورم دا چي خبر به فعیل په معنی د مفعول سره نه وی که وو نو بیا هم مطابقت ضروری ندي لکه ﴿المراة جریح په معنی دمجروح سره﴾ ۵ : دا چي خبر به صفت خاصه دنساء ژ نه وي که وو نو بیا هم مطابقت ضروری ندي لکه ﴿امراة حایض﴾ ۶ : شپږم دا چي خبر به اسم تفضیل مستعمل په ﴿من﴾ سره نه وي که اسم تفضیل مستعمل په ﴿من﴾ سره وو نو بیا هم مطابقت ضروری ندي لکه ﴿الصلوة خیر من النوم﴾

مع کون اللفظ اخصر څلورمه خبره دفع داعتراض ده . اعتراض : دادي چي مصنف صاحب ! که مطابقت ضروری او واجب ندي نو مستحب خو دي څه نقصان خو پکښي نشته دي

جواب: دادي چي لفظ اخصر دي یعني کم دي د اللفظة نه . او بیا دا چي که اللفظة ویلي وي نو بیا وروسته عبارت کښي هم تطویل راتلو پیدا سي شان چي الکلمة اللفظة وضعت لمعنی مفردة الخ :

د غرض معنی اصطلاحی او دفع د اعتراض

الوضع تخصیص شئ الخ: اول غرض معنی اصطلاحی دوضع دویم دفع د اعتراض دریم جواب څلورم بل جواب ذکر کوی دلته معنی لغوی نده ذکر په لغت کښي وضع نهادن ته وائی ځکه ئي معني لغوی ذکر نه کړه چي مقصود معانی اصطلاحیه دي **اعتراض:** په لفظ کښي دي معنی لغوي ولی ذکر کړه ؟ **جواب:** دا ځکه چي دلفظ په معنی لغوی کښي خفاء وه چي دمعنی لغوی نه معنی اصطلاحی نه را نقل شوه .

الوضع: شئی اول عام دي که لفظ وي او که غیر لفظ وي لکه عبد الله لفظ او وضع دواړه دي او لفظ به نه وي اووضع به وي لکه دوال اربعه تخصیص د خاص نه دي مایوجد فیه ولا یوجد في غیره ته وائي **بحیث متی اطلق:** داطلاق معنی ده ذکر کول او او أحس الشئ الاول دا په غیر لفظ کښي راځی لکه سړي د رته پخپله خوله لاس کیږدي چي چپ شه فهم منه الشئ الثانی . اول او شئ ثاني ته مدلول وائي . یو نکته چي په کتاب کښي لیکلي چي للعلم با لوضع دا دفع اعتراض ده

په تخصيص باندې اعتراض او جواب

اعتراض: زه به درته وښايم چي تخصيص ديو شيء به پل شيء پورې شوي وي ليکن فهم دشيء ثاني به ورنه نه کيږي. لکه جاهل با لعربي ته ووائي چي جنت با لماء نوهغه خو تري فهم نشي کولي. **جواب**: نو ده جواب ورکړي چي دغه کس به عالم با لوضع وي **اعتراض**: تخصيص شيء بشيء که دشيء اول نه مراد لفظ شيء نو معنى به داسي شيء چي دا الفاظ نه موجوديږي مګر په دي معنى کښي نو پدي سره ترينه الفاظ مشترکه خارج شول لکه عين او که مراد د شيء اول معنى شي نو الفاظ مترادفه ترينه خارج شول لکه قعود او جلوس **جواب**: تخصيص وائي ما يوجود فيه ولا يوجد في غيره ته نو مونږ د تخصيص په معنى کښي تجريد کوو مونږ صرف ما يوجد فيه اخلو او لا يوجد في غيره پريږدو. **اعتراض**: تعريف د وضع دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه اطلاق ثاني او اطلاق ثالث لکه يو کس ته د اوبو راوړلو اوائي او هغه لاړ نه شي. او ته ورته بيا ووائي نو فهم خود اول نه راغلي او ثاني او ثالث خو تحصيل د حاصل راخي.؟

جواب: فهم منه الشيء الثاني نه مراد اطلاق اول دي ثاني او ثالث کښي خو التفات راخي شيء اول ته. **يخرج**: قيل يخرج عند سره دويمه خبره دفع داعتراض **اعتراض**: ستا تعريف دوضع جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه وضع دحروفو لکه: من او الى) ددي اطلاق راخي اوفهم دشي راخي بغير د ضم دضميمي نه **جواب**: هغه دا چي متى اطلق کښي اطلاق مطلق ذکر دي. شيء چي کله مطلق ذکر شي نو مراد ترينه فرد کامل وي او هغه اطلاق صحيحه دي

ولا يبعد: سره غرض دويم جواب دي. ولا يبعد د شارح خپل قول دي او په عامو کتابونو کښي ضعف ته په لا يبعد سره اشاره کوي او ځکه دي په لا يبعد سره اشاره کوي هضم د نفس ته. دويم جواب دادي چي مراد د اطلاق نه اطلاق داهل لسانو دي او اهل لسان حرف بغير دضم د ضميمه نه. نه استعمالوي. دا جواب د اول اعتراض نه هم کيدي شي چي جاهل با العربي هغه خو اهل لسان ندي داجواب قوي دي د دوو وجه نه. يو دا چي د مخکښي اعتراض چي په عالم با لوضع باندي شوي ؤ جواب دي دهغي نه

دويم دا چي اول جواب دا واردېږي چي شارح خو هم قيد د اهل لسان لګولی دي نو جواب دادي چي دا قيد ندي بلکه دا معنی داطلاق ده

د معنٰی لغوی او اصطلاحی تعریف

لمعنیً: المعنی ما يقصد با لشئ سره غرض دشارح اول معنی اصطلاحی دمعنی ، دويم معنی لغوی دمعنی ، دريم او څلورم دفع داعتراض ، پنځم فوائد دقيوداتو ،

۱: معنی اصطلاحی چي ما يقصد با لشئ چي قصد کولی شی په بل شی سره ما عامه ده که لفظ وي او که غير دلفظ وي مثال دلفظ لکه زيد ويئلو سره مراد هغه شخص دي او دغير لفظ مثال لکه دراتلو اشاره په لاس سره کول ، ۲ : معنی مفهوم غرض موضوع له دا متحد بالذات او متغاير بالاعتبار دي لکه زيد هذا حيوان ناطق مع هذا التشخص ته معنی هم وائی ځکه حيوان ناطق قصد کيږي په زيد سره مفهوم ما حصل في الذهن ياما حصل في العقل ته وائي ، ۳ : موضوع له ځکه واضع دا لفظ ددي دپاره وضع کړي وی

فهواما مفعل: دي سره غرض دويمه خبره چي معنی لغوی دمعنی ده

اعتراض: په تعريف دلفظ کښي معنی لغوی مخکښي ذکر وه او اصطلاحی وروسته او تا دلته عکس وکړو

جواب: دمعنی ، معنی اصطلاحی متعينه وه اومعنی لغوی کښي اختلاف وو معنی په لغت کښي يا دمفعل اسم مکان يا د اسم زمان ظرف صيغه ده معنی ئي مقصد ده يا مصدر ميمی دي مصدر ميمی ديته وائي چي اول کښي ميم مفتوحه راشی او معنی ئي نه وي بلکه دا دنفس مصدر په معنی وی ، او يا مخفف داسم مفعول دي پشان د مَرْمِیٌ ، معنی اصل کښي مَعْنُوِیٌ وو واو بدل شو په ياء بيا يو يا په بله ياء کښي مدغمه شوه خلاف القياس، يوه ياء حذف شوه او ماقبل ضمه مو په فتحه سره بدله کړه بيا ماقبل مفتوح وو په الف مو بدله کړه اسم مکان بمعنی المقصد او مصدر ميمی بمعنی المفعول سره دفع داعتراض ده چي معنی ظرف مکان شی ځای دقصد يا ظرف زمان شی زمانه دقصد يا مصدر ميمی شی صرف قصد نو معنی خو قصد ته نه وائی بلکه مقصود ته وائی جواب دادي چي دا ټول بمعنی المفعول دي .

ولما اذا كان المعنى ماخوذا فى الوضع: دي سره غرض څلورمه خبره دفع داعتراض ده

اعتراض بناء د متونو په اختصار سره وی الكلمة لفظ وضع معنى خوپه وضع كښي شته نو لمعنىٰ دي ولي وونيلو ځکه دا خو دلفظ دوضع نه معلوميږي. **جواب** دلته مونږ تجريد كړيدي الوضع تخصيص شي او ددوهم بشي نه مو مراد معنى اخستي ده

فخرج به المهمل والالفاظ الدالة غرض پدي سره پنځمه خبره ده الكلمة مُعَرَّفْ محدود دي اولفظ مفرد معرَّف او حد دي، و معرَّف كښي لابدی وي د جنس او فصل نه.نو لفظ دا په منزله دجنس دي او وضع دا ورته فصل دي. دي سره مهملات او لمعنىٰ سره حروف هجاء اومفرد سره مركبات الداله على الطبع . هغه الفاظ چي دطبع له وجي دلالت كوی لكه (وای) دلالت كوی په درد باندي دا دلالت د وجي دوضع نه . نه دي كه د وضع د وجي نه وي نو په اختلاف داوضاعو سره به مختلف وي لكه حروف هجاء. حروف هجاء دا داخل وو په وضع كښي ليكن په قيد دمعنى سره خارج شول ځکه معنى ئي نشته صرف غرض ئي تركيب دي،

اعتراض: غرض د تركيب دي د حروف هجاء لپاره معنى شى او كلمات دي ورته وويلى شى

جواب: دا معنى نشي ګرځيدلى ځکه معنى وائى ديته چي لفظ ذكر شي نو معنى ذهن ته راځي او حروف هجاء وايه خو غرض دتركيب ذهن ته نه راځي

فان قلت قد وضع بعض الالفاظ بازاء بعض آخر: غرض ددي عبارت نه اعتراض بيا په قلنا سره جواب بيا اعتراض بيا په قلنا سره جوا ب : بيا دويم جواب بيا دويم جواب ثاني

اول اعتراض : تا وويئل چي معنى ما تقصد بشي ته وائى معنى داسي شوه چي مادا معنى هغه ده چي حاصليږي په لفظ سره نو تعريف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه هغه الفاظ چي وضع وي د نورو الفاظو دپاره لكه اسم چي وضع شوي دپاره د زيد عمر وغيره دپاره نو دلته خو مقصد د معنى رانغلو بلكه قصد دلفظ راغى په لفظ سره

قلنا: دويم غرض چي جواب دي ما يقصد بشي كښي دا ما عامه ده كه لفظ وی او كه غير لفظ وي. فان قلت : تا وويل چي كلمه يو لفظ دي چي وضع يي شوي وي

دپاره دمعنى مركبى لكه جمله چي وضع ئى شويده دپاره د زيد قائم او خبر چي وضع شوي دپاره د قام زيد

قلنا: جواب دادي چي جملى او خبر لره دوه حيثيۀ دى يو دا چي په نسبت سره معني ته مركب وي او بل دا چي په نسبت سره خپلو الفاظو ته مفرد وى او مفرد دپته وائى چي جز دلفظ ئي دلالت نه كوى په جزء دمعنى او دلته همدغه شان په جمله كښي جزء دلالت نه كوى په زيد او لام دلالت نه كو په قائم باندى .

اعتراض: هلكه : اعتراض وارديږي په مفرد باندى مونږ خو مفرد ندي ويلي تا به هلته دا اعتراض كړي وي چي مونږ ويلي وي. جواب دلته ئي ځكه ذكر كړو چي ددې اعتراض نه دوه جوابه دي او دا دويم جواب يي مناسب دي كه هلته ئى ذكر كړي وي نو كيدي شى هغه مخكښي اعتراض دي هير كړي وى وقد اجيب : پنځم غرض جواب دي د اول او دويم اعتراض نه په طريقي د منع سره هغه دا چي زه نه منم چي اسم او جمله او خبر دا واضع دي دپاره دمعنى بلكه دا وضع دي دپاره دمفهوم كلى دجملى دادي چي يفيد المخاطب فائدةً تامةً يصح السكوت بها او مفهوم كلى دخبر دا چي يحتمل الصدق والكذب . او مفهوم كلى د اسم دادي چي د اوضع شوي او دلالت كوى په معنى مستقلى او اقتران ئى په ازمنه پوري نه وى او زيد قائم دا يو فرد دي افرادو د مفهوم كلى دجملى نه او قام زيد دا يو فرد دي افرادو دمفهوم كلى دخبر نه او زيد دا يو فرد دي د افرادو د مفهوم كلى د اسم .

ولا يخفى: شپږم غرض رد په جواب ثانى دي خو ددي نه مخكښي يو تمهيد ياد لري هغه دا چي اسماء اشارات مضمرات او اسماء موصولات دا وضع دي د جزئياتو لپاره او كه دمفهوم كلى لپاره ، پديكى دوه مذهبه دي، يو مذهب والاوائى چي دا وضع دي لپاره دمفهوم كلى بيا پدي مذهب باندي اعتراض وارديږي چي كه دمفهوم كلى لپاره وضع وى پكار ده چي په مفهوم كلى كښي استعمال شوي وي ، سره لدينه استعمال يي په جزئياتو كښي راځي ، **جواب**: هذا وغيره كښي دا واضع وضع كړي دپاره دمفهوم كلى خو په شرط داستعمال سره په جزئياتو كښي ، او دويم مذهب دادي چي اسماء اشارات وغيره دا وضع دي دپاره دجزئياتو خو اعتراض پري وارد شو چي دا

واضع دومره وزګارۆ چي هر څه دپاره هذا سره اشاره کوی . **جواب:** دا واضع واضع کړي دپاره دجزئياتو خو ليکن په مراتيت دمفهوم کلي سره نو اوس اعتراض نه راځي.

اعتراض: هلکه تا ويلي وو چي دا وضع شوي دي دپاره دمفهوم کلي نو په مضمراتو کښي به څه کوی دا خو جزء دپاره وضع شويدي نه دمفهوم کلي دپاره نو موږ دينه جواب کوو چي دا ديو مذهب په نزد وضع دي دپاره دمفهوم کلي خوسره دشرط داستعمال نه په جزئياتو کښي

وان کان: وضع په څلور قسمه دد چي وضع او موضوع له ئي دواړه خاص وي لکه زيد چي وضع او موضوع له ئي دواړه عام وي لکه انسان چي وضع عام او موضوع له خاص وي لکه اسماء اشارات چي وضع خاص او موضوع له ئي عام وي دانه دي مګر صرف احتمال عقلي دي

د مفرداً معنی او تشریح

مفرداً: اول غرض اعراب ذکر کيږي . دويم معنی دمفرد . دريم اعتراض . څلورم جواب . پنځم بل اعراب . شپږم معنی دمفرد . اووم اعتراض. ١: وکان النکتة سره جواب . وهو اما مجرور : دا مفرد به يا مجرور وي

اعتراض: هو ضمير چاته راجع که مفردته راجع وی نو مجرور ته بيا څه ضرورت وو او که مفردٌ يا مفرداً ته راجع وی نو بيا خو مفرداً يا مفردٌ مجرور ندي

جواب: دلته مرجع هغه مکتوب غير مقروء دي يعني دا مفرد به يا مجرور وي او يا مرفوع او يا منصوب وي دويم غرض . معنی دمفرد . چي مفرد صفت شي د معنی دپاره يو معنی به داشي چي مفرد هغه دي چي جزء دلفظ ئي دلالت نه کوی په جزء دمعنی باندي شارح معنی په اسم ضمير سره ذکر کړه ځکه چي معني مخکښي صراحتاً ذکر وه . **وفيه انه يوهم:** دريم غرض هغه اعتراض دي او دا بناء دي په يوه قاعدي باندي

يوه اهمه قاعده

قاعده : کله چي نسبت دفعل يا شبه فعل يو شي ته اوشي او دغه شي متصف وی په يو صفت سره نو دا به موصوف وي په دغه صفت سره مخکښي دنسبت ددغه فعل يا شبه فعل نه لکه ضربت زيدا قائماً دلته ضرب نسبت زيد ته شوي دي خو زيد

متصف دي په صفت دقيام سره مخکښي دنسبت دضرب نه اوس راځو اعتراض ته څکه دوضع نسبت معنی ته شوي دي او معنی متصفه ده په صفت دافراد او ترکیب باندي قبل الوضع او امر خو داسي ندي بلکه وضع دا مقدمه ده په افراد او ترکیب باندي

جواب: خلاصه د جواب داده چي دلته عبارت محمول دي په مجاز با لمشارفه باندي اومجاز با لمشارفه دیته وائی چه قریب دشی لره حکم د عین شی ورکوی. لکه حدیث شریف کښي راځي ، من قتل قتیلاً فله سلبه ، چا چي وژلو یو وژل شوي نو وژلی شوي خو وژل کیږي نه . دغه رنګ دلته هم عبارت داسی چي وضع لمعنی سیفرد

واما مرفوع علی انه صفة للفظ الخ: پنځم غرض بیان د اعراب مفردٌ یا مرفوع دي بنابر صفتیت للفظ

اعتراض من الخارج: هلکه الکلمة معرف لفظ موصوف او مفردٌ ئي صفت دي نو تا خو فصل راوستلو په مابین د موصوف او صفت کښي په اجنبی سره دا خوندی جائز

جواب فصل په اجنبی سره جائز ندي او دلته خو دمتعلقاتو د موصوف او صفت سره فصل راغلی دي

ومعناه: شپږم غرض معنی دمفرد . معنی داده چي جزء دلفظ دلالت نه کوی په جزء دمعنی باندی ولابد اووم غرض اعتراض ، هلکه لفظ موصوف اووضع لمعنی صفت اول او مفرد ئي صفت ثاني نو مطابقت را نغلو په مابین د صفتینو کښي صفت اول جمله او صفت ثاني مفرد دی

جواب: په ، وکان النکتة ، سره مصنف کړیدي چي وضع دا مقدمه ده په افراد او ترکیب باندي . ، حاصل دا چي وضع مقدمه ده او دا خبره ئي په وضع سره خلاصه کړه څکه چي وضع دا ماضیٰ ده او زمانه دماضی دا مقدمه ده په ما سوي باندي نو معلومه شوه په زمانه دوضع مقدمه ده په زمانه داتصاف با الافراد باندي ،

دویم اعتراض. هلکه لفظ موصوف او مفرد دي او وضع لمعنی صفت دي خو جمله ده نو مطابقت را نغلو .

جواب: دا تنبیه ده په دي خبره چه وضع مقدمه ده په افراد او د ترکیب باندي دریم اعتراض دادي چي هلکه ته مفرد صفت د لفظ ګرځوي . نو قریب دپاره ئي صفت ولی نه

کرځوی چي معنیٰ دي

جواب: دا صفت دي اولاً او با الذات دپاره دلفظ او با الواسطه دا صفت دي دپاره دمعنی هغه واسطه لفظ دي، حاصل دا چي افراد او ترکیب دا اوصاف دلفظ دي با لذات او صفات دمعنی د ي با لذات او صفات دلفظ دي په واسطه دمعني سره .

وجه تسمیه د تقدیم د وضع په افراد او ترکیب باندي

اعتراض من الخارج: هلکه ته وائی چي وضع مقدم ده په افراد او ترکیب زه دا نه منم بلکه وضع او افراد او ترکیب دا معاً راځي

جواب: مراد دتقدم نه تقدم ذاتی دی تقدم ذاتی دیته وائي چي مقدم علت وي دپاره دمؤخر سره دمعیت زماني لکه حرکت د لاس علت دي دپاره د حرکت دچابی. دارنګه وضع علت ده دافراد او ترکیب دپاره

واما نصبه: اول غرض د مصنف اعراب ذکر کول دي ، دیم ضعف ددي اعراب ، دریم دفع داعتراض ، څلورم دفع داعتراض .

اول غرض دا مفرد منصوب بنابر حالیت یا حال دي دضمیر دوضع نه او یا حال دي د لمعنیً نه چي حال شی د ضمیر دوضع نه نو معنی به داشی . چي کلمه یو لفظ دي چي وضع شوی دي په حال کون ددي لفظ کښي مفرد پارهٔ دمعنی او که حال شی د معنی نه نو معنی به داشی چی کلمه یو لفظ دي چی وضع شویدي لپاره دمعنی دا معنی به مفرده وی

اعتراض من الخارج: تا طرز د عبارت ولی بدل کړو مخکښي دي اما مجرور او مرفوع وویل دلته پکار وه چي د اما نصب په ځاي دي اما منصوب ویلي وي .

جواب اول دادي چي دا اشاره ده ضعف ددي اعراب ته او جواب ثاني دادي چي دا اما نصبه عطف ندي په اما مجرور او اما مرفوع باندي بلکه معطوف علیه ددي مقدر دي تقدیر ئي داسی دي چي اما المجرور والمرفوع فقد عرفت واما نصبه

وان لم یساعده رسم الخط: دویم غرض اشاره ده ضعف ددي قول ته دا مفرد په حالت دنصب کښي په الف سره لیکل کیږي په نزد د متاخرینو او په نزد متقدمینو بدون الف لیکل کیږي .

جواب دادي چې الف هغه مقام کښې ليکل کيږي چې کوم مقام اتفاقاً منصوب وي او دلته خو مختلف احتمالات موجود دي چې هغه رفع جر او نصب احتمالات دي

فانه مفعول به بواسطه اللام: دريم غرض دفع داعتراض تاوويل چې مفرداً حال دي دلمعنىً نه او حال وائي ما يبين هيئة الفاعل او المفعول به او كليهما .او لمعنيً خو نه فاعل دي او نه مفعول به **جواب:** دا مفعول به واقع شوي دي په واسطه د لام جاره سره

و وجه صحته: څلورم غرض دفع داعتراض ده هغه دا چې هلکه مونږ اوريدلي چې زمانه دا حال او د عامل د ذوالحال دا يووي او دلته زمانه دعامل دو ذوالحال چې وضع ده مقدمه ده په مفرداً حال باندي ؟ جواب : دلته په وضع کښې تقدم ذاتي دي وضع مقدمه ده په افراد خو سره دمقارنت او معيت زماني نه ، د خارج نه اعتراضات

اول اعتراض : قاعده داده چې عامل د ذوالحال او حال دا يووي او دلته د ذوالحال او حال دا يو وي او دلته د ذوالحال او حال دواړو عامل هغه وضع دي اولام دپاره دتعديت دي .

دويم اعتراض : هلکه قاعده داده چې.کله ذوالحال نکره وي نو تقدم دحال په واجب دي لکه جاء ني راکباً زيداً پکار وه چې داسي ويلي وي چې مفرداً لمعنى .

جواب: هلکه ستاقاعده صحيح ده خو په هغه وخت کښې چې ذوالحال مجرور نه وي خو کله چې مجرور وي نو بيا تقديم د حال ندي واجب ځکه چې مجرور په جار نشي مقدم کيدي او حال دلته دمتعلقاتو د مجرور نه دي خو په طريقه اولى سره نشي مقدم کيدي،

دريم اعتراض : قاعده داده چې کله يو حال داسي راشي چې دفاعل نه هم حال جوړيدي شي او دمفعول نه هم حال جوړيدي شي او نيت ستا د فاعل نه حال جوړول وي نو تقديم دحال په مفعول وکړه لکه ضربت زيداً قائماً اوس دلته وضع فعل دي ضمير پکې نائب فاعل دي نو مفرداً حال ددي نه هم کيدي شي او دمفرداً نه هم کيدي شي نو داسي ووايه چې الكلمة لفظ وضع مفرداً لمعنى ځکه چې ته خو وائى چې مفرداً حال دي دضمير مستتر في الوضع نه .

جواب: داقاعده صحيح ده خو چې په معنى کښې فرق راځي لکه په ضربت زيداً قائماً کښې او دلته په وضع لمعنى مفرداً کښې هيڅ فرق نه راځي په تقديم او تاخير

دحال باندي يا به لفظ مفرد وي او يا به معنى مفرد: وي كه لفظ مفرد وي نو معني هم مفرده شوه اوكه معنى مفرده وي لفظ هم مفرد شو

د کلمه تعریف د قیوداتو فوائد

الافراد لاخراج المركبات مطلقاً الخ: ددي خاي نه شپږ خبري ذكر كوي اول فوائد دقيوداتو ، دويم دفع داعتراض ، دريم اعتراض ، څلورم رد په ماتن باندي پنځم تعريف دصاحب مفصل ، شپږم رد په تعريف : اول غرض الكلمة معرف او لفظ جنس دي او وضع فصل دي پدي سره الفاظ مهمله او الفاظ داله با لطبع خارج شول او لمعنىً سره حروف هجاء خارج شول او مفرداً سره مركبات خارج شول كلاميه مركب هغه ته وائي چي مفيد دفائدي تام وي او كلاميه هغه چي مفيد دفائدي تام نه وي . دمركب غير كلاميه جزء ثاني به خالي نه وي يا به قيد وي داول دپاره او يا نه . كه اول وو نو بيا به خالي نه وي يا به ئي خارج كښي مصداق يو وي او يا نه . كه اول وو نو دامركب توصيفي لكه زيد قائم او كه ثاني وو نو دا مركب اضافي لكه غلام زيد او كه جزء ثاني د اول دپاره قيد نه وو نو بيا به خالي نه وي يا به جزء ثاني متضمن وي حرف لره او يا نه كه اول وو نو دا مركب اسنادي چي ورته اعدادي هم وائي او كه ثاني وو نو دا مركب امتزاجي لكه بعلبك او ديته مركب منع صرف هم وائي نو دا ټول دمفرد په قيد سره خارج شول

لكنه يعد لشدة الامتزاج واحدة الخ: دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده اعتراض دادي چي هلكه تا الرجل او قائمة او بصرى دا خارج كړل په قيد مفرد سره ځكه چي دامركب دي نو پكار ده چي معرب شي په اعرابينو سره .

جواب: دا دواړه كلمي دوجه دشدت اتصال نه لفظ واحده ګرځيدلي او معرب شوي په اعراب واحده سره

وبقى مثل عبد الله علماً الخ: دا دريم غرض دي چي هغه اعتراض دي چي هلكه عبد الله مركب دي او معرب هم دي په اعرابينو سره لكه په حالت رفعي كښي جاءنى عبدالله او په حالت دنصب كښي رأيت عبدالله او په حالت دجر كښي مررت بعبدالله او الرجل او قائمة او بصرى دا معرب دي په اعراب واحده سره دا د خارج كړي د كلمى نه او عبد الله

دي داخل کړي دي عکس به دي کړي وي

جواب عبد الله معرب وو په اعرابينو سره قبل العلمية نو مونږ چي علم وګرځولو نو په خپل حال مو پريښودلو

ولا يخفى على الفطن با لعارف بالغرض من علم النحو الخ: څلورم غرض رد دي په ماتن باندي

اعتراض: غرض دعلم نحو لحاظ دالفاظو دي په عبد الله دوه اعرابه جاري کيږي پکار ده چي د اوځي دکلمي نه او الرجل باندی يو اعراب جاري کيږي پکار ده چي داخل شي په کلمه کښي، ځکه چي تعدد داعراب دلالت کوی په تعدد دکلمه

جواب: صحيح ده چه غرض لحاظ دالفاظو دي خو ځاتنه الفاظ نه بلکه لحاظ دمعنى هم پکښي شته او الرجل معناً متعدد دي او عبد الله معنىً مفرد دي

تعريف د کلمه په نزد د صاحب مفصل

وما اورده صاحب المفصل دي عبارت سره غرض تعريف دصاحب دمفصل دي صاحب دمفصل تعريف دکلمي داسي کړيدي، (هى اللفظة الدالة على معنى مفرد با لوضع) دصاحب دمفصل په تعريف کښي او په تعريف دابن حاجب کښي پنځه فرقه دي

اول ابن حاجب لفظ مذکر راوړي او هغه مؤنث راوړي يعني لفظة، دويم فرق دادي چي ابن حاجب په لفظ کښي قصد دجنس کړيدي او صاحب مفصل قصد دوحدت کړيدي، دريم فرق دادي چي ابن حاجب ضمير فصل ندي راوړي او صاحب مفصل ضمير دفصل راوړي ، څلورم فرق دادي چي ابن حاجب لفظ بغير دقيد نه راوړي دي او صاحب دمفصل قيد د دالة ورسره راوړي دي پنځم فرق دادي چي ابن حاجب وضع مقدم راوړي په تعريف کښي او صاحب دمفصل مؤخر راوړي ده ، شپږم غرض رد دي په تعريف دابن حاجب په تعريف کښي دوه نقصانه دي يو نقصان دادي چي دعبدالله خروج پکار وو او ده داخل کړي دي او دويم نقصان دادي چي د الرجل او قائمة او بصرى دخول پکار وو او ده په قيد د افراد خارج کړي دي ، او په تعريف دمفصل کښي يو نقصان دي عبد الله خو ئي خارج کړي دي داي بنه کړي او الرجل او قائمة او بصرى ئي خارج کړيدي دا نقصان پکښي صرف دي

وإعلم ان الوضع يستلزم الدلا لة الخ: اول غرض دفع داعتراضينو دويم غرض اقسام

دلالت ذکر کوي

اول اعتراض : کتاب ستا ماخوذ دي دصاحب دمفصل نه هغه لفظ د دلالت راوړي تاولی مخالفت وکړو دهغه نه ؟

دويم اعتراض: دادي چي ته دلالت معتبر ګڼړي په تعريف دکلمه کښي او که نه. که ګنړي نو تا ولی را نه وړو نو لهذا تعريف دي صحيح نه شو ناقص شو او که معتبر ئي نه ګڼړي نو بيا صاحب دمفصل چي ذکر کړي نو هغه مستدرك دي بلا فائده دي

جواب : د دواړو اعتراضينو نه دادي چي ما دلالت ځکه را نه وړولو چي ما وضع ذکر کړي وه او وضع مستلزم ده دلالت لره او دلالت مستلزم ندي وضع لره نو ماتن مخکښي وضع ذکر کړي وه دلالت ته احتياج را نغلو او شارح مخکښي نه وه ذکر کړي لهذا وضع ئي راوړه پس د دلالت نه . او دلالت په دري قسمه دي وضعي او طبعي او عقلي او هر يو بيا په دوه دوه قسمه دي ۱ : لفظي . ۲ : غير لفظي . د دلالت لفظي وضعي مثال لکه زيد لفظ هم دي وضعي هم دي د دلالت وضعي غير لفظي مثال لکه نقوش قبل التلفظ وضعي دي خو لفظ نه د دلالت عقلي لفظي مثال لکه لفظ د ديز المسموع من وراء الجدار د دلالت عقلي غير لفظي مثال لکه لوګی چي دلالت کوی دورځی په اور باندی خوپه عقل سره ځکه لوګی خولفظ ندي. او دلالت طبعي لفظي مثال لکه اح ، اح ، چي دلالت کوي په تکليف دسيني باندي په طبعيت سره اودا الفاظ دي، او دلالت طبعي غير لفظي لکه دلالت د سرعت نبض په حرارت دبدن باندي په طبعيت سره خودا لفظ ندي

اختلاف د ماتن د صاحب مفصل نه په لفظ د لالت کښي

اعتراض من الخارج على صاحب المفصل: اعتراض دادي چي هلکه وضع علت او افرادد او ترکيب معلولين نو ذکر دوضع پس دافراد او ترکيب نه مستدرك او بلا فاندي دي ځکه چي افراد ترکيب لازم وي فرع لره نه فرع اصل لره

اعتراض ثانی دادي چي هلکه تا مخکښي وويل چي افراد او ترکيب مخکښي دوضع نه، نه راځي نو داخبره دي باطله شوه ؟

جواب: هلته استلزام ديو طرف نه دي هروضع دا مستلزم نده وضع لره

تقسيم د کلمه او تشريح

وهی ای الکلمة الخ: هر کله چي فارغ شو مصنف دتعريف د کلمي نه نوشروع ئي وکړه په تقسيم د کلمه کښي يا هر کله چي فارغ شو مصنف دوجود ذهنی د کلمي نه نوشروع ئي وکړه په وجود خارجی د کلمه کښي . يا هر کله چي فارغ شو مصنف دمفهوم د کلمي نه نوشروع ئي وکړه په مصداق د کلمه کښي . دتقسيم دوه تعريفه دي اول تعريف : عبارة عن احداث الكثرة فی امر واحد مبهم ، لکه کلمه امر مبهم دي ځکه چي خارج کښي ورلره وجود نشته نو اسم ، فعل ، حرف سره ئي پکښي احداث د کثرت وکړو، دويم تعريف دادي چي عبارت دي دضم دقيودو مختلفونه امر واحدمبهم ته دپاره دحصول دعليحده نوع او صنف : دنوع مثال لکه حيوان سره چي ناطق ولګوی نو انسان تري حاصل شو او چي انسان سره افغانی ولګوی نو صنف تري حاصل شو دلته دوه خبري دي اول مرجع د ضمير او بيا په دي باندي اعتراض :

اوله خبره داد چي (هی) ضمير راجع شی لفظ د کلمی ته اويا راجع دي مفهوم د کلمی ته ، اعتراض که هی ضمير راجع وي لفظ د کلمی ته نو دوه نقصانه راځي اول نقصان دا چي لفظ د کلمة خو معرف با اللام دي او الف لام تعريفی دا خاصه ده داسم نو کلمه هم اسم وګرځيده او تقسيم کښي ئي هم اسم ،وفعل،وحرف راځي نو لهذا تقسيم دشی راغی الی نفسه والی غيره ته دويم نقصان دادي چي تقسيم خو دمفهوم کيږي نه دلفظ او که راجع شی مفهوم ذکلمی ته نو بيا يو نقصان راځی او هغه دا چي مطابقت نه راځي په مابين راجع او مرجع کښي ځکه مفهوم د کلمه خو مذکر دي او هی ضمير دمؤنث دي

جواب: دادي چي دلته صنعة الاستخدام شويدي ، او صنعة الاستخدام ديته وائي چي دضمير نه يوه معنی واخلی او داسم ظاهر نه بله معنی واخلی لکه (اذا نزل السماء بارض قوم رعيناه وان کانوا غضابا) ده ضمير نه مونږ فصل واخستو او السماء نه موباران واخستو او داسی هم کيديشی چي دظاهر نه اول يوه معنی واخلی او ثانياً ترينه بله معنی واخلی لکه (الکلمة) کښي چي مونږه وايو چي ضمير راجع دي لفظ د کلمی ته خوتقسيم دمفهوم د کلمی دي اعتراض دفع شو.

ای منقسمة: د دي ځای نه تر منحصرة پوري دري خبري ذکر کوي او له خبره تعین دمعنی . دويمه خبره تعين د تقسيم، دريم اعتراض او بيا دهغی جواب

اوله خبره حاصل دمعنی نو منقسمة دا معنی شوه بعضو شارحينو دا دفع داعتراض ګرځولی او اعتراض په دريو طريقو سره کوی او دري واړه غلطی دي ۱ :
اول چي کله ضمير دائر شي په مابين د خبر او مرجع کښي نو رعايت د خبر اولی دي ضمير کلمي ته راجع دي خو ليکن ضمير مذکر دي نو ضمير (هو) پکار وو نو شارح جواب ورکړو چي خبر منقسمة دي دا سوال جواب صحيح نه دي ځکه چي محشي لوي عالم دي ده ته ډير قواعد ياد وو دا قاعده هله جاري کيږي چي کله ضمير مخالف د مرجع راشی دا نه چي هر ځاي کښي به رعايت د خبر کوی او مرجع ته به نه ګوري دوهمه طريقه داعتراض داده چي مبتدا ده خو خبر ورلره اسم ندي بلکه منقسمة دي او اسم اوفعل او حرف ځانته اخبار دي او مبتدا ئي محذوفه ده خو دا خبره هم غلطه ده ځکه چي د مبتدا او خبر په مابين کښي مطابقت دا شرط دي په شروط سته ؤ سره يو شرط پکښي دادي چي مبتدا او خبر به اسمين ظاهرين وي او دلته داسي نه دي، دريمه طريقه داعتراض داده چي هی مبتدا ده او اسم فعل او حرف ورلره خبر دي او خبر محمول وی په مبتدا نو دلته حمل دمتعدد راغی په شی واحده باندی نو شارح ورکړو چي خبره ورلره اسم ندي بلکه منقسمة دي نه اسم او افعل او حرف .

خو دا خبره هم غلطه ده ځکه چي حمل دمتعدد په هغه صورت کښي راتلو چي ربط مقدم وی په عطف باندی او دلته عطف مقدم دي په عطف کښي تول اشياء په منزله دشی واحد وګرځيدل دا حاصل د معنی وه .

هذه الاقسام الثلاثة: دي سره دويم غرض تقسيم په دوه قسمه دي يو تقسيم دکل دي اجزاء ته نو پدي کښي کل محمول وي په ټولو اجزاء باندي جميعاً په يو جزء يي حمل او اطلاق نه کيږي لکه چاي په خپلو اجزاء بل تقسيم دکلی دي په جزئياتو باندي او په دي کښي د کلی اطلاق په جزي باندي کيږي لکه دحيوان اطلاق په انسان بقر او فرس هر يو باندي جدا جدا کيدي شی کلمه کښي تقسيم دکلي دي يو جزئي اسم او بل فعل او بل حرف دي .

ومنحصرة فيها: سرد دريم غرض دفع داعتراض دہ .

اعتراض: ملا صاحب نه اقسام ذکر کوي او دا دي ونه ښودل چي نور اقسام شته او که نه. نو شارح اووئيل چي وهي منحصرة فيها او دا معلوميږي ددينه خو ماتن سکوت کړي دي او سکوت په معرض د بيان کښي دا دليل دانحصار وی نو که اعتراض وارد شي چي تقسيم کښي لابدي وي د ادواتو د حصر نه داسي به دي وئيلی وي چي وما هی الا اسم وفعل و حرف .

جواب: دادي چه ادوات دحصر په دوه قسمه دي لفظی او معنوی . لفظي لکه ماو لا والا او منعوی هغه تقديم د عطف په ربط باندي .

لانها اما ان تدل الخ: اول غرض ذکر د مرجع د (ها) دضمير کوی دويم وروسته دفع داعتراض کوی . نو مرجع د (ها) ضمير هغه کلمه ده دويم غرض دفع داعتراضينو نه. اول اعتراض : دليل دي مطابق دمدعی سره نه شو مدعی دي انحصار دکلمی وو په اقسام ثلثه و کښي او دليل کښي انحصار او عدم انحصار دلالت ذکر کوی او حال دادي چه دلالت مخکښي ندي ذکر .

جواب: دادي چي مخکښي وضع ذکر ده او وضع مستلزم ده دلالت لره .

اعتراض ثاني : دادي چي تا اووئيل چي يا به دلالت في نفسها کوی او يا بغيرها زه به درته وښايم چي نه به دلالت في نفسها کوي او نه بغيرها لکه لفظ مهمل .

جواب: چي مونږه لفظ دموضوع لګولی دي او مهمل لفظ موضوع ندي .

فهی اما من صفتها الخ: سره غرض اول دفع داعتراض او رد په شارح هندی او رضی .

اعتراض: لانها اما ان تدل . ان حرف دي د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړي ها ورلره اسم شو او ان تدل په تاويل دمصدر سره خبر شود د ان دپاره او قاعده داده چي خبر محمول وي په اسم د ان باندي او دلته حمل نه صحيح کيږي ځکه چي ان تدل دا مصدر دي او مصدر صرف وصف وي او (ها) راجع دي کلمي ته او کلمه ذات مع الوصف دي نو حمل دصرف وصف راځي په ذات مع الوصف وهذا ليس بصحيح .

جواب: شارح جواب ورکړو چي دلته د ان تدل نه مخکښي اما من صفتها مقدر دي، او صفتها کښي ضمير راجع دي کلمي ته او هغه ذات مع الوصف ده نو لهذا حمل

صحیح شو . دویم غرض رد په شارح هندي او شارح رضی باندي، هلکه دوي څه کړي دي رد کوي نو دوي دي مخکښي اعتراض نه نور تاویلات کوي هغوی داسي ونیلی چي (اما ان تدل داله) اودویم تاویل دا کوي چي (اما حالها ان تدل علی معنی) خو دا دواړه غلط دي اول تاویل ځکه غلط دي چي پدي ځاي کښي خواما ان تدل دالةً صحیح کیږي خو په وروسته او لاتدل دالةً کښي نه صحیح کیږي ځکه دلته ببا معنی غلطیږي معنی به داسي شی چي یا به دا کلمه دلالت نه کوي په حال کون ددي کلمه کښي چي دلا لت به کوي نو دلته جمع دمتنافینو راغله، او که تقدیر دمن حالها راوباسي نو دا هم نه صحیح کیږي ځکه مونږ انحصار کوو په ذات د کلمه کښي او که من حالها راوباسو نو انحصار به بیا داحوالو د کلمه راشی ، وهذا لیس بصحیح

علی معنی کائن فی نفسها الخ: غرض اول متعلق د جار او مجرور ، دویم غرض رد په بعض خلقو : اول غرض فی نفسها جار مجرور متعلق دي په کائن پوري، دویم غرض رد په بعضو ، بعض وائی چي جار مجرور متعلق دي په ان تدل پوري خو دا نه صحیح کیږي دوه خرابیانی راځي یوه لفظي ا و بله معنوی ، لفظی خرابی داده چه صله د تدل علی راځي او دلته (فی) راغله ، معنوی خرابی داده چي دلته ان تدل فی نفسها راځي او وروسته بغیر ها راځي .

غرض دِ مرجع دِ ضمیرنه

فی نفسها ای فی نفس الکلمة الخ: دلته دوه غرضه دي اول غرض مرجع دضمیر دفی نفسهاده ، نو مرجع خو کلمه ده ، او دویم غرض دفع داعتراض ده او هغه اعتراض دادي چي (فی نفسها) ظرف دي او ظرف یا زمان یا مکان وي دلته خو زمان ندي نو مکان به وي که مکان شی نو ظرفیت دشی راځي خپل نفس ته چي دلالت به کوي دا کلمه په نفس ددي کلمه باندي .

جواب: ستا اعتراض به هله واردیدي چي (فی) په خپله معنی سره وي او دلته خو فی په خپله معنی سره ندي بلکه په معنی د (با) سره ده یعني باعتبار نفسها او ددي خبري چي فی په معنی داعتبار سره ده وضاحت به راشي په محصول کښي .

اومن صفتها الخ: پدیکښي هم دمخکښي پشان اعتراض دي، وجه دحصر : دا

کلمه به یا دلالت کوی او یا نه که ثاني وو نو دا حرف او که اول وو نو یا به سره داقتران نه وي او یا بغیر داقتران نه که اول وو نو دا فعل او که ثاني وو نو دا اسم شو.

د حرف تعریف او تشریح

القسم الثاني الحرف: الثاني صفت دي او موصوف ئي القسم ورته راویستلو په الثاني باندي دا اعتراض واردیږي چي الثاني خو اسم فاعل دي ځکه الف لام پري داخل شوي دي او اسم خو حرف نشی کیدي.

جواب: لفظ ثاني حرف ندي بلکه (ما هوالمراد من الثاني) دحرف دي چي هغه ما لایدل علی معنی في نفسها دي.

الحرف کمنْ والیٰ: اول غرض مثال ذکر کول دي دویم غرض دلیل دریم غرض وجه دتسمیه څلورم غرض دفع داعتراض پنځم غرض دفع داعتراض: اول غرض، مثال دحرف من او الی دي، غرض ثاني من او الی دا مثالین د حرف دي ځکه چي دوي په دلالت کولو کښي په معني خپله باندي محتاج دي، ضم دکلمي اخري ته معني دمن ابتداء او الی انتهاء ده او کلمه اخري لکه بصره او کوفه شو په سرت من البصرة الی الکوفة کښي.

وانما سمی هذا القسم الخ: دي عبارت سره وجه د تسمی ذکر کوی حرف ته حرف ځکه وائی چي دا واقع کیږي په طرف کښي داخوینو خپلو نه چي اسم او فعل دي او حرف طرف ته وائی لکه قرآن کریم کښي راځي (ومن الناس من یعبد الله علی حرف)

اي جانب مقابل الخ: اعتراض: هلکه تا اووئیل چي حرف په طرف کښي واقع کیږي زه به درته اوښایم چي په وسط کښي به واقع وي لکه زید في الدار.

جواب: مراد د طرف نه دادي چي دا به په مقابله داسم او فعل کښي وي.

حیث یقعان الخ: اعتراض: حرف غیر مستقل دي او فعل او اسم مستقل دي او غیر مستقل د مستقل په مقابله کښي نشی راتلی.

جواب: مراد د مقابله نه دادي چي دا به عمده في الکلام نه واقع کیږي یعني دابه مسند او مسند الیه نه واقع کیږي.

والقسم الاول الخ: دلته دمخکښي په شان خبره ده. اما من صفتها

اما ان یقترن الخ: دلته پنځه خبري ذکر کوي، اول ضمیر په یقترن کښي چا ته راجع

دي، دويم المدلول عليه سره دفع داعتراض ، دريم لنفسها سره دفع اعتراض ، څلورم في الفهم سره دفع داعتراض، پنځم (عنها) سره دفع اعتراض ذكر كوي . اوله خبره يقترن كښي ضمير راجع دي معنى ته .

اعتراض: كه ته ضمير راجع كړي لفظ ته او كه معنى ته يو هم نه صحيح كيږي كه راجع كړي لفظ ته نو اقتران خو صفت دمعنى دي نه دلفظ او كه راجع ئي كړي معنى ته نو بيا اضمار قبل الذكر راځي او بل نقصان بناء دي په يو قاعدي باندي چي په خبر كښي به يو عائد وي چي راجع به وي مبتدا ته نو دلته جمله بلا عائد پاتي كيږي.

جواب: نو جواب شارح به المدلول عليه سره كوى چي ضمير راجع دي معنى ته او معنى مدلول لفظ دي او لفظ دال دي او ضمير مدلول ته راجع كول دا داسي دي لكه چي ضمير دال ته راجع شي .

بنفسها الخ: **اعتراض**: اول يو تمهيد ذكر كوو، يقترن كښي ضمير راجع دي معنى ته او اقتران صفت دفعل دي نو معنى دا شوه چي اقتران به دمعنى دفعل راغلى وي په زماني پوري او دفعل دوه معناگانى دى: ۱ : مطابقى ، ۲ : تضمنى : مطابقى مجموعه د حدث نسبت زمان ته وائى ، او تضمنى چي حدث نسبت او زمانه خانته واخلى نو اوس اعتراض دا وارديږي چي ته دفعل كومه يوه معنى اخلى كه مطابقى اخلى نو په مطابقى كښي نسبت هم شته او نسبت دا غير مستقل وي او قاعده داده چي يو شى مركب شى دمستقل او غير مستقل نه نو هغه غير مستقل وي ځكه چي نتيجه تابع داخص ارزل وي او اقتران خود غير مستقل پوري نه راځي . او كه معنى تضمني اخلي نو په هغى كښي يو نسبت دي ددي وجه خو ذكر شوه چي دا غير مستقل دي او زمانه هم نشي اخستى ځكه چي بيا به اقتران د زماني په زماني پوري راشي او كه حدث اخلي نو بيا ترجيح بلا مرجح راځي

جواب: نو دي جوا ب كوي چي مراد زمونږ حدث دي او كه ته وائي چي ترجيح بلا مرجح ده نو مونږ وايو چي مرجح موجود دي چي عدم صحت دنورو دي .

فى الفهم الخ: دي عبارت سره بله دفع داعتراض . تعريف دي مانع نشو دخول دغير نه داخل شو پكښي مصدر لكه الاكل خوردن نو دا خوراك خو به په يو وخت كښي

موجود يږي

جواب: مراد د اقتران نه اقتران في الفهم دي نه اقتران في الوجود او مصدر مقترن دي په زماني پوري خو په اعتبار دوجود سره

عنها الخ: تعريف دي مانع نشو دخول دغير نه داخل شو پکښي اسم فاعل ځکه دي هم مقترن دي په زماني پوري او اقتران ئي هم في الفهم دي نه في الوجود لکه زيد ضارب غداً يا امس.

جواب: اقتران في الفهم به ئي وي خو ددغه لفظ نه به معلوميږي او دلته خو دضارب نه نه معلوميږي بلکه دغداً او امس نه معلوميږي، او يا دا في الفهم عنها دواړه ديو اعتراض نه جواب وګرځوو. **اعتراض:** په اصطلاح دمنطقيانو کښي ذهن بسيط دي دوو شيانو ته په يو ځل نشي متوجه کيدلي او دلته هم يو جدث دي او بل زمان. **جواب:** دلته زمان په ضمن دحدث کښي موجود يږي نو شي واحد شو.

باحد الازمنة الثلاثة الخ: يو غرض دشارح تعين د ازمنة ثلثه وو کوی او غرض پکښي دفع داعتراض ده اول غرض خو اوشو چي ازمنه ثلاثه ماضي حال او استقبال دي او دويم غرض دفع داعتراض ده او هغه دا چي تعريف دي جامع نشو خپلو افراد لره خارج شو ترينه صبوح غبوق. ځکه ددوي معنى هم مقترنه ده په زماني پوري معنى دصبوح ده په سحر کښي شراب څښل او غبوق دا وائي په ماښام کښي شراب څښل او دوي ته څوك افعال نه وائي.

جواب: تعريف پري نه دي صادق ځکه چي مراد د زماني نه ماضي حال او استقبال دي نه مطلق زمانه او په صبوح اوغبوق کښي مطلق زمانه ده.

حين يفهم ذالك المعنى عنها: دي سره غرض دفع د دريو اعتراضو نو ده ،اول اعتراض دادي چي هلکه ذهن خو بسيط دي په يو وخت کښي به معنى او زماني ته څرنګه لاړ شي ؟ **جواب:** دادي چي تبادر به ذهن معنى ته کوی خو زمانه به مقترنه وي د معنى سره.

دويم اعتراض: تعريف دي مانع نشو دخول دغير نه داخل شو پکښي لفظ دماضي ځکه دا دلالت په معنى هم کوي او اقتران يي په زمانه پوري هم شته او سره ددي نه چي

دا اسم فاعل دي **جواب:** مراد د مقارنت نه مقارنت دجزء دي د کل نه، د زمانه به جزء وی د کلمی نه لکه ضرب شو او الماضی کښې زمانه دا صفت دي د الماضی نه.

دریم اعتراض: هلکه په باحد الازمنة الثلثة کښې باء دپاره دسببیت ده، نو معنی کښې فساد راغی معنی دا شوه چې د فعل به اقتران دبل شی سره راغلی وي په سببیت دزمانی سره او حالانکه خبره خو داسي نده،

جواب: با دلته دپاره دسببیت نده بلکه دپاره د مصاحبت ده نو معنی دا شوه چې دا معنی به مقترنه وي د زمانه ثلاثة و سره باحد الازمنة الثلاثة باندي دبهر نه یو اعتراض

اعتراض: ازمنه موصوف او ثلاثة صفت او قاعده داده چې صفت او موصوف په اسماء اعداد و کښې دا پشان دتمیز او ممیز وی او قاعده داده چې تمیز دعدد اقل دا خلاف القیاس راځي یعني که ممیز مذکر وی نو تمیز مؤنث راځي او که ممیز مؤنث وی نو تمیز به مذکر راځي، نو پکار دلته هم ازمنة الثلاث وئیلی وو؟

جواب: داقاعده صحیح ده خو خلاف القیاس راوړل په اعتبار داصل سره او اصل د ازمنة و زمان دي او زمان مذکر دي نو تمیز ئي مونث شو. **اولا یقترن ذالک المعنی:** دي کښې هم هغه خبري دي کومي چې په ان تدل کښې وي.

د مشتق منه د اسم بیان

الاسم: ددي ځای نه تر القسم الاول پوري پنځه خبري ذکر کوی: اول مشتق منه د اسم، دویم معنی داسم، دریم دلیل، څلورم قول آخره، پنځم معنی.

اول خبره داده چې اسم دامشتق دي د سموٌ نه او خلاف القیاس حذف شو او حرکت د (واو) نقل شو ماقبل ته او ددي په عوض کښې په اول دکلمه کښې همزه راوړې شوه او معنی دسموٌ علو او اوچتوالی دي او دلیل ئي دادي چې دا اسم هم اوچت دي په اخوینو خپلو باندي چې فعل او حرف دي، ځکه د دوو اسمینو نه کلام جوړیږي په خلاف دفعل او حرف و دامذهب دبصرینو دي او د دوي دپاره څلور دلائل دي، اول دا چې ددي جمع اسماء راځي، دویم ددي تصغیر سمیٌ راځي، دریم فعل سمیتُ راځي، څلورم دا په معنی دعلو سره دي.

وقیل من الوسم: دي څلورم غرض چې قول آخر دي ذکر کوي بعضي وائی چې دا

مشتق دي د وسمٌ نه ،اول نه (واو) حذف شو او همزه ئي په عوض كښي راوړلي شوه او معنى دوسمٌ علامه ده او اسم هم علامه ده په مسمي خپله باندي، او دا مذهب د كوفيانو دي اول دليل دادي چي دي كښي قلت د حذف دي او قلت دحذف دا اولي وي د كثرت دحذف نه، او دويم دليل دادي چي اسم دا علامه ده په مسمي خپله باندي، كوفيان دبصريانو د دلائلو نه جواب كوي دا اسماء او سمي او سميت دا منقلب دي د اوسام نه، خو بصريان اول ددوي ددلائلو نه جواب كوي اول دليل نه جواب دا كوي چي د داسي حذف نظير مونږ چيرته ندي ليدلي چي يو حرف حذف شي اوبل حرف په هم هغه ځاي په عوض كښي راوړي ، او د دوهم دليل نه جواب دا دي چي فعل هم علامه ده په مسمي خپله او حرف هم.

د فعل لغوی او اصطلاحی معنی

والقسم الاول الفعل سمى به لتضمنه الفعل اللغوى وهو المصدر: قسم اول دا هغه دي چي دلالت كوى په معنى في نفسها او مقترن وى په ازمنه ثلاثة پوري ،نو ديته فعل وائى يو فعل لغوى دي چي هغه حدث دي او يو فعل اصطلاحى دي چي هغه حدث نسبت زمان دي نو دائي مسمى كړو په فعل لغوي سره او ديته تسميه دكل وائي په اسم دجزء سره او كل چي فعل اصطلاحى دي متضمن دي فعل لغوى لره او داجزء دي دهغى نه .

وقد علم بذالک خد کل واحد منها: په واو باندى مشهور اعتراض دي . هله كه واو عاطفه وى نو معطوف عليه راته اوښايه او كه واو حاليه وى نو ذو الحال راته اوښانه او كه واو ابتدائيه وي نو دا خو ابتداء د كلام نه ده بلكه وسط د كلام دي، او كه واو استينافيه وي نو واو استينافيه خو په جواب دسوال كښي راځي او دلته سوال اوښايه .او كه واو اعتراضيه وي نو واو اعتراضيه خو په مابين د جلمتين متلازمين كښي راځي او دلته جملتين متلازمين هم نشته .

جواب : دا پنځه واړه صحيح كيږى واو عاطفه ځكه صحيح كيږي چي معطوف عليه دلته مقدر دي او هغه دا چي (ان حصرت الكلمة فى اقسام الثلاثة وقد علم بذالك) دويم حاليه هم صحيح كيږي ځكه چي ذو الحال دلته مقدر دي چي افاد لهذا الكلام الانحصار حال كونه قد علم بذالك دي،

او ابتدائیه هم صحیح کیږي ځکه چي کلام جدید شروع شو. او استینافیه هم صحیح کیږي ځکه سوال دلته مقدر دي چي (هل علم بوجه الحصر تعریف کل واحد) نو جواب داشو چي (وقد علم بذلك حد کل واحد) او پنځم اعتراضیه کښي دوه مذهبه دي یو مذهب دادي چي واو اعتراضیه هغی ته وائي چي په مابین د جملتین متلازمین کښی راغلی وی بل مذهب د جار الله زمخشري دي وائي چي واو اعتراضیه هغه دي چي په ابتداء کښي راغلی وي اودلته واو اعتراضیه صحیح کیږي په مذهب ثاني سره ځکه چی واو په ابتداء کښی راغلی دي، اعتراض په ایراد دعلم کښی څه فائده شته او که نه؟

جواب: دعلم او عرف په منځ کښي ډیر فرق دي علم استعمالیږي په ادراك کلی کښي او معرفت استعمالیږي په ادراك جزي کښي، دویم فرق دا دي چي علم استعمالیږي په ادراك دمرکب کښي او معرفت استعمالیږي په ادراك دبسیط کښي نو دلته د اسم ادراك کلی راغلی نو ځکه ده علم اووئیلی. بعضي وائي چي فرق پکښي نشته خو چا چي فرق کړي دي بښه ئي کړي ځکه الله ﷻ فرمائي چي (ویعلم ما فی الا رحام) نو اوس دا اعتراض راځي چي په ساینسی الاتو سره هم دا معلومیږي چي دا نر دي او که ښځه، دا سالم الاعضاء دي او که ناقص الاعضاء، نو جواب دادي چي الله ﷻ ئي بغیر د آلاتو نه معلومیږي او انسان ئي په آلاتو سره معلوموي، دویم جواب دادي چي ادراك کلی دد غه ماشوم دا الله ﷻ ته دي او ادراك جزءی دا انسان ته هم شوي دي، نو دسائنس او د قرآن هیڅ تعارض نشته تعارض د عرف وئیلو په صورت کښي راتلو.

ذالك: اعتراض: هلکه ذلك سره اشاره کیږي بعید ته یا به دي ضمیر راوړي وي یعني وقد علم به او یا به دي اشاره دقریب راوړي وي ځکه مشار الیه چي وجه د حصر ده قریب ده. **جواب:** چونکه دا وجه د حصر ډیره عظیمه وه ځکه یواځي دا نه چي وجه ده حصر ده بلکه د هر یو تعریف لکه په قرآن کریم هم راځي ذالك الکتاب.

کل واحد منها: اول بیان د ضمیر منها کوي، نو ضمیر راجع دي اقسام ثلاثه ؤ ته او دویم نمبر کښي دلیل ذکر کوي چي ځرنګه معلوم شو تعریف د هر واحد نو دا خو هم ظاهره ده تفصیل ته ضرورت نشته.

لکنه مقترن: لکنه مقترن کنبي يو دا بحث دي چي لکن راځي دپاره داستدراك، استدراك ديته وائي چي دکلام سابق نه فهم داعتراض وشي او په لکن سره ئي جواب اوشي نو دلته د لکن څه فايده ده ؟

جواب : دنورو خلقو دطرف نه په ماتن اعتراض وارد شوي دي او شارح ئي جواب کړي، سوال باسولی داسي جوړ کړي دي چي فعل به دلالت کوی په معنی باندی او معنی نه به مراد معنی اصطلاحی وي دفعل او معنی اصطلاحی کنبي خو نسبت هم وو نو خلقو به دا وهم کولو چي نسبت خو غير مستقل دي او اقتران دا مستقل پوري راځي نو دفعل معنی به مقترنه نه وتر زمانی پوري نو شارح جواب ورکړو لکنه مقترن يعني مراد فعل لغوی دي چي حدث وي او حدث مستقل وي، بعض شارحينو دا جواب ګرځولي د بل سوال نه هغه دا چي فعل به دلالت کوی او اسم هم دلالت کوی نو خلکو به دا وهم کولو چي د اسم اقتران خو دزمانی پوري نه وي نو د فعل به هم نه وي نو شارح په لکنه مقترن سره جواب ورکړو، خو دا دواړه جواب او سوال صحيح نه دي اول ځکه ندي صحيح چي دهغي پته خو مخکنبي هم وه چي اقتران دزمانی پوري دفعل لغوی وی چي هغه حدث دي ، او د دويم جواب هم مخکنبي نه معلومات وو چي اما ان يقترن او لا يقترن ، خو اصل خبره داده چي لکن دپاره دفرق دي په مابين داسم او فعل کنبي او که ته وائی چي فرق خو مخکنبي شوي دي نو جواب دادي چي هغه خو ماتن کړي دي او دا شارح کوي .

فالکلمة مشترکه: اول غرض تعيين د جنس او دفصل غرض ثاني دفع داعتراض غرض ثالث، صفت د مصنف غرض رابع، دفع د اعتراض :

غرض اول : هر تعريف کنبي لابدي وي د جنس او دفصل نه نو الکلمة جنس دي او اسم فعل حرف ټول پکنبي داخل دي فصل دپاره د حرف عدم دلالت دي او فصل دپاره دفعل دحرف نه دلالت دي او د اسم نه اقتران دي،او فصل دپاره د اسم دفعل نه عدم اقتران دي او دحرف نه دلالت دي .

وليس المراد با لحد ههنا الا المعرف الجامع المانع: دويم غرض دفع داعتراض : مراد په حد سره هغه تعريف د شئ وي په ذاتياتو سره او هغه جنس او فصل دي او دلته جنس او

فصل من تعريفات الغوامض نه دي يعني فرق د جنس دعرض عام سره په خاصه سره مشكل دي ځكه چي جنس دا مشترك دي عرض عام سره په عموم كښي او فصل خاصه سره مشترك دي په خصوص كښي دا فرق خو په انسان كښي كيدي شي ځكه چي انسان لره وجود په خارج كښي شته او كلمي لره خو په خارج كښي وجود نشته نو شارح جواب پدي عبارت سره وركړو چي وليس المراد با لحد ههنا چي مراد په حد سره حد منطقي ندي بلكه مراد د حد نه هغه تعريف جامع مانع دي او دلته هم تعريف جامع مانع دي او كل متكم يتكلم باصطلاحه خو دا جواب ددغه اعتراض نه نه صحيح كيږي ځكه چي دا جامع مانع خو مخكښي اعتراض هم ذكر دي بلكه دا جواب دبل اعتراض دي او هغه دا چي د ماتن او دشارح په عبارت كښي تضاد دي هغه دا چي ماتن مخكښي وئيلي وو چي وقد علم بذلك حد كل واحد ، او دلته شارح وائي چي فعلم لكل واحد معرف جامع مانع ، ماتن حد ذكر كړيدي او شارح معرف ذكر كړي ، نو جواب دادي چي پدي عبارت سره شارح وركړو ، هو ليس المراد ههنا چي حد معرف يو شي دي چي تعريف جامع مانع ته وائي .

د در معنی

ولله در المصنف: پدي عبارت سره ذكر د غرض ثالث دي چي صفت د مصنف دي، خاص الله ﷻ لره دي وى خير كثير د مصنف عرب چي كله د تعجب يو كار وګوري نو نسبت ئي الله ﷻ ته كوى لكه (قلن حاشا لله) در وائي پيو ته مراد ترينه خير كثير دي دا اضافت د ادنى ملابست دوجي نه دي دا دفع ديو اعتراض شوه چي دولد نسبت خو مور ته كيږي چي ولد ته ترينه خير كثير ورسيږي د مصنف دپاره خو پيى نشته نو جواب دادي چي لكه څرنګه چي پيو سره خير كثير ولد ته رسيږي نو دغه رنګه مصنف چي د طالبانو داذهانو دمراتبو رعايت ساتلي دي سره هم خير كثير رسيږي طالبانو ته او د در نسبت مور ته دا اعلى ملابست دي .

حيث اشار: خلورم غرض دفع د اعتراض ده هغه داسي چي دتصور نه تصديق او دتصديق نه تصور نه معلوميږي تصور به دتصور نه او تصديق به دتصديق نه معلوميږي اوس دلته دتصور چى تعريف دهر واحد دي، دتصديق نه معلوم كړي شو

چي وجه د حصر ده، نو مصنف جواب ورکړو پدي عبارت سره چي اشاره الی حدودها فی ضمن دلیل الحصر، ستا قاعده صحیح ده چي دتصور نه تصدیق نه معلومیږي او نه برعکس لیکن دلته چي تصور معلوم شوي دي دتصدیق نه دا ضمناً دتصور نه معلوم شوي دي نه دوجه دحصر نه چي تصدیق دي.

د الکلام لغوی او اصطلاحی تعریف او تشریح

الکلام: هر کله چي فارغ شو مصنف د تعریف د یو جزء د موضوع نه چي کلمه ده نو شروع ئي اوکړه په دویم جزء دموضوع کښي چي کلام دي.

اعتراض: والکلام دي ولی او نه وئیلو چي عطف کړي دي وي په کلمه باندي ؟

جواب: عطف مقتضی د تبعیت دي نو خلقو به دا وهم کولو چي کلام دا جزء دي د کلمه نه او حالانکه کلمه دا جزء دي د کلام نه، اوس د علم نحو موضوع کلمه او کلام دي او تعدد دعلومو دا بناء وي په تعدد د موضوع او وحدت دعلومو دا بناء وي په وحدت دموضوع او دلته خو دوه دي، داځکه چي په مابین د کلمه او کلام کښي کلیت او جزئیت دي، اول غرض، معنی لغوی د کلام ذکر کوي او دویم غرض معنی اصطلاحی دکلام ذکر کوي دریم غرض دفع داعتراض کوي په ذي سره. اعتراض: ماتن چي کوم تعریف ذکر کړي نو دا تعریف اصطلاحی دي او که تعریف لغوی دي که اول وي نو ثانی څه شو او که ثانی وی نو اول څه شو ؟

جواب: ماتن چي کوم تعریف ذکر کړي نو دا تعریف اصطلاحی دي او تعریف لغوی شارح ذکر کړی دي چي ما یتکلم به قلیلاً کان او کثیر او معنی اصطلاحی ما تضمن کلمتین با لاسناد، معنی لغوی دا عامه ده دمعنی اصطلاحی نه په دریو وجوهو سره، اوله وجه داده چي دکلام لغوی اطلاق په مهمل باندي کیږي نه د کلام اصطلاحی ځکه چي په کلام کښي کلمتین وي او کلمه وائی کلمه موضوعی ته، دویمه وجه داده چي دکلام لغوی اطلاق په مفرداتو باندی کیږی چي نسبت ورسره نه وي ذکر لکه زید، نه د کلام اصطلاحی ځکه چي کلام وائی تضمن کلمتین با لاسنادته، دریمه وجه دا ده چي د کلام لغوی اطلاق په مرکب توصیفی او مرکب اضافی باندی هم کیږي لکه رجل عالم او غلام زید نه د کلام اصطلاحی ځکه چي کلام با لاسناد وی او مرکب توصیفی

او اضافی کښي اسناد نشته

ماتضمن کلمتین: اول غرض تعین د (ما) او دویم غرض دفع داعتراض، نو مراد د (ما) نه لفظ دي د ما موصوفی نه ئي تعبیر په لفظ سره وکړو.

اعتراض: د ما نه خوتعبیر په شئ سره کیږي ؟ جواب : که د ما نه مو تعبیر په شئ س ره کړي وي نو بیا تعریف نه مانع کیدو داخلیدو به پکښي جدار چي په هغی لفظ د زید قائم لیکل شوي وي نو داول نه مو د (ما) نه تعبیر په لفظ سره اوکړو دپاره دقصر مسافت دا خبره په ډیردو ځایونو کښي راځي.

کلمتین حقیقتاً او حکماً: پدي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده ، تا اووئلی چي کلام به جوړ وي د دوو کلمو نه زه به درته اوښائم چي یوه کلمه به وي او کلام به وي لکه زید په جواب د (من هذا) کښي

جواب مذکور فی السوال کا لمعاد فی الجواب وی نو زید حکماً کلمتین وګرځیدو

بیان د متضمن او دَ متضمّن

ای یکون کل واحد منها: دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده ، دي نه مخکښي یو تمهید یادول پکار دي چي د متضمِن او دمتضمَن په مینځ کښي تغایر وي اوس دلته الکلام متضمِن او متضمن دي په مابین د دوي کښي مغایرت نشته دي بلکه اتحاد دي په دي کښي کلام متضمِن دي کلمتینو لره او کلمتین متضمِن دي کلام لره.

جواب: کلام نه مراد من حیث المجموع د کلمتین ده او مراد په کلمتین سره کل واحد من الکلمتین دي نو اتحاد رانغلو په مابین دمتضمَن او متضمِن کښي ، کل په دوه قسمه دي. اول کل مجموعی ، دویم کل افرادي. د کل افراد مثال لکه کل من الطلاب یشبع بهذا الرغیف او د کل مجموعی مثال لکه کل الطلاب یرفع هذا الحجر

غرض د شارح او معنی د اسناد

بالاسناد: دي سره غرض ذکر د اعراب دي ، دویم غرض تعین د (باء) دریم غرض معنی داسناد ، څلورم نمبر تعمیم ذکر کوي، غرض اول : با لاسناد منصوب دي بناء بر مفعول مطلق دپاره د تضمن

اعتراض. فعل مشتمل وي په مفعول مطلق باندي دقبيلي داشتمال دكل نه په جزء باندي او دا تضمن خو مشتمل دي په تضمنا نه په با لاسناد،

جواب: دا مفعول مطلق دي بناء برموصوف محذوفه سره چي تضمناً حاصلاً دي او تضمناً دا مفعول دي د تضمن دپاره او حاصلاً دا صفت دي دتضمناً دپاره او اعراب دموصوف او صفت يو وي نو با لاسناد منصوب شو دتضمناً دوجې نه او با لاسناد دا متعلق دي تر حاصلاً پوري، دويم غرض: دلته (باء) د سببيت ده، دريم غرض: معنى د اسناد، اسناد وانى نسبة احدي الكلمتين الى الاخري بحيث تفيد المخاطب فائدة تامةً، څلورم غرض: تعميم دي چي په حقيقتاً او حكماً سره ئې ذكر كوى هغه داسي چي تا اووئيل چي نسبت د يوي كلمى به شوي وي بلى كلمى ته زه به درته اوښايم چي نسبت به د كلمتينو شوي وي نورو كلمتينو ته لكه غلام زيد ابوه قائم.

جواب: نسبت ديوي كلمي به بلي ته شوي وي دا عام دي كه دا كلمه حقيقتاً وي او كه حكماً، حقيقتاً لكه زيد قائم او حكماً لكه پدي مثال كښې چي غلام زيد ابوه قائم اولنى دوه كلمى په منزله ديوي كلمي او آخري دوه كلمى هم په منزله ديوي كلمى ګرځول شوي ده لكه هذا ذاك.

فقوله ما يتناول المهملات والمفردات: اول غرض فوائد دقيوداتو، دويم غرض دفع داعتراض، دريم غرض دفع داعتراض غرض رابع بيان داختلاف او غرض خامس بيان د اختلاف آخر، اول غرض په هر تعريف كښې لابدي وي د جنس او فصل نه، نو په تعريف د كلام كښې (ما) جنس دي پدي سره مهملات مفردات مركبات كلاميه او غير كلاميه دا ټول شامل شو او په قيد د تضمن سره چي دا فصل دي مهملات او مفردات خارج شو ځكه چي كلمتين تثنيه د كلمة ده او په تعريف د كلمة كښې وضع راځي او مفردات ځكه خارج شو چي كلمتين تثنيه ده او په با الاسناد سره تري نه مركب غير كلاميه خارج شو لكه مركب اضافي او توصيفي ځكه چي دوي مفيد د فائدي تا مى ندي لكه غلام زيد ورجل فاضل، پاتى شو مركب كلاميه دا په دوه قسمه دي خبريه، انشائيه، وجه د حصر داده، چي دا مركب تام به خالى نه وي يا به احتمال د صدق او دكذب لري او يا نه كه اول وو نو دا خبري او كه ثاني وو نو دا انشائى، او دويمه وجه د

حصر داده چي دا مرکب تام به خالي نه وي يا به محکی عنه د ده په خارج کښي موجود وي او يا نه که موجود وو نو دا خبر ، او که نه وو موجود نو انشاء شوه د خبر مثال لکه ضرب زيد وضربت هند وزيد قائم، او مثال د انشاء لکه اضرب او لاتضرب . دا اګر که لفظا يوه کلمه ده ليکن معنیً دوه کلمی دي څکه چي په دوي کښي معنی هم شته چي هغه انت دي د انت اسناد اضرب او لاتضرب ته شوي دي بحيث تفيد المخاطب فائدةً تامةً ددي وجي نه ورته کلام وائی .

حيث كانت الكلمتان: دي عبارت سره غرض دفع داعتراض دي او اعتراض دوه شقه دي اول دا چي تعريف دي ناقص شو او هر ناقص باطل وي نو ستا تعريف هم باطل شو کبریٰ خو ظاهره ده خو صغریٰ چي تعريف دي ناقص شو دا څکه چي پدي تعريف کښي يو قيد پکار وو چي ما تضمن کلمتين او اکثر ،

جواب: دينه جواب دادي چي کلمتين د پاره دحصر نه دي بلکه داد کلام ادنی مرتبه ده، شق ثاني داعتراض دا دي چي تعريف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه زيد ابوه قائم وغيره څکه دا خو کلمتين ندي بلکه زيات دي د کلمتينو نه .

جواب: دادي چي په دي جملو کښي اګر چي دا اخبار او اوصاف مرکبات دي خو لکين دا په حکم دمفرد کښي دي څکه د ابوه قائم نه تعبير دا په قائم الاب سره شوي دي .

ودخل فيه ايضاً جسق مهمل وديز مقلوب زيد الخ: دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده او هغه دا چي تعريف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه جسق مهمل وديز مقلوب زيد څکه چي دا خو کلام دي او تضمن کلمتين ندي .

جواب : کلمتين عام دي حقيقتاً وي او که تاويلاً وي دلته اګر که حقيقتاً کلمتين ندي ليکن تاويلاً دا کلمتين دي څکه چي دا په تاويل دهذا اللفظ سره دي .

اعلم ان كلام المصنف: دي عبارت سره څلورم غرض ذکر کوی چي بيان د اختلاف دي ، اختلاف پدي کښي دي چي مجموعه دفعل فاعل او دمتعلقاتو ته کلام وائی ، او که صرف فعل فاعل ته کلام وائی اول دمصنف مذهب دي نو دده په نزد ضربت زيداً قايماً دا ټول کلام دي، او دويم د صاحب د مفصل مذهب دي نو دده په نزد ضربت فعل فاعل دا کلام دي او زيداً قائماً دا خارج اشياء دي د کلام نه څکه صاحب د

مفصل په تعریف د کلام کښي هو ضمیر فصل راوړي او دا دلیل د انحصار دي چي کلام منحصر دي په کلمتینو کښي.

اختلاف په کلام کښي

ثم اعلم ان صاحب المفصل الخ: دي عبارت سره اختلاف ذکر کوی او غرض پدي سره دفع داعتراض ده ، اعتراض دوه شقه دي ، او اعتراض . هلکه تعریف د کلام دي کړو د جملی به دي هم کړي وي .

جواب: دادي چي دا دواړه مترادفین دي، اعتراض ثاني :هلکه د مترادفین په مابین کښي خو یو د نسب اربعه ؤ نه وي نو دلته کوم نسبت دي نو جواب دادي چي دي کښي اختلاف دي.(۱) اول صاحب دمفصل او صاحب دلباب وائی چي کلام او جمله دواړه مترادفین دي ،(۲) او صاحب دتسهیل وائی چي جمله عامه ده او کلام خاص دي ، دي کلام سره مقصود لذاته قید لگوی نو د ده په نزد زید ابوه قائم دا جمله ده او کلام ندي ځکه مقصود لذاته نه دي نو نسبت پکښي دعموم خصوص مطلق دي (۳) مصنف رحمه الله علیه مقصود لذاته قید نه دي راوړي نو پدي سره معلومیږي چي دي هم د ترادف قائله دي اوبل طرف ته شارح هندي وئیلی دي چي با الاسناد مصنف با للام راوړي نو مراد په دي سره مقصود لذاته اسناد دي نو پدي وخت کښي د ده په نزد هم پکښي نسبت دعموم او خصوص مطلق راغلو.

ولا یتاتی: هر کله چي فارغ شو مصنف دمفهوم د کلام نه نو شروع ئي اوکړه په مصداق د کلام کښي ، ولا یتاتی سره غرض دشارح دفع داعتراض ده . **اعتراض**: اتیان خو استعمالیږي په ذوي الارواح کښي او تائی نسبت غیر ذوي الارواح ته اوکړو چي کلام دي، **جواب:** نو ده جواب ورکړو چي ذکر د اتیان او مراد ترینه حصول دي ، اعتراض من الخارج : هلکه ته اتیان نه حصول اخلی یعني مجازي معنی اخلی نو علاقه او تعلق ا مناسبت پکښي څه دي، **جواب**: د اتیان او د حصول په مابین کښي نسبت د تلازم دي،**اعتراض:** چي ته اتیان راوړي او د اتیان نه بیا حصول اخلی خو اولاً به دي ولا یحصل وئیلی وي . **جواب**: داد مصنفینو عادت دي چي کله نا کله غریب الفاظ راوړي دپاره د جدت د کلام .

ذالكاى الكلام: غرض د مصنف په ذالك سره ذكر د مشار اليه دي چي هغه كلام دي، **اعتراض**: قاعده دا ده چي ولا يسوغ المنفصل الا لتعذر المتصل يعني ضمير منفصل نشي راوړي مگر په وخت دعذر د متصل كښي نو هر كله چي ضمير منفصل نشي راوړي نوو دغه رنگه اسم اشاره هم نشي راوړي نو كوم ضمير چي په ولا يتنا تى كښي دي، هم هغه به دي راجع كړي وى كلام ته.

جواب: كه مونږ ضمير راوړي وي نو ضمير خو راجع وي قريب ته نو دا به تضمن او يا با الاسناد ته راجع شوي وي نو بيا خو ظرفيت د شي راخى خپل نفس ته ځكه كه تضمن ته راجع شى نو بيا ظرفيت دشي خپل نفس ته داسي راخى چي نه به راخي دا متضمن مگر په ضمن داسمينو كښي او كه راجع شى اسناد ته نو بيا به معنى داسي شى چي نه به راځي دا اسناد مگر په ضمن د اسمين كښي او اسناد په خپله كلمتين وي ديوي كلمى نسبت بلى كلمى ته شوي وي نو ځكه مو اسم اشاره د بعيد راوړه.

الا فى ضمن اسمين: دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده اعتراض: قاعده داده چي دظرف او دمظروف په مابين كښي تغاير وي او كلام خو ندي مگر اسمين او اسمين ندي مگر كلام نو ظرفيت الى نفسه راغلو، جواب: دلته ظرفيت دشى الى نفسه نه راخي ځكه كلام عام دي او اسمين خاص دي نو ظرفيت دخاص راغى عام لره كلام به وي او اسمين به نه وي لكه اسم او فعل او اسمين چي وي نو خامخا به كلام وي.

احدهما مسندٌ والاخر مسند اليه: دا دفع داعتراض ده اعتراض دادي چي تا اوونل كلام دانه حاصليږي مگر په اسمين كښي زه په درته وښائم اسمين به وي او كلام به نه وي لكه غلام زيد: جواب :دادي چي يو داسمين نه به مسند وي اوبل به ئى مسند اليه وي او غلام زيد خو مضاف او مضاف اليه دي،

بيان د تعدد د نسخو

وفى بعض النسخ اوفعل واسم: دي عبارت سره غرض د مصنف تعدد دنسخو ذكر كول دي مصنف پخپله او اسم وفعل ونيلى دي اسم ئى مقدم كړي دي په فعل او په بعضو نسخو كښي فعل مقدم دي په اسم باندي خو دمصنف مذهب راجع دي ځكه چي اسم دا اعلى وي او تقديم د اعلى اولى وي

فان التركيب الثنائي العقلي: دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده اعتراض هلكه تا تعريف د كلمه اوكړو او بيا دي تقسيم ذكر كړو د كلمى او په هغه تقسيم كښي دي ادوات دحصر را نه وړل او دلته دي د كلام په تقسيم كښي ادوات دحصر راوړل فما الوجه : **جواب**: په كلام كښي حصر استقرائى دي هلته مونږ استقراء او تتبع اوكړه صرف دري اقسام جوړيده عقل مجوز دقسم آخر نه وو نو ځكه مو ادوات د حصر رانه وړل او دلته په كلام كښي حصر عقلى دي احتمالات پكښي ټول شپږ جوړيدل او هغه (۱) اسمين (۲) فعلين (۳) حرفين (۴) اسم فعل (۵) فعل حرف (۶) اسم حرف ، خو معتبر پكښي صرف دوه احتماله وو نو ځكه مو ادوات دحصر راوړل .

ومن البين ان الكلام لا يحصل بدون الاسناد: دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده، اعتراض : هلكه هر كله چي احتمالات شپږ وو نو تا څرنګه دعوه وكړه ولا يتاتى الافى اسمين او اسم وفعل . جواب : دادي چي كلام نه حاصليږي بغير د اسناد اوپه اسناد كښي لابدي وي د مسند او مسند اليه نه او دا دواړه متحقق كيږي پدغه دوه اقسامو كښي چي اسمين او اسم او فعل دي فقط .

ونحو يازيد بتقدير ادعوا زيدا: دا دفع داعتراض ده ، اعتراض : هلكه تاوويل چي كلام نه حاصليږي مګر په اسمينو او اسم وفعل زه به درته وښايم چي كلام به جوړوي د حرف او د اسم نه لكه يازيد. جواب : دلته دا يا عوض ده د ادعوا فعل نه ، اعتراض : يا حرف دي او حرف غير مستقل وى او فعل مستقل وي او غير مستقل دا عوض د مستقل نه نشي راتلى ، جواب : دا سماعى امور دي او عقل لره پكښي دخل نشته .

تركيب او د كلمى د اقسامو تفصيل

تركيب: الكلمة كښي اول الف لام حرف دي او دا مبنى دي او دويم كلمه ده او دريم پكښي (تاء) ده او دا هم حرف دي او مبنى دي ، الكلمة مبتداء ده او عامل پكښي معنى دي چي هغه تجريد دي د عامل لفظى نه، اعتراض: تجريد د عامل لفظى خو عدمى دي نو عدمى څرنګه عامل وګرځيدو، جواب : عوامل د نحوى علامات دي مؤثرات ندي او عدمى شى علامه ګرځيدلى شى . الكلمة مبتدا معمول په عامل معنى سره او لفظا ئى خبر معمول په عامل معنوى سره او يا په لفظى سره چي هغه

ابتداء ده ، وضع فعل مجهول او دا ماضي ده مبني ده په فتحي سره ضمير پکښي مستتر دي هغه هم مبني دي او نائب فاعل دي لام جار معنى مجرور ، تقديراً ځکه مجرور دي چي دا خو محلاً منصوب دي ځکه دا مفعول غير صريحي دي دپاره د وضع، معنى موصوف مفرد صفت، موصوف سره دصفت نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه ظرف لغوه متعلق شو تر وضع پوري متعلق سره متعلق نه صفت شو دپاره د موصوف، موصوف سره د صفت نه خبر دپاره دمبتدا . مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه ، دويمه طريقه د ترکيب . الكلمة مبتداء، لفظ موصوف وضع فعل ، ضمير پکښي مستتر دي هغه ئي نائب فاعل، لام جار معنى ذوالحال مفرداً حال، ذوالحال سره د حال نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو تر وضع پوري متعلق سره دمتعلق نه صفت شو دپاره د موصوف. موصوف سره دصفت نه خبرشو دپاره دمبتداء مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه يا مفرداً حال دي د ضمير دوضع نه، دريم ترکيب: الكلمة مبتداء لفظ موصوف، وضع معنىً صفت اول او مفرد صفت ثاني ، موصوف سره دصفتينو نه خبرد مبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه

وهي اسم و فعل و حرف ترکيب

وهي اسمٌ وفعلٌ وحرفٌ: واو حرف عاطفه هي مبتداء اسم معطوف عليه واو حرف عاطف حرف معطوف دي په فعل باندي د وجه د قرب نه او په اسم باندي عطف دي دوجه د اصالت نه. معطوف عليه سره دمعطوفتينو نه خبر د مبتداء ، مبتداسره د خبر نه جمله اسميه خبريه معطوفه .

لانها اما ان تدل على معنى في نفسها اولا الثاني الحرف: لام تعليليه . ان دا حرف دي حروف مشبهه با لفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړي ها ضمير اسم د (ان) دي منصوب دي محلاً اما حرف ترديديه، ان ناصبه تدل فعل. ضمير پکښي مستتر دي هغه ئي فاعل على حرف جر معنى موصوف في حرف جر نفس مضاف ها ضمير مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه متعلق شو تر تدل پوري. فعل سره دفاعل نه او سره د متعلقه جمله فعليه معطوفه عليها اوحرف عاطف لامعطوف ، معطوف عليه سره دمعطوف نه خبر د ان، ان سره داسم اوسره دخبر نه جمله

اسمیه الثاني صفت دي او موصوف يي مقدر دي چي القسم دي موصوف سره دصفت نه مبتداء او الحرف خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه ده .

والاول اما ان یقترن باحد الازمنة الثلاثة اولا الثانی الاسم والاول الفعل: والاول دا صفت دي او موصوف ئی القسم دي موصوف او صفت مبتدا اما تردیدیه ان مصدریه ان یقترن فعل ضمیر پکښي مستتر دي هغه ئي فاعل با حرف جر احد الازمنة موصوف الثلاثة صفت. موصوف سره دصفت نه مضاف الیه دمضاف . مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور دجار. جار سره د مجرور نه متعلق شو تر یقترن پوري فعل سره دفاعل نه او سره د متعلق نه دا په تاویل د مصدر سره خبر شو دپاره دمبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه معطوفه علیها او حرف عاطف لاناهیه منهی عنه ئی حذف دي چي لا یقترن دي، الثانی صفت دي موصوف ئی القسم دي نو موصوف او الفعل ئی صفت ، موصوف سره دصفت نه دا معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه داخبر شود پاره دمبتداء ، مبتداء سره دخبرنه جمله اسمیه خبریه .

وقد علم بذالک حد کل واحد منها: واو عاطفه قد حرف تحقیق علم فعل با حرف جر ذالك مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو تر علم پوري حد مضاف کل مضاف الیه مضاف واحد موصوف من جار ها ضمیر مجرور . جار سره دمجرور نه متعلق شو تر علم پوري.

الاسم ما دل علی معنی الخ: هر کله چي فارغ شو مصنف د تعریف د کلمي او کلام اود اقسامو نه، نو شروع ئي اوکړه په تعریف د اقسامو د کلمی کښي او داتعریف تفصیلي دي اجمالی خو دوجه د حصر نه معلوم شوي دي، اول غرض د ماتن تعین د مادي او دي سره غرض دفع داعتراض کوي، اول غرض خو ظاهر دي چي ما موصوفه ده ځکه ئي ترینه تعبیر په نکري سره کړي دي چي ای کلمة ،

اعتراض د ما خو ډير اقسام دي دلته کوم یو دي که نافیه وي نو عکس المطلوب لازمیږي نو معنی به بیا داسي شی چي اسم هغه دي چي دلالت نه کوی واو که ما زائده شي نو تعریف به خالي شي د جنس نه او که ما مصدریه شي نو (دل) نه به دلا لت جوړشي ، یعني مصدر به شي نو بیا حمل نه صحیح کیږي د دلالت په اسم باندي، او

که ما موصوله شي نو بيا هم نه صحيح کيږي ځکه دل على معنى به ورله صله شي او موصول صله دا جز ، وي د کلام نه نو بيا به په تعريف کښي جنس پاتې نشي لکه الذى ضربك دا جز ، شو نو ځا ئى به ورله راوباسي . او که ما موصوفه شي نو اخذ د محدود راځي په حد کښي نو معنى بيا دا شوه چي اسم دا هغه اسم دي **جواب:** ما موصوفه ده خو عبارت د اسم نه . نه ده بلکه عبارت ده د کلمه نه . **اعتراض:** د ما خو ډير اقسام دي او ته ترينه موصوفه اخلى نو لابد من قرينة فاين القرينة ؟

جواب: ما عبارت دي د کلمه نه او دا تعريف دا اسم دي اواسم قسم د کلمي دي او مقسم مرعى وي په اقسامو خپلو کښي ماتن دل مذکر راوړي او شارح دلت مؤنث راوړي دي ماتن رعايت د لفظ د ما کړي دي چي لفظ مذکر دي او شارح لحاظ د معنى د ما کړي دي او معنى ئي مؤنث ده ځکه چي عبارت دي د کلمى نه لکه قرآن کريم کښي هم ددي مثال شته چي الله ﷻ فرمائى (ومن الناس من يقول آمنا با الله وبا ليوم الآخر وما هم بمؤمنين) دلته من دا مفرد دي لفظاً نو يقول ئي په اعتبار د لفظ د من سره مقدر راوړي او معنى د من جمع ده نو ددي وجه نه ئي آمنا او وما هم او همدارنګه مؤمنين ئى جمع راوړي ده

على معنى كائن: کائن حال دي دمعنى نه او معنى مفعول به دپاره د مادل ، کائن سره غرض متعلق د فى نفسه ذکر کول دي او دويم غرض رد دي په شارح رضى او شارح هندي باندي، اول غرض خو وشو چي فى نفسه متعلق دي په کائن پوري، دويم غرض شارح رضى وائى چي في نفسه متعلق دي په دلّ پوري ځکه دا ظرف مستقر دي او دا اولى وي دلغوه نه ځکه ظرف مستقر ذکر وى نو شارح پري رد وکړو خلاصه داده چي د دل په صله کښي على راځى او په مدلول کښي باء راځى او دلته ني په مدلول باندي فى راغلى ده چي فى نفسه دي، او شارح هندى وائى چي دا متعلق دي په کائناً پوري او دا کائناً حال دي دضمير د دل نه چي راجع دي (ما) ته، نو شارح پري رد کوى خلاصه داده چي که دا کائناً شي او حال شي نو حال خو قيد وي دپاره د عامل د ذوالحال او قيد کله وي او کله نه نو معنى به داسى شي چي دا اسم به کله د لالت کوى او کله نه او حالانکه خبره خو داسى نده .

اى فى نفس ما دل: دي عبارت سره غرض اول ذکر د مرجع د ضمير کوي او غرض پدي سره دفع د اعتراض ده. ضمير راجع دي کلمه ته اعتراض: دادي چي في نفسه کښي فى دپاره د ظرفيت راځي او ظرف په دوه قسمه دي دلته يو هم نه صحيح کيږي او دويمه طريقه د اعتراض داده چي في نفسه کښي ضمير چا ته راجع دي که راجع وى معنى ته نو ظرفيت د شي الى نفسه راځي جواب: ظرفيت هلته راتلو چي فى په معنى د ظرف سره وي.

فتذکير الضمير الخ: دا دفع د اعتراض ده. هلکه ضمير راجع دي کلمه ته نو نفسها پکار وو، **جواب:** رعايۀ الى لفظ الموصول لفظ د موصول چي ما دي د هغه رعايت شوي ، **اعتراض:** د مصنف په کلام کښي تضاد دي مخکښي ئي وويل چي ما موصوفه ده څکه چي تعبير ئي ترينه په نکري سره کړي دي، او اوس وائى چي بناءً على لفظ الموصول، د دينه دوه جوابونه دي (۱) اول جواب دادي چي مصنف اشاره وکړه جواز د وجهين ته چي دواړه صحيح دي او که ته وائى چي کلام د جنس نه خالي کيږي نو جنس او فصل دا د منطقيانو کار دي زمونږ پدي څه او (کل متکلم يتکلم باصطلاحه) دويم جواب دادي چي دا موصول جمله پشان دالف لام دي. لکه څرنګه چى الف لام عهد ذهنى راځى او دغه الف لام ذهني په قوت د نکري کښي وي لکه پدي شعر کښ، ولقد امر على اللئيم يسبنى، دلته اللئيم کښي الف لام د تعريف دي نو دا مبتدا شوه او يسبنى جمله ده او جمله دا نکره وي او دلته دا خبر واقع شوي دي او حالانکه مبتدا معرفه ده په الف لام سره نو جواب دادي چي دلته الف لام عهد ذهنى دپاره دليل دادي چي جنسي لا يصح لان المرور لا يمکن او استغراقى هم لا يصح لان المرور على جميع الا فراد لا يمکن او عهد خارجي کښي مقصد د شاعر نه حاصليږي متعين لان التعريف للعهد الذهنى او دا په قوت د نکري کښي وي نو نکره مبتداء شوه او خبر ئي هم نکره راغى دغه رنګه موصول صله هم په څلور قسمه ده نو په هغى کښي عهد ذهنى هم يو قسم دي لکه په صراط الذين انعمت عليهم غير المغضوب کښي دلته الذين موصول او انعمت عليهم صله ده دا موصول صله يا مبدل منه دي او غير المغضوب عليهم ورنه بدل دي، او يا موصول صله موصوف دي او غير المغضوب ورله صفت دي نو پدي

اعتراض وارديږي چي موصول صله معرفه ده او په صفت کښي غيرهم راغلي او داد وجه دتوغل فى الابهام نه په اضافت سره هم معرفه نه ګرځي نو دا صفت نکره شوه نو مطابقت بين الموصوف والصفة را نغلو نو دي نه بيا جواب دادي چي دلته موصول او صله دا عهد ذهنى دي او موصول صله عهد ذهنى دا نکره وي نو موصوف او صفت دواړه نکره شو او دويم جواب دادي چي موصول نه مي تعبير په نکري سره ځکه وکړو چي دا عهد ذهنى دي.

قال المصنف: دي عبارت سره قول آخر ذکر کوي هغه دا چي که ضمير په فى نفسه کښي راجع شى معنى ته نو بيا خو ظرفيت دشى الى نفسه راغلو نو دي وائى چي ضمير معنى ته راجع دي خو فى په معنى د اعتبار سره دي. **كقولك:** دا بيان د نظير دي نظير دا دي چي الدار فى نفسها حكمها كذا، دلته فى ظرفيت سره دي او حكمها کښي ها ضمير دار ته راجع دي ظرفيت الى نفسه نه راځي ځکه فى په معنى د اعتبار سره دي ظرفيت سره نذي. **انتهى كلامه:** يعني کلام د مصنف ختم شو چي کوم ئى په شرح الايضاح کښي ذکر کړي دي.

دِ محصول بيان

محصوله: يو غرض دفع د اعتراض ده، دويم تشبيه دمعقول ده محسوس سره، دريم دفع د اعتراض ده، څلورم حکم د معنى اسمي. پنځم معنى حرفى، شپږم دفع داعتراض ده، اووم حکم د معنى حرفي:

اعتراض: مولانا صاحب تا د اسم معنى او کړه او فى بيا په معنى داعتبار سره شوه نو اسم کښي خو صحيح شوه حرف به څه کوي، فى غيره نو د حرف معنى به په اعتبار د ير کښي غيرته وي او حالانکه معنى خو په لفظ کښي پرته وي، دينه جواب په آخر د سبق کښي کوي، يو حاصل دي او بل محصول. محصول هغه کلام ته وائى چي په مشقت سره واخستى شى او حاصل هغه کلام ته وائى چي په آسانتيا سره واخستى شى، محصوله کښي ضمير ما ذکر فى الايضاح ته راجع دي، بعض المحققين، بعضي وائى چي دا تحقيق مير سيد سند کړي دي او بعضي وائى چي دا تحقيق ابن حاجب کړي دي خو را نقل کړي دي مير سيد سند.

كما ان فى الخارج موجودا قائماً بذاته الى آخره: دویم غرض ذکر کوي په خارج کښي دوه شيان دي. (۱) جوهر . (۲) عرض . جوهر وایی هغې ته چي په وجود خپل کښي محتاج نه وي وجود د غير ته او عرض دا عكس ددي دي خو دا تعريف ضعيف دي ځكه چي ټول جواهر دا هم محتاج دي په وجود کښي الله ﷻ ته نو دا هم اعراض شو. نو ځكه محققين بل تعریف کوي چي جوهر دا هغه دي چي پخپل تحيز کښي محتاج نه وي . تحيز دغير ته او اعراض عكس ددي ته وائی تحيز وائي حصول فى المكان ته . بعض وائی چي مکان او تحيز مترادفين دي او تعريف ئي دا کوي چي سطح باطنه د جسم حاوي ده چي مماس شی سطح ظاهري د جسم محوي سره (ميبذي) بعضي وایی چي دوي کښي نسبت د عموم او خصوص مطلق دي چي مكان وي نو حيز به خامخا وي او چي حيز وي نو دا ضروري نده چي مكان د وي لكه سپين والی په جامه کښي دا چي حاصل شی نو دا خو عرض دي خو مکان ورلره نشته او حيز دي يعني حاصل دي. جواهر پنځه دي او عوارض نهه دي په نزد د فلاسفه ټول عالم دا پدي څوارلسو مقولو کښي داخل دي ،په دويم تعريف سره د جوهر اطلاق په الله ﷻ عقلاً کیږي نه شرعاً ځکه چي د الله ﷻ نومونه ټول توقيفي دي او په قرآن کريم اوحديث نبوی ﷺ کښي دجوهر نوم الله ﷻ ته ندي مستعمل شوی، اوس جوهر صالح د حکم دي لكه جاء نی زيد او عرض صالح د حکم نه دي لكه ذهب بياض دغه رنګه ذهن کښي دوه شيان دي چي يو اسمی ده چي مشابه ده د جوهر سره او بله معنی حرفی ده چي مشابه ده د عرض سره، **اعتراض** كما ان فى الخارج کښي كاف دپاره دتشبيه ده او وروسته كذالك کښي هم كاف دپاره دتشبيه ده نو احدهما مستدرك شو **جواب** كذالك کښي لدا د پاره د تاكيد دي

فرق په مابين د معنی اسمی او معنی حرفی کښی

ملحوظاً فی ذاتـه: دي عبارت سره غرض دفع د اعتراض ده اعتراض ته معنی اسمی معقول مدرك قصداً ته وائی نو دا خو معنى حرفی هم ده نو دي جواب کوی چي معنی اسمی مقصود با لذات وي او معنى حرفی مقصود با لذات نه وی .

ويصلح ان يحكم عليه وبه: پدي عبارت سره حکم د معنی اسمی ذکر کوی چي دا معنی اسمی به محکوم علیه او محکوم به دواړه واقع کيږي لكه ضَرَبَ زيدٌ او ضربت

زيداً . اعتراض نه وائي چي معنى اسمى يصلح ان يحكم عليه وبه نو فعل خو هم مدرك قصداً ملحوظ في ذاته دي او هغه خو محكوم عليه نه وي؟ جواب په وبه كښي واو په معنى د او سره دي يعني احد الامرين به واقع كيږي او دويم جواب دادي چي واو په خپله معنى دي خو فعل په لغوى معنى سره محكوم عليه واقع كيدي شي كه مونږ ئى اصطلاحاً هم واقع كړو نو خلاف د وضع راخي نو دينه خو جواب كيدي شي چي خلاف دوضع نه دي راشي لكه په مجازاتو كښي خو دوي وائي چي خلاف دوضع نه خو راتلى شي خو خلاف د غرض د وضع نه نشي راتلى. خو اصل جواب دا دي چي فعل مسند اليه واقع كيدي شي خو چي نسبت او زمان ورنه كټ شي او صرف معنى حدثي ورنه واخستل شي لكه ﴿ سواءٌ عليهم ءانذرتهم ﴾ دلته اءنذرتهم فعل دي او مبتداء مؤخر او سواء عليهم خبر مقدم دي او فعل نه دلته صرف حدثي معنى اخستل شوي ده چي انذارك او عدم انذارك دي

معقول هو مدرك تبعاً: دا پنځم غرض چي معنى حرفى ذكر كوى . نو معنى حرفى داده چي معلوالى ددي به په تبع د غير سره شوي وي

وآلة للملاحظة الغير: دي سره غرض شپږمه خبره چي دفع د اعتراض ده . **اعتراض:** تعريف د اسم دي جامع نشو خپلو افرادو ولره خارج شو ترينه اسماء لازمه الاضافة او همدارنګه اسماء موصولات ځكه چي اسماء لازم الاضافة دا حاصليږي په تبع د مضاف اليه كښي او موصولات په تبع د صله كښي پكار ده چي دا هم په معنى حرفى كښي داخل شي او يا د اعتراض طريقه داده چي تعريف د معنى حرفى دي مانع نشو د دخول دغير لره داخل شو پكښي اسماء لازم الاضافة او همدارنګه موصولات ؟ **جواب:** نو ده جواب وركړو چي دا معنى حرفى به آله وي دپاره د حال د غير او صله آله نه وي د حال د موصول بلكه هلته تتميم بغير دصله نه نشي راتلى. او اسماء لازم الاضافة او موصولات خو تام ندي نو اوس داعتراض اول نه **جواب** خلاصه دا جواب داده چي دا به آله وى د پاره د ملاحظه د غير معنى به په حرف كښي وي او ملاحظه به پري د غير كيږي دا معنى نده چي معنى د حرف به په غير كښي پرته وي

فالابتداء مثلا اذا لاحظه العقل: يو غرض د مصنف فرق ذكر كول دى په معني اسمى

او حرفي کښي په يو جزءی سره (۲)- دفع د اعتراض- (۳) حکم (۴) دفع د توهم (۵) معني حرفي (۶) حکم- مخکښي د جوهر معني و کړه چي مدرك قصداً ته وائی او د عرض معني ئي او کړه په مدرك تبعاً سره اوس د دغه مفهوم اسمی او مفهوم حرفی اجراء کوی په وجه جزءی سره چي ابتداء ده د ابتداء مصدری معني ده آغاز کردن او دغي ته معني اسمی وائی او د ابتداء متعلق دوه شیان دی یو مبتداء منه او یو منتهي الیه ده نو ابتداء چي سره د دي متعلقینونه و اخلی نو دي ته معني حرفی وایی- فالابتداء کښي فاء تفصیله ده ځکه چي مونږ دلته اجراء کوو په جزءی سره او وضاحت او تفصيل په جزی کښي ډير وی د کلی نه

ولزمه تعقل متعلقه اجمالا: دا دفع د اعتراض ده- اعتراض دا دي چي ته وايي چي ابتداء چي ملحوظه وی بالذات نو دا معني اسمی ده نو ابتداء خو يو نسبت دي او د اطرفين او منشيين غواړی ته څرنګه وائی چه متعلق نه غواړی

جواب: نو شارح جواب ورکړو چي متعلقين په دوه قسمه دی اجمالاًاو دويم تفصيلاً کوم چي معني اسمی ده نو دي سره متعلقين اجمالاً حاصليږی او اجمالاً حصول دا نقصان نه رسوی استقلال د معني اسمی ته.

فلا حاجة فی الدلالة الی ضم کلمة اخری: دا دريم غرض دي چي حکم دي حکم ئي دادي چي دا معنی اسمي په دلالت کښي په خپله معنی باندی ضم د کلمه اخري ته محتاجه نده .

وهذا هو المراد الخ: دا دفع دتوهم ده ، هلکه مونږ خو اوريدلی دي چي د اسم دپاره معنی وي چي کائنه وي په نفس د کلمه کښي او ته وائي چي دا به مدرك قصداً وي او ملحوظ فی ذاته به وي نو معلوميږي دا چي هغوی تشريح به جدا وي او ستا به جدا وي ، . جواب دادي چي ما مخالفت ندي کړي بلکه دا هم هغه تشريح ده .

واذا لاحظه العقل: دا معنی حرفي ده ، دلته ئي دوه خبري ذکر کړي يو دا چي ابتداء او بل دا چي حالت دا بتدا منه ئي کوم يو دي او منتهی اليه په کوم ځاي دي،

ولا يمکن ان يتعقل الا بذکر متعلقه: دي سره غرض شپږمه خبره چي حکم د معنی حرفي دي ذکر کوي. حکم ئي دا دي چي تعقل د معنی حرفي نه راځي بغير د ذکر

دمتعلقین نه چي هغه مبتداء منه او منتهی الیه ده او نه به د لالت کوي پدي تعلق مګر پس د ضم هغه کلمې نه چي دلالت کوي په دغه متعلقینو باندي.

بیان د حاصل

والحاصل: اول غرض دفع داعتراضینو ده ، دویم بیان دیو حکم دریم دبل حکم بیان ، څلورم دفع داعتراض ، پنځم دفع داعتراضینو:

اول اعتراض : ملا صاحب اسم او حرف دا اقسام دي د کلمي او په مابین د اقسامو کښي تباین وي او تا وئیل چي جمع کیږي چي سوچ لفظ د ابتدا ته وکړي نو دا معنی مستقله ده او چي کله يې حالت ته سوچ وکړي چي بصره او کوفه ده او آله ئي وګرځوي دا آحوالو دپاره د ملاحظې د متعلقاتو چي هغه مبتدا منه او منتهی الیه ده نو دا معنی حرفي ده نو دینه دا پته ولږیده چي اتحاد ذاتي او تغایر اعتباري دي په مابین د معنی اسمي او حرفي کښي ، **دويم اعتراض** دادي چي تا دنورو ملایانو نه مخالفت اوکړو مونږ خو په شرح مائة عامل کښي ویلی وو چي معنی د (من) ابتداء ده دا غیر مستقله ده، او تاوویل چي ابتداء دا معنی اسمی ده او دا معنی مستلقه ده، **جواب:** دلته دا نزاع د لاحظه دضمیر نه چي راجع دي لفظ د ابتداء ته راغلی ده لیکن دا بناء ده صنعة الا ستخدام سره، صنعة الاستخدام دي ته وائی چي د اسم ظاهر نه یوه معنی واخلي او د اسم ضمیر نه بله معنی واخلی دلته چي مونږه معنی اسمی اخستی د ابتداء نه نو دا په اعتبار د لفظ دابتداء سره چي دا واضع وضع کړي دپاره د معنی کلی او ابتدا ته چي مونږ معنی حرفي ویلی نو دا په دي اعتبار سره چي ابتدا دا معنی د من ده او معنی د من دا غیر مستقله ده، او د دویم اعتراض نه **جواب** : دا دي چي مونږه ابتدا ته معنی مستقله وئیلی ده نو دا په اعتبار د لفظ دابتداء سره چي دا وضع دي دپاره دمعنی کلی نو معنی کلی خو مستقله وي او چي ملایانو ورته معنی غیر مستقله وئیلی ده نو دا ابتداء معنی د (منْ) ده او لفظ د (من) دا وضع دي دپاره د جزئیاتو ددغه ابتداء نو معنی د (من) دا جزءي ده د جزئیاتو د ابتداء نه ابتدا کښي دري شیان دي. (۱) مطلق ابتداء ،(۲) جزئیات د ابتداء (۳) متعلقات دابتدا مطلق ابتداء دا معنی مستقله ده او جزئیات د ابتدا هغه بصره او کوفه ده او متعلقات دابتدا دا مبتدا منه او منتهی الیه ده.

وذالك المعنى الكلى: دا دويم غرض دي چي بيان د حكم د معنى كلى دي حكم ئي دا دي چي ددي معنى تعقل به قصداً وي او معلوموالى به ئي پخپله راخي نو مستقل با لمفهوميت شوه دا معنى صالح وگرخيده دپاره ددي چي محكوم عليه او محكوم به واقع شي

واما تلك الجزئيات الخ: دريم غرض دي چي بيان د حكم معنى جزءي دي يعني جزءي دا مستقل بالمفهوميت ندي نو ددي وجي نه صالح نده دپاره ددي چي محكوم عليها او بها وگرحي او دا خكه محكوم عليه او محكوم به نه واقع كيږي چي دا ملحوظ قصداً نده خكه چي په محكوم عليه او محكوم به كښي نسبت يو بل ته ضروري وي. مگر معنى جزي په فهم كښي راځي سره د ذكر د متعلقاتو نه چي هغه مبتدا منه او منتهى اليه ده

وهذا هو المراد بقولهم: دا څلورم غرض دي چي دفع د اعتراض ده. اعتراض ملا صاحب تاويئل چي ابتدا معنى كلى ده او معنى د من دا معنى جزءي ده تا خو منطق شروع كړه نو دا خو مونږ چيرته نه وو اوريدلي نو دي جواب كوي خلاصه دجواب داده چي هغوي معنى مستقله وائى او دي سره لازم كليت دي او معنى غير مستقلي سره لا زم جزئيت دي نو ما درته تعريف با للا زم وكړو

واذا عرفت هذا علمت: دا پنځم غرض دي چي دفع د دوه اعتراضينو ده. اول اعتراض دادي چي كافيه ماخوذ ده د صاحب مفصل نه. صاحب مفصل فى نفسه كښي ضمير معنى ته راجع كړي او تا كلمى ته نو مخالفت دي ولى اوكړو. او دويم اعتراض دادي چي ما تنه استا په كلام كښي تعارض دي تا تشريح كړي چي ضمير راجع دي كلمى ته او ايضاح كښي د وئيلى چي ضمير معنى ته راجع دي، نو دي جواب كوي. خلاصه د جواب داده چي دا تضاد به هغه وخت وي چي غرض جدا جدا وي ددي تولو مطلب يو دي چي هغه استقلا ل با لمفهوميت دي نو مرجع دكيدلو د معنى په نفس د معنى يا كيدل دمعنى په نفس دكلمه كښي دا امر واحد. دي چي استقلال با لمفهوميت دي

ففى هذا الكتاب الضمير المجرور فى نفسه: اول غرض د مصنف دفع داعتراض: دويم

دفع اعتراض . دریم بیان د اعتراض . څلورم جواب . پینځم دفع د اعتراض : اول **اعتراض**: دا په دوو طریقو سره دي اوله طریقه داده چي د مصنف په کلام کښي تضاد دي په وجه دحصر کښي ئي ضمیر راجع کړي کلمې ته فی نفسها ئي وئیلی دي او دلته ئی فی نفسه راوړو او مصنف ووئیل چي احتمالین پکښي دي. او دویمه طریقه دا اعتراض داده چي د مصنف په اجمال او تفصیل کښي مطابقت را نغلو په اجمال کښي ضمیر کلمه ته راجع وو او په تفصیل کښي احتمالین جائز دي. جواب : دا اختلاف نشته ځکه مال د دواړو یو دي . او یا دا تیر شوي اعتراض داسي دي چي په ایضاح کښي مصنف وییلی وو چي ضمیر راجع دي معنی ته او دلته ئي جواز داحتمالین وونیلو. نو جواب ورکوي خلاصه د جواب داده چي ضمیر ئي راجع کړو کلمې ته چي موافقت راشي داجمال سره او ضمیر ئی معنی ته راجع کړو چي موافقت راشي دایضاح سره

ولكن عبارة المصنف ظاهرة فی ان المعنی الاخیر: دي عبارت سره غرض دویم دفع داعتراض ده اعتراض : هلکه چي دفی نفسه په ضمیر کښی احتمالین وو نو په ایضاح کښي ئی حصر صرف په یو احتمال کښي ولی کولو چي هغه معنی ده. جواب : په ایضاح کښي صرف احتمال د معنی وو چی راجع شی ضمیر معنی ته ځکه مخکښي وجه د حصر نه وه ذکر. د شارح په عبارت کښي یوه نکته. هغه دا چي مخکښي شارح ووئیل چي هذا هو الظاهر. هذا اسم اشاره ده او مشار الیه ئي الظاهر ده او دا معرفه ده او وروسته شارح وائی چي ولكن عبارة المفصل ظاهر دلته مشار الیه ظاهره ده او دا نکره ده نو نکته داده چي مشار الیه کله معرفه وي نو دي کښي اشاره وي دي خبري ته چي نور احتمالات هم شته او چي مشار الیه نکره وي نو هلته نور احتمالات نه وي .

وبما سبق من التحقيق ظهر انه لا يختل: دي عبارت سره دریم غرض ذکر کوي چي بیان د اعتراض دي : اعتراض : هلکه تعریف د اسم د جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه اسماء لازم الاضافة ځکه ددي اسما ؤ معنی بغیر د ذکر دمضاف الیه نه تمامیږي نو غیر مستقل شو نو په حرف کښي داخل شو لکه ذو ، فوق ، تحت، جواب : خلاصه د جواب داده چي دا واضع وضع کړي دي دپاره د مفهومیت کلیه ؤ او دپاره د استقلال با لمفهومیت لیکن دي سره تعقل د متعلقاتو اجمالاً راځي او متعلقات

اجمالیه نقصان نه رسوي استقلال د ددوي ته.

لکن لما جرت العادة: دي عبارت سره پنځم غرض چي دفع د اعتراض ده ذکر کوي. هلکه مصنفه نه وائی چي دا واضع وضع کړي دپاره د مفهومیت کلیه ؤ موږ دا چیرته مستعمل بغیر د مضاف الیه نه ونه لیدل پکار ده چي استعمال ني هم په مفهوم کلی کښي وشی ، **جواب:** یو وضع ده او بل استعمال وضع ئي دپاره دمفهوم کلی شوي خو استعمال ئی په جزي کښي کیږي او داسي مثالونه ډیر دي لکه اسماء اشارات موصولات وضع ئی دپاره د مفهوم کلی شوي خو لیکن استعمال ئی په جزئیانو کښي کیږي یا لکه مَسْجِدْ وضع ئی مَسْجَدْ شوي او مستعمل مَسْجِدْ دي.

د کلام د تعریف ترکیب او یوه نکته

الکلام ما تضمن کلمتین با لاسناد ولا یتاتی ذالک الا فی اسمین او اسم وفعل. الکلام مبتدا او ما موصوله تضمن صیغه د واحد مذکر غائب ضمیر پکښي مستتر دي هغه ئی فاعل کلمتین دا مفعول به او با جار الاسناد مجرور جار سره د مجرور نه دا متعلق په حاصلاً پوري او حاصلاً صفت دي د تضمناً دپاره او تضمنا دا مفعول مطلق واقع شوي دي د تصمن نه او یا دا با الاسناد مفعول مطلق دي په اعتبار د موصوف او صفت محذوفه سره، فعل سره د فاعل نه او سره د مفعولینو نه دا جمله حاصله شوه دپاره د موصول ، موصول سره د صلی نه دا خبر شو دپاره دمبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه

نکته: ما موصوله او صله دواړه خبر واقع کول صحیح ندي ځکه په موصول ختنه اجراء دِ اعراب کیږي بغیر د صله نه، لکه جاءنی رجل ایهم ومررت برجل ایهم دلته ایّ موصول دي او اجراء د اعراب پري ختنه شوي ده نو ما موصوله ختنه خبر شود پاره دمبتداء نو تضمن الی اخره دا جمله څه شی واقع شوه په ترکیب کښي ؟ نو جواب دادي چي دا جمله ده او جمله من حیث الجمله دا په حکم دنکري جنسیه کښي وي او مبنی لره محل داعراب نه وي ، په مخکښي ترکیب کښي کلمتین راغلی دي او تثنیه ده او دا معرب ده عند الجمهور الا عند الزجاج

ولا یتاتی: واو عاطفه لاناهیه، یتاتی فعل ، ذا اسم اشاره، لام دپاره دبعید ، ك ،

دپاره د مخاطب ، نو ذالك جمله فاعل شو دپاره د لايتاتی فعل سره د فاعل نه مستثنی منه. الاحرف استثنا ء فی جار ، اسمين معطوف عليه او حرف عاطف ، اسم معطوف عليه معطوف، و او عاطفه. فعل معطوف معطوف عليه سره د معطوف نه معطوف شو دپاره دمعطوف عليه چي اسمين دي معطوف عليه سره دمعطوف نه مجرور د جار، جار سره د مجرور دا متعلق شو د فعل مقدر پوري چي يتاتی، فعل فاعل سره د متعلق نه جمله فعليه دويم تركيب، اداة دحصر به ترينه لري كړو نو تركيب به داسي شي چي يتاتی فعل ذالك فاعل، فی جار اسمين او اسم وفعل مجرور شو جار سره د مجرور نه متعلق شو تر يتاتی پوري، فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه.

ان الله على كلى شئ قدير: ان حرف الله اسم ذات اسم د انّ، على جار كل مضاف شئ مضاف اليه مضاف سره دمضاف اليه نه مجرور د جار، جار سره دمجرور نه دامتعلق شو تر قديرٌ پوري ، قديرٌ اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه خبر د ان. ان سره د اسم او سره د خبر نه جمله اسميه .

الحمد لله رب العلمين O الرحمن الرحيم O مالك يوم الدين O

الحمد مبتداء لله ، جار مجرور، جار سره د مجرور نه متعلق شو تر ثابت پوري، متعلق سره د متعلق نه خبر، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه، او يا لله موصوف او رب العلمين ئی صفت، موصوف سره د صفت نه خبر د مبتداء دويم تركيب. الحمد لله مبتداء او خبر جمله اسميه، او رب العلمين دا به خبر شی دپاره د مبتدا محذوفی چي (هو) دي دريم تركيب : چي دا رب العلمين منصوب شي نو دا به مفعول به شی دپاره د اعنى فعل مقدر، الرحمن صفت ثانی او الرحيم صفت ثالث، پدي كښي هم دري تركيبه جائز دي.

مالك يوم الدين: مالك صيغه د اسم فاعل يوم مضاف ، او الدين مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفعول شو دپاره د مالك، دلته يو كړكيچ دي او هغه دا چي ملك صفت دي او يوم الدين ئی معمول دي او مالك ورته مضاف دي او مالك دا صفت دي او اضافت د صفت معمول ته دا اضافت لفظی دي او اضافت لفظی مفيد د تعريف ندي او مالك خو نكره ده نو نكره څرنګه صفت دمعرفی واقع كوي؟ جواب:

خلاصه دجواب داده چي مالك خو دلته صيغه د اسم فاعل ده خو دا عامل نه دي ځکه اسم فاعل يعمل عمل الفعل خو اذا كان بمعنى الحال والاستقبال او دلته خو د مالك دا معنى نده نو دلته اضافت معمول ته را نغلو نو اضافت معنوى شو نو اضافت معنى مفيد د تعريف وي نو دا نكره نه شوه نو لهذا صفت هم واقع شو دلته مالك او ملك دواړه راغلي دي متواتر د امام شافعي رحمه الله په نزد مَلِك دي او په نزد دامام ابوحنيفة رحمه الله مَالِك دي، دامام شافعي رحمه الله دپاره يو دليل دادي خو دي وائى چي دا صفت مشبه دي اسم فاعل ندي

ولما كان الفعل دالاً: عبارت سره غرض توطيه او تمهيد ذكر كوي متن آتى ته دويم غرض دفع داعتراض ذكر كوي، دي وروستو عبارت سره چي غير مقترن دي احتراز راغى دفعل نه او تعريف كښي ما دل على معنىً سره احتراز راغى د حرف نه. اعتراض په څلورو شقونو سره واردېږي (۱) اول دا چي ته وائى چي الفعل مادل على معنى نو مراد د معنى نه كومه مراد ده، اول مطابقى . دويمه تضمنى . دريمه ، كه التزامى ، څلورمه كه عامه معنى مطابقى داسم مستقله ده او دفعل غير مستقله ده ځكه دفعل معنى مطابقى دا مركب ده دنسبت زمان حدث نه نسبت پكښي غير مستقل دي فرق خو راغى، كه معنى تضمنى اخلى نو اسم خو دل على معنىً تضمنى نو مصادر خارج شو ځكه مصادرو لره معنى تضمنى نشته دي ځكه تضمن جزء ته وائى او مصدر سره جزء نشته دي او كه معنى التزامى اخلى نو داخوك په تعريفاتو كښي نه اخلى والا لتزام مهجور فى العلوم مراد د علوم نه تعريفات دي تعريفاتو كښي وضاحت وي او التزام كښي خفاء وي ځكه التزام خارج لازم ته وائى. او كه عامه معنى وي او التزام كښي خفاء وى ځكه التزام خارج لازم ته وائى ، او كه عامه معنى اخلى نو عام نو موجوديږي . مګر په ضمن د خاص كښي نو عامه معنى به موجوديږي يا په ضمن دمطابقى يا التزامى او يا تضمنى كښي ؟جواب مراد د معنى نه عامه ده خو قاعده داده چي يو دعام وجود دي او بل دعام اراده ده عام نه موجوديږي بغير د خاص نه خو اراده دعام كولى شي بغير د خاص نه لكه انسان كلى دي نو دا په ضمن د خاص كښي ندي بلكه په تضمنى كښي موجوديږي نو اسم هغه دي چي دلالت كوى په معنى چي

کومه معنی عامه ده مطابقی وي که التزامي او که تضمني وي نو دا خو فعل هم کوي نو اسم او فعل يو شی شو ځکه دفعل معنی حدثی مستقله ده او اسم هم نو دي وانی الاسم مادل ... غير مقترن پدي سره احتراز وشو.

غير مقترن باحد الازمنة الثلاثة: اول غرض دفع داعتراض . دويم حال د متن . دريم دفع داعتراض ، څلورم دفع داعتراض ، پنځم ذکر داختلاف

اول غرض : متبادر دباء نه باء سببيه ده ځکه چي با لاسناد کنبي باء د سببيت دپاره وه نومعنی دا شوه چي مقترن به وي په سبب د ازمنه ثلاثه ؤ سره. جواب باء د مصاحبت لپاره ده نه دپاره د سببيت.

فهوصفة بعد صفة الخ: دي عبارت سره حال د متن ذکر کوي داسم يو تعريف وشو چي دال علی معنی دي سره حرف اوغير مقترن سره فعل خارج شو

والمراد بعدم الاقتران: دا دريم غرض دي دفع داعتراض تعريف د اسم دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه اسماء افعال ځکه پدوي کنبي اقتران با لزمان شته او تعريف دفعل دي مانع نشو دخول غير لره داخل شو پکنبي اسماء افعال او تعريف دفعل دي مانع نشو دخول دغير لره داخل شو پکنبي افعال منسلخة عن الزمان جواب مراد په اقتران او عدم اقتران سره دا په اعتبار د اصل وضع سره اوس د اسماء افعالو وضع اصلاً اقتران زمانی سره نه وه او افعال منسلخة عن الزمان په اصل وضع کنبي اقتران با لزمان څخه وو دا په اسماء کنبي پاتی شو

نکته: الوضع المسبوق په دي سره څلورم غرض دفع داعتراض ده . **اعتراض** مراد داقتران او عدم اقتران نه وضع اول ده او اول ثانی وضع غواړي چيرته چي وضع ثانی نه وي نو وضع اوله به نه موجود يږي ؟ **جواب** اول نه مراد وضع اوله چي مخکنبي نه وي وضع غير مسبوق ده. اسماء افعال لکه رويد هيهات امامك ذيکنبي اصل وضع کنبي اقترانْ نشته اسماء افعال يا را نقل دي د مصادرو نه مصادر په دوه قسمه دي (۱) اصليه ، (۲) غير اصليه ، لکه ظرف جار مجرور ، او نقل عام دي که صريحی وی او که غير صريحی ، چي لفظ مصدر مستعمل وي دا اولنی نقل دي او چي مصدر مستعمل نه وي خو په وزن د مصدر سره وي

لان جميعها: دي سره د بهر نه اعتراض : ته وائی چي دا ټول یا منقول دي دمصدر اصلی نه نو چي ټول اصلی نه منقول شول نو غیر اصلی دي څه پريښودل ، جواب. لان جميعها لايخلو خبر محذوف دي ليکن دا جواب ضعيف دي ځکه اسم د آنّ جميع راغلی دي نو بيا دا ټول منقول شو مصدر نه غير مصدر دسره پاتي نشو، جواب اصلی دا بناء دي په يو قاعده او هغه دا چي کله جمع په مقابله د جمع کښي راشي نو مقصود د تقسيم وي په افرادو باندي لکه (لبسو اثيابهم) دلته لان جميعها اسم او منقولة عن المصادر دا هم جمع ده يعنی داټول اسماء افعال به ددي نه خالی نه وي بعضی د بعضو نه منقول او بعضی دبعضو نه (صه) دادصوت په معنی ۀ بيا په معنی دمصدر سکوت سره شو بيا په معنی دامر سره شو، (صه) هم اصل کښي مقترن با لزمان نه وو، امامك زيد امام فعل دي په معنی دقدم اقتران ئی زمانی سره شته،

جواب : مراد دعدم نه اقتران په اصل وضع کښي دي او امام اصل کښي ظرف وو بيا ظرف نه فعل ته را نقل شو

وخرج عنه المضارع: دي عبارت سره څلورم غرض ذکر کوي چي دفع داعتراض ده تا په تعريف داسم کښي وويل چي غير مقترن نو تعريف د اسم دي مانع نشو دخول دغير لره داخل شو پکښي فعل مضارع ځکه د دي اقتران خو په دوو زمانو پوري دي، جواب دوو زمانو کښي يوه زمانه پرته وی

على تقدير اشتراكه: سره پنځم غرض اختلا ف ذکر کول ، په مضارع کښي دوه مذهبه دي (۱) مضارع حقيقت دي په حال کښي او مجاز دي په استقبال کښي دليل مضارع مقابل دماضی ده ماضی يقينی وه مضارع هم يقيني پکار وه او يقينی نه وي مګر حال نو معنی حقيقی کښي قرينی ته ضرورت نه وي (۲) دويم مذهب عکس ددي اول دليل مضارع مقابل د ماضی ده او متقابلين کښي بعد پکار وي او بعد په ماضی او استقبال کښي وي نه په ماضی او حال کښي (۳) نو مولانا صاحب وائی مشترکه ده او چي هره معنی اخلی نو قرينه به پکار وی

ولما فرغ من بيان حد الاسم: اول غرض تذکير د ماشو ، دوم توطيه او تمهيد ذکر کوی دمتن آتی لپاره غرض پکښي دفع داعتراض ليفيد زيادة سره دفع اعتراض

(۱) تعریف نه بعد تقسیم ذکر کوی چي معرب او مبنی خواص ولی بیانوی (۲) مقصود خو مرفوعات منصوبات مجرورات دي نو په خواصو کښې شروع دا خروج دي دبحث نه. اول نه جواب دادي چي تعریف سره وجود ذهني حاصلیږي او خواصو سره وجود خارجي راځي دريم نه جواب دادي چي داد متعلقاتو دمقصود نه دي ځکه دي سره زیادت بصیرت داسم راځي

د خاصه معنی، اقسام او تشریح

ومن خواصه: اول دفع داعتراض. دویم تحقیق لغوی. دریم تحقیق اصطلاحی، څلورم اقسام دخواصو

اعتراض: (خواص) جمع کثرت دي راوړو جمع کثرت مقتضی ده چي خواص دي دلسو نه زیات وي او منْ دتبعیض دي راوړو د چي دلسو نه کم دي جواب: جمع ئی راوړو چي فی نفسه خواص کثیر دي او من ئی راوړو چي مذکور دلته بعض دي (عبد الغفور) (۳۰) خواص ذکر کړي دلته هغه ذکر دي چي اکثر وجوداً دي

وهی جمع خاصة: دا دویم غرض دي. خواص جمع د خاصة ده دا دفع داعتراض ده دا خواص چي جمع د خاصه ده نو خاص خاصان خاصون نو جمع ئی خواص شوه او که جمع د خصیصةٌ وي نو جمع ئی خصائص راځي جواب: ددي مفرد خاصة دي

وخاصة الشئ: دا دریم غرض دي چي یو شی بل شی سره خاص شی ولا یوجد فی غیره. نو اعتراض وارد شو چي دا تعریف دوري دي خاصه به هله پیژنی چي تعریف وپیژنی او دي تعریف کښې بیا یختص کښې خاصه لغوی ده نو خاصه اصطلاحی موقوفه شوه خاصه لغوی باندي (۲) اعتراض ولا یوجد فی غیره ته ضرورت نشته ځکه د ما یختص معنی داده چي دا به بل چا کښې نه موجودیږي بس یو شی پوري به خاص وی. **جواب**: ما یختص به کښې دوه دعوی دي، (۱) صریحی (۲) ضمنی، داشی خاص دي. دي کښې به موجودیږي دویم دي کښې به موجودیږي غیر کښې به نه موجودیږي- د (۱) تصریح بما علم التزاماً ده. **جواب**: دلته مونږ تجرید کړي دي د یختص پوره معنی ده چي دا په دي پوري خاص بل به نه موجودیږي مونږه بعض معنی واخستله چي داشی دي پوري خاص دي نو ولا یوجد فی غیره نه مو دا معنی واخسته

چي په غير کښې به نه موجود يږي . (۳).

اعتراض تعريف د خاصه دي مانع نه شو دخول د غير لره داخل شو يکښې فصل منطقي لکه ناطق ځکه دا هم ما يوجد فيه ولا يوجد في غيره دي نو فصل ته بيا خاصه ووايه سره ددي نه چي دي ته څوک خاصه نه وائي ، مدرك الكليات والجزئيات دا دناطق معنى ده ، جواب دا اعتراض به هغه وخت کښې راتلى چي ما يختص کښې ما عامه وى مراد د مانه امر خارج دي او فصل امر داخل دي د انسان دپاره . **وهى اما شاملة** : دا څلورم غرض دي ، خاصه په دوه قسمه ده (۱) شامله چي ټولو افرادو لره شامله وي لکه کتابت بالقوة د انسان (۲) او دويمه غير شامله ده لکه دا کتابت با لفعل للا نسان

فمن خواص الا سم دخول اللام ، اى لام التعريف: فمن خواص الاسم سره اشاره وشوه چي دا دخول اللام ما قبل سره مربوط دي اول غرض دفع د اعتراض ، (۲) دويم غرض اعتراض ، (۳) جواب (۴) اختلاف ،(۵) ما هو المختار(۶) وجه د اختصاص دلام تعين دنوع دخاصى . اول غرض دفع داعتراض ، هلكه ته وائي چي لام خاصه داسم ده زه به درته وښايم چي لام به په فعل راغلى وي لکه ليضرب جواب : هر لام مراد ندي بلکه لام تعريف دي او يا دا الف لام عوض دي مضاف اليه نه يعنى دخول لام التعريف او ليضرب کښې خو لام امر دي، **ولوقال**: سره دويم غرض ذكر كوى چي اعتراض دي كه، لام تعريف په ځاى ئى حرف تعريف وئيلى وي دا به ښه وه ځکه چي څنګه لام دتعريف دپاره راځى دغه رنګه د بنو حمير يوه قبيله ده د دوي په نزد ميم هم دتعريف دپاره راځى لکه ليس من امبرم امصيام الخ ...

لكن لم يتعرض: سره جواب كوى چي دا لغت مشهور ندي دويم جواب دادي چي دا مستقل حرف تعريف ندي بلکه دا بدل راغلى د لام تعريف نه ،

وفى اختياره اللام: سره اختلاف ذكر كوى په اداة دتعريف کښې اختلاف دي پدي کښې دري مذهبه دي: اول مذهب د **سيبويه** دي ، دويم **خليل** ، دريم **مبرد**، سيبويه وائى چي حرف تعريف صرف لا م دي ځکه تعريف مقابل دتنكير دي تنكير دپاره صرف واحد علامه ده چي تنوين دي نو دتعريف لپاره هم يو حرف دي چي لام دي او همزه صرف دابتدأ با لساكن د وجه نه زياته شوي ده. دويم مذهب د خليل دي خليل وائى چي

تعریف دپاره دواړه دي ځکه تعریف مقابل دتشکیك دي اوتشکیك د پاره دوه حرفه دي چي هل دي نو دتعریف هم دوه حرفه دي دا مذهب دضعیف دي ځکه که همزه علامه د تعریف شي نو قاعده داده چي العلامة لاتحذف او همزه کله حذف کیږي لکه جاء الرجل، دریم مذهب د مبرد دي مبرد وائي چي علامه دتعریف صرف همزه ده او دلیل ورلره دادي چي تعریف ضد د تنکیر دي او لام ورسره زیاتي شوي چي فرق راشي په مابین دهمزه ده تعریف او دهمزه د استفهام کښي . خو دا مذهب هم ضعیف دي ځکه علامه نه حذف کیږي او دا همزه حذف کیږي

الی ان المختار: سره پنځم غرض ذکر شو چي دمصنف په نزد دسیبویه مذهب مختار دي. **وانما اختص:** سره شپږم غرض چي وجه داختصاص ذکر کوي . الف لام ولی خاصه داسم وګرځیده ځکه چي لام راځي دپاره دتعین د معنی مستقل او حرف کښي استقلا ل نشته فعل کښي استقلال شته خو معنی تضمني کښي او دي معنی سره زمونږ کار نشته او معنی مطابقي کښي نشته ځکه په معنی مطابقي کښي نسبت غیر مستقل دي او شي چي مرکب شي دمستقل او غیر مستقل نه نو هغه غیر مستقل وی نو الف لام دا خاصه د اسم شوه .

وهذه الخاصة لیست شاملة: اووم غرض تعین د خاصه. الف لام دا خاصه غیر شامله ده ځکه دا په بعض اسماؤ نه داخلیږی لکه اسماء اشارات او موصولات او په علم هم الف لام نه راځي ځکه بیا جمع د آلتینو د تعریف راځي نو الزید نشي وئیلی. اعتراض دلته الف لام دتعریف دپاره نه وو د کومو علامو وضع چي سره دالف لام نه شوي وی نو هغه ونیلی شی لکه العراق کښي، او دویم جواب دادي چي النجم مونږ کله علم ګرځولو نو تعریف مو ترینه لري کړو ځکه تعریف دالف لام دتعریف دعلمیت نه کم وو نو علم مو کړو

د جر بیان

ومنها دخول الجر: شارح اشاره وکړه چي الجر عطف دي په مدخول د دخول چي اللام دي نو دخول اللام او دخول الجر شو نو جر خو نه داخلیږي نوچونکه دا جر معمول دي او هر معمول لره لابدي وي دعامل نه نو عامل خو حرف جر ده او دا داخلیږي په اسم

باندي دويم تركيب دا دي چه دا والجر شي نو دا به عطف شي په دخول باندي نو دخول مبتدا وه او من خواصه ورلره خبر مقدم وو نو دلته به الجر مبتدا مؤخره او من خواصه به ورلره خبر مقدم شي او د الجر نه به معنى مصدري واخلو چي كون الشي مجروراً

وانما اختص: پدي عبارت سره وجه د اختصاص ذكر كوى وجه داختصاص داده چي دا جر اثر د حرف جر دي او هر اثر لره لابدي وي د عامل او دمؤثر نه نو مؤثر ئي خاص وو په اسم پوري نو دا هم خاص شو تر اسم پوري چي مخالفت رانشى په مابين داثر او مؤثر كښى او حرف جر عام لفظاً وي لكه بزيد او كه تقديراً وي لكه غلام زيد . د مخالفت دوه صورتونه دي يو دا چي حرف خاص ؤ په اسم پوري او ئر ئي خاص شي په فعل پوري او دويم صورت دا چي حرف جر خاصه د اسم وه او اثر ئي عام شي هم دفعل او هم داسم پوري . او حرف جر ولى خاص دي په اسم پوري ځكه دا واضع وضع كړي دپاره دافضاء دمعنى دفعل اسم ته نو پكار ده چي خاص شي په اسم پوري لكه مررت بزيد .

واما الاضافة اللفظية: سره غرض دفع داعتراض ده ، اعتراض دادي چي دليل دي مطابق نه شو دعوى سره دعوه دي عامه وه چي مطلق جر خاص وو په اسم پوري او دليل دي خاص شو چي هغه جر خاص دي په اسم پوري يا د حرف جر لفظى او ياتقديري دوجي نه راغلى وي نو په اضافت لفظى كښى خو نه حرف جر لفظى شته او نه تقديري لكه ضارب زيد .

جواب: دادي چي دلته دوه مذهبه دي يو مذهب د ماتن دي ، دي وائى چي اضافت لفظى كښى حرف جر تقديري راتلى شي نو دده په نزد اعتراض نه واردیږي. او دويم مذهب د جمهورو دي دوي وائى چي اضافت لفظى كښى حرف جر نشى راتلى او دشارح هم دا مذهب خوښ وو نو جواب دا كوى چي اضافت دا فرع د اضافت معنوى دي نو دا هم خاص شو په اسم پوري چي مخالفت را نشى بين الفرع والاصل او دلته هم د مخالفت دوه صورته جوړيږي

د تنوين اقسام او تشريح

ومنها دخول التنوين: دلته هم دوه طريقى دي يو دا چي عطف دي په مدخ[1] دخول او يا دا چي عطف دي په دخول باندي نو دي صورت كښى د تنوين نه به مر

كون الشئ منوناً معنى مصدري مراد وي. خواص په دوه قسمه دي يو لفظي او بل معنوي مصنف لفظي چي الف لام جر او تنوين دي مقدم كړل څكه چي دا اصل دي او معنوي دايي وروسته كړل څكه چي دا فرع دي. او بيا په لفظي ؤ كښي ئي الف لام مقدم كړو څكه دا مقابل د لام دي دپاره دتعريف او تنوين دپاره دتنكير راځي او بل دا چي لام په اول او تنوين په آخر كښي راځي . نو چونكه تنوين دا تابع د حركت دي او حركت ورلره متبوع وي او په حركاتو كښي جر هم دي او متبوع مقدم په تابع وي باندي څكه ئي خبر مقدم كړو په تنوين باندي. او په خواص معنوي كښي ئي اسناد مقدم كړو څكه چي دا مفيد د فائدي تامي دي او اضافت دا مفيد د فائدي تامې ندي . او په بعضو نسخو د كافيه كښي اضافت مقدم دي په اسناد نو هلته وجه دا وائي چي اضافت جزء د جملي دي نو دا په منزله د مفرد دي او اسناد دا مستقل وي نو دا په منزله دمركب وي او مفرد مقدم وي په مركب . خو دا نكات بعد الوقوع دي

باقسامه الا تنوين الترنم: يو غرض تعدد داقسامو دتنوين ذكر كوي ، دويم ماهوالمراد ، دريم ، حواله ذكر كوي . باقسامه سره اشاره وشوه ټولو اقسامو ته او الا تنوين الترنم سره ما هو المراد ذكر شو او ورستو عبارت سره حواله وركوي چي وسيجئ ان شاءالله

ومنها الاسناداليه الخ: منها خبر مقدم الاسناد اليه دا مبتداء مؤخره، اول يو غرض حال دمتن غرض پكښي دفع داعتراض ده، دويم غرض دفع داعتراض ، دريم وجه د اختصاص . اول حال د متن دادي چي الاسناد مرفوع دي او اعتراض دادي چي مصنف رحمه الله عليه د خپلي طريقي نه ولي مخالفت وكړو نور خواص ئي په جر سره ذكر كړل او دائي په رفع سره ذكر كړل جواب دادي كه دائي بالجر ويلي وي نو عطف به وي په لام باندي نو داسي به وي چي دخول الاسناد اليه او دخول ذكر في الاول او يا لحوق في الاخر ته وائي او اسناد خو يو نسبت دي

د اسناد، اضافت او د وجه تسميه بيان

والمراد به: سره غرض دفع داعتراض ده . اعتراض دادي چي تركيب تا داسي جوړ كړو چي منها خبر مقدم او الاسناد اليه مبتداء نو قاعده داده چي خبر مفيد دهغه

فائدي وي چي كوم دمبتداء نه ، نه معلوميږي . كه چيرته معلوميږي نو ذكر د خبر بيا مستدرك وي نو دلته اسناد اليه كښې ضمير راجع دي اسم ته چي اسم ته به اسناد راځي نو منها ته ضرورت پاتې نشو. جواب: اليه كښې ضمير راجع دي شي ته او منها ضمير خواص ته راجع دي

وانما اختص: سره دريم غرض وجه داختصاص ذكر كوي. مسند اليه ولې خاصه داسم ده ځكه فعل واضع وضع كړي دپاره دمسند كچيرته مسند اليه واقع شي نو خلاف د وضع به راشي، اعتراض من الخارج: هلكه خلاف د وضع دي راشي لكه په مجازاتو كښې چي اسد رجل شجاع او كثير الرماد سخي لره استعمال شي . جواب: يو خلاف دوضع دي يو خلاف د غرض د وضع دي خلاف دوضع خو جائز دي خو خلاف دغرض دوضع ندي جائز او غرض دواضع هغه وضع دفعل ده دپاره دمسند

ومنها الاضافة: هم هغه تركيب دلته هم دي . اى كون الشي مضافاً ، (۱) غرض معنى داضافت غرض پكښې دفع داعتراض ده ، (۲) وجه داختصاص ، (۳) فائده دقيد ، (۴) بل جواب ، (۵) تصريح با الاعتراض . نو معنى داضافت كون الشئ مضافاً ده او اعتراض دادي . چي ته وائې چي اضافت خاصه د اسم ده نو اضافت كښې دري شيان دي يو معنى مصدري چي هغه نسبت دي كه دا اخلى نو دا خو عرض دي اوبل مضاف دي كه دا اخلى نو فعل هم مضاف اليه واقع كيدي شي لكه يوم ينفع، جواب: مراد زمونږ مضاف اليه والى دي خو په يو شرط چي بتقدير حرف الجر او په مضاف په مررت بزيد كښې خو حرف جر لفظاً دي

ووجه اختصاصها بالاسم: سره دويم غرض ، اضافت خاص دي په اسم پوري ځكه دا ضافت لوازم دا خاص دي په اسم پوري اضافت به كله مفيد دتعريف وي لكه غلام زيد او كله به مفيد د تخصيص وي لكه غلام رجل او كله به مفيد د تخفيف وي لكه په اضافت لفظي كښې

وانما فسرنا الاضافة: مونږه مضاف اليه وانخستلو ځكه فعل او جمله هم مضاف اليه واقع كيږي، شارح جمله او فعل دواړه وونلي ديكښې اشاره ده چي يدي كښې دوه مذهبه دي يو دا چي يوم مضاف او ينفع الصادقين داپوره جمله مضاف اليه واقع شوي

وقد يقال: سره ځلورم غرض ذکر کوی . هلکه مراد زمونږ د اضافت نه مضاف الیه والی دي نو ينفع خو فعل دي اسم ندي. دي جواب کوی چي اسم عام دي حقيقتاً وي که تاويلاً وي دلته ينفع په تاويل دمصدر سره اسم دي.

وانما قيد ناه بقولنا بتقدير حرف الجر: تصريح با الاعتراض مونږه خپل قول مقيد کړو په تقدير د حرف جر سره نو مررت بزيد سره هم اعتراض وارد نشو ځکه هلته حرف جر لفظاً دي.

تقسيم د اسم معرب او مبنی ته

وهو معرب ومبنی وهوای الاسم قسمان: هرکله چي فارغ شو مصنف رحمه الله د خواصو د اسم نه نو شروع ئی اوکړه په تقسيم د اسم کښی معرب او مبنی ته.

ای الاسم: سره يو غرض تعين دمرجع د ضمير کوي دويم غرض دفع داعتراض په څو طريقو سره نو وهو ضمير راجع دي اسم ته او شارح ئی تعين وکړو ځکه چي کله ضمير ذکر شی نو راجع کيږي قريب ته او قريب هو ته اضافت او اسناد دي نو بيا به معنی داشی چي اضافت يا اسناد په دوه قسمه دي.

قسمان: سره دويم غرض ذکر کوی. اعتراض هلکه! وهو مبتداء ده اومعرب و مبنی ئی خبر دي او قاعده داده چي خبر حمل وی په مبتداء او دلته حمل نه صحيح کيږي ځکه حمل دمتعددو اشياءؤ راځی په شئ واحد باندي. نو دي راغی جواب ئی او کړو چي وهو دپاره خبر قسمان دي او معرب او مبنی لپاره مبتداء احدهما او ثانيهما دي.دويمه طريقه داعتراض : دا تقسيم دي او په موضع د تقسيم کښي لابدي وي د ادواتو د حصر نه داسي به دي وئيلی وي چي الاسم لايکون الامعرب ومبنی . نو ده جواب وکړو چي قسمان ادوات د حصر په دوه قسمه دي. يو لفظی او بل معنوی دلته که لفظی نشته نو معنوی شته چي هغه تقديم دعطف دي په ربط باندي دي وجی نه ترينه تعبير په قسمان سره وکړو. دريمه طريقه داعتراض اسم دا مقسم دي او معرب او مبنی دائی اقسام دي او قاعده داده چي مقسم دا حمل کيږي په مجموعه داقسامو او دلته حمل د مقسم په هر واحد راځی، نو ده جواب وکړو چي الحمل قسمان. حمل په دوه قسمه دي يو حمل د کل دي په اجزاؤ باندي او دا په مجوعه اجزاؤ باندي راځی يو جز

باندې حمل نه صحیح کیږي لکه چاې چي مجموعه د پیو او اوبو او چایو ده. او بل حمل د کلي دي په جزئیاتو باندې لکه حمل د انسان شو په زید بکر وغیره باندې دا په هر واحد باندې راځي دلته حمل د کلي دي په جزئیاتو باندې

لانه لایخلو سره وجه د حصر ذکر کوي په معرب او مبني کښي. ځکه چي دا اسم به خالي نه وي یا به مرکب وي د غیر سره او یا نه که مرکب و نو بیا به خالي نه وي یا به مشابه د مبني الاصل سره وي او یا نه که وو نو دا مبني او که مرکب نه وو نو دا هم مبني . او که مرکب وو او مشابه د مبني الاصل سره نه وو نو دا معرب

فالمعرب بو غرض تعین د الف لام او غرض پکښي دفع داعتراض . نو الف لام پکښي عهدي دي او معهود پدي سره هغه معرب دي چي کوم قسم داسم دي او اعتراض دا وو چي هلکه ستا په تقسیم سره لازم شو تعمیم دقسم دمقسم ځیل نه معرب قسم د اسم دي او حالانکه په مضارع باندې نی هم اطلاق کیږي نو شارح جواب کوي چي دا به هغه وخت کښي تاونیلی وو چي مونږ د مطلق معرب تعریف کولی مونږ د خاص معرب چي قسم داسم دي تعریف کوو

غرض د شارح قاعده او تقسیم ده

المرکب ای الذی رکب مع غیره: اول غرض اشاره کوي یوي قاعدي ته. دوم دفع داعتراض دریم دفع داعتراض ، څلورم تفریع. پنځم اشاره کوي اختلاف ته

اول قاعده هر اسم فاعل یا اسم مفعول چي په هغی الف لام داخل شي نو هغه به په معنی دالذي سره وي او اسم فاعل به په معنی دفعل معلوم او اسم مفعول به په معنی دفعل مجهول سره وي اوس دلته المرکب کښي الف لام په معنی د الذي او مرکب په معنی د رکب سره ،

مع غیره: اعتراض هلکه ستا تعریف باطل دي دا دعوه ده او دلیل لانه تعریف با لمباین دي، نو صغري دا شوه چي تعریفك با المباین. او کبری وکل تعریف با لمباین باطل فتعریفك باطل نتیجه شوه نو صغري مونږه ثابته وو داسي چي دا د معرب تعریف کوی او معرب قسم د اسم او اسم قسم دکلمه دي او ماخوذ په کلمه کښي افراد دي او ته تعریف کښي وائی چي المعرب المرکب الذي الخ والمرکب مباین للمفرد، او

کبري ثابته وو داسي چي تعريف کښي لابدي وي دحمل نه او حمل د مباين په مباين سره نه راځي لکه تعريف دانسان په حمار باندي. نو دي جواب کوی چي رکب مع غيره، مرکب په دوه قسمه دي يو مجموعه د مضمومينو دامرکب اصطلاحي او دويم مضموم مع المغير ته وائی او دا مرکب لغوی دي کوم چي منافی دي هغه مرکب اصطلاحی دي او کوم چي مراد دي هغه منافی ندي چی مرکب لغوی دي نو مراد غير منافی او منافی غير مراد دي

ترکيبا يتحقق معه عامله: **اعتراض**: تعريف د معرب دي مانع نشو دخول دغير لره داخل شو پکښی غلام زيد ځکه اسم هم دي او مرکب هم دي او سره ددي نه چي مبنی ذي او معرب ندي. نو دي جواب کوی چي دا مرکب ندي ځکه چي مرکب معرب کښي يو قيد دي چي عامل به ورسره وي بيا عامل عام دي که لفظی وي او که معنوی نو څوك دي اعتراض نه کوی په مبتداء او په خبر باندي ځکه هلته کښي معنوی عامل شته دي. ها! که د غلام زيد سره عامل وو نو بيا معرب کيدي شی لکه جاءنی غلام زيد

فيدخل: دا څلورم غرض تفريع ده. نو داخل شو زيد او قائم او هولاء پدي قول ستا کښی چي زيد قائم او قام هولاء کښي په معرب کښی. خو په خلاف دهغه چي بالکل نه مرکب وي لکه الف باء زيد. عمرو. او يا مرکب وي خو عامل ورسره نه وي لکه غلام زيد. کښي

فان جميع ذالك: دي سره پنځم غرض اختلاف ذکر کوی. خلاصه دا چي په معرب کښي دوه مذهبه دي، يو مذهب دابن حاجب دي ، دي وائی چي معرب هغه دي چي بالعفل به ورسره عامل موجود وي نو زيد او هولاء دا مبنی دي او دويم مذهب د جمهورور دي دوي وائی چي معرب هغه دي چي صالح دپاره د وجود دعامل وی نو زيد او عمرو او غلام زيد. د دوي په نزد مبنی نه دي بلکه معرب دي.

لم يشبه ای لم يناسب الخ... يو غرض معنی د لم يشبه ده او دويم غرض دفع داعتراض ده. معنی دا شوه چي دلم يشبه نه مراد لم يناسب دي . اعتراض: هلکه ستا دمشابهت نه مطلق مشابهت مراد دي او که خاص که مطلق مشابهت وي نو دنيا نه معرب ختم شو ځکه يو قسم مشابهت خو به ئی خامخا ورسره وی لکه مبنی الاصل هم

کلمه ده او معرب هم کلمه ده او مبنی الاصل کښي هم حروف وی او معرب کښي هم حروف دي، او که خاص مشابهت اخلی نو لازم شو اخذ د مجهول په تعریف کښي ځکه خاص مشابهت خو ئی ندي معلوم ، **جواب:** چی مراد زمونږ خاص مشابهت دي او که ته وائی چي مجهول دي نو صاحب د مفصل ذکر کړي دي صاحب دمفصل دا ذکر کړي چي دا معرب به په معنی دمبنی الاصل سره نه وي لکه این په معنی دهمزي داستفهام سره دي او دویم دا چي مشابه به نه وی د مبنی الاصل سره لکه مبهمات دامشابه دي د حرف سره په احتیاج کښي .او دریم دا چي دا به واقع نه وي په ځای د مبنی الاصل باندی لکه نزال چي واقع دي په ځای د انزل باندي، او څلورم دا چي دا به مشابه نه وي د هغه اسم سره چي هغه مساعد واقع وي په ځاي دمبنی الاصل لکه فجار چي مشابه دنزال سره او نزال واقع دي په ځای د انزل، او پنځم دا چی دا به واقع نه وی په ځای دهغه چي هغه مشابه وي دمبنی الاصل سره لکه منادي مفرده معرفه دا مبنی ده ځکه چي دا واقع ده په ځای دکاف اسمی خطابی او کاف اسمی خطابی مشابه دي د کاف حرفی سره ، او شپږم دا چی اضافت ددي معرب به نه وی شوي مبنی الاصل ته لکه من عذاب یومئذ.

مبنی الاصل: دي ځای نه یو غرض تعین د معنی د مبنی الاصل ، دویم دفع داعتراض، دریم تعین داضافت ، څلورم مصداق دمبنی الاصل، پنځم فائده دقید، شپږم تصریح با لاختلاف ، اووم دفع داعتراض:

معانی ثلاثه د مبنی الاصل

ای المبنی الذی اول غرض: دمبنی الاصل معانی ثلاثه دي : اول اصل وي په بناء کښی، دویم اصل به ئی مبنی وي، دریم بناء به ئی اصلی وي عارضی به نه وی، دویم غرض دفع اعتراض : هلکه! د مبنی الاصل څه معنی ده که داوائی چي اصل به ئي مبنی وي نو مضارع اصل هم مبنی دي نو پکار ده چې دا هم مبنی الاصل کښ داخله شي او که دا معنی وی چي بناء به ئی اصلی وئ عارضی به نه وی نو اسماء اشارات او موصولات خارج شو دمبنی نه ځکه ددي بناء عارضی ده اصلی نه ده . **جواب:** مراد زمونږ دمبنی الاصل نه دریمه معنی ده او هغه دا چی اصل به وي په بناء کښی .

د اضافت بیانی معنی

فالاضافة بيانية: دریم غرض دمبنی الاصل ته اضافت بیانی دي او اضافت بیانی دیته وائی چي دمضاف او مضاف الیه په مابین کښی نسبت د عموم او خصوص من وجه وي او دا نسبت یوه ماده داجتماع او دوه مادي دافتراق غواړي نو ماده اجتماعی داده چي مبنی به هم وی او اصل به هم وی لکه ماضی . او یوه ماده افتراق داده چي اصل به وي او مبنی به نه وی، لکه حروف او بله ماده دافتراق داده چي اصل به وي او مبنی به نه وی لکه مصدر ، او بعضی خلقو دا وئیلی دي چي دلته اضافت لامی دي او اضافت لامی دیته وائی چي وجود د مضاف الیه مقدم وی دوجود مضاف نه لکه خاتم فضةٌ نو وجود دفضة دا مقدم وي دوجود د خاتم نه. او بعضی خلق وائی چي فا لاضافة بیانیه سره دفع دتوهم ده خلقو به دا توهم کولو چي دلته اضافت لامی دي نو پدي اضافت کښي خو تغایر وی مضاف او دمضاف الیه په مابین کښي نو دمبنی او اصل په مابین کښي به هم تغایر وي نو فا لاضافة بیانیه سره دفع ددغه توهم وشوه .

وهو الماضی والامر بغیر اللام والحرف: څلورم غرض . نو مبنی الاصل هغه ماضی ده او امر بغیر اللام او حرف دي امر سره بغیر اللام قیدولړولو ځکه چي نحویان هغه امر ته چی لام ورسره وي مضارع مجزومه وائی لکه لیضرب .

وبهذا القید: سره پنځم غرض فائده د قید ذکر کوی، دي قید سره چي لم یشبه مبنی الاصل دي ، دي سره خارج شو دمعرب نه هولاء په دي ترکیب کښي چي قام هولاء ځکه چي دا مرکب دي خو مشابه دي دمبنی الاصل سره نو مبنی شو.

اعلم ان صاحب الکشاف الخ.... سره شپږم غرض ذکر کوی ،یو مذهب د ماتن دي او یو مذهب دجمهورو ، دجمهورو مذهب دادي چي هغه معرب چی صالح وي دپاره د عامل نو دامعرب دي نو دجمهورو دجملی څخه صاحب دکشاف هم دي نو دده په نزد اسماء معدوده معرب دي نو ده مجرد صلاحیت للعامل معتبر کړي دي او دجرجانی دکلام څخه هم دا ظاهریږی او بل مذهب دماتن دي ، دي وائی چي بالفعل به صالح وي دپاره دعامل نو ده ځکه په تعریف کښي ترکیب اخستی سره دعامل نه.

ولیس النزاع: سره غرض ذکر کوی چي دفع داعتراض ده ، هلکه ! دا اختلاف بالکل

نشته ځکه معرب صيغه داسم مفعول ده او ددي معنى ده اعراب داده شده نو چې اعراب پري جاري شو نو بيا خو اختلاف نشته ځکه چي اعراب جاري شو نو عامل راغلو؟ **جواب** تا چې کوم تعريف وکړو دا دمعرب لغوى دي اوزمونږ چي کوم اختلاف دي هغه په معرب اصطلاحي کښې دي چي هغه صالح دپاره داعراب دي.

واما وجود الاعراب الخ... که څوك دا وائي ووايي چې معرب دي ته وائي چې با لفعل به پري اعراب جاري شوي وي نو دي لره اعتبار نشته بلکه با لفعل به صالح وي دپاره دعامل لکه عرب وائي لم تعرب الكلمة وهي معربة. تا کلمه ولي معربه نه کړه سره ددي نه چي معربه ده نو دا معنى خو نه ده مراد ځکه چي تا کلمه باندي اعراب ولي ونه ويلو سره ددي نه چي صالح دپاره داعراب ده.

وانما عدل المصنف رحمه الله الخ... سره يو غرض دفع داعتراض ، دويم غرض هم دفع داعتراض **عتراض:** تا مخالفت ولې وکړو د جمهورو د تعريف نه چې دمعرب تعريف هغوى داسي کړي دي چي ما يختلف آخره با ختلاف العوامل او تا لم يشبه مبنى الا صل تعريف او کړو.

جواب: په لان الغرض سره جواب ورکوى حاصل د جواب دادي چي تعريف دجمهورو باطل دي دا دعوه شوه نو دليل څه دي دليل دادي چې لانه دور دي. دا صغرى شوه او کبري داده چي هر تعريف دوري باطل وى نو فهذا باطل کبرى خو ظاهره ده اګر چې شارح ورته اشاره کړي ده چي يلزم تقدم الشئ على نفسه او داسي هم وئيلى شي چي شى واحد مقدم او مؤخر ګرځي ، او صغرى داده چي توقف د شى راځى په خپل نفس ځکه نتيجه دا موقوف وى په صغري او موقوف عليه دا مقدم وي په موقوف باندي نو دلته دجمهورو په تعريف کښې صغرى دا عين نتيجه ده، د جمهورو په تعريف کښې توقف داسي راځى چي معرب دوي وائى ما يختلف اخره با ختلاف العوامل ته. نو زيد معرب دا دعوه شوه صغرى لانه ما يختلف آخره با ختلاف العوامل وكل ما يختلف آخره با ختلاف العوامل فهو معرب فزيد معرب. نو زيد معرب دي اود معرب تعريف چي کوم دوي کړي دي دا عين صغري او صغري عين نتيجه ده نو دلته نتيجه موقوفه دي په صغري او صغري موقوف عليه وي او دا مقدم وى په موقوف او

دلته تري معرب چي نتيجه ده دا مقدم شو نو توقف دشي راغلو په خپل نفس. نو ددي وجې نه ماتن عدول وکړو دجمهورو نه

من لم يتبع لغة العرب: سره دويم غرض دفع داعتراض **اعتراض**: هلكه ته وائي چې غرض دعلم نحوی هغه پيژندل داخر دكلمې وي نو عربو خو نحوه نده وئيلې او آخر دكلمې پيژني **جواب**: علم نحو دهغه چا دپاره ده چې قواعد عربيه نه پيژني او دعربو خو پخپله دا ژبه ده.

وحكمه: يو غرض دفع داعتراض. دويم معنى دحكم. دريم غرض دفع داعتراض.

اى من جملة احكام المعرب: سره دفع داعتراض **اعتراض**: دحكم اضافت شوي دي ضمير ته او اضافت دا پشان دالف لام دي او الف لام دا په څلور قسمه دي. نو اضافت هم په څلور قسمه دي دلته كوم يو مراد دي كه اضافت جنسي وي نو دا خونه صحيح كيږي څكه جنس دا متحقق كيږي په ضمن دافرادو كښې او دلته خو حكم يو فرد ذكر دي او كه اضافت استغراقي شي نو دا هم نه صحيح كيږي څكه معنى به بيا داسي شي چي هر فرد دافرادو د حكم دادي نو دلته خو هر فردو د حكم معرب ندي ذكر بلكه يو ذكر دي. او كه اضافت عهدي شي نو اين المعهود. او كه ذهني شي نو حكمه دا مبتداء ده نو نكارت دمبتداء لازميږي څكه عهد ذهني اضافت دا په قوت دنكري كښې وي

جواب: دلته اضافت جنسي دي او حكم دا مصدر دي او جنس لا يثنى ولا يجمع خو احتمال د جمع لري څكه ماهيت پكښې مراد وي او ماهيت دا متحقق كيږي په ضمن د هر فرد كښې نو ټول افراد خو ئي دلته ندي ذكر نو ده من جمله كښي من تبعيض راوړي چي بعض احكام د معرب مراد دي.

معنى د حكم

واثاره المرتبة: دا دويم غرض چي معنى د حكم ده او ددي په ضمن كښې دفع د اعتراض هم ده **اعتراض**: حكم داهل اصولو په نزد خطاب الله المتعلقين بافعال العبد ته وائي او په نزد دفقهاء ماثبت بخطاب الله ته وائي، او په نزد منطقيانو باندي نسبة امر الى امر اخر ايجاباً او سلباً ته وائي ستا كوم يو مراد دي **جواب**: مراد زمونږ اثر مرتبه د معرب دي په معرب ـ ندي او ددي په ضمن كښي يو اعتراض دفع شو او هغه دا چي

حکم ناشی وي د عامل نه نو چې حکم راپيدا شو دعامل نه نو اضافت ئی هم عامل ته وکړه او تا معمول ته کړي دي نو جواب دادي چي داضافت د ادنی ملابست د وجه دي.

من حيث هو معرب: سره دفع داعتراض ده. **اعتراض:** هلکه! ته وائی چي دمعرب حکم دادي چي ان يختلف الخ... نو دمعرب حکم خو رفع نصب وجر هم دي داسی به دي وئيلی چي وحکمه انه مرفوع و منصوب ومجرور؟ **جواب:** مونږ د معرب حکم بيانوو ددي حيثيت نه چي دا معرب دي.

د اختلاف اقسام

ان يختلف اخره: يو غرض ذکر د موصوف اخر دويم غرض قسمين داختلاف دريم تعميم ای الحرف سره موصوف ذکر شو چي موصوف دي او اخر ئی صفت دي **ذاتاً اوصفةً** سره ذکر د قسمين دي، دا اختلاف به يا ذاتی وي او دا وائی تبديل الحرف بالحرف اويا به دا صفتاً وي او داوائی تبديل الحرکة با لحرکة.

د ذاتی اقسام

حقيقتاً او حکماً: دي سره تعميم ذکر کوی چي ذاتی هم په دوه قسمه دي حقيقتاً لکه جاءنی ابوك رايت اباك ومررت بابيك او حکماً لکه جاءنی مسلمان رايت مسلمين ومررت بمسلمين او صفتاً هم دوه قسمه دي حقيقتاً لکه جاءنی زيد ورايت زيداً ومررت بزيد، او حکماً لکه جاءنی مسلمات رايت مسلمات ومررت بمسلمات

باختلاف العوامل: دلته دوه تحقيقه دي يو دا چي عوامل دا جمع ده او اقل دجمع دري وي نو مراد داشو چي اختلاف داخر دمعرب دپاره دري عوامل شرط دي.

جواب: عوامل جمع ده خوالف لام پري داخل دي او قاعده داده چي کله په جمع باندي الف لام داخل شی نو معنی د جمعيت باطلوی نو جنس پاتی شو دويم تحقيق عوامل جمع ده او مفرد ئی عاملة دي لکه ضاربة چي جمع شوي په ضوارب سره، او يا عوامل جمع دعامل په وزن د فاعل، او قاعده داده چي فاعل کله صفتی وي نو دا جمع کيږي په فاعلون لکه فاعل فاعلان فاعلون، او که فاعل اسمی وي نو دا جمع کيږي په فواعل سره لکه عامل عاملان عوامل، نو پدي سره دا اعتراض وارديږي:

اعتراض: هلکه! عوامل جمع دعامل ده او عامل دا نه جمع کيږي په عوامل

سره؟ **جواب:** عامل په دوه قسمه دي دلته صفتي معنی مراد نده بلکه اسمي او اصطلاحي معنی مراد ده .

ای بسسبب اختلاف العوامل الی اخره: يو غرض تعين دباء ، دويم دفع اعتراض ، دريم دفع اعتراض ، څلورم تصريح با لاعتراض . نو بسبب سره اول غرض وشو چي باء سببيه ده. الداخلة عليه سره دويم غرض، **اعتراض:** هلکه ! ته وائي چي معرب ما يختلف اخره الخ. زه به درته وښايم چي اختلاف دعامل به هم راغلی وي او دمعرب اخربه هم مختلف وي خو ددغه اختلاف دعامل دوجه نه به نه وی لکه جاء نی زيد من زيد ، رايت زيدا من زيد، او مررت بزيد من زيد ، ځکه اعراب حکائی دي **جواب:** مراد دعامل نه هغه عامل دي چي داخل وي په دغه معرب او په مذکوره امثالو کښي خو دغه عوامل ندي داخل پدغه معرب

فی العمل بان يعمل بعض خلاف بعض الاخر الخ.... دويم غرض دفع اعتراض :**اعتراض:** هلکه ! تاوئيل چي معرب دا هغه دي چي يختلف اخره الخ ... زه به درته وښايم چي اختلاف دعامل به راغلی وي او اخر دمعرب به نه وی مختلف شوي لکه : ان زيدا مضروب ، واني ضربت زيدا ، واني ضارب زيدا ، په اول مثال کښي عامل حرف او په دويم کښي فعل او په دريم کښي اسم دي ، **جواب:** مراد داختلاف دعامل نه اختلاف فی العمل دي او دلته اختلاف فی الذات دي نه فی العمل

انما خصصنا اختلافاً: دي سره په دويم اعتراض تصريح ذکر کوي **لفظاً او تقديراً:** حال د متن غرض پکښي دفع د اعتراض ، دويم اشاره قاعدي نحوی ته ، دريم اعراب اخر . څلورم تشريح په اعراب لفظي او تقديري سره . پنځم تعميم ، شپږم. فان قلت سره اعتراض ، اووم جواب . حال د متن ئی ذکر کړو چي نُصبَ يا نصبُ علی التميز او غرض پکښي دفع داعتراض ده **اعتراض:** ملا صاحب د نصب دپاره خو طرق کثيره دي دا لفظاً او تقديراً دځه دوجی نه منصوب دي که دا مفعول به وي نو يختلف خو فعل لازمی دي او که دا منصوب بناء بر مفعول مطلق وی نو يختلف خو مشتمل دي په اختلاف سره او که دا مفعول فيه وی نو مفعول فيه خو يا ظرف زمان وی او يا مکان او لفظاً او تقديراً خو نه ظرف زمان دي او نه مکان . او که دا منصوب وي بناء برحاليت نو الحال ما يبين

هيئة الفاعل او المفعول او دلته دا يو هم نه بيانوي او كه منصوب وي بناء بر تميز نو دا
هم صحيح كيږي ځكه تميز دا په حقيقت كښې خبر وي د مميز دپاره او خبر حمل وي په
مبتدا باندې او دلته لفظاً او تقديراً اوصاف دي لازميږي حمل دصرف وصف په ذات
مع الوصف چې آخر ده .

جواب: دلته لفظاً او تقديراً دا تميز واقع شوي خو په اعتبار د حذف د مضاف
اليه سره تقدير ئې داسې دي چې يختلف لفظ آخره او حمل دذات مع الوصف راغلو په
ذات مع الوصف باندې. **لفظاً آخره او تقديره:** سره دويم غرض چې اشاره قاعدې نحوئي ته
ذكر كوي ، تميز وائي هغه شى ته چې رفع دابهام راولي چې دا ابهام ناشي وي دكلام
سابق نه او تميز په درې قسمه دي : اول هغه قسم دي چې خاص وي په منتصب عنه
پورې لكه طاب زيدٌ نفساً ، او دويم قسم هغه دي چې خاص وي په متعلق د منتصب
عنه پورې لكه طاب زيدٌ داراً . او دريم قسم هغه دي چې د دواړو احتمال لري لكه
طاب زيدا اباً . دا چې په دې اعتبار سره داخلي چې زيدا شه پدې اعتبار سره چې دا
پلار ئې ښه دي نو دا خاص شو په متعلق د منتصب عنه پورې، نو قاعده داده چې تميز
چې كله خاص وي په منتصب عنه پورې نو دا منتصب عنه به په حقيقت كښې يا بدل
وي دتميز نه او يا به عطف بيان وي دتميز نه لكه طاب زيدٌ نفساً دا په حقيقت كښې
طاب نفسُ زيدٌ وو نو زيد دا منتصب عنه دي او دا د تميز نه بدل هم كيدې شى او
عطف بيان هم. او كه تميز خاص وو په متعلقاتو د منتصب عنه پورې نو دغه منتصب
عنه به په حقيقت كښې طاب دار زيد دي، اوس دلته لفظاً او تقديراً دا خاص دي په
متعلق دمنتصب عنه پورې نو دا منتصب عنه به دغه تميز دپاره مضاف اليه واقع شوي
وي چې هغه منتصب عنه آخره دي نو تقدير داسې شو چې يختلف آخره لفظ آخره او
تقدير آخره .

تقسيم د اعراب لفظي او تقديري ته

او على المصدرية: سره دريم غرض چې اعراب آخر دي ذكر كوي. شارح وائي چې
دا لفظاً او تقديراً منصوب دي بناء بر مفعول مطلق او كه ته وائي چې مفعول مطلق خو
شامل وي فعل ته دقبيلې د اشتمال دكل نه په جز باندې او يختلف خو مشتمل دي په

اختلاف نه په لفظاً او تقديراً باندي نو شارح جواب كوى چي دا مفعول مطلق دي په اعتبار د حذف د مضاف سره تقدير داسى دي چي يختلف اختلاف لفظ او تقدير نو مونږ مضاف حذف كړو او مضاف اليه مو دهغه قائمقام كړو او كوم شى چي واقع په ځاى دغير نو هغه لره حكم دغير وى نو لفظا اوتقديرا مو منصوب كړل.

والا ختلاف لفظا او تقديرا: څلورم غرض تشريح، اعراب به يا لفظا وى لكه جاء نى زيدٌ رايت زيداً مررت بزيدٍ او يا به تقديري وي لكه جاء نى فتى ورايت فتى ومررت بفتى **والا ختلاف اللفظى والتقديرى** : دي عبارت سره تعميم ذكر كوى داعراب لفظى او تقديري او غرض پكښى دفع داعتراض ده.

اعتراض: هلكه! تا ووئيل چي معرب دا هغه دي چى آخر ئى مختلف كيږي په اختلاف د عواملو سره زه به درته وښايم چي اختلاف دعامل به راغلى وى او آخر به دمعرب نه وى مختلف شوى لكه احمد په جاءنى احمد ورايت احمد ومررت باحمد كښى او همدارنګه دتثنيه او د جمع په حالت نصبى او جري كښى لكه رايت مسلمين ومررت بمسلمين، دلته اختلاف دعامل راغلى او اعراب ندي مختلف شوي.

جواب: اعراب لفظى او تقديري دا عام دي حقيقتاً وى او كه حكما وي په احمد كښى كه حقيقتا اعراب نه دي مختلف نو حكماً مختلف دي ځكه دا غير منصرف دي او په غير منصرفٍ كښي جر تابع دنصب وي او همدارنګه په تثنيو او په جمعو كښي هم حكماً اعراب مختلف شوي دي.

فان قلت: سره شپږم غرض اعتراض ذكر كوى **اعتراض:** هلكه! تا ووئيل چي معرب دا هغه دي چي يختلف آخره باختلاف العوامل زه به درته وښايم چي معرب به وي نه به اختلاف دعامل راغلى وي او نه به ئى آخر مختلف وي بلكه حدوث داعراب به وي لكه اسماء معدوده چي مشابه دمبنى الاصل سره نه وى او از سرنو دعامل سره مركب شي.

جواب: خلاصه د جواب داده چي دا خو دي نوى خبر را پيدا كړو داد ښه وكړه ځكه چي معرب يو حكم دا وو چي يختلف آخره الخ... او بل حكم ئى دا شو چي حدوث الاعراب خو دا به خاصه غير شامله شي دمعرب دپاره ځكه ټولو معرباتو لره خو

داشامله نده

د اعراب تعریف او تشریح

الاعراب ما اختلف آخره: اعراب چا ته وائی شارح رضی رحمه الله وائی چی اعراب داعین اختلاف ته وائی ، او جمهور وائی چی اعراب ما به الاختلاف ته وائی چي حرف یا حرکت دي، **اعتراض:** هلکه ! اعراب اثر دي او عامل مؤثر دي پکار ده چی اول تعریف د عامل وکړي بیا د اعراب ؟ **جواب:** مونږ اول تعریف داعراب وکړو دپاره داختصار ځکه په تعریف دعامل کښی راځی چي العامل ما به یتقوم المعنی المقتضی للاعراب نو اعراب به مو بیا تعریف کولو ځکه اعراب هم یو جز دي د اجزاو دعامل نه.

الاعراب ما ای حرکة او حرف. یوغرض تعین د ما کوی او غرض پکښی دفع داعتراض ده . نو دلته (ما) موصوفه ده ځکه ده تړینه تعبیر په نکري سره وکړو **اعتراض:** تعریف د مانع نشو د دخول دغیر نه داخل شو پکښی عامل اومعنی مقتضی ځکه دي سره هم اختلاف دآخر دمعرب راځی . **جواب:** مراد د (ما) نه حرف یا حرکت دي ستا اعتراض به هله وارد یدلی چي مراد د (ما) نه شئ وائی

اختلاف آخره: یو غرض تعین د ضمیر دآخره، دویم قید ذکر کول ، دریم اشاره قسمین د اختلاف ته او ل غرض وشو چی اخر المعرب ، دویم غرض هم وشو چی من حیث هو معرب او فائده ئی وروسته ذکر کوی او ذاتاً او صفتاً سره قسمین داختلاف ذکر شو، **به:** سره غرض تعین دضمیر کوی، دویم فائده د اول قید ، دریم جواب آخر، څلورم فائده دقیدثانی ، پنځم دفع اعتراض ، شپږم رد په بعضو خلقو، نو اول غرض وشو چی مراد پدي سره حرف یا حرکت دي،اعتراض هم پدي سره دفع شو چی هلکه ! دا (به) ضمیر حرف ته راجع دي او که حرکت ته که حرف ته راجع وی نو حرکت پاتی شو او که حرکت ته راجع وي نو حرف پاتی شو او که دواړو راجع وی نو مطابقت را نغلو په راجع او مرجع کښي . نو جواب وشو چی ضمیر راجع دي حرکت ته او حرف پري عطف دي او حکم د معطوف او معطوف علیه یو وی .

وحین یراد بما الموصولة: دي عبارت سره فائده د اول قید چی حرکت او حرف دي ذکر کوی فائده داده چي کله مراد په (ما) موصوله سره حرف یا حرکت شو نو اعتراض

وارد نشو چي عامل او معنى مقتضى سره ستا تعریف ناقص شو **اعتراض:** **هلکه** ! ستا په عبارت کښی تضاد دي مخکښی دي د (ما) تعبير په نکري سره وکړو چي مراد د ما نه ما موصوفه ده او اوس وائى چي حين يراد بما الموصولة الخ... په دي کښى اشاره ده جواز دوجهینو ته **جواب:** مراد د موصول نه موصول اصطلاحی ندي بلکه مراد ترینه موصول لغوی دي چي وصل شده، دي برابره خبره ده چي حرف وي او که حرکت.

ولوابقيت على عمومها: سره جواب آخر، هلکه ! ملا صاحب مراد د ماء نه شی دي او که نه وائی چي عامل او معنى مقتضى پکښی داخل شو نو زه هغه په (به) سره خارجوم هغه داسي چي مراد دباء نه باء سببيه ده او متبادر دسبب نه سبب قريبه ده او عامل معنى مقضتى د اسباب بعيده دي ځکه اول عامل راځى بيا معنى مقتضى بيا اعراب بيا اختلاف.

وبقيد الحيثية: سره فائده دقيد ثانى ذکر کوی، غرض پکښی دفع داعتراض ده او هغه دا چی ملا صاحب تعریف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه غلامی ځکه دلته اختلاف د عامل هم راغلی او اختلاف دآخر هم راغلی او حالانکه دیته څوك اعراب نه وائی. نو په من حيث انه معرب قيد سره دا اعتراض دفع شو چي مونږ کوم اختلاف ذکر کوو هغه ددي جيثيت نه چي معرب وي او د غلامی حرکت چی کوم راغلي هغه د ياء دمتكلم دوجه نه راغلی دي ځکه یا ماقبل کسره غواړي.

وبهذا القدرتم حدالاعراب: سره ذکر د پنځم غرض **اعتراض:** هلکه ! تعريف د حد دي پوره شو نو وروسته عبارت چي ليدل على المعانى الخ... دا دکوم مرض دوا ده؟ نو شارح رحمه الله **جواب:** کوی چي قيود په څلور قسمه دي : اول جمعی، دويم منعی، دريم اتفاقی، څلورم دپاره دفائدي خارجی، دلته دا قید دلیدل دفائدي خارجی دپاره دي چي داعراب فائده ذکر کول دي.

فكانه اراد ان يبين الخ... سره شپږم غرض، شارح هندی دغه مخکښی اعتراض نه جواب دا کړي دي چي ليدل على المعانى الخ... دا حکم داعراب دي او دليل ورلره دادي چي مصنف رحمه الله په آماليو د کافيه کښی دليکلی دي چي ليس هذا من تمام الحد چی دا دليل داجز دي تعريف څخه ندي او شارح هندی وائی چي ليدل دا متعلق

دي په مقدر پوري چي هغه وضع الاعراب دي. خو شارح پدي رد کوی چي دا دفهم نه ډیره بعیده خبره ده بلکه دلیس هذا من تمام الحد ، معنی داده چي دا لیدل دا تعریف جمعی او منعی ندي بلکه دا لیدل دا فائده ده دپاره داعراب چي اعراب دا فائده لري

لیدل علی المعانی الخ... دي سره فائده د اعراب ذکر شوه ، دي عبارت نه یو غرض تعین دضمیر د لیدل کوی، دویم اختلاف ته اشاره کوی. اول غرض خو وشو چي لیدل کښی ضمیر اختلاف یا مابه الاختلاف ته راجع دي، دویم غرض هم وشو چي اعراب په نزد دماتن او دجمهورو دا مابه الاختلاف ته وائی او په نزد د شارح رضی اعراب دا عین اختلاف ته وائی دده دلیل دادي چي اعراب مقابل د بناء دي او بناء عدم اختلاف ته وائی نو اعراب به اختلاف ته وائی خو دا مسلك ضعیف دي ځکه چي جاءنی زیدٌ چي از سرنو معرب شی نو اختلاف خوندي راغلی او اعراب راغلی.

علی المعانی: معانی جمع د معنی ده په معنی د مدلول د الفظ سره او په معنی دصفت قائمة با الغیر ته وائی او دلته دریمه معنی مراد ده چي فاعلیت او مفعولیت او ضافت دي علي المعانی سره یو غرض تعین دمعنی او غرض پدیکښی دفع داعتراض ده. **اعتراض**: هلکه! اختلاف به دلالت کوی په معنی نو که دمعنی نه ذات داسم اخلی نو اختلاف خو په ذات داسم دلالت نه کوی او که مراد د معنی نه سبب اخلی نو اختلا ف خو په سبب داسم دلالت نه کوی بلکه اسباب دا دلالت کوی په اختلاف باندي، نو ده جواب ورکړو چي معنی نه مراد زمونږ فاعلیت مفعولیت او اضافت دي.

معنی د اعتوار او تشریح

المعتورة الخ: غرض اول رفع د اشتباه لفظی دویم. دفع اعتراض دریم رد په شارح هندی. علی صیغة اسم الفاعل سره اول غرض هم وشو چي دا صیغه د اسم فاعل وه، دویم غرض اعتراض دي . **اعتراض**: هلکه! دا صیغه داسم فاعل ده او که داسم مفعول ده که صیغه داسم فاعل وی نو مُعْتَوِرَةٌ خو متعدي بنفسه دي تائی په صله کښي علی ولی راوړی ، او که صیغه داسم مفعول وی نو عکس دمعنی راځی ځکه مځکښی معانی دا عارض دي او اسم معرب دا معروض دي معنی داده چي دا معانی پی درپی کیدونکی په معرب باندی نو که صیغه داسم مفعول شی نو معانی به معروض او اسم معرب به

عارض شي، نو معنی به دا شي چي دا معاني دا پي درپي شوي دي په معرب سره

جواب: دا صیغه داسم فاعل ده او که ته وائی چي ددي په صله کښي علی نه راځي نو دي وروسته جواب کوي چي دا معتورة متضمن دي معنی د ورود او استیلاء دریم غرض رد په شارح هندي باندي، شارح هندي وائی چي دا المعتورة صیغه داسم مفعول ده او که ته وائی چي عکس دمعنی راځي نو دي وائی چي را دي شي نو مصنف پري اعتراض وکړو چي دا صیغه داسم مفعول نده بلکه صیغه د اسم فاعل ده معاني عارض او اسم معرب معروض دي

علیه: سره یو غرض تعین دضمیر . دویم متعلق دعلیه ذکر کوي. دریم غرض تصریح بالجواب ، ځلورم معنی داعتوار او غرض پکښي دفع داعتراض . پنځم دفع داعتراض ، شپږم غرض معنی لغوی داعراب: اول غرض علی المعرب سره وشو. دویم غرض متعلق بمعتورة سره وشو ، دریم غرض علی تضمین مثل معنی الورود والاستیلاء ، تضمین په لغت کښي يو سړي ته په ترخ کښي څه شي ورکول، او په اصطلاح د معانیو کښي په یو فعل شبه فعل لکه قرآن کریم کښي راځي (واذا خلوا الی شیطینهم) دلته دخلو په صله کښي الی راغلی او حالانکه ددي په صله کښي مع راځي ځکه چي دا اذا خلوا متضمن دي بل فعل لره چي ذهب دي په قرینی د الی سره نو دلته لحاظ د ذهبوا شوي دي او دي کښي فائده داده چي فعل به یو وی او معنی به ترینه د دواړو واخلي اوس دلته مونږ لحاظ په المعتورة کښي د ورود وکړو نو علی مو راوړو

وانما اعتوروا: دا ځلورم غرض دي چي معنی داعتوار ده، اعتوروالشئ لاس په لاس سره ونیولو دوي شي لره د اعتوار او تعاور یوه معنی ده، د تعاور دامعنی ده هم اخستل دیو جماعت دبل جماعت نه په سبیلی د مناوبت او بدلیت سره نه په سبیلی داجتماع سره، اوس معرب باندي معاني راځي چي فاعلیت مفعولیت او اضافت دي که فاعلیت نه وي نو فوراً به مفعولیت راځي یا اضافت اوس هر کله چي معاني نمبر په نمبر راځي نو د دوي علامی چي رفع نصب جر دي دا به هم نمبر په نمبر راځي .**اعتراض**: قاعده داده چي واو ماقبلش مفتوح آن واو را با الف بدل کنند نو په المعتورة کښي ولي الف باندي واو بدل نشو ؟ **جواب**: ستا قاعده صحیح ده خو شرط پکښي دادي چي دا

واو به حمل نه وي په هغه واو چي هلته دا قاعده نه جاري کيږي او دلته المعتورة حمل دي په تعاور او په تعاور کښې دا قاعده نه جاري کيږي.

انما جعل الاعراب: پنځم غرض دفع داعتراض ، **اعتراض:** هلکه! هر کله چي اعراب دلالت کوی په معانيو نو بيا خو په اول کښې اعراب پکار دي چي د اول نه پته ولګيږي چي دا فاعل دي يا مفعول دي اوکه مجرور دي **جواب:** اسم کښې دوه خبري دي يو دا چي اسم دلالت کوی په مسمی او يو اعراب دي او دا صفت دي او قاعده داده چي موصوف مقدم وي په صفت نو موږه هغه شي وروسته کړو کوم چي په صفت باندي دلالت کوی دهغه شي نه چي دلالت کوی په موصوف ، البته پدي باندي اعتراض واردیږي د خارج نه.

اعتراض: هلکه! زيد دلالت کوی په ذات او اعراب دلالت کوي په صفت او سره ددينه چي په جاء نی زيد کښې ذات او صفت دايو ځاي راغلی دي،

جواب: دلته تقدم ذاتی دي او دا ديته وائی چي مقدم دا محتاج اليه وي د مؤخر دپاره خو تقدم ذاتی دا منافی ندي دمعيت زمانی سره لکه شرح عقائد کښي به درته راشی چی ذات دا الله ﷻ مقدم دي په صفاتو خپلو باندي.

د اعراب لغوی معنی

وهو ماخوذ من اعربه: شپږم غرض ، معنی لغوی داعراب ، اعراب دا ماخوذ دي داعرب نه په معنی د وضاحت سره او په اعراب سره هم دمعنی مقتضی وضاحت کيږي خو پدي اعتراض واردیږي د خارج نه چي هلکه ستا ددي خبري نه چي اعراب ماخوذ دي داعرب نه دا معلوميږي چي مصدر دا مشتق دي دفعل نه کوم چي مذهب د کوفينو دي، **جواب:** اعراب اصطلاحی دا ماخوذ دي داعراب لغوی د اعرب نه، يعنی اعربه دمصدر نه. **اومن عربت معدته:** او يا اعراب ماخوذ دي دعرب معدته نه په معنی دفساد سره نو دا وهم به ذهن ته راځی چي په اعراب سره به فساد راځی نو جواب دادي چي اعراب باب افعال دي او په دي کښې همزه دپاره دسلب ده نو معنی داعراب دا شوه چي سلب دفساد به کوی اعراب.

اقسام دِ اعراب

وانواعه رفع ونصب وجر: اول غرض تعین دضمیر، دویم دفع اعتراض، دریم دفع داعتراض: غرض اول خو وشو چي انواع اعراب الاسم، دویم غرض غرض دفع اعتراض، هلکه انواع داعراب خو څلور دي رفع نصب جر جزم او ته وائی چي ثلاثة **جواب**: مراد د انواعو داعراب نه انواع داعراب داسم دي او جزم خو اعراب دفعل وی **وانواعه ثلاثة**: سره دریم ذکر کوی چي دفع داعتراض ده ،هلکه انواع جمع ده مبتداء ده او رفع نصب جر دا خبر دي نو حمل د واحد راغی په متعدد باندي او حمل د واحد په تعدد باندي نه صحیح کیږي **جواب**: دلته عطف مقدم دپه ربط باندي، دا اعتراض به هله وارديدلی چي ربط مقدم وی په عطف نو حمل دمتعدد راغی په متعدد باندی،

هذه الاسماء الثلاثة: اول دي سره غرض بیان دیو اصطلاح کوی او هغه دا چی رفع نصب جر خاص دي په حرکات اعرابیه ؤ پوري او ضمه فتحه کسره دا اکثر استعمالیږي په حرکات بنائیه ؤ کښي او قلیلا استعمالیږي په حرکات اعرابیه ؤ کښی، او ضمه فتحه کسره دا خاص دي په حرکات بنائیه ؤ پوري خو دا مذهب د بصر ینو دي او هر چی کوفیان دي هغوی وائی چي رفع نصب جر دا استعمالیږي په حرکات بنائیه کښ

فالرفع علم الفاعلية: ای علامة کون الشئ فاعلاً: اول غرض معنی دعلم، دویم غرض قاعده ذکر کول، دریم تعمیم: هلکه؛ علم دا اسم محضه ته هم وائی، جبل ته هم وائی او علامی ته هم وائی دلته کومه معنی مراد ده نو دلته علامه مراد ده چی کون الشئ فاعلاً دي. دویم غرض قاعده، په فاعلية کښی (یا ت) مصدریه ده او (یا ت) مصدریه هغی ته وائی چی ګرځوی ملحق به خبر دپاره د کان محذوفه سره داسم نه، لکه کون الشئ کون دپاره الشئ اسم او فاعلاً ورلره خبر شو.

تقسیم د فاعل، حقیقی او حکمی

حقیقتاً او حکماً: سره دریم غرض تعمیم ذکر کوی، فاعل عام دي حقیقتاً وي لکه ضرب زیدٌ کښی زید او حکماً لکه مبتداء خکه ددي عامل معنوی دي او همدارنګه خبر **والنصب علم المفعولية**: دي کښي هم هغه دري اغراض دي کوم چی په علم الفاعلية کښی وو **والجر علم الاضافة الخ**: اول غرض معنی دعلم، دویم معنی د

ضـافت ، دريـم دفـع داعتـراض ، څلـورم وجـه د اختصـاص اول او دويـم غـرض خـو مخکښې وشو. دريم غرض دفع داعتراض ، هلکه دا عبارت په يو نهج او طريقې سره پکار وو تا ولې طرز په علم الاضافة کښې بدل کړو.

اذا کانت الاضافة مصدراً بنفسها لا حتج الى الحاق الياء المصدرية اليها . وانما اختص سره څلورم غرض وجه داختصاص ، رفع خاص ده په فاعل پوري ځکه رفع ثقيله ده او فاعل قليل دي او نصب خاص دي په مفعول پوري ځکه نصب خفيف دي او مفاعيل کثير دي ځکه چې مفاعيل پنځه دي نو ورکړي شو خفيف ثقيل ته. او مضاف اليـه تـه څه شې پاتې نشو نو جر مو ورکړو. مضاف اليه ته. او محشي يوه بله وجه ذکر کړې ده او هغه دا چې فاعل دا عمده وي په کلام کښې او رکن وي دد غه کلام نه او مفعول دا فضله وي په کلام کښې او مضاف اليـه ددوي دواړو په منځ کښې دي من وجه عمده في الکلام واقع کيږي او هم فضله واقع کيږي . په کلام کښې . نو رفع په حرکاتو کښې قوي وه دا مو فاعل ته چې عمده دي ورکړه او نصب ضعيف دي دا مو ورکړو مفعول ته چې فضله دي او جر مو مضاف اليه ته ورکړو خو دا وجوه خو موږه وايو ګنې نو عربو خو مخکښې نه پري دا عرابات وئيلې دي.

تقسيم د عامل، لفظي او معنوي

العامل مابه يتقوم المعنى المقتضى للاعراب لفظياً او معنوياً: اول غـرض تعميم ، دويـم غرض دفع داعتراض. اول غرض وشو چې عامل عام دي لفظي وي او که معنوي ، دويم غرض دفع **اعتراض:** هلکه ! دا تعريف د کوم عامل دي که د لفظي وي نو دمعنوي وکړه او که دمعنوي وي نو لفظي وکړه . **جواب:** وشو چې د لفظي او دمعنوي دواړو دي. **مابه يتقوم اى يحصل:** يحصل سره غرض دفع د اعتراض ده او هغه دا چې د قيام نسبت خو ذوي الروح ته کيږي او تائي عامل غير ذوي الروح ته کړي دي **جواب:** وشو چې ذکر د يتقوم دي مراد ترينه يحصل دي.

اى معنى من معانى المعتورة على المعرب: يو غرض تعين د الف لام دي چې الف لام عهدي دي او دويم غرض پکښې دفع داعتراض ده. هلکه ! تعريف د عامل کښې دي حروف (اتين) ، د مضارع داخل شو ځکه دا دماضي نه جوړه ده ماضي مبني ده او

مضارع دا په يو دحروف اتين سره معرب ګرځيدلي ده نو پکار ده چې حروف اتين دا په عامل کښې داخل شي **جواب**: مراد د معانيو نه معاني معتورة دي او په حروف اتين سره خو دا نه حاصليږي . ففي جاء زيد سره مثال دعامل لفظي او معنوي ذکر کوي

فالمفرد المنصرف: مخکښې ذکر د اعراب وشو اوس انواع داعراب ذکر کوي، فاء يا تفسيريه ده. يا عاطفه ده او معطوف عليه ئې مخکښې کلام دي لاعلى التعين او داد قبيلې د عطف ديوي قصې په بلې باندې دي، يا دا فاء تفريعيه ده او متفرع عليه ئې داده چې اذا عرفت ما تلونا عليکم نو فالمفرد المنصرف . **اى الاسم الذى**: يو غرض ذکر قاعدې کليه . دويم دفع داعتراض . دريم توضيح بالمثال :

نکته :زده کړه دا خبره چې دلته دوه قاعدې دي يو دا چې المفرد صفت دي او الاسم ئې موصوف دي، دويمه قاعده چې المفرد صيغه داسم مفعول ده او الف لام هم پرې داخل شوي او دغه الف لام په معنى د الذى يا التى سره وى او اسم مفعول په معنى د موصوف سره د صفتينو نه مجرور د جار، جار سره دمجرور نه متعلق شو تر (دل) پورې، فعل سره دفاعل نه او سره د متعلق نه صله د موصول، موصول سره د صلې نه خبر دمبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه، دويم ترکيب . غير منصوب دي او دا جمله حال دي د معنى نه او نور ترکيب سابق ترکيب دى .

ترکيب د ومن خواصه الخ

ومن خواصه دخول اللام والجر والتنوين والاسناد اليه والاضافة: واو عاطفه من جار خواصه مضاف مضاف اليه مجرور دجار، جار سره دمجرور نه خبر مقدم دخول مضاف اللام معطوف عليه و او عاطفه الجر معطوف معطوف عليه واو عاطفه التنوين معطوف معطوف عليه سره د معطوفتينو نه مضاف اليه. مضاف سره د مضاف اليه نه مبتداء مؤخره، دويم ترکيب چې دخول اللام مرفوع وونيلې شي نو دا جمله تر والاضافة پورې به فاعل شي دظرف،دپاره نو ظرف عامل شو او ظرف هغه وخت عمل کوى چې اعتماد ئې کړي وى په يو داشياؤ سته او دلته دي ظرف اعتماد ندي کړى په يو هم، دريم ترکيب چې اللام الى آخره دا فاعل شي دپاره دمصدر چې دخول دي او مصدردلته عامل ګرځيدلې شي ځکه چې اعتماد يې کړى په مبتداء .

وهو معرب مبنی: اول ترکیب ، هو مبتداء معرب معطوف علیه واو عاطفه مبنی معطوف ، معطلوف علیه سره د معطوف نه خبر دمبتدا ، مبتداء او خبر جمله اسمیه. دویم ترکیب هو مبتدا قسمان خبر، احدهما مبتداء معرب خبر، ثانیهما مبتداء مبنی یی خبر. فالمعرب المرکب الذی لم یشبه مبنی الاصل ف تفصیلیه. المعرب مبتدا. المرکب موصوف الذي اسم موصول لام حرف جار لم بشبه فعل، ضمیر پکښي مستتر دي هغه ئی فعل سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه صله د موصول ، موصول سره د صله نه بنابر حذف مضاف دلته مضاف حذف دي چی حالة دي مضاف حذف شو او مضاف الیه ئی قائمقام وګرځیدو او کوم شی چی واقع شی په ځای دغیر نو هغه لره حکم دغیر وی نو مضاف منصوب وو نو دوي هم منصوب وګرځیدل.

ویحتمل النصب علي الحالیة او المصدریة: اشاره د ضعف د قولین ته لاجل کثرة الحذف. اول غرض ذکر د احتمالینو دي او دویم غرض توضیح بالمثال ، یاد ارفعاً نصباً جراً دا منصوب دي بناء برحالیت نو عبارت اصل کښی داسي دي چي والاعراب فی هذین القسمین حال کونهما مرفوعین با لضمة وحال کونهما منصوبین بالفتحة وحال کونهما مجرورین با لکسرة ، او ذو الحال دا معلومیږي د کلام نه. **اوالمصدریة:** او یا دامنصوب دي بناء برمفعول مطلق تقدیر دعبارت داسي دي چی اعرب اعراب رفع واعرب اعراب نصب واعرب اعراب جرٍ. **فالقسم الاول سره توضیح بالمثال:** د اول قسم مثال لکه جاء نی رجل رایت رجلاً مررت برجل ، او د دویم قسم مثال، لکه جاء نی طلبة رایت طلبة مررت بطلبة.

ترکیب د اسم مَادَلّ الخ

ترکیب: الاسم ما دل علی معنی فی نفسه غیر مقترن باحد الازمنة الثلاثة الاسم مبتداء ، ما موصوله یا موصوفه ، دل فعل ضمیر پکښی مستتر دي هغه ئی فاعل علی جار معنی موصوف فی جار نفس مضاف (ه) ضمیر مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور دجار، جار سره د مجرور نه صفت اول، غیر مضاف مقترن مضاف صیغه داسم مفعول ضمیر پکښی مستتر دي هغه ئی نائب فاعل باجار، احد مضاف الازمنة موصوف الثلاثة صفت، موصوف سره د صفت نه مضاف الیه. مضاف

Scanned with CamScanner

سره د مضاف اليه نه مجرور د جار. جار سره د مجرور نه متعلق شو تر مقترن پوري، مقترن صيغه د اسم مفعول سره دنائب فاعل نه او سره دمتعلق نه مضاف اليه دغير، مضاف سره دمضاف اليه نه صفت ثاني دمعنى صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه خبر دمبتداء. مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه

تركيب و حكمه ان يختلف اخره، الخ

وحكمه ان يختلف آخره باختلاف العوامل لفظاً او تقديراً: حكمه مضاف مضاف اليه، ان ناصبه يختلف فعل، آخره مضاف مضاف اليه فاعل، با جار، اختلاف العوامل مضاف مضاف اليه مجرور، جار سره د مجرور نه متعلق شو تر يختلف پوري، لفظاً او تقديراً دا يا تميز دي دآخره نه، او يا دا مفعول مطلق دي ديختلف نه په حذف د مضاف سره تقدير د عبارت داسي دي چي يختلف آخره إختلاف لفظ او اختلاف تقدير، نومضاف حذف شو او دا لفظاً او تقديراً ئى قائمقام شو او شى چي قائم شى په ځاي د غير باندي نو هغه لره حكم د غير وي، نو اختلاف منصوب وو نو دا به هم منصوب وى، نو يو تركيب دا شو چي يختلف فعل آخره مميز او با ختلاف العوامل متعلق شو تر يختلف پوري او لفظاً او تقديراً تميز شو، مميز سره د تميز نه فاعل د يختلف دپاره فعل فاعل متعلق په تاويل د مصدر سره خبر د مبتدا، دويم تركيب دا شو چي يختلف فعل آخره فاعل اختلاف العوامل متعلق او لفظا او تقديراًمفعول مطلق شو فعل فاعل او متعلق مؤول په تاويل د مصدر سره خبر دمبتدا، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه.

تركيب د الاعراب ما ختلف اخره، الخ

الاعراب ما اختلف آخره به ليدل على المعانى المعتورة عليه: الاعراب مبتداء، ما موصوله، اختلف فعل، آخر ه مضاف اليه فاعل، به جارمجرور متعلق شو تر اختلف پوري، لام جار، يدل فعل، ضمير مستتر پكښى فاعل، على جار، المعانى موصوف، المعتورة صيغه داسم فاعل، ضمير مستترده پكښى فاعل، عليه جار مجرور متعلق تر المعتورة پوري، اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه مجرور د جار، جار سره دمجرور نه متعلق شو تر يدل پوري، فعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه

متعلق شو تر اختلف پوري په نزد د ماتن او په نزد دشارح هندي متعلق دي تر وضع الاعراب پوري او مستقله جمله ده اختلف فعل سره دفاعل نه او سره د متعلقينو نه صله دموصول، موصول سره دصلی نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه. **وانواعه رفع نصب وجر**: انواعه مضاف مضاف اليه مبتداء، رفع معطوف عليه واو عاطفه نصب معطوف معطوف عليه واو عاطفه جر معطوف ، معطوف عليه سره دمعطوفينو نه خبر دمبتداء مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه . **فالرفع علم الفاعلية والنصب علم المفعولية والجر علم الاضافة**: فا تفصيله، الرفع مبتداء و علم الفاعلية مضاف مضاف اليه خبر. مبتدأ سره دخبر نه جمله اسميه، النصب مبتداء علم المفعولية مضاف مضاف اليه خبر، مبتداء او خبر جمله اسميه، واو استئنائيه، الجر مبتدا علم الاضافة مضاف مضاف اليه خبر، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه .

ترکیب د العامل ما به یتقوم الخ

العامل مابه يتقوم المعنى المقتضى للاعراب: العامل مبتدا، ما موصوله ، به جار مجرور ، متعلق تر يتقوم پوري ، يتقوم فعل المعنى موصوف المقتضى صيغه داسم مفعول ، ضمير پکښې اسم مفعول سره دنائب فاعل او سره دمتعلق نه صفت دموصوف، موصوف سره دصفت نه فاعل ديتقوم،فعل سره دفاعل نه او سره د متعلق نه صله د موصول ، موصول سره دصلى نه خبر دمبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه، او يا المقتضى منصوب دي او مفعول دي دپاره ديتقوم، او يتقوم فعل سره دفاعل نه چې معنی ده او سره د مفعول به جمله صله شوه د موصول ، موصول سره دصلى نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه .

د جمع مؤنث سالمه تعريف او تشريح

جمع المؤنث السالم وهوما يكون بالالف والتاء: يو غرض تعين دمعنى د جمع مؤنث سالمه، دويم بيان دفائدي، اول جمع مؤنث سالمه دا هغه ده چي په (الف) او (تا) سره وی، او سالمه دا هغه ده چي بناء د واحد پکښې سالمه وی اوس که څوك ووائی چې جمع خو نی سالمه نه ده بلکه مفرد ئی سالم دي نو جواب دادي چي ديته توصیف بحال متعلقه وائی . **واحترزبه عن المكسر فانه قدعلم**: سره دويم غرض چې فائده ده ذکر کوی ،

او هغه دا چي ما يكون با الالف والتاء سره احتراز وشو دجمع مكسر نه ځكه چي هغه پيژندل شوي ده ، **اعتراض:** هلكه! مخكښى خو جمع مكسر منصرف پيژندل شوي ده عامه جمع خو نده پيژندل شوي پكار دا وه چي داسي دي وئيلي وى چي واحترز به عن المكسر المنصرف فان حكمه مختلف لحكمه ؟ **جواب:** دلته مصنف چشم پوشي كړي ده قصداً ئى دا پريخودي دي دپاره ددي چي طالبان پكښى سوچ وكړي.

فالنصب فيه تابع للجر اجراء للفرع الخ: اول غرض دفع داعتراض ، دويم توضيح با لمثال هلكه! نصب تابع دجر دولى دى، جواب: نصب تابع د جر ځكه دي چي دا جمع فرعه ده د جمع مذكر سالمه هلته داسي وو نو دلته هم نصب تابع دجر شو. لكه جاءتني مسلمات ورايت مسلمات ومررت بمسلمات سره دويم غرض وشو. جمع مؤنث سالمه ئى مقدمه كړه په غير منصرف باندى د دريو وجوهو نه: اول معرفت دغير منصرف كښى لږ تطويل وو، دويم دجمع مؤنث سالمه اعراب لازم دي او د غير منصرف اعراب كله كله زائل كيږي. دريم جم مؤنث سالمه كښى نصب تابع دجر دي او داډير استعماليږي په كلام دعربو كښي په خلاف دغير منصرف ځكه هلته جر تابع دنصب دي.

غير المنصرف فالجر فيه تابع للنصب كما سنذكره: غير منصرف كښى جر تابع دنصب وى او وجه به په حكم دغير منصرف كښى راشى. **اخوك ، ابوك ، حموك:** بكسر الكاف سره غرض دفع د اعتراض ، **اعتراض:** هلكه! طرز دعبارت دي ولى بدل كړو، مخكښى جواز د فتح او كسري دواړو وو او دلته دي صرف كسره ووئيله ؟ **جواب:** ځكه چي حم ليور ته وائى او ليور صرف د امرأة دپاره وى او امرأة ته په كاف مكسوره سره خطاب كولى شى. وهنوك ، **ولهن الشى المنكر:** اول غرض معنى د دهن ، دويم تحقيق صرفى ، اول غرض هن دا شى منكر ته وائى لكه عورة غليظه، افعال قبيحه، او صفات ذميمه. **وهذه الاسماء الاربعة منقوصات واوايه:** دويم غرض ذكر كوى، دا اسماء اربعه منقوصات واوي دي اصل كښى اخوٌ ،ابوٌ ،حموٌ ،هنوٌ وو په دليل دتصغير د دوي سره چي و بيو وخيو، حميواو هنيو دي او په دليل دتثنيو د دي سره چي تثنيى ددي ، ابوان، اخوان، حموان، هنوان ، دي.

وفوك ، هو اجوف واوى ، غرض تحقيق صرفى: دا اصل كښ اجوف واوي دي فوهٌ وو ها

خلاف القياس حذفه شوه او واو په ميم بدل شو ځکه چي په ميم بدل نه شي نو بيا به په الف سره بدل شي ځکه ماقبل ترينه فتحه ده، او کله چي ددي اضافت ياء د متکلم ته وشي نو بيا هغه واو بيرته معاد کيږي ، او بدليږي ، په ياء سره او ياء په ياء کښې مدغم کيږي، نو فی ترينه جوړيږي ، اويو قول دادي چي بالکل نه را معاد کيږي ، بلکه فمي وئيل کيږي .

ذومال ، وهو لفيف مقرون: اول غرض تحقيق صرفی، دويم دفع داعتراض ، دريم ، متعلق د بالواو: اول غرض ، ذو لفيف مقرون بالواوين دي اصل کښې ذووٌ وو نو واو خلاف القياس حذف شو ضمه په واو ثانی باندي ثقيله وه هغه نقل شوه ماقبل ته پس دسلب د حرکت دماقبل نه نو بيا اجتماع دساکنينو راغله دتنوين او د واو په مابين کښې نو تنوين حذف شو ذو ترينه جوړ شو .

وانما اضيف الى اسم الظاهر: سره غرض دفع داعتراض ده . **اعتراض:** هلکه ! نور اسماء دي اضافت اسم ضمير ته کړي او ددي داسم ظاهر ته وکړو دا ولی ؟ **جواب:** ددي اضافت ئي ځکه اسم ظاهر ته وکړو نه کاف ضمير ته ځکه دده اضافت اسم جنس ته کيږي ، او دا ځکه چي دا واضع وضع کړي دپاره د توصيف دشي او دا نه راځی مګر په اسم جنس سره .

فاعراب هذه الاسماء السته بالواو: سره دريم غرض ذکر کوی چي متعلق دبالواو دي او غرض پکښې دفع د دريو اعتراضونو ده : **اول اعتراض:** هلکه ! بالواو خبر دي د ابوك اخوك الخ . دپاره او خبر حامل وی دهغه شي دپاره کوم چي دمبتدا نه نه معلوميږي **دويم اعتراض** : هلکه ! چي ابوك شو نو بالواو خو شو، نو بالالف والياء څرنګه راځی ؟ **دريم اعتراض:** دابوك اضافت شوي مخاطب ته معنی دا چي ستا اب وی نو هغه بالواو او بالا لف او باليا ء راځی او که د غير اب وو نو هغه به نه راځی ؟ **جواب:** بالواو متعلق دي په فاعراب هذه الاسماء السته پوري يعنی دا خبر ابوك اخوك دپاره ندي چي دا اعتراضات پري وارد شي .

لكن لا مطلقاً بل حال كونها مكبرةً: سره غرض دفع داعتراض ، **اعتراض:** هلکه ! زه به درته وښايم چي دا اسماء به وی خو دا اعراب به ئی نه وی لکه جاء نی أُخَيُكَ

ومررت باخیك ورایت اخیك جواب: ددي اسماء به دا اعراب وي خو چې مکبره وی او نا چې کوم وښودل دا خو اسماء مصغره دی.

وموحدة: سره غرض دويمه دفع د اعتراض. **اعتراض**: هلکه! زه به درته وښایم چې اسماء مصغره به هم نه وی او هم دا اسماء به وي او اعراب به ئې دا نه وی لکه جاءنی اخوان ورایت اخوان ومررت باخوان **جواب**: دا اعراب به ئې هله وی چې دا اسماء مفرد وی نه تثنیه او جمع ځکه که تثنیه وی نو دهغوی اعراب بیا د تثنیو او جموعو وی.

وانما لم یصرح بهذین القدین: دا دفع داعتراض هلکه! چې مکبره او موحده قیودات پکښې معتبر وو نو بیا به دي راوړي وی ذکراً؟ جواب: دائی ذکر نه کړل اکتفاء ئې وکړه په امثله وو سره **مضافة الی غیر یاء المتکلم**: په کافیه کښې دا عبارت مقدم دي په بالواو باندي او دا صحیح هم دي ځکه با لواو نه دا حال دي او با لواو دا ظرف دي نو ظرف عامل وګرځیده او ظرف ضعیف العمل وی، په معمول مقدم کښې عمل کوی فقط، اوشارح دا مضافة وروستی راوړي دي وائی چې ظرف دا عامل دي لفظاً او عامل لفظی دا په معمول متقدمه او متاخره دواړو کښې عمل کولی شی، یا دريمه وجه داده چې دا د کاتب غلطی ده کاتب چیرته عالم وو هغه دا سوچ کړي دي چې داحال دي دبالواو نه او حال دا صفت وی حکماً او صفت وی. د موصوف نه، نو دلته هم وروسته کول پکار دی.

وجه تخصیص دِ اسماء سته مکبره

لانها اذا كانت مكبرة وموحدة ولم تكن مضافة: دي عبارت سره فایده دمضافة قید ذکر کوی، دا قید ځکه ولړولی شو چې کله دا اسماء مکبره وی واو مؤحده وی او مضاف نه وی نو بیا اعراب د دوي بالحرکت وی لکه جاءنی اخٌ ورایت اخاً ومررت باخٍ. لانها اذا كانت مضافة: سره اول غرض فائده دقید الی غیر یاء المتکلم دویم دفع داعتراض، دریم وجه دتخصیص داعراب، څلورم وجه دتخصیص د سته ؤ پوري پنځم وجه د تخصیص پدي سته و پوري، شپږم دفع داعتراض: اول غرض، دا اسماء به مضاف غیر دیاء دمتکلم ته ځکه وی که مضاف وي یاء د متکلم ته نو بیا به ئی دا اعراب نه وی.

ولم يكتف في هذا الشرط بالمثال: سره دویم غرض . هلکه: مکبره او مؤحده قیودانو کښې دي اکتفا، په امثله وو سره کړي وه نو دلته به دي هم اکتفاء په مثال سره کړي وی؟ جواب اکتفاء په مثال سره ځکه ونکړه چی خلقو به بیا دا توهم کولو چی ددي اسماء اعراب هله وی چی اضافت ئی صرف کاف ته شوي وی. **وانما جعل اعراب هذه الاسماء بالحروف:** سره دریم غرض . ددي اسماء اعراب یی با لحروف وګرځولو ځکه چی دعامو تثنیو او جوعو اعراب بالحرف وو او دعامو مفرداتو اعراب بالحركة وو نو مونږ دغه بعضو مفرداتو ته اعراب بالحرف ورکړو چی دتثنیو او جموعو دمفرداتو سره وحشت او منافرت تامه را نشي.

وانما اختاروا اسماء الستة: سره څلورم غرض خاص شپږ اسماء ئی ضامن کړل د اعراب بالحرف دپاره ځکه دتثنیه دري حالات وو او د جمعی دري حالات وو نو ټول شپږ اقسام جوړیدل نو د هر اعراب په مقابله کښی یو اسم وګرځولو.

وانما اختاروا هذه الاسماء الستة: دا شپږ اسمائی بیا د نورو اسماؤ نه خاص کړل ځکه د دوي مشابهت د تثنیه او جمع سره وو ځکه دوي هم په تعدد دلالت کوی ځکه چی اب دلالت کوی په من له الاب باندی الی آخره. او بل دا چی د دوي په آخر کښی حرف صالح دپاره دأعراب شته. **بخلاف سائر الاسماء المحذوفة الاعجاز:** سره شپږم غرض ذکر کوی چی دفع داعتراض ده. **اعتراض:** هلکه: ید او دم ددي آخر هم صالح دي دپاره داعراب دا به دي خاص کړي وی؟ **جواب:** دا اسماء محذوفة الاعجاز دي یعنی کوم حروف چی ددوي نه حذف شوي هغه په وخت د اضافت کښی نه را معاد کیږي او دا اخ اب الی آخره را معاد کیږي.

د مثنی تشریح

اعتراض: د مثنی نه لفظ دمثنی اخلی او که ما صدق علیه دمثنی اخلی که لفظ د مثنی نو دمثنی دلفظ اعراب خو با لالف والیاء ندي بلکه تقدیري دي او که ماصدق علیه دمثنی نه اخلی نو د کلا او کلتا ذکر کولو ته حاجت نه وو ځکه پدي هم دمثنی لفظ صادقیږي. **جواب:** زه دا دواړه نه اخلم بلکه مصداق دتثنیه اخلو نو چی دا مو واخستو نو کلا او کلتا دا مصداق دتثنیه ندي ځکه ددي مفرد من لفظه نشته نو دا

ملحقات دتثنيه شو، دويم دليل دادي چي ديته دمفرد ضمير راجع كيږي لكه : كلتا الجنتين اتت اكلها. **ومايلحق به:** سره غرض بيان د حال دمتن آتي چي دا د راتلونكي پشان ملحقات دتثنيه دي وهو كلا چي هغه كلا دي .

وكذا كلتا: اول غرض تعميم ، دويم غرض بيان ديوي نكتي : يو غرض خو وشو چي كلا او كلتا هم با لالف او باليا دي، دويم غرض دادي چي صرف كلا ئى ذكر كړه او كلتا ئى ذكر نه كړو ځكه كلا اصل دي او كلتا دا فرع ده .

مضافاً اى حال كون كلا وكلتا: يو غرض وجه دنصب د مضافاً دويم اعتراض ، اول غرض خو وشو چي دا حال دي كلا او كلتا نو ځكه منصوب دي، او اعتراض خارجي دي ، مونږ خو وئيلي دي چي الحال ما يبين هيئة الفاعل او المفعول به دلته دا كلا او كلتا څه شي واقع دي پدي كښي دري توجهات دي، اول توجيه ابن مالك كړي ده او دي وائي چي المثنى معطوف عليه او كلا او كلتا دا معطوف دي دا مبتدا او بالواو خبر دي او حال راتلل دمبتدا نه صحيح دي نو كلا او كلتا دا ذو الحال شو،دويمه توجيه داده چي دا كلا او كلتا دا فاعل دي دفعل مقدر دپاره تقدير داسي دي چي اعراب كلا وكلتا ، دريمه توجيه دا بناء ده په يوه قاعده باندي او هغه دا چي حال مضاف اليه نه هم واقع كيدي شي خو چي حذف دمضاف جائز وی او اقامت د مضاف اليه دهغی په ځاي باندي صحيح وی لكه (بل نتبع ملة ابراهيم حنيفاً) دلته نتبع فعل او ملة مضاف او ابراهيم مضاف اليه حنيفاً دا حال دي اوس دلته حذف دمضاف چي ملة دي دا جائز دي او اقامت د ابراهيم په مقام دده باندي صحيح دي ځكه صله د مخكښي فعل دپاره مفعول به واقع شوي ده اوس ابراهيم دهغه قائمقام شو اوچي شي واقع شي په ځاي دغير نوهغه ته حكم دغير وی نو ابراهيم هم مفعول شو نو دحنيفاً حال جوړيدل ترينه صحيح شو اوس دلته مضافا حال دي دكلا او كلتا نه او دا مضاف اليه واقع شوي دپاره دمضاف مقدره چي هغه اعراب كلا وكلتا دي تقدير داسي شو چي (اعرب المثنى اعراب كلا وكلتا) اعرب فعل فاعل المثنى مفعول ، اعراب مضاف كلا وكلتا مضاف اليه ، مضاف حذف شو، او مضاف اليه دادهغه قائمقام شو، نو مضاف خو مفعول مطلق وو دا هم مفعول مطلق شو او حال دمفعول مطلق نه صحيح وی څلورمه توجيه

داده او دا ډیره ضعیفه ده ، دوي وائی چي دا خبر دي د کان دپاره اصل کښې داسي وو اذا کانا مضافاً ، کان کښې ضمیر اسم دي او مضافا دا ئې خبر دي او کان او اسم دا حذف شوي دي خو دا ضعیف دي ځکه چې په دي کښې حذف کثیر راغلو.

اى حال كون كلا وكلتا مضافاً: دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده **اعتراض:** حال قید وی دپاره دذوالحال نو ذو الحال المثنى كلا وكلتا دا ټول شو دتثنية به هم هله دا اعراب وی چې کله مضافه وی ؟ **جواب:** ذوالحال صرف کلا کلتا دی دتثنیی مطلقاً دا اعراب دي که مضاف وی او که نه وی .

وانما قيد بذالك لان كلا باعتبار لفظه مفرد: یو غرض فائده دقید دمضافاً ، دویم توضیح بالمثال ، دریم نتیجه : اول غرض د کلا او کلتا سره یی مضافاً قید ولګولو ځکه چې کلا په اعتبار د لفظ مفرد دي ځکه چې مفرد ئی نشته او په اعتبار دمعنی سره جمعی ده لفظ ئی تقاضا داعراب با لحرکت کوی ، او معنی ئی تقاضا داعراب بالحرف کوی نو د دواړو اعتبارینو لحاظ پکښې ساتلی شوي دي هر کله ئی چې اضافت اسم ظاهر ته اوشی نو اعراب به ئی با لحرکة وی خو تقدیراً ځکه چې په آخر الف دي نو دا به التقاء دساکنینو دوجی نه غورځیږي . او اعراب به په عین کلمه جاري کیږي لکه جاءنی کلا الرجلين. ورايت كلا الرجلين ، ومررت بكلا الرجلين ، او چې کله ئی اضافت اسم ضمیر ته اوشی نو بیا به ئی اعراب بالحرف وی لکه جاءنی کلا هما ورايت كليهما ومررت بكليهما .

فلذالك قيد كون اعرابه بالحروف بكونه مضافا الى مضمر: سره نتیجه ذکر کوی او دا دفع داعتراض ده چې هلکه دي عبارت ته څه ضرورت دي نو جواب دادي چې دا نتیجه ده، **واثنان كذا اثنتان:** اول غرض تعمیم ذکر کوی، دویم دلیل دتعمیم ، اول غرض دادي چي دا حکم داثنان نه دي بلکه داثنتان او ثنتان هم دا حکم دي دویم غرض دلیل: دلیل دادي چې دا الفاظ اګرکه مفرد دي لیکن صورت ئي دتثنيه دي، اعتراض من الخارج: کلا دي ذکر کړو او کلتا دي ذکر نه کړو او ودي ویل چي دا رفع ده دلته به دي هم داسي کړي وی ؟ **جواب:** دا اسماء العدد دي او د دوي تميز على القياس راځی خودلته مونږ دا کار خلاف القیاس اوکړو خو دا وجه ضعیفه ده، دویمه وجه داده چې مونږ د دفع دتوهم

دپاره ذکر کړو چې متوهم به دا وهم کولو چې داثنان به داسي وی او داثنتان به داسي اعراب نه وی، خو دا اعتراض او وهم خو په کلا هم راځي چې هلته هم داسي وهم کيدي شی ، جواب : نکته دپاره دفار وی نه لپاره دقار. با لالف رفعاً والياء المفتوح ماقبلها نصباً وجراً .

دِ جمع مذکر سالمی بیان

والمراد به ما سمی به اصطلاحاً: يو غرض تعريف د جمع مذکر سالمی او غرض پکښی دفع داعتراض، دويم حال دمتن آتی ذکر کوی : اول غرض : جمع مذکر سالمه دا هغه ده چې په واو نون سره وی برابره خبره ده که مفرد ئی مذکر وی او که مونث او دي سره دفع داعتراض هم اوشوه . **اعتراض**: زه تا نه تپوس کوم چې ستا دجمع نه مراد هغه جمع ده چې مفرد ئی مذکر وی نو که دا وی نو (سنون او ارضون) ترینه خارج شو ځکه ددي مفرد خو مونث دي، او که مراد دي ترینه عامه جمع وی نو بیا پکار ده چې مرفوعات منصوبات هم جمع مذکر سالمی شی، ځکه دوي لره هم مفرد مذکر شته دي. **جواب**: زما دا دواړه ندي مراد زما مراد هغه جمع ده چې په واو ونون سره ، یا په یاء ونون سره جمع وی نو سنون او ارضون پکښی داخل شو او مرفوعات ترینه خارج شول برابره خبرده ده چې مفرد مذکر وی او که مونث ،

ومالحق به: سره دريم غرض، آلو دا جمع ده خودملحقاتو دجمع څخه ده ځکه معنی خو ئی دجمع ده خو مفرد ورلره من لفظه نشته دي ، ځکه مفرد ئی ذو دی نو چې لفظ د مفرد ئی جدا شو نو جمع حقیقتاً او نه ګرځیده ، جمع ذو لا عن لفظه دا دلیل دي دملحقاتو کیدلو دپاره.

وعشرون واخواتها: يو غرض معنی د اخوات ، دويم دليل ذکر کول ،دريم دليل دعشرون اخوات هغه دثلاثون نه تر تسعون پوري ، **وليس عشرون جمع عشرة**: سره اول دليل ذکر کوی او دويم هم ذکر کوی عشرون دا جمع دعشرة نه ده او که چیرته شی نو صحیح به شی اطلاق دعشرون په ثلاثون باندی ځکه اقل د جمع دري وی او دري واري عشرة دا ندی مګر ثلاثین او نه ثلاثين جمع ده ځکه صحیح به شی اطلاق دثلاثين په تسعة باندي ځکه اقل افراد د جمع دري دي او دري واري عشرة دا نه دي مګر تسعة. **وايضاً**

هذه الالفاظ تدل على معان: سره دويم دليل ذكر كوى خكه چي دا الفاظ چي عشرون نه تر تسعون پوري دي دلالت كوى په معانيو معينه او په جمعو كښي تعين نه وى

فرق د جمع او د تثنيه په اعراب كښي

وانما جعل الاعراب المثنى مع ملحقاته بالحروف: اول غرض وجه د اعطاء داعراب بالحرف تثنيه او جموعوته، دويم دتقسيم ، دريم فرق دتثنيه او دجمع څلورم دفع داعتراض: اول غرض خو دادي چي تثنيه او جمع او ملحقاتو ددي اعراب بالحرف وركړي شو، ځكه چي دا فرع دواحد ده او اعراب بالحرف دا فرع داعراب بالحركة ده او په آخر ددي دواړو كښي تثنيه او جمع ده حرف صالح للاعراب وو چي هغه علامه دتثنيه او دجمع ده نو مناسبه وه چي دغه حرف صالح داعراب وګرځي ددي دواړو دپاره چي شي اعراب د دوي فرعه داعراب دمفرد لكه څرنګه چي دوي فرعه وو دمفرد، اعتراض په دي باندي خو دا لازم شو توارد دعلتينو مستقلينو په معلول واحده باندى يا علامه دتثنيه او داعراب دواړه شوه همدارنګه واو، جواب : دا خو علل حققيه نه دي بلكه علامات دي او يوشى د ډيرو شيانو دپاره هم علامه ګرځيدي شي .

ولما جعل اعرابها بالحروف وكان حروف الاعراب ثلاثة: سره دويم غرض ، هر كله چي اعراب دتثنيه او د جمع بالحرف ؤ ، او حروف داعراب دري وو او دتثنيه هم دري حالات وو اودجمع هم دري حالات وو كه چيرته مو حروف داعراب تثنيه ته وركړي وي نو جمع بلا اعراب پاتى كيده او كه عكس مو كړي وى نو تثنيه بلا اعرابه پاتى كيده او كه مشترك كړي مو وي نو ويره د التباس وه ، نو تقسيم مو او كړو په داسي طريقي سره چي الف مو علامه درفع كړه په تثنيه كښي ځكه چي الف ضمير دفاعل دي په تثنيه كښي لكه يضربان او ضربا او واو مو علامه درفع اوګرځوله په جمع كښي ځكه دا ضمير د فاعل دي په جمعو كښي او حالت جري ئى په دواړو كښي په ياء سره اوګرځولو .

وفرقوا بينهما الخ... سره ذكر د دريم غرض ، او فرق مو دتثنيه اوكړو د جمع سره په ماقبل دياء سره په تثنيه كښي به مفتوح وى ماقبل دياء او په جمعو كښي به مكسور وى او حالت نصبى مو تابع د جري اوګرځولو .

وجعلوا النصب على الجر لا على الرفع: دا دفع د اعتراض ده اعتراض: جرئى تابع د

نصب ولی نه کړو یا داچی نصب ئی تابع درفع ولی نه کړو، نو دهٔ جواب او کړو چی نصب نی تابع دجر کړو ځکه مناسبت د نصب دجر سره شته چی هغه وقوع د دی دواړو ده په کلام کښی فضله.

ولما فرغ من تقسيم الاعراب الى الحركة والحرف: اول غرض تذکیر دماسبق ، دویم تو طیه دمتن اتی ، دریم دفع داعتراض : اول غرض چی تذکیر دي دا دلما فرغ من تقسیم الاعراب الخ ... سره اوشو، دویم غرض ، شرع فی بیان مواضع اللفظی ، والتقدیري، سره دریم غرض اوشو چی توطیه دپاره د متن آتی ده چی وروستو ذکر داعراب دي او تقسیم دي لفظي او تقریری ته .

ولما کان التقديري: سره دریم غرض ذکر کوی چی دفع داعتراض ده. **اعتراض:** اعراب لفظي اصل دي په نسبت سره اعراب تقديري ته پکار ده چی اعراب لفظی ئی مقدم کړي وی په اعراب تقديري باندي سره ددینه چی ده روسته ذکر کړی دي ؟ **جواب:** خبره دي صحیح ده خو دتقديري اقسام کم دي دوه دي یو فیما تعذر او دویم استثقل دي او اقل مقدم وي په اکثر باندي، او دویم جواب دادي چي زمونږ مراد اختصار دي او اختصار په دې کښی وو چی اول تقديري ذکر کړو بیا لفظي .

التقديري اي تقديري الاعراب: سره اول غرض تعین د الف لام، دویم غرض دفع داعتراضینو، دریم په شارح هندی . اول غرض اوشو چی الف لام عهدی دي معهود په دي سره تقديري اعراب دي او یا الف لام عوض دي مضاف الیه نه چی تقدیر الاعراب الاعراب مضاف الیه حذف شو او الف شو او الف لام ئی په تقدیر کښی په عوض کښی راوړلی شو، دویم غرض دفع داعتراضو ده : **اول اعتراض:** زمونږ خبره شروع وه په اعراب کښی او ته تقديراتو ته لاړي نو ده **جواب:** او کړو چی زه مقدرات نه بیانوم بلکه تقدیر داعراب بیانوم، **دویم اعتراض:** ته وائی چی تقدیر دا متعذر دي نو په (واسئل القریة) کښی اهل مقدر دي متعذر خو نه دی؟ **جواب:** دلته تقدیر ندي متعذر بلکه اعراب متعذر دي، دریم غرض ، شارح هندی رحمه الله وائی چی دلته عبارت په حذف د موصوف سره دي اصل کښی عبارت داسی دي: الاعراب التقديري خو ماتن په رد وکړو چی تقدیر دا په حذف دمضاف سره دي چي تقدیر الاعراب ځکه چی په حذف دموصوف

سره عبارت شی نو حذف کثیره راځی یو به موصوف حذف شی اوبل بـه دا التقدیري نه یاء نسبتی حذفه شی او تقلیل د حذف اولی وی د کثرت دحذف نه .

فیما ای فی الاسم المعرب: اول غرض تعین د (ما) دویم دفع داعتراض ، اول غرض خو اوشو چی مراد د (ما) نه (ما) موصوله ده دویم غرض دفع داعتراض ده . **اعتراض:** ته وائی چی اعراب به تقدیري وی په هغه ځائی کښی چی اعراب متعذر وی نو مبنی کښی خو هم متعذر وی پکار ده چی ټولو مبنیاتو کښی اعراب تقدیري شی نو ده جواب اوکړو چی مراد د (ما) نه اسم معر ب دي نه اسم مبنی یعنی اعتراض داسی واردیږی چی تعریف دي مانع نه شو دخول دغیر نه داخل شو پکښی مبنیات ځکه هلته هم اعراب متعذر دی نو جواب هم دغه وو .

تعذرالاعراب فیه: اول غرض دفع داعتراض : دویم دفع داعتراض ، دریم بیان دیوي قاعدي : اول اعتراض : چی ما موصوله شوه نو تعذر کښی ضمیر ما ته راجع دي او که اعراب ته . که (ما) ته راجع وی نو فساد دمعنی راځی نو معنی داشوه چی اعراب به تقدیري په هغه اسم معرب کښی وي چی تعذر وی پکښی دمعرب ، او که ضمیر اعراب ته راجع کوی نو معنی خو صحیح شوه خو لیکن تعذر دا جمله صله واقع شوي او کله چی جمله صله واقع شی نو هغی کښی عائد ضروري دي نو صله بلا عائده اوګرځیده . جواب : اوشو چی اعراب ته راجع دي خو وقد یحذف العائد .

ای امتنع: سره دویم غرض ذکر کوی چی دفع داعتراض ده خو داعتراض اوله طریقه داده چی ملا صاحب ، اعراب تقدیري به هله وی چی اعراب متعذر وی نو مبنی ئی اوګرځوه معرب کولو تـه ئی بیا څه ضرورت دي چی بیا پکښی اعراب تقدیري ګرځوی نو ده جواب : ورکړو چی ظهور ئی نشو کولی مبنی ځکه نشو ګرځولی ځکه هغی کښی دسره اعراب نـه وی دلتـه شته خوظهور ئـی ممتنـع دي، دویمـه طریقـه داعتراض : دتعذر او داستثقل خو یوه معنی ده چی مانع وی دظهور نه او داستثقال معنی ده چی ظهور ئی کیدي شی خو ثقل په لسان راولی .

وذالک اذا لم یکن الحرف الذی: دا دریم غرض دي چي بیان د قاعدي دي، دا تقدیر داعراب به په هغه صورت کښی وی چی هغه حرف چی هغه محل داعراب وی چی هغه

قابل د حرکت اعرابیه نه وی لکه هغه اسم مقصوره چی آخر کښی ئی الف مقصوره وی او معرب با لحرکت وی اوس برابره خبره ده چی دغه الف ئی په لفظ کښی ذکر وی لکه العصاء او که حذف شوي په التقاء د ساکنینو سره لکه عصاء کښی تنوین او الف دواړه ساکن دي نو الف حذف شو او همدارنګه هغه اسم معرب بالحرکت چی مضاف وی یاء دمتکلم ته لکه غلامی.

فان الالف غیرقابل: سره یو غرض اتمام ددلیل او دویم غرض قاعده کلیه ذکر کوی دپاره دغلامی اول غرض دا چی الف قابل د حرکت نه دي په اسم مقصوره کښی په صورتینو کښی ، وکما فی الاسم المعرب سره دویم غرض هم اوشو چی متن آتی دي ، **نحوغلامی فانه:** سره یو غرض دلیل ، دویم غرض رد ذکر کوی، فانه سره اول غرض: د غلامی اعراب به تقدیري وی ځکه چی ماقبل دیاء نه مشغول دي په کسری سره مناسبت دیاء دوجی نه مخکښی د دخول دعامل نه اوس دعامل ددخول نه بعد پري بل حرکت هم نشی راتلی موافق وي دحرکت دیاء سره او که مخالف وي موافق خو ځکه نشی راتلی چی لازم به شی توارد د علتینو په معلول واحده باندي یو دا معلول دي او یو علت هغه کسره او بل به عامل شی او مخالف حرکت هم نشی راتلی ، ځکه لازم به شی وجود دعلت بغیر دمعلول نه غلت به وی چی یاء ده او معلول به کسره د ماقبل دیاء نه وی.

اعتراض: مخکښی سبق کښی تاوئیل چی الف هم علامه دتثنیه او هم علامه داعراب ده دلته به دي هم داسي کړي وی کسره به دي هم علامه داعرب او هم علامه دیاء کړي وه ؟ **جواب:** دا مونږه نه شو کولای ځکه په تثنیه کښی چی الف علامه دتثنیه وه خو علامه حقیقیه وه او مونږه چی علامه درفع ګرځولی وه نو هغه علامه اصطلاحیه وه، یوه علامه حقیقیه ده او بله اصطلاحیه لکه جاءنی زید دلته عامل حقیقي متکلم دي او عامل اصطلاحی هغه جاءنی دي نو دلته یوه رفعه ده او اثر دعامل حقیقی او اصطلاحی دواړو اوګرځیده نو عامل اصطلاحی او حقیقی جمع په یو معمول کښی راتلی شی، او غلامی کښی یاء هم عامل اصطلاحی دي او که عامل پري مونږ داخل کړو نو هغه هم عامل اصطلاحی دي نو لازم به شی توارد د علتینو متساویینو په معلول واحده باندي.

فما ذهب اليه بعض: سره دويم غرض ذكر كوي چې رد دي په بعضو، بعضې وائي چې په غلامي كښې په حالت جري كښې اعراب لفظي دي او توارد وائي نه لازميږي ځكه دا جر معلول دياء دپاره مخكښې، او اوس دا معلول اوګرځيده، دپاره دعامل يا دعلت، خو دا چې څوك وائي نو قياس كوي په تثنيه باندې، ددي جواب اوشو مخكښې چې عامل په دوه قسمه دي عامل اصطلاحي او حقيقي، **مطلقاً**: يو غرض حال د متن، دويم معنى دمطلقاً، دريم بيا رد په بعضو: اول: غرض مطلقاً دا ځكه منصوب دي چې دا حال دي دغلامي نه، او غلامي معنىً مفعول دي دتعذر دپاره تعذر فعل الاعراب فاعل كعصاء وغلامي كاف په معنى دمثل سره، دريم غرض په غير مختص بعضها سره په بعضو رد اوشو چې ټولو احوالو كښې تقديري وي،

او استثقل عطف على تعذر: اول غرض تعين دمعطوف عليه، دويم بيان دقاعدي دعطف غرض استثقل دا عطف دي په تعذر باندې، دويم غرض بيان دقاعدي د عطف: تقدير داسي دي چې تقدير الاعراب فيما تعذر او في الاسم الذي استثقل ظهور الاعراب استثقل صله، موصول سره دصلې نه مجرور، جار سره دمجرور نه دا په اعتبار دمتعلق سره چې كائنٌ دي خبر دمبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه، التقدير كائن فيما استثقل، او دي سره دفع داعتراض هم اوشوه، **اعتراض**: زه به درته اوښايم يو لفظ به وي په لسان باندې به ثقيل وي او اعراب به ئې تقديري نه وي لكه: قبر حرب بمكان قفر، وليس بقرب قبر حرب قبر، نو ده **جواب** اوكړو چې ظهور داعرب به پرې ثقيل وي او تا چې كوم مثال ذكر كړي دي ددي خو الفاظ ثقيل دي په لسان باندې.

وذالك اذا كان محل الاعراب الخ... دلته دريم غرض ذكر كوي چې بيان دقاعدي كليه دي، مصنف رحمه الله صرف كقاض مثال وركړي نو ده قاعده ذكر كړه چې اعراب به تقديري وي چې كوم ځائي كښې محل داعراب قابل دحركت اعرابيه وي ليكن ظهور ئې په ژبه باندې ثقيل وي، لكه دهغې دجملې نه هر هغه اسم دي چې په آخر كښې ياء ماقبل مكسور وي، برابره خبره ده چې داياد وجې دالتقاء ساكنينو نه محذوفه وي لكه قاض چې په اصل كښې قاضيٌ وو ضمه په ياء ثقيله وه نو هغه ئې اوغورځوله نو اجتماع دساكنينو راغله په مابين دياء او تنوين كښې نو ياء ئې حذفه كړه، او يا به دا ياء نه وي

حذفه لكه القاضي په تعذر باندې اعتراض خارجي اعتراض: تعذر ئې فعل معلوم راوړو او استثقل ئې فعل مجهول لما ذا؟ جواب: تعذر فعل لازمي دي نو ددې وجې نه ئې معلوم راوړو او استثقل متعدي دي، نو ددې وجې نه ئې هغه مجهول راوړو.

رفعاً وجراً اى فى حالتى الرفع والجر: يو غرض وجه دنصب ،دويم فائده دتخصيص ، دريم دليل فى حالتى الرفع والجر سره وجه دنصب معلومه شوه چې رفعاً جراً دا منصوب دي بنابر ظرف زمان **لا فى حالة النصب:** سره ددويم غرض اوشو چې فائده دتخصيص ده چې په حالت د نصب كښې به داسې نه وي **لاستثقال الضمة والكسرة على الياء:** سره دريم غرض اوشو چې ځكه به په حالت رفعي او جري كښې اعراب تقديري وي چې ضمه او كسره په ياء ثقيله ده دون الفتحة:

ونحو مسلمى عطف على قوله كقاض: اول غرض په دې كښې دفع داعتراض، دويم رد په شارح هندى رحمه الله ، او دا دواړه اغراض په دې يو لفظ كښې چې **عطف على** قوله كقاض سره شوي دي، دويم غرض **اعتراض:** ونحو مسلمى عطف دي په قاضى باندې نودكاف لاندې دا هم شو نو كاف هم د تشبيه دپاره دي او نحو هم دتشبيه دپاره دي نو يو مستدرك دي، جواب اوشو چې داعطف كړه په كقاض نه په قاض نو د كاف لاندې رانغلو، او شارح هندى، ددې اعتراض نه **جواب** : داسې كړي دي چې **عطف دي** قاض باندې خو نحو ئې ددې دپاره راوړي چې دا قاعده خاص نه ده په مسلمى پورې بلكه په مثل دمسلمى كښې هم راتلى شى نو دۀ پرې رد اوكړو، ځكه چې دا خبره خو مخكښې هم معلومه شوي ده چې وذالك اذا كان محل الاعراب الخ.. يعنى دا قاعده عامه ده، بخلاف تقدير الاعراب فائده ذكر كوى، يا جواب داعتراض نه ذكر كوى، اعتراض : دادې چې دا عطف دي په قاض باندې نو دنحو نه به خلاص شى، **جواب دي** وائى چې زه ترينه ځان نه خلاصوم ځكه دثقل دوجې نه چې كوم تقدير راغلى دي **هغه** بالحرف او بالحركت دواړه دي نو قاض كښې اعراب بالحركت دي او په مسلمى كښې اعراب بالحركت دي بخلاف دتعذر ځكه هلته صرف اعراب بالحركت دي، **اعتراض** خارجي: په تعذر كښې به دې هم داسې كړې وى، داسې به دې وئيلى وې چې **كعصاء** ونحو غلامى، جواب : دا اعتراض دفع شو ځكه هلته اعراب بالحركت دي په دواړو

کښې ،ونحو مسلمي باندي دبهر نه

اعتراض: عصا د تعذر مثال دي چې محل قابل د حرکت نه دي او قاض مثال د استثقل دي چې محل قابل د اعراب دي، نو مولانا صاحب زه تا نه تپوس کووم چې ثقل او تعذر قبل الاعلال وائې او که بعد الاعلال که قبل الاعلال ئې وائې نو عصاً قبل الاعلال عصوٌ نو دلته خو ثقل دي تعذر نشته او که بعد الاعلال ئې وائې نو بعد الاعلال خو په قاض کښې محل ختم شوي دي نو دلته هم تعذر اووايه،

جواب: زه تعذر او استثقال بعد الاعلال وايم عصاً کښې محل د اعراب ختم شو او قاض کښې ثقل ختم دي خو ديوي قاعدي د وجې نه او يو شي چې دوجې ديوي قاعدي نه ختم شي نو هغه کالمذکور وي.

رفعاً يعنى تقدير الاعراب: اول معنى دمتن، دويم دليل ، دريم تعميم دما فات عن الماتن ذکر کوي: اول غرض تقدير الاعراب سره وشو چې اعراب به په حالت رفعي کښې تقديري وي ، دويم غرض نحو مسلمي سره دليل ذکر کوي اوس دلته دوه دليله ذکر کوي اول دا چې حالت رفعي کښې اعراب تقديري ولې دي او دويم دا چې حالت نصبي او جري کښې ولې نه دي ، اول دليل دادي چې مسلمي په اصل کښې مسلمون ي وو، نون داضافت دوجې نه اوغورځيدو ، اوس مسلموي شو واو يا جمع شو واو ساکن وو په ياء موبدل کړو ياء په يا کښې مدغم شوه، مسلميّ شو مو مکسور کړو د وجې د مناسبت دياء نه نو دلته قلب اوشو نو حرف بلکل ختم شو، او دضمې دبدليدو په کسرى سره دويمه وجه داده چې ياء ساکنه ده ماقبل تري مضموم دي دپاره ددي چې واو معاد نه شي، او دويم دليل دادي چې حالت نصبي او جري کښې صرف ياء په ياء کښې مدغمه شوي ده، نو ځکه اعراب لفظي دي ځکه په ادغام سره شى دخپل حقيقت نه ، نه اوځي.

وقد يكون الاعراب تقديريا بالحروف فى الاصول الثلث:

سره دريم غرض ذکر کوي، دي وائي چې کله کله په دريو حالاتو کښې هم اعراب بالحرف تقديري راتلې شي لکه جاءني ابو القوم الى آخره .

واللفظى فيما عداه: اى الاعراب المتلفظ به: اول معنى د اعراب لفظي، داعراب لفظي المتلفظ به ده، **اعتراض:** په اعراب تقديري هم مونږ تلفظ اوکړو؟ **جواب:** مراد دتلفظ نه

مصطلح تلفظ دي يا مصطلح لفظي دي چي اعراب باندی تلفظ اوکړي.

فیما عداه: (۱) تعین دضمیر(ه) چی چاته راجع دي او غرض پکښی دفع داعتراض وه نو ده جواب اوکړو چی ضمیر د ما ذکرنا ته راجع دي دویم غرض تعین د ماذکرنا ، هغه هم اوشو چي ماذکرنا هغه تعذر اواستثقال دي. **ولما ذکر فی تفصیل المعرب:** یو غرض تذکیر دماسبق، دویم توطیه او تمهید دماسیاتی دپاره، دریم دفع داعتراض ده، اول غرض اوشو چی مخکښی منصرف او غیر منصرف ذکروو، او دویم غرض هم اوشو چی وروسته غیرمنصرف بحث شروع کیږي ،

وکان غیر المنصرف: سره غرض دفع داعتراض ده، **اعتراض:** پکار داوه چی منصرف دي مخکښی کړي وي په غیر منصرف باندي، د دوو وجوهونه، اول دا چی اجمال کښی منصرف مقدم وواودویم دا چی منصرف اصل دي په نسبت سره غیر منصرف ته ځکه په منصرف باندي په ټولو حالاتو کښی اعراب جاري کیږي ؟**جواب:** غیرمنصرف دا اقل دي ځکه دا مشروط بشرائط دي او کوم شی چی مشروط بشرایط وي نو هغه اقل وجوداً وي ، او دویمه وجه دا ده چی معرفت دمنصرف دا پیژندل کیږي په غیر منصرف باندي،لکه په اعراب لفظ او تقدیري کښی ئی چی څرنګه کړي وو ، علی قیاس الاعراب اللفظی والتقدیري باندي **اعتراض:** په اعراب تقدیري کښی دا وئیلی وو چی التقدیر فیما تعذر الی آخره واللفظی فیما عداه، نو دلته به دهم تعریف دغیر منصرف کړي وي او بیا به دي وئیلی وي چی والمنصرف ما عداه ؟ **جواب:** منصرف دا فرد دي دافرادو دغیر منصرف ته او اعراب لفظی دافرادو نه وو ، اعراب تقدیري نه نو ځکه موهلته داسي اووئیل او دلته نه .

غیر المنصرف

پدي سره اعتراض واردیږي : **اعتراض:** غیر المنصرف مبتدا ده ما موصوفه فیه علتان دا ورلره صفت موصوف سره دصفت نه دا خبر دمبتدادي،او مبتدامعرفه وي او دلته نکره دي. ځکه اضافت دغیر سره هم دا معرفه نه ګرځی ، ځکه غیر متوغل فی الابهام دي نو منصرف ده ته په اضافت سره معرفه نه ګرځی ؟ **جواب:** دا خبره دي صحیح ده چي (دغیر) دتوهم فی الابهام دوجه نه معرفه نه ګرځی ، خو دا هله چی مضاف الیه

دغير دپاره اضداد كثيره وی او دلته ضد واحد دي منصرف ضد غير منصرف دي لفظ
نو معرفه گرځی ، لكه عرب وائی چی عليك باالحركة غير السكون دي نو دلته الحركة
دا موصوف دي او غير السكون دا ورلره صفت دي، او دلته هم غير مضاف دي سكون
ته نو دغير دمضاف اليه چی سكون دي، دي دپاره ضد واحد دي چی حركة دي نو
صفت هم معرفه اوگرځيدو ، اومثل هم پشان دغير دي لكه جاءنی مثلك دلته دمثل نه
مثل مشهور مراد دي.

ما ای اسم معرب: اول غرض دما او روسته عبارت سره غرض دفع داعتراضات ثلثه
وو، اول غرض اوشو چی ما موصوفه ده، **اول اعتراض**: ته وائی چی غير منصرف دا هغه
دي چي فيه علتان زه به درته اوښايم چی دوه علته به پكښی وی او غير منصرف به نه
وي. لكه ضربت يو پكښی تانيث بل وزن فعل يا وصفيت دي. ؟ **جواب**: ای اسم سره
اوشو چي مراد د(ما) نه اسم دي او ضربت خو فعل دي، دويم **اعتراض**: غيرالمنصرف
مبتدا ما موصوله او فيه علتان ورلره صله موصول صله دا خبر دي نو مبتدا او خبر
دواړه معرفه شو او چی مبتدا او خبرمعرفه وی نو ضمير پكار دي؟ **جواب**: دلته ما
موصوله نه ده، بلكه موصوفه ده او ما موصوفه نكره وی نو خبر نكره شو ، دريم **اعتراض**:
تاوئيل چی غير المنصرف ما فيه علتان زه به درته اوښايم چی دوه علته به پكښی وی
او غير منصرف به نه وي لكه حضار او تمار؟ **جواب**: دوه سببه به وي خو معرب كښی او
حضار او تمار خومبنی دي.

فيه علتان تؤثران: سره دفع داعتراض ده. **اعتراض**: زه به درته اوښايم علتين به
پكښی وي او حكم به ئی دغير منصرف نه وی لكه قائمةٌ تنوين پري راغلی او سره
ددينه چی وصفيت او تانيث پكښی دي.؟ **جواب**: دوه سببه به وي خو مؤثر به وي او دلته
مؤثر نه دی.

باجتماعهما واستجماع شرائطهما فيه: سره دفع د دويم اعتراض : **اعتراض**: دوه سببه
به پكښي وی او موثر به هم وي اوسره ددينه حكم به ئی دغير منصرف نه وي لكه نوح
كښی علميت او عجمه شته او تنوين پري راغلی دي؟ **جواب**: سببين موثرين به وي خو
سره د شرائطو نه او په نوح كښی تحرك الاوسط او زيادة علی الثلاثة دا دواړه شرطه نه

دي موجود.

اثرأسيجئ ذكره: سره غرض دفع د دريم اعتراض ده ، **اعتراض:** قائمة كښې خو سببينو اثر كړي دي، مخكښې ئې په ډيرو اطلاق كيدلو او چې علم ئې اوګرځوی نو اوس ئې په ډيرو اطلاق نه كيږي؟ **جواب:** مراد داثر نه عام اثر نه دي، بلكه خاص اثر دي چې ان لاكسرة ولاتنوين.

دله نه اعتراض: مولانا ص احب كه هر يو سبب علت وی دپاره د ان لاكسرة ولا تنوين ، نو لازم شو ځوارد دعلتينو مستقلينو په معلول واحده باندي چې هغه ان لا كسرة الخ ...دي او كه هر يو علت نه وي نو بيا ورته علتان ولی وائی؟ **جواب:** مراد دعلت نه علت حقيقی نه دي بلكه مراد امرمناسب دي لپاره دحصول دبل امر مناسب چې ان لا كسرة الخ... او امور مناسبه ؤ كښې كثرت راتلی شی، ياد چې مراد كښې علت حقيقی نه دي بلكه مراد دهغه علت اصطلاحی دي او علل اصطلاحی كښې هر واحد نه دي بلكه سببين دواړه علت دي دپاره دان لاكسرة الخ..

من علل تسع او علة واحدة منها اى من تلك: شارح دتسع نه مخكښې علل راوښكلو، اول غرض داچې تسع صفت دي موصوف غواړي چې علل دي،نو عبارت په حذف دموصوف سره شو، دويم رد په شارح هندي هغه وائی چې دلته عبارت په حذف د مضاف اليه سره دي، چې من تسع علة، اوس دا رد ولی كوي ځكه مقصد د دواړو يو دي، دا ځكه كوی چې وروستو راځی او واحدة منها مونږ تقدير كوو، چې علة واحدة شارح هندي وائی او واحدة علة نو واحد مضاف او علت مضاف اليه او مضاف اليه حقيقت كښې تميز دي او تميز واحد لره نه راځی. **منها اى من تلك التسع:** ها ضمير تسع ته راجع دي، **تقوم:** تقوم كښې ضمير چاته راجع دي علت واحده ته راجع دي،اول غرض تعين دضمير ، دويم دفع داعتراض ، دريم ضمير راجع دي مقام هاتين العلتين ته .**اعتراض:** يو علت څرنګه قائمقام د دوه ګرځوی، **جواب:** مراد دقيام فی الذات نه دي بلكه مراد قيام فی الاثر دي او اثر ان لاكسرة دي ، وهی

اى العلل التسع: اول غرض بيان دمرجع، دويم دفع د اعتراض، اول غرض ضمير راجع دي علل تسعه ، ته مجموع فی هذين سره. **اعتراض:** هی واحد دي او عدل وصف

وتانيث دا خبر دي لازم شو حمل دمتعدد په مفرد باندی؟ **جواب:** دلته عطف مقدم دي په ربط باندي.

وذلك المجموع شعر، والعدول فی عطف: **سره اعتراض** بعض اسباب عطف دي په واو سره او بعض په ثم سره څه نکته ده په دي کښی؟ **جواب:** صرف رعایت دوزن شوي دي، فقوله زائده: اول وجه دنصب د زائده، دویم دفع داعتراض، دریم، تعمیم د ترکیب، څلورم اختلاف په علل کښی ذکر کوي،

اول غرض: زائده منصوب دي ځکه حال دي دنون نه حال دفاعل یادمفعول نه وي، اونون څه شی دي،؟ **جواب:** دا نون معنی فاعل دي، اصل عبارت داسي دي چی وتمنع نون الصرف او زائده حال شو، دنون نه چی فاعل دي او دنون فعل د اول بیت نه معلومیږي، چی موانع الصرف چی دا اسباب موانع دي.

اذا المعنی: سره دویم غرض چی دفع داعتراض ده، **اعتراض:** چی حال خو یاد فاعل او یادمفعول نه وي نو نون څه شی دي؟ **جواب:** نون معنی دفاعل دي. **اعتراض من الخارج:** داټول عطف دمفرداتو دي، ثم جمع ثم ترکیب او دلته دي جمله راویستله چی وتمنع نون الصرف نو دا خو عطف د جملی راغلو په مفردباندي او وروستو هم بیا مفردات دي نو شعر خراب شو، **جواب:** دا فعل لفظی نه دي بلکه معنوی دي، دصحت د نصب دپاره مو راویستلی دي،

وقوله الف: سره دریم غرض چی تعمیم دترکیب دي، الف فاعل دي دظرف من قبلها په اعتبار دمتعلق سره چی ثبت من قبلها الف او مبتدا، الف مبتدا موخره او من قبلها خبر مقدم په اعتبار دمتعلق سره چی الف ثابت. **ولا یخفی:** سره څلورم غرض ذکر کوی، چي رد دي په دي ترکیب باندي، والنون زائدةً من قبلها الف، په حال دنون کښی چی نون به زائد وی او مخکښی به وي اوس معلومات نشته چی الف به هم زائد وي او که نه، سره ددینه چی دلته الف نون زائد تان وائی.

ولوجعل الالف: سره پنځم غرض چی خپل ترکیب دي ذکر کوی، دي وائی دا الف فاعل دي، دپاره دزائدةً او داظرف من قبلها متعلق دي، زائدةً پوري شعر داسي شو چی والنون زائدةً الف چی الف به زائد، وی الف فاعل دزائدةً شو او من قبلها جار مجرور

متعلق شو زائدةً پوري،

واريدبزيادةً: سره غرض شپږمه خبره ذکر کوي چې دفع داعتراض ده. **اعتراض**: هلکه ستا دتوجيه نه زيادت دالف معلوم شو، ځکه نون چې زائد به وي الف او من قبلها به متعلق شي زائدةً پوري نو دنون چې زائده به وي او که نه؟ **جواب**: اريد به سره چې زما ترکيب بناء دي، په يوي قاعدي باندي چې يو اسم مشتقي راشي خو صفت دمذکور نه وي او وروستو تري ظرف راشي، وريسې فاعل وي، ددغه مشتقي قاعده داده چې دغه فاعل دمشتقي او ددي مشتقي نه مخکښې بل اسم دا دواړه شريك وي، په دغه مشتقي کښې لکه جاءزيد راکباً من قبله اخوه راکباً مشتقي دي، خو صفت دمذکور نه دي، راکباً صفت داخ دي او اخ فاعل دي دراکباً نو دا فاعل او مخکښې دمشتقي نه هغه اسم دا به دواړه شريك وي مشتقي کښې،دلته قاعده داده چې دا فاعل اخره او راکباً نه مخکښې اسم دا دواړه به شريك وي په رکوب کښې فرق چې دادي شي چې واو ئې مخکښې وو، او زيد وريسې وو، اوس نونً زايدةً نو زائدة مشتقي او من قبلها جار مجرور ظرف، الف فاعل دي نو دا فاعل او مخکښې اسم چې نون دي دا دواړه به شريك وي مشتقي کښې چې زائدة دي، خو فرق دومره دي چې الف به مخکښې وي زيادت کښې او نون به وريسې وي، دلته يو بل ترکيب شارح هندي رحمه الله کړي دي، هغه وائې دا زائدةً دي او صفت دنونً دي، نو اعتراض وارد شو چې والنون معرفه ده او زائدةٍ دا صفت نکره دي، نو څنګه نکره صفت دمعرفه واقع شو

جواب: شارح هندي رحمه الله وائې چې النون کښې الف لام زائد دي، نو دواړه نکره شو، نو نکره صفت دنکري شو خو دا ضعيف دي اول وجه داده چې الف لام وضع دي دپاره دتعريف او ته ئې زائد کوې، دويم دا چې زائد شي نو اثر به ئې بيا هم لفظ کښې پاتې وي، دريم کوم نقصان چې اول ترکيب کښې وو، هغه دلته هم راغلو، ځکه موصوف صفت خو کلام نه وي، او زيادت دالف نه معلوميږي، نو په ضمن کښې پرې ده رد اوکړو.

وقوله هذا القول تقريب: سره اووم غرض ذکر کوي، چې معنى ده، اول تقريب، نزدي والي راولې يادولو ته ځکه نظم اسهل وي په حفظ کښې په نسبت سره نثر ته.

اوالقول: سره اعتراض: زه تپوس کووم که دا یو علت وي نو پکار ده چې یو علت موجود شي نو بیا دي ان لاکسرة ولاتنوین وی او که دوه دوه علته وی نو څلور علته شو، **جواب:** کوم چې تقریب په مجاز سره دي، یعنی هریوته علت وئیل مجازاً دي.

اوالقول: سره دریمه معنی چې تقریب په معنی دصواب سره هلکه صحیح داده نو غیر صحیح به هم وي څه، څوك وائی علته دوه دي، اول ترکیب، دویم حکایت، دا قول ضعیف دي، چې ته وائی چې دا دوه په ټولو کښې موجودیږي نو بیا خو ترکیب ټولو کښې موجودیږي، نو صرف ترکیب واخله حکایت پریږده، دویم بعضی وائی چې یوولس دي نهه دادي، اول اویو هغه الف چې مشابه وی دالفین دتانیث سره لکه ارطی او جبلی دویم وصف اصلی معتبر کول پس د زوال نه لکه احمر کښې د سیبویه په نزد، دریم نهه دي او دا صواب دي څکه خیر الامور اوسطها.

ثم انه ذکر: اول توطیه او تمهید متن ته، دویم اشاره نقطی ته، راوړلو دمثالونو لره دوه طریقې دي، اول طریقه لف نشر مرتب، دویم لف نشر غیر مرتب، دلته لف نشر مرتب دي، په دي کښې دوه مذهبه دي، اول لف نشر مرتب اولی دي، څکه دي کښې به مطابقت وی د اجمال او دتفصیل او دمثال او دممثل دویم لف نشر غیرمرتب اولی دي چې مثال دممثل سره نزدي شی **مثل عمر:** دا خو مثال دعدل نه دي بلکه دغیر منصرف دي، **جواب:** دامثال دغیر منصرف نه دي خو چې غیر منصرف شوي دي له وجې داعتبار دعدل نه، **وفی ایراد زینب:** سره **اعتراض:** مثال وي دپاره دتوضیح دممثل او تا دلته تانیث لپاره دوه مثالونه راوړی؟

جواب: چونکه دتانیث دوه قسمونه دي، لفظی او معنوی، طلحة دلفظ مثال دي اوزینب د معنوی دفع د توهم، قاعده: تانیث لفظ اسناد دفعل کښې معتبر نه دي طلحة دیو کس نوم کړه او مونث لفظ دي او ته وائی جاءطلحة سره ددینه دطلحة فعل مذکر راوړي نو اسناد دفعل کښې تانیث دفعل لره اعتبار نشته دي نو چا به توهم کولو چې غیرمنصرف کښې به هم تانیث لفظی معتبر نه وی نو ده وئیل چې معتبر دي، څکه ئی دامثال راوړو.

د غیر منصرف حکم

وحکمه ان لا کسرة ولا تنوین: اعتراض دبهر نه. بنا، دمتونو په اختصار ده، داخبره دغیر منصرف په اعراب کښې معلومه شویده چې بالضمة والفتحة نو معلومه وه چې کسرة پرې نه راځي. نوبیا ولې ان لاکسرة وائي دلته به دي وئیلي چې ولا یجوز علیه تنوین؟ **جواب**: دا حکم دغیر منصرف وو او حکم باندې تصریح پکار ده، داضمناً وئیل نه دي پکار، دویم بعضې خلقو وئیلي وو چې په غیر منصرف کسرة نه راځي او تنوین تابع دکسرې دي نوهغه به هم نه راځي نو دي وائي چې تابع تابع نشته اصالةً دواړه نه راځي. دریم دا چې مصنف تصریح اوکړه ځکه بعضو خلقو دا تعریف دغیر منصرف کړځولي وو نو مصنف وئیل چې تعریف دغیر مصنرف مافیه علتان دي او دائي حکم دي.

ای حکم غیر المنصرف الخ... اول تعین دضمیر غرض پکښې دفع داعتراض، دویم دمعنی دحکم، دریم دفع داعتراض، اول دحکم ضمیر غیر منصرف ته راجع دی، اعتراض دا ان لا کسرة ولا تنوین معلول دي او سببین ورلره علت دي دمعلوم اضافت کیږي علت ته نو داسې وئیل پکار وو چې وحکمها او تا اضافت غیر منصرف ته اوکړو؟ **جواب**: چونکه دا ان لاکسرة الخ. دا چې په چا نه راځي نو دا په غیر منصرف نه راځي نو ځکه ئې ده ته اضافت اوکړو نو اضافت دلته دادنی ملابست دوجې نه دي.

والاثر المرتب علیه: سره دویم غرض ذکر کوي. دحکم خوډیري معنی دي ستا کومه معنی مراد ده، چې اثر مرتبه دي په غیر منصرف. **من حیث اشتماله**: سره غرض دفع داعتراض، دغیر منصرف خو نور احکام هم دي چې رفع نصب وغیره نو ته څنګه وائي چې ان لاکسرة ولا تنوین. **جواب**: دا حکم ئې ځکه دي چې دا مشتمل دي په علتین باندې او رفع ئې بناء برفاعلیت او نصب ئې بناء برمفعولیت. **فیه**: سره دفع داعتراض. کسره به نه وي په دنیا کښې؟، **جواب**: غیر منصرف کښې به نه وي.

وذالک لان لکل: وجه ده نه راتلو د کسرې اودتنوین مخکښې یوه قاعده ده چې اصل په اسماء کښې اعراب دي، او اصل په افعالو کښې بناء او عمل دي، اوس خواص داسم جراو تنوین وغیره دي، نو اوس اسم چې عمل کوي نو دا به دوجې دمشابهت

دفعل نه کوی. نو دامشابهت په دري قسمه دي، که مشابهت تمام دمعنی کېږي وو، یعنی اسم فعل سره مشابه وو تمام دمعنی کښي لکه اسماء افعال شو. نو دلته یارانه پخه شوه نو فعل خپل دواړه خواص اسم ته ورکړل. چي بناء ده او عمل دي. او که دا مشابهت ترتیب دحروف اصلي وو کښي وو لکه اسم فاعل او اسم مفعول نو فعل ورلره یوه خاصه ورکوی چي عمل دي. او که مشابهت داسم دفعل سره په جزء د معنی کښي وو یعنی مشابهت بعیده یعنی اسم کښي دوه سببه راغلل نو فعل کښي هم دوه سببه دي. اول احتیاج الی الفاعل، دویم اشتقاق من المصدر، نو دامشابهت بعیده دي، نو عام اسم ددي خاص اسم چي غیرمنصرف دي، ترینه خفه شو، چي زما دشمن سره دي دوستانه او کړه، نو کسره او تنوین ئی ترینه منع کړو مونږه ووئیل چي فعل کښي دوه سببه دي. اول احتیاج الی الفاعل او دویم اشتقاق من المصدر. او کوفیان وائی مصدر مشتق دي دفعل نه، نوبیا اشتقاقه من المصدر رانغلو نویوعلت پاتی شو؟ **جواب** بل علت هم شته چي اصل په فعل کښي اعلال وي او اعلال بیماري ته وائی. نوپکښي بل علت راغلو.

دِ اسبابو د منع حرف بیان

ویجوزای لا یمتنع: هر کله چي فارغ شو مصنف داسبابو دغیر منصرف نه اجمالاً نوشروع ئی اوکړه په اسبابو دمنصرف کښي دغیر منصرف نهه اسباب وو. او دمنصرف پنځه اسباب دي، اول ضرورت شعري. دویم تناسب، دریم العلم اذا نکر صرف. (۴-۵) وجمیع الباب بااللام او باالاضافة ینجر بالکسر، ای لا یمتنع سره معنی دجوازڅه ده ای لا یمتنع منصرف کیدل به ممتنع نه وی بیا که ضروري وی او که غیر ضروري نو اعتراض وارد شو، چي جواز مرادف دي امکان سره او امکان په دوه قسمه وي. اول خاص. دویم عام، دلته به امکان خاص مراد وی چي هغه سلب دضرورت من الجانبین دي یعنی نه به منصرف والی ضروري وی او نه به غیر منصرف والی، سره ددینه چي ضرورت شعري کښي منصرف والی ضروري وی؟

جواب جواز مرادف دامکان دي خو امکان په دوه قسمه دي. خاص، عام او مراد دلته عام دي، چي هغه سلب دضرورت دواړو سره جمع کیدي شی، لکه الله ﷻ

موجود با الامکان العام دلته حکم په موجود اوشو. چی مقابل ئی عدم دي او امکان عام کښې خو سلب دضرورت دجانب مقابل دحکم نه راغلی وی. یعنی عدم دالله ﷻ ضروری نه دي دلته دا امکان عام جمع شو د واجب سره.

بل مثال چی امکان عام جمع شوي وی. د ممتنع سره. لکه اجتماع دنقیضینو دا غیر موجوده ده. باالامکان العام. ځکه حکم په غیر موجوداوشومقابل ئی موجود دي او امکان عام کښې سلب دضرورت دجانب مقابل وی. نو نقیضین داجتماع وجود ضروري نه دي اوس دلته راشه ویجوز صرفه. دلته ئی حکم په صرف باندي اوکړو. نو مقابل عدم صرف یعنی غیر منصرف والی ددي ضروري نه دي نو دده دوه فرده شو. یو دا چی منصرف والی ئی ضروري نه وی نو دا تناسب شو. نو دا لا یمتنع حاصل دمعنی شو. ده ځان نه دي ستړي کړي. بل مثال دامکان عام لکه لمونځ جائز دي. دا امکان عام دي یعنی جوازضروري دي او مقابل عدم جواز دي چی هغه ضروري نه دي

صرفه ای جعله : اول دفع داعتراض . دویم تصریح باالاعتراض، دریم جواب آخر.

اعتراض غیر منصرف چاته وائی ما فیه علتان ته وائی نو ته وائی چی دضرورت دوجی نه به منصرف شی نو علتین خو پکښی موجود دي ؟ **جواب** مراد دادي چی په حکم دمنصرف کښی به ئی اوګرځوی

لا جعله منصرفا حقیقة سره دویم غرض ذکر کوی چی تصریح باالاعتراض ده یعنی حقیقی منصرف ئی نه ګرځوی. خو علتیں به ترینه بالکل لري کوی **وقیل المراد** سره دریم غرض ذکر کوی چی جواب آخر دي، دلته مراد هغه معنی لغوی ده چی تغیر په حکم دغیر منصرف کښی نه معنی اصطلاحی چی منصرف کول دي. نو تقدیر به داسي شی چی ویجوز تغیر حکم غیر المنصرف دا مذهب ئی په قیل سره ذکرکړو د دوو وجوهونه. اول دا چی معتبر په علومو کښی هغه معانی اصطلاحیه وی نه معانی لغویه، او دویم داچی انتشار په ضمایرو کښی راځی . مخکښی خایونو کښی ضمیرونه غیر منصرف ته راجع وو، اودلته به حکم ته راجع شی،

للضرورة ای لضرورة وزن الشعر، اول معنی دضرورت. دویم تتمیم دمافات، دریم دلیل ، څلورم مثال ، پنځم تطبیق دمثال دممثل سره. شپږم اعتراض، اووم جواب

. اتم تتمیم دمافات. اول غرض معنی دضرورت داده چی دپاره دوزن شعري، دویم اولرعاية القافية. سره دویم غرض اوشو، قافیه، حرف آخر ته وائی چی موافقت دیو بیت دبل سره په حرف آخر کښی راشی، او په اصطلاح دقرآن کښی دیته رعایت د فاصلی وائی، څکه قافیه خو اشعارو کښی راځی، دریم واذا وقع سره دلیل ذکر کوی، دانکسار دري معنی دي، اول کډوالی ته وائی، دویم دا چی شعر دیو بحر نه بل بحر ته وځی، دریم چی کموالی دحروفو دیو بیت دبل بیت دحروفو څخه راشی دلته دا معنی مراد ده، انزحاف تغیر فی السبب ته وائی، سبب په اصطلاح دعروضو کښی په دوه قسمه دي، اول خفیفه چی اول متحرك ثانی ساکن وی، لکه (هل)، دویم ثقیله چی دواړه متحرك وی، لکه (وتد) داهم په دوه قسمه دي، اول وتد مجموعی چی دوه متحرك ثالث ساکن لکه (علی) دویم وتد مفروق، دوه متحرکه منځ کښی ساکن لکه کیف.

تقسیم د سبب په اصطلاح د اهل عروضو کښی

اما الاول: سره مثال دانکسار: په شعر کښي مصائب راغلی دا صیغه دمنتهی الجموع ده او دایوسبب قائمقام دسببینو دي، نو غیرمنصرف دي او دلته پري تنوین راغلی که تنوین رانه ولو نو بیا به انکسار راشی، د وروستو نیم بیتی ۲۱ حروف دي او ددي نیم بیتی به بغیر دتنوین نه شل شی. **اما الثانی**: مثال دانزحاف: په دي شعر کښی نعمان غیر منصرف دي او تنوین پري راغلی، څکه که چیرته تنوین اونه وایو نو سبب کښی به تغیر راشی، (نع) یو سبب دي او (ما) بل سبب دي او (ن) بل سبب دي که تنوین اونه وایو نو سبب به په یو صرف سره پاتی شی، ۴ او ۵ غرض اوشو، دي مثالونو سره **فان قلت**: سره شپږم غرض، **اعتراض**: احتراز د زحاف نه خو ضروري نه دي نو څنګه دي دضرورت لاندي راوستو، **جواب**: قلنا سره جواب کوی احتراز دبعضی زحافاتو نه چی کله ممکن وی ضروري وی. واماالضرورة الواقعة: سره اتم غرض ذکر کوی چی تتمیم دمافات دي، په دي شعر کښی احمد مجرور وئیلی شوي دي که فتحی سره ئی اووائی نو وزن کښی خو څه خرابی نه راځی، بلکه په قافیه کښی خرابی راځی. چی په ټولو ابیاتو کښی دال مکسور دي، نو دلته به مغایر وی **اوللتناسب**: اول اشاره کوی قاعدي ته دعطف، دویم اعراب، دریم دلیل، ویجوز غیر المنصرف سره اشاره اوشوه، چی

للتناسب عطف نه دي په للضرورة باندي نو دويجوز صرفه لاندي راغلو.

ليحصل التناسب: سره دويم غرض ذکر کوی چی للتناسب دا مفعول له دي دپاره ديجوز مفعول له په دوه قسمه دي، يو هغه چی مفعول علت وي او دامفعول له په وزن شعري کښې جوړيدو چی اول به ضرورت راغلی وی، بيا به منصرف والی راغلی وی، اويو مفعول له هغه دي چی باعث دفعل وی لکه ضربته تاديباً اوديکښې به اول فعل راځی بيا مفعول له راځی و دا مفعول له په تناسب کښې جوړيږي ، چی اول به منصرف والی راځی اوبيا به تناسب راځی . **لان رعاية التناسب**:سره دريم غرض چی دليل دي ذکر کوی، منصرف والی دغير منصرف دتناسب دوجی داجائز دي، ځکه رعايت دتناسب بين الکلمات داامرمهم دي عند اللغات اګرکه حددضرورت ته نه رسيږي، مهم دا صيغه داسم فاعل ده په معنی دغم کښې اچونکی سره.

مثل سلاسلاً واغلالاً : يو غرض تطبيق دمثال د ممثل سره دويم دفع داعتراض: اول غرض : سلا سلا دا غير منصرف دي او سره ددينه چی تنوين پری راغلی خو دا دوجه د اغلالاً نه منصرف ګرځيدلی دي، **واما قوله سلاسلا**: سره دويم غرض دفع داعتراض ده .
اعتراض : توضيح د ممثل دپاره مثال واحده کافی وو، تا دوه مثاله ولی راوړل؟ **جواب** : دا حقيقت کښې يومثال دي دمنصرف او بل مثال دغير منصرف دي، کوم چی دمنصرف دتناسب دوجی نه منصرف شوي دي.

ومايقوم مقامهما : ای العلة الواحدة: اول غرض تعين د(ما) دويم تعين دمرجع دضمير د (هما) دريم دفع اعتراض . څلورم دفع داعتراض. پنځم اشاره اختلاف ته:
اول غرض : (ما) موصوله ده او عبارت ده دعلت نه، دويم غرض ، مقام علتين سره مرجع دهما ذکر شو،چی علتين دي، دريم غرض : دا هم په ضمن ددغه دوو کښې اوشو، اعتراض دا واردیدو چی ما يقوم مقامهما مبتدا ده او الجمع او الفا التانيث ئی خبر دي، اوخبر حمل وی په مبتدا باندي او دلته حمل نه صحيح کيږي . ځکه حمل دخاص راځی په عام او دا نه دي جائز. نو ده جواب اوکړو چی مراد د(ما) نه خاص چی علت دی هغه مراد دي نه عامه اګرچی لفظاً عامه ده

علتان مکررتان : سره څلورم غرض ذکر کوی چی دفع داعتراض ده، **اعتراض** : ته

وائی چې دیکښې سببین راغلل. نو اسم سره ئې یارانه کمه شوه. نو اسم ترینه تنوین او کسره منع کړه اوس چې یو سبب پکښې راغلو نو دفعل سره ئې مشابهت کم شو نو اوس ترینه کسره او تنوین ولې منع کوی ؟ **جواب** : علت خو یو دي لیکن تکرار پکښې راغلو نو دا تکرار سبب ثانی شو.

لتكرارهما : سره پنځم غرض چې اختلاف دي. اختلاف په دي کښې دي چې دایو سبب قائمقام دسببینو ولې دي نو دي کښې دري مذهبه دي، اول دمصنف رحمه الله مذهب دادي چې دي کښې تکرار سبب ثانی دي او دا تکرار دا عام دي، حقیقتاً وی او که حکماً . دحقیقتاً مثال لکه (اَکَالِبُ) جمع د (اَکْلُبُ) ده او اکلب جمع د کَلْبٌ ده او حکماً چې ددي جمعو سره په حروفو اوحرکاتو کښې او سکناتو کښې برابر وی . لکه مساجد ، دویم مذهب دادي چې اصل په اسماء کښې اعراب دي، اوس چې تنوین او کسره پري منع کوی نو ددي دپاره سبب قویه پکار دي او هغه عدم تغیر دي په جمع کښې او عدم تغیر دي په الفینو کښې ، دریم مذهب دادي چې په جمع کښې سبب ثانی هغه عدم تغیر دي او په الفینو دتانیث کښې هغه دادي چې دوي لره مفرد من لفظه نشته دي.

الجمع البالغ الى صيغة منتهى الجموع : اول غرض تعین دالف لام، دویم اشاره قول راجح ته، دریم تعمیم، څلورم توطیه دمابعد دپاره. اول غرض : فانه قد تکرر فیه الجمعیة سره ما هو الراجح ته اشاره اوشوه، چې دمصنف رحمه الله کوم مذهب دي نو هغه راجح دي . حقیقتاً او حکماً . سره دریم غرض تعمیم . دا تکرار عام دي حقیقتاً وی لکه اکالب جمع داکلب ده او دا جمع د کلب وه، او که حکماً وی لکه مساجد جمع دمسجد ده تکرار پکښې نشته، خو هغه مکرري جمعې سره په عدد دحروفو حرکاتو او سکناتو کښې مشابه ده. **وثانيتهما التانيث** :سره څلورم غرض توطیه او تمهید ، دي تمهید سره دوه فائدي اوشوي. اوله فائده داده چې الفا التانیث دا مبتدا موخره ده او ثانیتهما دا ورلره خبر مقدم شو . دویم فائده داده چې بعضو خلقو به داتوهم کولو چې سبب به الفین وی، نو دي وائی چې نه سبب هغه تانیث دي په الفینو کښې .

وهو الفاء التانيث المقصوره والممدوده: اول تعیم دالفین. دویم دفع اعتراض. مثال

دليل ، پنځم دفع اعتراض . اول غرض : الفين هغه مقصوره او ممدوده دي. **اى كل واحدة منهما** سره دويم غرض ، الفين به مجموعه چی په يوه كلمه كښی راشی نو دا به سبب وی ؟ **جواب**: هريو واحد ځانته ځانته سبب دي ، دريم غرض : كحبلیٰ وحمرآء.

لا نهما لا زمتان للكلمة : څلورم غرض دليل ځكه چی ذا الفين لازم دي د كلمه سره دا نه جدا كيږي، د كلمی نه نو حبلی كښی حبل او حمرآء كښی حمر نشی وئيلی نو ددي لزوم دكلمی سره داتانيث آخر اوګرځيدو ، **بخلاف التاء** : سره پنځم غرض ذكر كوی، چی اعتراض دي، **اعتراض**: ديو سړي نوم كيده رحمت نو يو پكښی تانيث اول لزوم دتانيث شو، نو دا غير منصرف كړه حالانكه داسيی نده؟ **جواب**: د (تا) اصل وضع دلزوم دپاره نه ده شوي، بلكه وضع دپاره دفرق بين المذكر والمؤنث راغلی ده. اوس كه دعلميت دوجی نه ورته لزوم عارض شی نو داقوی نه دي په هغه باندي.

د فالمفرد المنصرف والجمع المكسر المنصرف تركيب

فالمفرد المنصرف والجمع المكسر المنصرف بالضمة رفعاً وبالفتحة نصباً وبالكسرة جراً تركيب:

فا تفصلية ، المفرد موصوف ، المنصرف ئی صفت،موصوف سره دصفت نه معطوف عليه، واو عاطفه الجمع مضاف المكسر مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه موصوف، المنصرف صفت، موصوف سره دصفت نه معطوف عليه . واو عاطفه، الفتحة معطوف معطوف عليه، واو عاطفه. الكسرة معطوف . معطوف عليه سره د دواړو معطوفاتو نه مجرور دجار، جار سره دمجرور نه متعلق شو تر ثابتٌ پوري، ثابت صيغه داسم فاعل ضمير په كښی فاعل او سره دمتعلق شبه جمله خبر دمبتدا شو، مبتدا او خبر جمله اسميه، او رفعاً نصباً جراً . دا يا منصوب دي بنابر ظرفيت تقدير دعبارت دا رنګی دي چی (اعرب باالضمة حالة الرفع والفتحة حالة النصب والكسرة حالة الجر . اويا منصوب دي بنابر حالية نو تقدير دعبارت دا رنګی دي چي فاعراب هذين القسمين حال كونهما مرفوعين باالضمة وحال كونهما منصوبين باالفتحة وحال كونهما مجرورين بالكسرة، اويا منصوب دي بنابر مصدريت يعنی مفعول مطلق واقع دي په حذف دمضاف سره تقدير دعبارت داسي دي چی اعرب اعراب رفع واعراب نصب و اعراب جر

جمع المؤنث السالم بالضمة والكسرة: جمع المونث .مضاف مضاف اليـه موصوف, السالم صفت دا دواړه مبتدا ، با جار ، الضمة والكسرة معطوف معطوف عليـه مجرور دجار، جار سره دمجرورنه په اعتبار دمتعلق سره چی ثابتٌ دي داخبر دمبتدا مبتدا او خبرجمله اسميه

غير المنصرف بالضمة والفتحة : غير المنصرف مضاف مضاف اليه مبتدا ، باالضمة والفتحة جمله خبر ، مبتداء اوخبر جمله اسميه، ابوك واخوك وحموك وهنوك وفوك وذومال بالواو والالف والياء مضافة الى غير ياء المتكلم، ابوك مضاف مضاف اليه معطوف عليه، واخوك وحموك وهنوك وفوك وذومال داټول معطوف معطوف عليه سره دمعطوف نه مبتداء، با جار الواو معطوف عليه والالف والياء معطوف ، معطوف عليه سره دو معطوف نه مجرور دجار، جار سره د مجرور نه په اعتبار دمتعلق سره ذوالحال، مضافة الى غير ياء المتكلم ورلره اسميه، المثنى وكلا مضافا الى مضمر واثنان واثنتان باالالف والياء جمع المذكر مضاف مضاف اليـه موصوف، السالم صفت، موصوف سره دصفت نه معطوف عليه،

والواو معطوف ، وعشرون بل معطوف، واخوتها بـل معطوف ، معطوف عليه سره دريواړو معطوفاتو متبدا ، باالواو والياء په اعتبار دمتعلق سره خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه، التقدير فيما تعذر كعصاء وغلامى مطلقاً او استثقل كقاض رفعاً وجراً ونحو مسلمى رفعاً واللفظ فيما عداه، التقدير مبتدا و فى جار، ما موصوله ، تعذر فعل ضمير پكښى فاعل، كاف جار، عصى معطوف عليه واو عاطفه، غلامى ذوالحال، مطلقاً حال، ذوالحال سره دحال معطوف، معطوف عليه سره دمعطوف نه، مجرور دجار، جار سره دمجرورنه متعلق شو، تعذر پوري فعل سره دفاعل او سره دمتعلق نه صله دموصول ، موصول سره دصله نه معطوف عليه، او عاطفه استثقل فعل ضمير پكښى مستتر نائب فاعل، دا جمله ممثله، او كقاض جار مجرور په اعتبار دمتعلق سره دامعطوف عليه معطوف عليه سره دمعطوف نه مثال د ممثل . مثال سره دمثال نه دامعطوف، معطوف عليه سره دمعطوف نه مجرور دجار، جار سره دمجرور نه په اعتبار دمتعلق سره دخبر دمتبداو مبتدا سره دخبر نه جمله

اسمیه معطوفه علیها ، واللفظي فیما عداه، معطوف . معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله اسمیه خبریه.

دعدل د تقدیم والی وجه تسمیه

فالعدل خروجه عن صیغة الاصلیة الخ... عدل ئی مقدم کړو په نورو اسبابو باندي ځکه چی په اجمال کښي ئی مقدم کړي وو اوپه اجمال کښي ئی ځکه مقدم کړو، چی دا اقل شروطاً دي او کوم شی چی اقل شروطاً وی هغه اکثر وجوداً وی نو ځکه ئی مقدم کړو، **مصدر**: دا هغه اعتراض دي چی عَدلٌ د فَعْلٌ په وزن دي او دا وزن کله کله په معنی داسم تفضیل سره وی او اسم تفضیل خو ذات مع الوصف دي او نور اسباب دمنع صرف خو صفات وی نو ده جواب اوکړو چی دامصدر دي. **مبنی للمفعول** : دا دفع داعتراض ده، **اعتراض** : واردیږي چی عدلٌ مصدر دي، دا کله مبنی للفاعل وی نو عدل په معنی دعادلٌ سره نو دا خو بیا ذات مع الوصف شو، **جواب**: ده جواب اوکړو چی دامبنی للمفعول.

ای کون الاسم معدولاً : دا دفع داعتراض ده : **اعتراض** : چی عدل په معنی دمعدول سره شو نو معدول خو عین لفظ شو، او عدل دا خو صفت دلفظ دي، نو ده جواب اوکړو چی معدول په معنی دکون الاسم معدولاً سره دي نو معدول صفت د اسم شوچی لفظ دي، **خروجه**:په دي کښي دوه خبري دي، اول مرجع دضمیر او غرض په کښي دفع داعتراض ده، دویم دفع داعتراض. اول ضمیر راجع وی اسم ته ، **اعتراض** :خروجه کښي ضمیر چاته راجع دي که عدل ته راجع شی نو اخذ دمحدود راځی په حد کښي ، او که اسم ته راجع شی نو اضمار قبل الذکر راځی، او که خروج ته راجع شی نو اضافة دشی راځی خپل نفس ته؟ **جواب** : ضمیر اسم ته راجع دي او اضمار قبل الذکر نه لازمیږي ځکه چر قرینه شته چه هغه بحث داسم دي.

ای کونه مخرجاً : دي سر غرض دفع داعتراض: **اعتراض**: دعدل نه دي تعبیر په معدول سره اوکړو او دا متعدي دي او بیا دتفسیر ددي په خروج سره اوکړو او خروج لا زمی دي، نو لازم شو تفسیر دمتعدي په لازمی سره ؟ **جواب** : خروجه په معنی دمخرج سره دي او مخرج صیغه د اسم مفعول ده او دا خو فاعل غواړي، نو متعدي شو، او دي سره یو بلی خبري ته اشاره اوشوه، چی اسم مفعول په دریو طریقو سره استعمالیږي،

اول چی په معنی د فعل مجهول سره شی. سره دان مقدر د نه لکه معدول په معنی دان یعدل سره، دویم دا چی یا تامصدریه ورسره ولګوي. لکه معدولیت، دریم دا چی دا خبر شی دپاره دکان دمحذوفه سره داسم محذوفه لکه کون الاسم معدولاً. نو دلته په دې دریمې طریقې سره مستعمل دي

د صیغی معنی

عن صیغة الاصلیة: اول غرض معنی دصیغه او غرض په کښی دفع داعتراض دویم معنی داصل ،دفع داعتراض اول صیغه په معنی دهیئت او صورت سره **اعتراض** اسم په معنی دهینت او مادي سره دي او صیغه هم په معنی د هیئت او مادي سره دی لازم شو خروج دکل د کل او دا نه دي جائز ځکه چی خروج سبق دخول غواړي. ؟ **جواب** صیغه په معنی دهئیت او صورت سره دي او اسم په معنی دمادي سره ده. دویم غرض اصلیه دا معنی چی خروج ددغه اسم به راغلی وی یعنی دمادي ددغه صورت او هئیت نه چی اصل او قاعده ددي تقاضا کوی.

ولا یخفی: سره دریم غرض : **اعتراض:** تعریف دعدل دي مانع نشو. دخول دغیر لره داخل شو پکښی ټول اسماء مشتقات ځکه د دي خروج هم داصل او هییت نه راغلی دي؟ **جواب:** په اضافت دصیغه سره اسم ته دا خارج شول. ځکه چی معنی داشوه چی د معدول او دمعدول عنه معنی به یوه وی او په مشتقاتو کښی دمشتق او مشتق منه معنی یوه نه وی.

وان المتبادر: څلورم غرض دفع اعتراض : **اعتراض:** تعریف دعدل دي مانع نشو دخول دغیر نه . پکښی داخل شو اسماء محذوفة الاعجاز لکه دمٌ او یدٌ ځکه ددي خروج د (دمو) او (یدو) نه راغلی دي او معنی ئی هم یوه ده. **جواب:** دي سره یو بل قید هم مونږ ولګولو چی ماده به یی هم باقی وي. او په یدٌ او دمٌ کښی واو حرف اصلی باقی نه دي پاتی.

وان خروجه عن صیغة الاصلیة: پنځم غرض دفع داعتراض . **اعتراض:** تعریف دعدل دي مانع نشو دخول د غیر نه داخل شو پکښی مغایرات قیاسیه لکه مقول چی دا خارج دي مدمقوولٌ نه معنی ئی هم یوه ده. او ماده ئی هم باقی ده. ځکه واو زائده حذف شوي

دي، **جواب** يو بل قيد هم شته دي هغه دا چې معدول عنه به دقاعدي اودقياس لاندي وی او معدول به نه وی، لکه ثلث مثلث چې دهر يو معنی ده، دري دري او هريو معدول دي دثلثةٌ ثلثةٌ نه، ثلاثة ثلاثةٌ دقاعدي لاندي دي ځکه تکرار دلفظ دلالت کوی، په تکرار دمعنی باندي اوثلاث او مثلث دقاعدي لاندي ندي، ځکه لفظ کښي تکرار تثنيه، او معنی کښي يې تکرار دي او مقوول کښي خو دواړه ديوي قاعدي لاندي دي، مخرج عنه چې مقوول دي هم دقاعدي لاندي دي، ځکه دمجردو نه اسم مفعول په وزن د مفعول سره راځي او مقول هم دقاعدي لاندي دي، ځکه داقاعده ده چې حرف علت متحرك وی او ماقبل ترينه ساکن وی، حرکت ماقبل ته نقل کيږي، نو چې حرکت نقل شو اجتماع دساکنينو راغله نو واو اوغورځيدلو مقول شو، نو په مغايرات قياسيه، کښي دواړه دقاعدي لاندي دي.

واماالمغيرات الشاذة: په دي عبارت سره غرض د شارح دفع داعتراض ده، **اعتراض:** تعريف دعدل ستا مانع نشو، دخول دغير نه داخل شو پکښي مغيرات شاذه لکه اقوس او انيب چې دا مخرج دي داقواس اوانياب نه چې دا جمع دقوس او ناب ده، اصل کښي نيب وو ، نو ستا دريواړه شروط پکښي شته ،معنی ئی هم متحده ده ماده ئی هم باقي ده، او اول چې اقواس او انياب دي دقاعدي لاندي هم دي چې دغه وزن فعلٌ فعلٌ دا جمع کيږي په افعال سره او دا په اقوس او انيب دي، دقاعدي لاندي نه دي او سره ددينه چې ديته څوك معدول نه وائی.؟ **جواب:** زه دا نه منم چې اقوس او اناب دا جمع شوي دي په اقواس او انياب سره او بيا اقوس او انيب دا مخرج دي ددينه بلکه قوس او ناب دا اولاجمع شوي دي په اقوس او انيب سره ددي وجه نه ورته جموع شاذه هم وائی.

د معرف او معرف بيان

وقال بعض الشارحين: غرض دشارح رد کول دي په متن باندي خو هرڅه دمخه يو تمهيد پکار دي يو معرِف دي او بل معرَف دي ، لکه انسان تعريف وشي په حيوان ناطق سره نو انسان معرَف دي او حيوان ناطق معرِف دي، نو په دي کښي دوه شرطه دي. اول شرط دادي چې معرف او معرف په مابين کښي به تساوي په حسب دمصداق سره وي يعنی چې معرف په چا صادقيږي په هغی به معرف هم صاديږي، دويم د دواړو په مينځ

کښې به تباین بحسب المفهوم وی، لکه انسان معرَف دي او مفهوم ئې حیوان ناطق دي او دمعرف چې حیوان ناطق دي، دحیوان مفهوم (نامی حساس متحرك بالاراده.) دي او دناطق مفهوم (مدرك الکلیات، والجزئیات) دي او تباین به بحسب المفهوم وي. ورته څلور نقصانات به لازم شي، اول دواړه به الفاظ مترادفه او معنی به ئې یوه شي.

دویم یو شی به هم معلوم اوګرځي او هم مجهول په دي حیثیت سره چې معرف موقوف دي په معرف باندي مجهول شو او په دي حیثیت سره چې د دواړو مفهوم به موقوف شي په معرف پوري او معرف به موقوف شي په معرف پوري اوشي به دواړه یوشي، څلورم یو شیٔ به هم مقدم او هم موخر اوګرځي په دي حیثیت سره چې معرف موقوف دي په معرَف نو معرِف موخر شو اوچې معرَف موقوف دي په معرِف موخر شو، او هغه اوله خبره چې معرَف او معرِف کښې به تساوی وی په حسب د مصداق سره نو داځکه که تباین پکښې راشي نو معرِف او معرَف خویوپه بل حمل کیږي، نو حمل دمباین به راشي په مباین آخر باندي او دا خومحال دي. دریم دا چې معرِف به اعم نه وی دمعرَف نه ځکه تعریف به مانع نه شي دخول دغیر لره لکه دانسان تعریف وشي په حیوان سره نوحمار وغیره پکښې داخل شول، څلورم دا چې تعریف باالاخص هم ندي جائز ځکه چې بیابه تعریف جامع نشي خپلو افرادؤ لره لکه تعریف دانسان په حیوان ناطق ابیض سره نوناطق اسود ترینه خارج شو دا مذهب د محققینو دي، خو قدماء وائي چې تعریف بالاعم جائز دي ځکه چې مقصود هغه امتیاز د معرَف وی دبعض ماعدا نه، فاذا عرفت هٰذا، نو اوس اعتراض راځي او رد کوی په ماتن باندي چې العدل خروجه عن صیغه الاصلیة دا کافي وو نور قیودات تاولي اولګول ځکه چې تعریف بالاعم دا جائز دي،

جواب: نو ددي رد نه مقصود امتیاز د معرف وی دبعض ماعدانه او دلته مقصود هغه امتیاز دي د جمیع ماعدانه، او پدي باندي دلیلین دي، اول که مقصود امتیاز دبعضو نه وی نو بیا قید د اصلیة ته هم ضرورت نه وو، دویم دلیل دادي چې مقصود دعدل دمعرفت نه هغه معرفت دمنصرف او دغیر منصرف دي نو که عدل مکدل معرفت را نشي نو بیا به منصرف او غیر منصرف هم دیوبل نه جدا نشي،

خارج نه اعتراض دتعریف سره چې کوم قیودات لګولی شوي دا خو شارح لګولي ماتن خو نه دي لګولي نو دي خو رد کوی په خپل ځان ، **جواب**: دغه قیودات دعدل دتعریف سره په امالیه او کافیه کښې چې دا د ده خپله شرحه ده لګولی دي نو شارح ګویا کښې نقل کړي دي دهغې نه ،

واعلم انا نعلم قطعاً: پدي سره شارح اشاره کوی اختلاف ته اختلاف په تعریف دعدل تحقیقی او عدل تقدیري کښې دي، په دي کښې دوه مذهبه دي، اول محققین مذهب دي، او دویم مشهورین دي، محققین وائی چې عدل تحقیقی وائی خروج اعتباري داصل محقق نه، دویم: تقدیري وائی خروج اعتباري ته داصل اعتباري نه، دمشهورینو مذهب دادي چې عدل تحقیقی وائی دیته خروج تحقیقی ته داصل محقق نه. او **دویم**: او عدل تقدیري وائی خروج اعتباري ته داصل اعتباري نه، نو اختلاف صرف په خروج دعدل تحقیقی کښې دي، تحقیقی دیته وائی چې په وجود د اصل باندي ماسوا دمنع صرف نه بل دلیل وی او تقدیري دیته وائی چې په وجود داصل سوا دمنع صرف نه بل دلیل نه وي. دمشهورینو دپاره دري دلایل دي، اول تحقیقاً او تقدیراً دا صفات دخروج دي دینه معلومه شوه چې خروج به یو کښې تحقیقی وی او بل کښې به اعتباري و یعنی تقدیري وی ، دویم خروج خو په عدل تقدیري کښې اعتباري دي که په عدل تحقیقی هم اعتباري شی نو د دواړو مینځ کښې به فرق رانشی ، **دریم** دلیل په وجود دفرعی دا بعینه دلیل وی په خروج دفرعی د دغه اصل نه، او دمحقیقنو دپاره صرف یودلیل دي او هغه دا چې بعض اسماء چې کله اوموندلي شو په کلام دعربو کښې غیر منصرف او موجود نه وو په هغې کښې سبب دمنع سرف سوا دعلمیت نه لکه عمر وغیره کښې او سبب واحده خوموثر نه وو په مع صرف کښې نو مجبور شو مونږ اعتبار دسبب آخر ته او صالح نه وودپاره داعتبار دسبب آخر سوا دعدل نه نو مونږ پکښې عدل معتبر کړو

اوبیا په بعض اسماؤ کښې دلیل په اصل باندي موجود وو او په بعضو کښې نه ووو نو په کومو اسماؤ کښې چې په اصل دلیل موجود وو، نو تحقیقي او که نه وو موجود نو تقدیري. نو محققین وائی چې خروج دمعدول دمعدول عنه نه مونږ معتبر

کړي دي او دوي دمشهورينو د دريوارو دلائلو نه جواب هم کوي. اول دليل چې دوي وئيلی دي چې تحقيقاً او تقديراً داصفات دخروج دي نومحققين جواب کوی چې صفت په دوه قسمه دي يو توصيف بحاله دي او بل توصيف بحال متعلقه دي نودا تحقيقاً او تقديراً دا صفات دخروج دي خو بحال متعلقه چې متعلق ئی مخرج عنه وی او دا اصل دي نو دا صفات په حقيقت کښې د اصل دي او اصل خو تاسو هم منی چې يو کښې تحقيقی اوبل کښې تقديري دي. دويم دليل چې دوي وئيلی وو چې فر ق به رانشی په عدل تحقيقی او تقديري کښې نو دوي جواب کوی چې فرق په اعتبار داصل سره شته چې يو کښې اصل تحقيقی دي اوبل کښې اعتباری دي. دريم دليل نه جواب دا کوی چې دا منم چې دليل په وجود دفرع دا دليل دي په خروج دفرع داصل نه لکه اقوس او انيب چې اصل ئی اقواس او انياب دي، دليل په وجود داصل شته چې قياس تقاضا کوی نو دا دليل دي په دي خبره چې اقوس او انيب فرعه ده، خو دا دليل نه دي په دي خبره چې اقوس او انيب مخرج دي، داقواس او انياب نه.

فانقسام العدل کښې مذهب راجح طرف ته اشاره

فانقسام العدل الی التحقيقی الخ... په دي سره اشاره کوی ما هو الحق ته چې شارح دمحققينو مذهب ته ترجيح ورکړی. **فعلیٰهذا**: سره غرض توطيه او تمهيد دپاره دمتن آتی، تحقيقاً معناه خروجاً کائناً عن اصل محقق. اول غرض وجه دنصب دتحقيقاً شارح ذکر کوی او په عن اصل محقق سره جواب هم کوی. دمشهورينو د دليل نه، اول دليل دوي وائی چې دا منصوب دي بناء برمفعول مطلق. نو په دي اعتراض راځی چې مفعول مطلق خو ديته وائی چې فعل مشتمل وی په ده باندي د قبيلی داشتمال دکل نه په جزء باندي نو خروجه خو مشتمل دي په خروجاً باندي نه په تحقيقاً. نو په دي جواب کوی چې دا مفعول مطلق دي بناء برموصوف محذوفه سره تقدير داسي دي چې خروجه خروجاً تحقيقاً محققا با عن اصل محقق نو په دي باندي بيا اعتراض وارديږي چې تا اوويل چې مفعول مطلق ديته وائی چې فعل مشتمل وي په ده باندي دقبيلی داشتمال دکل نه په جز باندي نو خروج خو فعل نه دي بلکه مصدر دي يا خروجه هم مصدر دي او خروجاً هم مصدر دي نو احد المصدرين مستدرك اوبلا فائدي شو.

جواب: جواب دادي چی په خروجه کښې دغه مصدر مصدر عامله دي او مصدر عامله دا مؤول وي په تاویل دان سره دفعل نه نوخروجه په معنی دان یخرج سره

عن اصل محقق: سره جواب دمشهورینو د دلیل نه هم اوشو، هغوی وئیلی وو، چی تحقیقاً دا صفت دخروج دي، نو دي وائی چی صفت دا اصل دي. یدل علیه غیر منع الصرف: غرض دشارح معنی دتحقیقاً ذکر کول دي، نو وائی چی په وجود داصل باندي سوا منع صرف نه بل دلیل وی دا تحقیقی دي.

کثلاث ومثلث: والدلیل علی اصلهما: یو غرض تطبیق دمثال دممثل سره، نو دي وائی چی ثلث مثلث مثال دعدل تحقیقی دي. ځکه چی په اصل ددي باندي چی ثلاثة ثلاثة دي .سوا دمنع صرف نه بل دلیل موجود دي. هغه دا چی تکرار دمعنی دلالت کوی. په تکرار دلفظ نو هر کله چی دلته دثلاث او مثلث په معنی کښې تکرار وو او لفظ کښې نه وو نو معلومه شوه چی اصل ددي ثلاثة ثلاثة دي.

وکذا الحال فی احاد موحد الخ... دویم غرض تعمیم شارح تعمیم ذکر کوی چی لکه څنگه په ثلث مثلث کښې عدل دي دغه شان په احاد موحد ثناء او مثنی رباع او مربع کښې هم عدل تحقیقی او وصف دي. **فیماوراهاالی عشارومعشر خلاف**: دریم غرض ذکر داختلاف. دي کښې اختلاف دي چی دځلورونه سوا ترلسو پوري دي کښې عدل شته او که نه نو امام سیبویه رحمه الله فرمائی چی دي کښې هم عدل راتلی شی، ځکه بعضو اشعارو کښې ئی استعمال راغلی دي. او بعضی وائی چی نشی راتلی ځکه چی دعربو نه مسموع نه دي دشارح په نزد دسیبویه رحمه الله مذهب غوره دي. والسبب فی منع الصرف. څلورم غرض دفع داعتراض ده.

اعتراض: تا ویلی چی ثلث او مثلث دا غیر منصرف دي، ځکه چی یو په کښې عدل او بل په کښې وصف دي زه دا نه منم چی په د یکښې وصف شته. ځکه چی وصف کښې شرط دادي چی دا به په اصل وضع کښې وصف وی او ثلث او مثلث کښې خو په اصل وضع کښې وصف نشته. بلکه ددي وضع دمرتبې معنی دپاره شوي ده، چی مافوق الاثنین او ماتحت الاربع ده نو دا خو دعلم پشان شو. **جواب**: دا منم چی په دوي کښې وصف عارضی دي. خو چی کله مونږ پکښې عدل معتبر کړو نو عدل دا پشان

دوضع ثاني نو وصف هم په کښې اصل اوګرځیدو.

قاعده په اسم تفضيل کښې

واخرج اخرى مونث آخر: غرض دشارح تطبيق دمثال دي دممثل سره، نو هر کله چې او موندلې شو، په کلام دعربو کښې غير منصرف او موجود وو پکښې يو سبب چې وصف دي نو لابدي شوه داعتبار دسبب آخر نه نو مونږ پکښې عدل معتبر کړو. څکه چې دا جمع داخري ده او اخري مونث داخر دي، او دا اسم تفضيل دي او قاعده په اسم تفضيل داده چې دا به مستعمل وي په يو دطرق ثلاثه ؤ سره چې (لام) (اضافت) (او من) دي دلته په دغه يو سره هم نه وو مستعمل نو معلومه شوه چې دا معدول دي دآخريا آخر من څخه.

فقال بعضهم: شارح اشاره کوی اختلاف ته. اول خبره دا چې بعضې وائی دا معدول دي دا (الآخر) نه نو په دي باندي اعتراض راځي. چې دا معدول شو دالاخر نه نوآخر نکرده او الاخر معرفه ده پکار دي چې دا هم معرفه شوه ؟ **جواب:** دلته عدل مونږ لفظاً او معناً دواړه کړي دي يعنی څرنګه مو چې لفظ کښې الف لام لري کړي دي دغه شان مو دمعنی نه هم تعريف لري کړي دي. دويم دا چې بعضي وائی چې دا معدول دي دآخر من نه.

وانما لم يذهب الى تقدير الاضافة: دريم غرض دفع داعتراض: **اعتراض:** تا وئيلی چې اسم تفضيل دا په يو د دريو طريقو سره استعماليږي تا دلته وئيل چې د الاخر يا آخر من نه معدول دي، اضافت دي ولی ذکر نه کړو، نو شارح وائی چې اضافت نه موځکه ذهاب او نه کړو چې که ته دا معدول کړي داضافت نه نو مضاف اليه خو به حذف وی نو بيا لابدي شوه، ديو د دريو امورو نه يا به تنوين پري راغلی وي، په عوض دمضاف کښ لکه حينئذٍ کښ تنوين عوض دي د (اذا کان کذا) نه او يا به ئی مبنی کوی په ضمه سره لکه (قبل، بعد) چې مضاف اليه حذف شوي دي اويا به تکرار داضافت کوی لکه يا تيم تيم عدی، د اول تيم مضاف اليه عدی حذف شوي دي نو تکرار يي کړي، نو دلته په آخر نه ضمه وه نه تنوين نه تکرار وو، نومعلومه شوه چې دا معدول دي سوي داضافت نه.

وجُمَعَ جمع جمعاء مونث اجمع: اول غرض تطبيق دمثال دممثل سره ذکر کوی هغه

Scanned with CamScanner

داسي چې جمع دا غير منصرف دي. يو پکښې وصف او بل عدل دي. عدل پکښې ځکه دي چې جمع جمع د جمعاً ء ده . او جمعاً ء دا جمع دي او قاعده په جمعاء کښې داده که دا صفتي وي نو جمع کيږي په جمع سره لکه حمراء چې جمع شوي په حمرا ، سره او که اسمي وي نو جمع کيږي په فعالاء سره لکه صحراء چې جمع شوي دي په صحاري او صحراوات سره چې دا معدول دي يا دجماعى يا جمعاوات څخه دويم وكذالك كتع بتع الخ غرض تعميم يعنى دا هم غير منصرف دي د وجې د عدل او وصف نه. دجمع پشان

فاحد السببين فيها العدل: دفع داعتراض ده **اعتراض**: دا منم چې دا معدول دى دجمع نه ځکه فعلى صفتى جمع کيږي په فعل سره نو په جمع کښې هم وصف او علميت دي. خودا نه منم چې معدول دي دجماعى يا جماعاوات نه ځکه چې اسمى وى. بيا په دغه وزن سره جمع کيږي او جمع کښې خو وصفيت دي. **جواب**: شارح جواب کوى چې په اصل وضع کښې خو وصف دي خو وروسته استعمال کښې بيا غلبه داسميت راغلى ده، او غلبه داسميت په وصفيت باندي وصفيت ته نقصان نه رسوي. خو چې اصل وضع کښې وصف وي.

وفى جمع واخواته: دي سره اشاره کوي دي خبري ته چې څنګه جمع کتع بتع بصع غير منصرف دي دغه شان د دوي مفرد مذکر هم غير منصرف دي چې اجمع اكتع الخ دي. خو په دي کښې يو سبب وصف او بل وزن فعل دي. **وعلى ماذكرنا لا يرد جموع الشاذة** غرض دشارح دفع داعتراض ده **اعتراض**: څرنګه چې تا مخکښې وئيلى چې اخر کښې عدل دي، ځکه تا اوويل چې اسم تفضيل کښې قاعده داده چې دا به مستعمل وي په يو طرق ثلاثة و سره او دلته نه دي مستعمل شوي. نو معلومه شوه چې دا معدول دي دالاخر يا اخر من نه نو دغه شان اقوس او انيب کښې هم عدل معتبر کړه، ځکه دغه وزن قوس او ناب جمع کيږي، په افعال يعنى اقواس اوانياب سره او دلته نه وو جمع شوي نو معلومه شوه چې دا اقواس او انيب معدول دي داقواس اوانياب نه **جواب**: اقوس او انيب دا جموع شاذه دي او دا عدم جمع والى داقوس اوانيب په اقواس اوانياب سره دا دليل دي دپاره دشاذوالى اوس که چيرته دا دليل شى دپاره دعدل نو بيا به دشاذوالى دپاره څه قاعده اودليل پاتى نشى

اوتقديراً اى خروجاً كائناً عن اصل مقدر: اول غرض وجه دنصب دتقديراً ذكر كوى، او ددي په ضمن كښې دمشهورينو د دليل نه جواب هم كوى، دويم غرض معنى داصل مقدر ذكر كوى. تقديراً دا منصوب دي بناء برمفعول مطلق او اعتراضات او جوابات پكښې دتحقيقاً په شان شوي دي، اودمشهورينو هغه دليل نه چې تحقيقاً او تقديراً دا صفات دخروج دي، جواب هم اوشو چې داتوصيف بحال متعلقه دي يعنى تقديراً هم صفت د اصل دي، نو دوه غرضه اوشول،

يكون الداعى الى آخره : سره دريم غرض چې معنى داصل مقدره ده، چې په وجود د اصل باندي سوا دمنع صرف نه بل دليل نه وى موجود دي ته اصل مقدر وائى. **اعتراض:** عدل تقديري د دريو وجوهو نه مقدر كولى شي يوداچې دپاره دمنع صرف، دويم دا چې سبب ثاني نه وى، دريم دا چې سبب ثاني وى خو صلاحيت دمنع صرف والى نه لري. تا اولنى ذكر كړو او دا نور دوه دي پريښودل ، **جواب:** دا اولنى يو وجودي دي او او وروستنى دوه دا عدمى دي او دسبب نسبت وجودي ته اولى وى په نسبت سره عدمي ته.

كعمر وكذالك زفر: اول تعميم ، دويم تطبيق دمثال دممثل سره . دريم دليل دپاره دعدل تقديري دمعتبر كولو، اول خبره دا چې زفرهم پشان دعمر دي. **فانهما:** پدي سره دويم دا چې عمر او زفر دا غير منصرف دي ځكه چې دا كله اوموندل شول په كلام دعربو كښې غيرمنصرف او موجود نه دي پكښې سبب ظاهر ماسوا دعلميت نه، نو مونږ پكښې معتبر كړو عدل،

ولما توقف: دريم غرض . هر كله چې اعتبار دعدل دا موقوف وو په وجود د اصل او په وجود داصل باندي په عمر او زفر كښې دليل نه وو ماسوا دمنع صرف نه نو فرض كړي شوه پكښې داخبره چې اصل ددوي عامر او زافر دي او دا دواړه معدول دي دعامر او زافر نه عمر او زفر ته . **ومثل باب قطام فى لغة بنى تميم:** هذا من قبيل عطف القصه على القصه متن دادي چې باب قطام فى تميم، خو شارح ورسره قيد مثل اولګولو ديكښې اشاره ده دي خبري ته چې په عمر كښې عدل معتبر كړي شوي وو، دپاره غير منصرف والى او په باب دقطام كښې معتبر شوي دي، عدل خو حملاً على نظائره چې هغه نظائر

حضار او طمار دي

المعدولة عن قاطمة: سره بيان داصل دقطام کوي. قطام دا معدول قاطمة څخه دي. **اعتراض**: قاطمة دي وويل بدون التاء به دي ويلی يعنی عن قاطم لکه عمر چی معدول دي دعامر نه؟ **جواب**: قطام دا علم دښځی دي پکار ده چی معدول عنه ئی هم مؤنث شي په خلاف دعمر څکه دا علم دمذکر دي. **واراد ببابها**: سره غرض بيان دباب دقطام کوي، عدل به معتبر کولی شي په هر هغه فعال وزن کښی چی علم وي دپاره داعيان مونثه ؤ بغير دذوات الراء څکه ذوات الراء بالاتفاق مبنی وي

قاعده

قاعده: فعال دا په څلور قسمه دي، اول فعال چی اسم فعل وی لکه نزال. دابه مبنی وي بالاتفاق، دويم دا چی صفت دپاره دمونثه وي لکه فساق په معنی دفاسقه سره . دريم چی صفت دپاره دمعنی مصدري لکه فجار په معنی دفجور يا فجورة سره دا دوه قسمه به هم مبنی وي دوجی دمشابهت دنزال نه وزناً هم او عدلاً هم يعنی د دواړو وزن هم يو شی دي او په نزال کښی هم عدل شوي دي او په دي دواړو کښی هم. **قطام**: دا مبنی دي په نزد دحجازيينو او معرب دي په نزد دبنو تميمو .

قاعده: عدل د څلورو وجوهو نه معتبر کولی شی، اول دوجی دغير منصرف والی څخه لکه عمر کښی، دويم دپاره دبناء لکه حضار او طمار کښیدوه سببه شته چي يو علميت دي اوبل پکښی تانيث دي، خو دسببين دوجی نه يو اسم مبنی نه ګرځی ، نو مونږ پکښی معتبر کړو چی دا معدول دي دحضر او دتمر نه نو هغه مبنی وو نو دا هم مبنی شو، دريم عدل معتبر کولی شی دوجی دحمل نه په نظائرو باندي لکه قطام کښی ، نو دا معدول دي دقاطمة نه، داولی څکه دا حمل دي په حضار او طمارباندي، څلورم عدل معتبر کولی شی دپاره د مبالغی ، لکه نزال دا معدول دانزل نه دي د انزل معنی ده چی راکوز شه او دنزال معنی ده بار بار راکوز شه.

فانهم: اول سره تتميم دبيان کوی، دويم اعتراض . دريم اختلاف . اول غرض په متن کښی مفصل ذکر دي. **ولهذا يقال**: سره دويم غرض اعتراض: باب د قطام ته خه نو دا نظير شو دعدل دپاره مثال نه شو. **والغرض منه**: **دفع الاعتراض**: ضرورت نه وو څکه زمونږ

بحث په هغه عدل کښې دي چې دغیر منصرف کیدو دوجې نه راغلی وی، **جواب:** باب قطام راوړلو کښې غرض اشاره ده، دي خبري ته چې عدل یواځې دغیر منصرف والی د وجې څخه نه راځی .**بلکه** دوجې دحمل نه په نظایرو هم راځی نو دا نظیر شو دعدل دپاره مثال نه شو. **وانما قال فی تمیم**: سره دریم غرض اختلاف بنوتمیم قید ئې ځکه ولګولو چې حجازین باب دقطام مبنی ګرځوی او زمونږ بحث په معرب کښې دي چې غیر منصرف دي اومراد اکثر بنوتمیم پکښې معتبر نه شو.دپاره دتحصیل دبناء او قطام کښې هم د عدل اعتبار کولو ته حاجت پاتی نشو ځکه دا خو حمل ، په حضار او تمار نو هغې کښې عدل نه وو نو قطام کښې هم عدل نشته.

د وصف تعریف او تقسیم

الوصف وهو کون الاسم دالاعلی ذات مبهم ماخوذة مع بعض الخ... اول غرض تعریف دوصف دویم قسمین دوصف، توضیح بالمثال ، څلورم توطیه دمتن آتی: نوتعریف ئې اوکړو چې وصف وائی کیدل داسم چې دلالت به کوی په ذات مبهمه باندي چې لحاظ به ورسره ساتلی شی، دبعضو صفاتو، او دفع داعتراض هم دي تعریف سره او شوه، **اعتراض:** شمارل ستا دوصف داسبابو دمنع صرف نه صحیح نه دي، ، ځکه وصف موصوف غواړي یا عارض دي معروض غواړي ، نو دا خو ذات مع الوصف شو او نور اسباب دا صرف صفات دي، **جواب:** په کون الاسم سره جواب اوشو چې کون مصدر دي او مصدر صرف صفت وي. **سواء کانت الدلالة**: دویم غرض قسمین دوصف، وصف په دوه قسمه دي ، اول هغه وصف چې واضع وضع کړي وی دپاره دوصف په اصل کښې.

مثل احمر فانه موضوع لذات ما: سره دریم غرض توضیح بالمثال ، ذات کښې تنوین لپاره دتعمیم دي یعنی هریو ذات چې وی او ما نکره دپاره دتاکید ددغه تعمیم ده. لکه احمر دا ذات من له الحمرة ته وائی **اوبحسب الاستعمال** سره بل قسم دوصف ذکر کوي یا به په اصل وضع کښې وصف نه وي ، بلکه استعمال کښي به پکښې وصفیت راغلی وي، لکه اربع شو په دي ترکیب چې مررت بنسوة اربع چې اصل کښې ددي وضع دپاره دمعني دمرتبې معینې دعدددپاره شوي ده، چې مافوق الثلاثة او ما تحت الخمسة ده، په دي ترکیب کښې چونکه نسوة معدود ، دي عدد نه دي نو دا اربع صفت دي ای مررت

بنسوة موصوفة بالاربعة او دامعنی وصفی ده چی عارضه شوي ده نسوة ته په استعمال کښی.

اعتراض: تا اوئیل چی وصف دا هغه اسم دي چی دلالت کوی په ذات مبهمه ، زه به درته اوښایم وصف به وي او دلالت به نه کوی په ذات مبهمه بلکه په ذات معینه به ئی کوی . لکه «رحمن او رحیم » **جواب**: مراد دادي چی دلالت به کوی په ذات مبهمه خو په اصل وضع سره او د رحمن او رحیم اختصاص په الله جل جلاله پوري راغلی دي قرائن خارجیه دوجی **والمعتبر**: سره څلورم غرض ذکر کوی چی توطیه او تمهید دي دپاره دمتن آتی وصف په دوه قسمه دي، دلته کوم یو معتبر دي جواب کوی چی وصف اصلی ځکه چی لقوته.

فلذلک قال المصنف : دلته یوه خارجی فائده ده او هغه دا چی ماقبل د فلذالك او دمن ثم نه دلیل لمّی وی او ما بعد ددینه دلیل انّی وی او دلیل لمی دیته وائی چی دلیل ونیسی دجانب دعلت نه په وجود دمعلول باندي لکه ته نار اووینی او وائی چی دلته لوګی شته خو داد شپی، انی دیته وائی چی دلیل ونیسی دجانب دمعلول نه په وجود دعلت باندي لکه دورځی لوګی وینی او ته وائی چی دلته به اُور هم وی نو دفلذالك فی سببیة منع صرف سره توطیه او تمهید ذکر کوی دمتن آتی دپاره نو وائی چی دانصراف نه عدم انصراف ته اړول دا سبب قویه غواړي اوسبب قویه هغه وصف دي چی په اصل وضع به وصف وی علت ورلره سبب قویه دي نودلیل انی شو.

شرطه: یو غرض تعین دضمیر، دویم فی سببیة الخ. سره دفع داعتراض. اول خبره داده چی ضمیر وصف ته راجع دي، اي شرط الوصف، دویم خبره **اعتراض**: تا اویل چی وجود دوصف دپاره شرط دادي چی دا به اصل وضع کښی وصف وي زه به درته اوښایم چی وصف به وی او اصل وضع کښی به نه وی؟ **جواب**: شارح وائی چی شرط دوصف دپاره سببیة دمنع صرف والی دي نه دپاره دوجود دوصف.

ان یکون وصفا فی الاصل: سره یو غرض معنی داصل، او هغه دا چی معنی داصل وضع ده. **بان یکون وضعه** : شارح اشاره کوی بیان دمتن ته فرمائی چی ددغه وصف وضع به دوصفیت دپاره شوي وي داسی نه چی وضع دوصفیت دپاره نه وي شوي، خو په استعمال کښی وصفیت ورته عارض شوي وي، په وصف اصلی کښی بیا برابره خبره ده

چې وصفيت پکښې باقي وي او که ترينه زائل شوي وي.

فلاتضره: شارح دفع ديو اعتراض کوي: هغه داسې چې ته وائې چې غلبه داسميت په وصفيت باندې وصفيت ته نقصان نه رسوي ولې ئې نه رسوي، مخکښې عام وو. اووروستو ودغلبې داسميت نه خاص شو؟ **جواب**: مراد زمونږ خاص ضرر دي هغه دا چې دغه وصف دسبب دمنع صرف نه، نه وباسي

د غلبې معنی او تشريح

الغلبة: اول تعين دالف لام. دويم معنى دغلبې. دريم توضيح بالمثال. اول خبره شارح فرمائي چې الغلبة کښې الف لام عوضي دي او عوض دي دمضاف اليه نه يعنى غلبة الاسمية. **ومعنى الغلبة**: دغلبة معنى ده چې دغه اسم خاص شي په بعضې افرادو د دغه اسم پورې په داسې شان چې په دلالت کښې په دغه خاص اسم باندې قرينې ته ضرورت نه وي لکه اسود چې مطلق تور شي دپاره وضع شوي دي، بيا ددې استعمال په تور مار کښې داسې زيات شوي دي چې په فهميدلو ددغه مار کښې ددغه اسود نه قرينې ته ضرورت نشته. **فلذالك** :شارح دفع اعتراض کوي چې مخکښې دوه خبرې ذکر دي. اصالة فى الوصفية، او عدم ضرر دغلبة: نو که ذلك يو ته راجع کوي نو بل پاتې کيږي، او که دواړو ته ئې راجع کوي نو بيا مطابقت نه راځي په مابين داشاري او مشار اليه کښې؟ **جواب**: ذالك مذكور ته راجع دي نو په مذكور کښې دواړه راغلل،

صرف اربع فى مررت بنسوة اربع: لعدم اصالة الوصفية سره دليل ذکر کوي، **وامتنع**، شارح اشاره کوي وجه دامتناع ته چې غلبة داسميت په وصفيت باندې وصفيت ته ضرر نه رسوي نو اسود او ارقم غير منصرف شو. **اسود و ارقم للحية**: په حيث صار اسمين سره شارح اشاره کوي، متعلق دللحية ته مخکښې اسود تور شي ته او ارقم برگ شي ته ونيل کيده نو وروستو اسود دتور مار دپاره نوم کيښودلى شواو ارقوم دبرگ مار دپاره،

وارقم وادهم: سره په حيث صار اسمين سره اشاره کوي متعلق دللقيد ته. **للقيد**: شارح اشاره کوي معنى دقيد ته چې داد اوسپنې هاتکړې ته وائي او تطبيق دمثال کوي دمثل سره په داسې شان سره چې ادهم د دهمة څخه کيښودل دي، خکه چې په دې کښې هم تور والى وي. نو په دغه مذكور اسماؤ کښې سببين يو وزن فعل او بل وصف

اصلي دي او که چیرته دغه اسماء په وصف اصلي کښې مستعمل شي نوبیا څو هیڅ اشکال نشته. یو به پکښې وصف حالي شي او بل وزن فعل وی. اوکه غلبة داسمیت پکښې راشي نو بیا به پکښې یو وصف اصلي اوبل وزن فعل وی.

وضعف منع افعی للحیة: چا ونیلی چې افعی دفعوة نه دي او داخباثت ته وائی . او بیا وروستو د ګنجی مار دپاره دا نوم اوګرځولی شو. ځکه دا هم خبیث مار دي دغه شان. **اجدل للصقر**: چاګمان کړي چې اجدل مشتق دي دجدل نه، او دا قوت ته وائی بیا وروستو دباز دپاره نوم کیښودلي شو. ځکه دا هم قوي وي. **واخیل للطائر**: چا ګمان کړي چې اخیل دخیلان څخه دي او دا خال ته وائی. بیا دهغه مارغه نوم کیښودلی شو چې خال خال وی. وجه دضعف ئی یوه داده چې دا خبرة یقیني نه ده چې داد دغو اسماؤ. څخه مشتق دي او په اصل وضع کښې وصف وو **اعتراض**: اصالت فی الوصفیت ئی ضعیف شو یعني غیر منصرف والی ئی ضعیف شو نو انصراف ئی هم ضعیف شو، نو ته ئی منصرف کوی څنګه منصرف والی او عدم انصراف پکښې علی السویه وګرځوه ؟ **جواب**: دلیل موجود دي په انصراف ځکه چې هر کله پکښې دواړه برابر وو نو اصل په اسماؤ کښې انصراف وو نو مونږ منصرف کړو.

د تانیث بیان

التا نیث اللفظی بالتاء: اول دفع داعتراض ، دویم تعین دمتعلق دبالتاء اول خبره چې دفع اعتراض **اعتراض** : تاویلی چې التانیث بالتاء او معنوی به هم دا رنګه وی، تا تانیث مقابل دمعنوی وګرځولو اودلته تقابل نه صحیح کیږي . ځکه کله کله ظهور دتاء په تانیث معنوی کښې هم کیږي؟ **جواب**: مراد د تانیث بالتاء نه تانیث لفظی دي او معنوی پشان دلفظی دي، خو په شرطیت د علمیت کښې. تانیث معنوی هغه ته وائی چې په مقابله کښې ئی مذکر حیوان وی: لکه امراة ددي په مقابله کښې مذکر حیوان شته چې رجل دي، او تانیث لفظی دا هغه دي چې په مقابل کښې مذکر حیوان نه وی، لکه ظلمة او بل تانیث سماعی دي چې د عربو څخه ئی سمعه هم داسي شوي دي، لکه اندامونه چې په بدن کښې دوه دوه دي لکه عین دا مونث سماعی دي

الحاصل بالتاء: سره دویم غرض. دلته شارح متعلق الحاصل صفت راوویستو نه

حاصلاً ددي وجه داده چې تانيث لفظي سبب دمنع صرف دي او دا په حقيقت کښې فاعل وي، نو دي دپاره الحاصل مناسب دي نه حاصلاً. او مراد دتاء نه هغه تاء ده چې په حالت دوقف کښې په هاء سره بدليږي. لکه طلحة. اوس هغه تاء چې هغه په هاء سره نه بدليږي په حالت د وقف کښې لکه اخت او بنت اوس که دادمذکر دپاره نوم اوګرځي نو دا به منصرف وی. ځکه صرف علميت پکښې شته او که دمونث دپاره ئې علم اوګرځوي نو دي کښې بياجواز دوجهينو دي. پشان دهندٌ ځکه که ديته ګوري چې شرط دتانيث معنوی پکښې شته چې تحرك الاوسط دي نو پکار دي چې منصرف شي، اوکه ديته وګوري چې تانيث معنوی او علميت پکښې دي نو پکار ده چې غير منصرف شي.

لاباالالف: سره شارح اشاره کوی چې دا بالتاء قيد احترازی دي په دي سره احتراز راغې دالف مقصوره و ممدوده نه. ځکه هغې کښې داشرط نشته. ځکه هغه لا زم دي داسم سره. **شرطه فی سببية منع الصرف:** سره غرض دفع داعتراض ده . **اعتراض:** ته وائې چې شرط دپاره تانيث هغه علميت دي،زه به درته اوښايم تانيث به پکښې موجود وي او علميت به پکښې نه وي. لکه امراةٌ؟ **جواب:** شرطيت دعلميت دا دپاره دوجود دتانيث نه ده بلکه دپاره دسببية دمنع صرف علميت شرط دي.

العلمية ای علمية اسم المونث: اول تعين دالف لام . دويم خبره دليل اول، دريم دفع داعتراض . څلورم دليل ثانی: اول خبره : په العلمية کښې الف لام يا عوض د مضاف اليه نه دي او يا دا الف لام عهد خارجی دي معهود په دي سره هغه علميت داسم مونث دي **ليصير التانيث لازماً الخ..** سره دويم غرض علميت ورلره ځکه شرط دي چې داتانيث لا زم اوګرځي ددغه علم سره ځکه اعلام محفوظ وی دتغير نه. **بقدرالامکان:** سره دريم غرض : ته وائې چې اعلام محفوظ وی دتغير نه زه به درته اوښايم علم به وي او تغير به پکښې راغلی وی لکه په ترخيم دمنادي کښې لکه يا عثمُ؟ **جواب:** اعلام محفوظ وی د تغير نه څومره چې ممکنه وی.

ولان العلمية: سره څلورم غرض چې دليل ثانی دي علميت دتانيث لفظی دپاره ځکه شرط اوګرځولی شو چې علميت سره پکښې ګويا وضع ثانی راغله او هر حرف چې وضع دکلمې راغلی وی. په دغه حرف سره نو دا نه جدا کيږي دکلمه نه. **والتانيث**

المعنوی: سره شارح موصوف دالمعنوی اوښودلو چی التانیث موصوف المعنوی صفت. **ای کا التاء التانیث اللفظی با التاء فی اشتراط العلمیة:** اول ذکر دوجی دتشبیه تانیث معنوی پشان دتانیث لفظی بالتاء په اشتراط دعلمیت کښی.

الاان بینهما فرقاً: دویم غرض دفع داعتراض: چی تانیث معنوی پشان دتانیث لفظی دي نو داسي به دي وئیلی وي تانیث لفظی او معنوی کښی فرق دي ، دي. په تانیث لفظی کښی علمیت شرط دي دپاره دوجود دغیر منصرف والی او په تانیث معنوی کښی شرط دي علمیت دپاره دجواز دغیر منصرف والی. **ولابد فی وجوبه من شرط آخر:** دریم غرض توطیه دمتن دپاره که چیرته ته غواړي چی وجوب دغیر منصرف والی راشی په تانیث معنوی کښی نو دهغه دپاره دري شروط دي.

وشرط تحتم تاثیره ای شرط الخ.. یو غرض معنی دحتم ، دویم غرض تاثیر دضمیر مرجع. دریم احدالامور الثلثة سره دفع داعتراض: اول خبره: معنی دتحتم وجوب ده، دویم خبره تاثیره کښی ضمیر راجع دي تانیث معنوی ته. دریم غرض دفع داعتراض: تا کلمه دا (او) راوړي او دا راځی دپاره دتشکیك نو ستا هم پکښی شك دي په موثر والی کښی ، یا اعتراض داسي دي چی او کله په معنی دا واو سره دپاره دجمع راځی نو معنی دا شوه چی کله دا دریواړه شروط په یو ځاي راغلل نو بیا به وجوب راځی. **جواب:** اودپاره دتنویع دي معنی دهریو دغه امور ثلثه ؤ څخه ځانته ځانته موثر دي.

الزیادة علی اثلاثة ای زیادة حروف الکلمة علی ثلثة: غرض دشارح تعین دالف لام کوی په الزیادة کښی چی دا عوض دي دمضاف الیه نه او زینب سره مثال ذکر کوی. **اوتحرک الحرف الاوسط:** شارح الحرف ذکر زیادت کړو دپاره دتعین دموصوف دالاوسط او سقر سره مثال ذکر کوی. **مثل ماه وجور:** سره بیان دمثال دعجمی ذکر کوی وانما شروطو: سره عوض وجه داشتراط ددي دري ذکر کوی، زیادة علی الثلاثة دا ثقیل دي په نسبت سره ثلاثة ته او تحرك الاوسط دا ثقیل دي په نسبت سره ساکن الاوسط ته او عجمه ثقیله ده په نسبت سره عربی ته نو ددي دریواړو ثقل دا ضعیف دي په نسبت سره ثقل دسببین ته نو دا مقابله د سببین دثقل نشی کولی نو غیر منصرف والی دا واجب شو او چی کله دا شروط ثلاثه نه وی نو بیا صفت دا مقابله دثقل سببین کولی شی نوبیا به

غیرمنصرف والی صرف جوازو لري
فهندٌ یجوز صرفه: اول غرض تفریع په مخکښې عبارت، مخکښې دا خبره ذکر وه چې دتانیث لفظي دپاره علمیت شرط دي. دوجوب دپاره او په ثاني کښې دمنع صرف دپاره او که په تانیث معنوي کښې غواړي چې منع صرف دوجوبي شي نو دهغې دپاره یو دشروط ثلاثو نه دي. هغه شروط یې ذکر کړل . اوس په هغې باندي تفریع ذکر کوي. چې جائز دي صرف د هندٌ جواز دلته په معنی دامکان خاص سره چې سلب د ضرورت دجانبینو څخه راغلی وی، یعنی انصراف او عدم انصراف دواړه ئې برابر وی
نظراً الی انتفاء شرط الخ... سره دلیل ذکر کوی دپاره دانصراف . منصرف ځکه جائز دي چې شرط دپاره دوجوب دمنع صرف دتانیث معنوي هغه شروط ثلثه وو هغه پکښې مفقود دي او عدم انصراف ئې هم جائز دي. دوجې دوجود دسببینو نه چې یو علمیت اوبل تانیث معنوي دي. په هندٌ کښې تانیث معنوي دي ځکه دا دیو مکان نوم دي او قاعده په اماکنو کښې داده چې که تعبیر ترینه په مکان سره اوکړي نو بیا خو مذکر دي. نو یو سبب پکښې پاتې شو. نویکار ده چې منصرف شي او که تعبیر ترینه په بقعة سره اوکړي نو دا خو مونث دي. نو پکار ده چې غیرمنصرف شي. دارنګې په قبائلو کښې انصراف جائز دي که چیرته په تاویل داب سره واخلی او عدم انصارف ئې جایز دي که چیرته ئې په تاویل دأُمّ سره واخلی . دارنګې مصر په قرآن کریم کښې غیر منصرف هم استعمال شوي دي لکه (ادخلو مصر الخ) ځکه دلته ترینه مراد بقعة ده اوپه (اهبطوا مصراً) کښې منصرف استعمال شوي دي ځکه دلته ترینه (ای بلد کان) مراد دي ،
اعتراض: په متن باندي: هند دا جزء دي موضوع واقع شوي دي یجوز صرفه ورلره محمول دي او جزء چې موضوع واقع شي نو هغه ته قضیه شخصیه وائی ، اود جزء استعمال خو په علومو کښې مهجور دي، بلکه په علومو کښې کلي استعمالیږي؟
جواب: ذکر دهندٌ او مراد ترینه هر اسم مونث دي چې دا شروط پکښې نه وي، **اعتراض**: هند مبتدا ده او یجوز صرفه ئې خبر دي او خبر حامل دهغه فائدي وي چې مبتدا څخه نه معلومیږي او که معلومیدو نو بیا ایراد دخبرته څه ضرورت نشته. اوس دلته چې تا

هند اونیل چی تنوین پري راغلو نوبیا یجوز صرفه ته ضرورت نشته ؟ **جواب:** هندٌ دا مکتوب غیر مقروء دي .

وزینب وصقر وماه وجور ممتنع صرفها: **اعتراض:** ته وائی چی زینب او سقر او ماه وجور دا ممتنع دي. ممتنع خو نه دي بلکه موجود دي؟ **جواب:** مراد د امتناع صرفی دي نه امتناع وجودي. **واما زینب:** غرض دلیل دغیر منصرف زینب او سقر او ماه وجور دا غي منصرف دي سببین په دي دریواړو کښې یو علمیت او بل تانیث معنوی دي او د وجوب دغي منصرف والي شروط هغه پکښې موجود دي. په زینب کښې زیادة علی الثلاثة شرط شته. او سقر کښې تحرك الاوسط شرط شته او ماه او جور کښې شرط هغه عجمه ده

فان سمی به ای بالمونث المعنوی الخ...سره غرض تعین دضمیر کوی چی د(به) ضمیر راجع دي مونث معنوی ته ، که چیرته مونث معنوی دمذکر دپاره علم اوګرځوي نو ددي دمنع صرف دپاره شرط هغه زیادة علی الثلاثة دي. **فشرطه فی السببیة منع الصرف:** دفع اعتراض : **اعتراض:** تا ونیلی چی دمسمی کولو دمذکر دپاره په مونث معنوی سره دي دپاره شرط هغه زیادة علی الثلاثة دي زه به درنه اوښایم چی زائد علی الثلاثة به نه وی او مسمی شوي به وي په دي سره مذکر لکه (قدمٌ)؟ **جواب:** دوجود دپاره دا شرط نه دي بلکه دمنع صرف والی دپاره ئی بیا دا شرط دي.

لان الحرف الرابع: سره دلیل ذکر کوی دپاره د اشتراط دحرف رابع ځکه حرف رابع دا په حکم د تاء التانیث کښې دي او قائمقام دهغه دي اوس ده زیادت علی الثلاثة معتبر کړو او هغه نور دوه نه. ځکه چی تحرك الاوسط دا قائمقام دحرف رابع وو چی حرف رابع راغلو نوقائمقام ته ضرورت پاتې نشو. او عجمه ئی معتبر نه کړه ځك هغه دپاره دقوت دتانیث وه. اوس په علم ګرځیدلو سره دپاره دمذکر هغه تانیث ختم شو نو مؤید ته هم ضرورت پاتی نشو.

فقدم منصرف: سره یوه تفریع ذکر کوی قدم دا منصرف دي چی کله ئی علم دپاره درجل اوګرځوی ځکه تانیث خو ترینه په علمیت سره زائل شو اودهغی قائمقام چی زیادت علی الثلاثة دي هم نشته او صرف علمیت خو موثر نه ګرځی په منع دصرف

کښې **وعقرب ممتنع صرفها**: سره یو غرض تفریع او دویم غرض ممتنع صرفها سره دفع داعتراض. **اعتـراض**: عقرب دا چې کلـه علـم اوګرځـولی شـی، دپـاره درجـل نـو غیر منصرف دي. لانه وان زال: سره اول دلیـل ذکر کوی ځکه چې تانیث خوئی دعلمیت دوجی نه ختم شوي لیکن حرف دا قائمقام دتانیث دي

بدلیل انه: په دي عبارت سره دلیل لپاره د دلیل ذکر کوی او دیته تدقیق وائی او چې دمدعی دپاره دلیل ذکر کړي نو هغی ته تحقیق وائی، حرف رابع په عقرب کښې ځکه قائمقام دتانیث دي چې دقدمٌ تصغیر کله راوړي نو تـاء مقدره پکښـې ظاهریږي، لکه څرنګه چې قاعده دتصغیر تقاضا کوی نو (قدیمةٌ) وئیلی شی په خلاف د عقرب، ځکه ددي په تصغیر کښې تاء نه ظاهریږي، نو معلومه شوه چې حرف رابع دا قائمقام دتانیث دي، نو عقرب غیر منصرف شو، دوجی دتانیث او علمیت نه.

د معرفی بیان

المعرفـة ای التعریـف: اول غـرض دشارح دفـع داعتـراض ده **اعتـراض**: معرفه عبارت دي دهغه شی نه چې وضع وی دپاره دذات معینه نو داخو ذات مـع الوصف شو اونور اسباب دمنع صرف صفات دي فقط؟ **جواب**: ذکـر دمعرفـه مـراد ترینـه تعریف او تعریف داصرف وصف دي. **لان سبب منع الصرف**: شارح دلیـل ذکر کـوی چې مراد ترینه تعریف ځکه دي چې سبب دمنع صرف هغه وصف د معرفه دي چې هغه تعریف دي ذات معرفه سبب نه دي.

شـرطها ای شـرط تاثیرهـا: سره دفـع داعتـراض ده **اعتـراض**: تاوئیـل چې شرط دمعرفه دپاره علمیت دي زه به درته اوښایم چې معرفه به وي او علم بـه نـه وي لکه الرجل؟ **جـواب**: داشـرط دپـاره دوجـود دمعرفـی نـه دي بلکـه دسببیت دمنـع صـرف دپـاره دي **شرطها ان تکون علمیة**: اول غرض دشارح دفع داعتراض، دویم تعین دتـاء، دریم دلیـل دپاره دمتن، څلورم دفع داعتراض. **ای کون هـذا النـوع**: اول غـرض، **اعتـراض**: تاوئیل چې دمعرفی دپاره شرط علمیت دي نولازم شو شرطیت د شی الی نفسه یادا چې معرفه بـه علمیت کښـې موجودیږي، نوبیـا خـو ظرفیـت دشـی الـی نفسـه راغلـو ځکه ظرف اومظروف دواړه یو شی وی؟ **جواب**: معرفه جنس دي او معرفـه عامـه دهٔ علمیت الف لام

موصولات منصرف دا ټول پکښې موجود دي نو ظرفيت يا شرطيت دخاص راغي عام لره.

اعتراض: ان تكون كښې ان مصدريه دي او ان مصدريه چې په فعل مضارع داخل شي نو هغه لره په تاوئيل دمصدر سره ګرځوي نو تقدير داسي شو چې (كونها) او په علميت يا تا مصدري دي او يا تا مصدري خپل مدخول لره يا ملحق به لره خبر ګرځي دپاره دكان محذوفه سره داسم محذوفه نه نو تقدير داسي شو چې كونها تقديربه داسي شو (كونها كونها علماً) نو لازم شو تكرار او تكرار دا شنيع وي ځكه چې بنا دمتونو په اختصار باندي وي. **جواب:** (كون) دا په دوه قسمه دي يو په معنى دضرورت سره او بل په معنى دثبوت سره ، او د اول قسم كونها نه معرفه او دويم كونها څخه علميت مراد دي، نو معنى داسي شوه چې كون دمعرفى ثابت په علميت كښې نو تكرار رانغلو ، نو د دوو هم غرض بيان هم اوشو چې (يا تا) يا مصدري دي او يا نسبتي دي .

وانما جعلت: سره دريم غرض ذكر كوي چې دليل د متن دي، دمعرفى نور اقسام مو معتبر نه كړه، صرف علميت مو معتبر كړو ، ځكه كه دمعرفه دپاره شرط مضمرات او مبهمات شي نو دا خو مبني دي او غير منصرف خو دقبيلى دمعرباتو څخه دي او تعريف باللام او بالاضافة موشرط نكړو ځكه دا خو غير منصرف لره منصرف كوي، نو صرف علميت پاتي شو نو موصرف علميت پاتي شو نو مونږ ورلره علميت شرط كړو.

وانما جعل المعرفة سبباً: سره څلورم غرض ذكر كوي اعتراض په دوو طريقو سره راځي. اول بناء دمتونو په اختصار باندي وي چې په معرفه كښې صرف علميت شرط دي نو داسي اووايه چې علميت دا سبب دي او معرفه خو خود به خود ده، دويم اعتراض دا چې ستا كتاب ماخوذ دصاحب دمفصل نه دي هغه علميت سبب ګرځولى ته ئي ولى نه ګرځوي ؟ **جواب:** ما معرفه سبب كړه او علميت مى ورلره شرط اوګرځولو دپاره ديونكتى او هغه دا چې اسبابو دمنع صرف كښې فرعيت دي او فرعيت دمعرفه دا ظاهر دي دتنكير دپاره په نسبت سره فرعيت دعلميت ته تنكير لره ځكه نكره دا فرعه دتنكير ده، بلا واسطه ځكه چې اول به يو شي نكره وي بيا به معرفه ګرځي ، لكه د رجل نه الرجل او علميت دا فرعه دتنكير ده خو په واسطى دمعرفى سره ځكه دا قسم دي د معرفى او معرفه فرعه دتنكير ده .

د عجمه لغوی، اصطلاحی تعریف او تشریح

العجمه: عجمه په لغت کښې عدم فصاحت فی تکلم ته وائی **وهی کون اللفظ مما وضع الخ**.. اول معنی دعجمه او غرض پکښې دفع داعتراض ، دویم توطیه او تمهید: **اعتراض**: عجمه دا ذات مع الوصف دي او نور اسباب دمنع صرف ټول اوصاف دي نو شمارل ددي اسبابو دمنع صرف څخه صحیح نه دي؟ **جواب**: مراد عجمه نه کون اللفظ مما وضع غیر العرب نو کون دا مصدر دي او مصدر دا صرف وصف وی

ولتاثیرها: سره توطیه او تمهید ذکر کوی دپاره دمتن آتی چی دپاره دتاثیر دمنع صرف دعجمه دوه شرطه دي، اول شرط علمیت دي ، دویم شرط تحرك الاوسط او زیادة علی الثلاثة اي منسوبة الی العلم: تعین د یا تاء ، دا یا تاء نسبتی دي ځکه علمیت دا فرد دي دافرادو د عجمی نه او یا تاء مصدري نه دي ځکه بیا به علمیت د فرد شی دافرادو دعجمی نه .

فی اللغة: اعتراض: عجمه مشروط ده او ان تکون کښې ضمیر راجع دي عجمه ته نو لازم شو ظرفیت دشی الی نفسه . او بل دا چی (فی) په معنی دظرفیت سره دي او ظرفیت دا په دوه قسمه ده،اول حقیقی لکه الماء فی الکوز ، دویم مجازي لکه ظرفیت دخاص وي دپاره دعام او دلته یو هم نه دي، داول عدم صحت خو ظاهر دي او دویم هم نه صحیح کیږي ، ځکه دلته ظرفیت دخاص عام لره نشته دي **جواب**: فی اللغة العجمه دلته عجمه عامه ده او لغت دا خاص دی نو ظرفیت دخاص راغی عام لره .

بان تکون متحققة: اول غرض تعمیم ، دویم توضیح با لمثال ، دریم وجه داشتراط ،څلورم تفریع :

تقسیم د عجمی حقیقی او حکمی طرف ته

حقیقة او حکماً: اول دا چی په عجمه کښې حقیقتاً علم وي لکه، (ابراهیم) او یا به حکماً علم وی، مطلب دا چی په عجمو کښې نو دا نوم وو او عربو دا نقل کړي او علم ئي وګرځوی ، اوهیڅ قسمه تغیر پکښې ونکړي، لکه (قالون) دا په عجمو کښې هر جید شی ته وئیل کیدلو یعنی اسم جنس وو او عربو بیا دارا نقل کړو او دیو جید قاري دپاره چی حضرت نافع ﷺ وو علم اوګرځولو نو دا حکماً علم وو په عجمو کښې ، او

دویم غرض چی توضیح بالمثال وه هغه هم اوشو.

وانما جعلت شرطاً: سره دویم غرض، علمیت دعجمه دپاره ځکه شرط اوګرځول شوه چی دتصرف کولو څخه بچ شی، چی ضعف پکښی را نه شی نو بیا به صلاحیت دمنع صرف والی نه لري **فعلی هذا**: سره څلورم غرض چی تفریع ده ذکر کوي بنا، په دي چی دغه اسم به علم وی په عجمه کښی نو که په مثل د لجام نی علم اوګرځولو دپاره دیو کس نو دا به غیر منصرف نه وي، ځکه چی دا علم نه وو، په عجمه کښی او دلیل په دي چی دا علم نه وو په عجمه کښی ځکه عربو په دي کښی تصرف کړي دي دلګام نه لجام ته، سیبویه او اکثر نحاة دا وائی چی زیادة علی الثلاثة وی نو تحرك الاوسط ته ضرورت نشته دي.

ای علی ثلثة احرف: دي عبارت سره اشاره کوی الف لام ته چی الف لام په الثلاثة کښی عوض دمضاف الیه نه دي چی احرف دي **لئلا یعارض الخفة احد السببین**: سره دلیل ذکر کوی د اشتراط دا شرطین ځکه اولګولی شول چی خفت دا معارضه د احد السببین ونه کړي چی بیا به سببین موثر اونه ګرځی په منع دصرف کښی، **فنوح منصرف**: اول تعین دمتفرع علیه. دویم اشاره اختلاف ته. دریم دفع اعتراض، څلورم اعتراض، پنځم، جواب: **فانصراف**: اول غرض ،نوح منصرف دي دا تفریع ده په شرط ثانی باندي.

اختلاف په نوح کښی

وهذا اختیار المصنف: دویم غرض چی اختلاف دي، یو مذهب دمصنف دي. دي وائی چی نوح منصرف دي ځکه عجمه سبب ضعیفه دي او دا سبب والی امر معنوی دي، علامه لفظیه دي لره نشته نو جائز نه دي معتبر کول دعجمه سره دسکون داوسط نه، دویم مذهب دجار الله زمخشري دي، دي وائی چی نوح پشان دهندٌ دي هلته جواز دوجهینو وو دلته به هم جواز دوجهینو وي. واما التانیث. دریم غرض ، **اعتراض**: تاوئیل چی عجمه دا امر معنوی دي نو تانیث خو هم امر معنوي دي، هلته جواز دوجهینو غوره کړو دلته هم داسی اوکړه یعنی په عجمه کښی ؟ **جواب**: دتانیث معنی دپاره علامه شته چی په بعضو تصرفاتو کښی ظهور راځي لکه په تصغیر کښی نو تانیث لره یو نوعه قوت

شته، نو ددي وجې هلته سره دسکون داوسط نه جُواز دوجهینو معتبر کولی شو او په عجمه کښې نه، **فان قلت:** سره څلورم غرض اعتراض **اعتراض:** عجمه سره دسکون داوسط معتبر کړي ده په ماه وجور کښې او دلته ئې نه معتبر وی؟ **قلنا:** سره پنځم غرض ، په ماه وجور کښې مونږ عجمه معتبر کړي تقویت دسببینو آخرینو دپاره ددي چې سکون داوسط دامقابل دسببینو اونه ګرځی ، اوددي خبري نه چې دا دپاره دتقویت دسببینو معتبر کړی شوي دي دینه دالازمیږي چې دامستقل سبب دي .

(**شتر وابراهیم ممتنع صرفهما**) اول دفع داعتراض ،دویم متفرع علیه تعین، دریم دفع داعتراض ، څلورم قاعده کلیه، پنځم صرفهما: اول غرض ته وائی چې ابراهیم اوشتر داممتنع دي داخوممتنع نه دي داخو راغلی دي . **جواب:** مراد امتناع نه ده، بلکه امتناع صرفی مراد ده ، لوجود الشرط الثانی فیهما ، سره دویم غرض ذکر کوی چې دا تفریع ده په شرط ثانی باندي، وانما اختص التفریع بالشرط الثانی ، سره دریم غرض دفع داعتراض اوله طریقة داعتراض : دعجمه دپاره دوه شرطه وو، یو علمیت اوبل احد الامرین په دویم شرط، تفریع هم وجود او هم عدما اوکړه اوپه شرط د اونه کړه، دویمه طریقه صحیح ده په دویم شرط دتفریع کوله خو په وجودي باندي اولی وه چې مخکښې د کړي وی او تا عدمی مقدم کړي ده. **جواب:** زمونږ مقصود تفریع کول نه وو، بلکه تعین او بیان دماهوَ الحق وو. چې په انصراف او عدم انصرافَ کښې دنوح کوم یو حق دي .

د انبیاء نومونه منصرف دی او کنه

واعلم ان اسماء الانبیاء علیہ السلام: سره څلورم غرض ، **قاعده کلیه:** اسماء دانبیاء علیہ السلام ټول غیرمنصرف دي، بغیر دمحمد ﷺ ،صالح علیہ السلام ، شعیب علیہ السلام او هود علیہ السلام نه خکه داعربی اسماء دي . **وقیل ان هود کنوح:** سره پنځم غرض بیان داختلاف ، بعضی وائی چې هود پشان دنوح دي یعنی جواز دوجهینو پکښې دي اودلیل چې سیبویه رحمۃ اللہ علیہ دا پیوسته کړي د نوح سره او تائید دسیبویه رحمۃ اللہ علیہ دقول دا خبره کوی چې عرب دا د اولاد داسماعیل علیہ السلام هم مخکښې تیر شوي دي .

د جمع بیان

الجمع وهو سبب قائم مقام: اول غرض تعین دالف لام کوی چی الف لام په الجمع کښی عهدي دي او معهود په دي سره جمع ده چی قائم مقام دسببینو وي. **شرطه ای شرط قیامه:** سره دفع داعتراض: ته وایی چی دجمع دپاره صیغه دمنتهی الجموع شرط ده، زه به درته اوښایم چی جمع به وي او منتهی الجموع به نه وي. لکه مسلمون؟ **جواب:** شرط دپاره دقیام ددي دي په مقام دسببینو. **منتهی:** دا صیغه دمصدر میمی ده نو دلته اضافت دمصدر شوي دي، فاعل ته نو تقدیر داسي شو چی صیغه منتهی بها الجموع. **وهی الصیغة التی:** اول تعریف لفظی، دویم تعریف معنوی، دریم وجه تسمیه، څلورم دفع اعتراض، پنځم وجه دداشتراط: اول خبره دا ده چی دا هغه صیغه ده چی اول ئی مفتوح وی او ثالث ئی الف وی او مابعد دالف څخه دوه حرفه وی او یا دري وي خو اوسط حرف ئی ساکن وی. لکه مساجد او مصابیح.

وهی الصیغة التی: سره دویم غرض تعریف معنوی دا هغه صیغه ده ی‌چه په جمع تکسیري سره بیا نه جمع کیږي. **ولهذا سمیت:** سره دریم غرض وجه تسمیه ددي وجی نه چی دا بیا په جمع تکسیري سره نه جمع کیږي مسمي کړي شوه په منتهی الجموع سره. **ولانها جمعت فی بعض الصور الخ...** سره څلورم غرض چی دفع داعتراض ده. چی جموع جمع ده او اقل دجمع دري دي نو معنی دا شوه چی دا جمع به کم از کم دري واري جمع شوي ده، او سره ددینه چی بعضو ځایونو کښی دوه واري جمع شوي ده، لکه اناعیم او بعضو ځایونو کښی یو واري جمع شوي ده لکه مساجد؟ **جواب:** مراد دجموع نه مافوق الواحد ده نه به جمع کیږي په تکسیري سره مګر که چیرته جمع شوه په سالمی سره نو جمع کیدي شی، لکه (ایامن) دا جمع ده صیغه دمنتهی الجموع ده او غیر منصرف ده او جمع شوي په ایامنین سره او همدارنګه صواحب دا جمع شوي ده په صواحبات سره.

وانما اشترط: سره پنځم غرض ذکر کوی چی وجه داشتراط ده، دجمع دپاره شرط دا اوګرځولی شو چی دا به صیغه دمنتهی الجموع وی دپاره ددي چی دا صیغه محفوظه شی د قبلولو دتغیر نه. **بغیر هاء منقلبة عن تاء:** اول غرض دفع داعتراض، دویم دفع اعتراض: دریم وجه داشتراط، څلورم رد. پنځم خلاصه: اول غرض دفع

اعتراض ده اعتراض وارديږي چې بغيرها، چې وي نو غير منصرف به وي نو (فرازنة) صيغه دمنتهي الجموع ده بغير هآء ده نو غير منصرف دي شي او حال ده چې غير منصرف نده ؟ **جواب**: مراد د ها، نه هغه ها، ده چې منقلبة وى دتاء تانيث څخه په حالت دوقف کښې

والمراد منه: دويم غرض دفع اعتراض : فوارده صيغه دمنتهي الجموع ده، الف دي او بعده حرفان هم دي او بغير ها، نه ده پکار ده چې منصرف شي ؟ **جواب**: مراد د ها، نه تاء تانيثي ده چې په آينده کښې ها، ګرځي او دا خو ها، دنفس کلمې څخه ده، څکه په مفرد کښې هم موجود ده **وانما اشترط**: سره دريم غرض ذکر کوئ، دابغير ها، شرط څکه اولګولى شو، که چيرته سره دها، شي نو دا به بيا په وزن دمفرداتو شي لکه فرازنة چې په وزن د كراهية او طواعية سره ده نو په دي سره به نقصان راشي په قوت دجمعيت کښې

ولا حاجة: سره څلورم غرض ذکر کوی، اصل کښې دا اعتراض دي چې مدائني دا صيغه دمنتهي الجموع ده، څکه بعد الالف حرفان شته او غير منصرف نه دي، دي نه بعضو خلقو داسي جواب کړي دي دمصنف په متن کښې يو بل قيد ولګول پکار وو، چې لا ياءً نسبيةً ، نو شارح رد وکړو چې دا اعتراض هم غلط دي او جواب هم څکه چې مدائنى دا مفرد محض دي نه في الحال جمع ده او نه في المال او جمع هغه مدائن دي او غير منصرف هم دي په خلاف دفرازنة سره څکه دا جمع ده نو بغير ها، قيد ئي ددي دخروج دپاره اولګولو

فعلم مما سبق: سره خلاصه ذکر کوی کوم چې پنځم غرض دي خلاصه دا چې صيغه دمنتهي الجموع دا په دوه قسمه ده يو سره د ها، يو بغير د ها، ، بغير دها، نه دا غير منصرف ده او سره دها، نه چې وى نو دا منصرف ده. **نکته**: صيغه د منتهي الجموع کښې ده اوونيل چې بغير ها، او په وزن فعل کښې وئيلى وو چې غير قابل للتاء مطلب دا چې نه به في الحال پکښې تاء وي او نه به په آئنده کښې صالح دپاره دتاء وي نو هله به غير منصرف ګرځي او په صيغه دمنتهي الجموع کښې داسي نه ده

واما فرازنة: بعضو شارحينو وئيلى دي چې كه اما تفصيلي وى نو اجمال كوم

دي او كه واو عاطفه وي نو معطوف عليه كوم دي، ځكه دا جمع نه ده. بعضو شارحينو وئيلي دي چې واو استينافيه دي او دا تصريح بما علم ضمناً ده او اما هم داستيناف دپاره ده او دا جمله معترضه ده اوضع شوي ده دپاره د دفع توهم چې متوهم به وئيل چې فرازنة خو بغير ... نه وي او بعضو وئيلي چې واو عاطفه دي او معطوف عليه مقدر دی چې اما لجمع اذا وحد الشروط فقد علم حكمه

واما فرازنة فمنصرف: دلته يو اعتراض واردېږي **اعتراض**: فرازنة مبتدا او منصرف ورلره خبر دي مطابقت بين مبتدا والخبر رانغلو؟ **جواب**: په څو طريقو سره شوي دي اول منصرف داخبر دي خو دا جامد دي ځكه دانوم دي دپاره دهر هغه اسم چې منصرف وي نو مطابقت به هله ضروري وي چې خبر مشتقي وي اودلته خو خبر جامد شو. دويم دامنصرف خبر دي دپاره دمبتدا خو دمبتدا يو جزء چې مضاف دي حذف دي تقدير داسي دي چې واما نحو فرازنة فمنصرف . نو دا خبر مذكر دي په اعتبار دمضاف سره او دا جواب صحيح هم دي ، دريم جواب دادي چې دا علم دي دپاره د امثالو ددي فرازنة نو دا علم شو نو منصرف ځكه مذكر دي، اوس پري اعتراض واردېږي چې اوس خو غير منصرف شو دوجې دعلميت اودتانيث نه اودا منم خو معترض وائي چې غيرمنصرف شو نو تنوين پري څرنګه راغلو ؟ **جواب**: دا تنوين تمكن نه دي بلكه دا تنوين دمشاكلت دي

په علماً كښې نسخ

وحضاجر علماً للضبع: په علماً كښې دوه نسخې دي يو دا چې دا علماً دا مرفوع دي او خبر دي دپاره دمبتدا محذوفي چې (وهو) دي دا مبتدا اوخبر دواړه خبر دپاره دحضاجر مبتدا او غير منصرف دا ورلره خبر ثاني دي . دويمه نسخه داده چې دا علماً منصوب دي او حال دي دمبتدا نه چې حضاجر دي او حال دمبتدا نه صحيح دي په نزد دي ابن مالك اويا دا حال دي په غير منصرف كښې دمضاف اليه نه چې منصرف دي او حال دمضاف اليه نه صحيح دي .لكه ملة ابراهيم حنيفاً كښې اوس په دي دا اعتراض واردېږي چې لكه څرنګه چې دمضاف اليه په مضاف باندي تقديم نه دي جائز دا رنګې متعلقات دمضاف اليه هم په مضاف نشي مقدم كيدي. نو دلته هم داسي وئيل پكار

دي چې وحضاجر غير منصرف علماً ؟

جواب: قاضي بيضاوي په غيرالمغضوب کښې دا تحقيق ذکر کوي چې (غير) دا په دوه قسمه دي ، اول صفتي ، دويم په معنى دلانافيي سره ، اودا بيا په حقيقت کښې مضاف مضاف اليه نه وي په دي صورت کښې بيا تقديم دمضاف اليه او دمتعلقاتو دواړه جائز دي په مضاف ځکه دا په حقيقت کښې مضاف اليه نه وي نو دلته هم غير په معنى ثاني سره دي .

قوله هذا جواب سوال مقدر: اول ذکر دغرض دماتن او غرض پکښې دفع داعتراض ، دويم وجه دنصب دعلماً : **اول غرض** : حضاجر او سراويل دا خو مفردات دي نو خروج عن البحث راغلو ، نو ده جواب اوکړو چې دا جواب دي دسوال مقدره څخه ، او هغه دا چې حضاجر صيغه دمنتهى الجموع ده او صيغه يا وزن دمنتهى الجموع دا خو ورلره شرط دي اوسبب په حقيقت کښې جمع ده نو چې شرط راغلو او مشروط نشته نو حضاجر بياولې غير منصرف استعماليږي . **جواب**: جمع په دوه قسمه ده ، اول حالاً ، دويم اصالة ، که دا حالاجمع نه وي نو اصالة جمع ده ځکه دامنقول ده دجمع نه لکه رجال ديو سړي دپاره نوم اوګرځوي نو اصالة جمع ده .

وحضاجر حال کونه علماً: سره دويم غرض چې وجه دنصب ده ذکر شوه ، اصطلاح: يو جنس دي بل اسم جنس او بل علم جنس او بل علم شخص دي ، اول : جنس وويل کيږي کلي ته چې صدق ئې په کثيرينو کيږي او معلوميت او معهوديت پکښې نه وي لکه اسد ، اوس ددغه ماهيت کلي دپاره چې کوم لفظ وضع کړي هغې ته اسم جنس وائي . لکه همدا لفظ د اسد ، او که چيرته دغه جنس کښې لحاظ دمعلوميت او معهوديت اوشي ، نو ديته علم جنس وائي لکه اسد جنس د زمرو ته وائي ، او اسامه دا يو جماعت د زمرو ته وائي . ددي وجې نه په اسم جنس احکام دنکري جاري کيږي اوپه علم جنس احکام دمعرفې جاري کيږي ، که چيرته دغه مفهوم کلي کښې ئې فرد واخلې نو ديته علم شخص وائي لکه زيد چې حيوان ناطق کښې واخلي ، البته يوه خبره ده چې علم جنس دوجې دضرورت څخه دوي معتبر کوي لکه يو لفظ په عربي کښې غيرمنصرف استعماليږي ، او غير منصرف کښې سببين پکار وي ، نو دوي کښې

علميت معتبر کړي. لکه اسامه کښې مخکښې صرف تانيث وو. نو دوي پکښې دوچې دضرورت نه علميت معتبر کړي.

فانه كان فى الاصل: اول تتميم دجواب. دويم اعتراض. دريم جواب. څلورم دفع اعتراض: اول خبره حضاجر کښې جمعيت اصلي دي ځکه دا منقول ده دجمع نه ځکه دا په اصل کښې جمع دحضجر ده په معنی ده عظيم البطن سره په دي سره مسمی. کړي شوه ګويا چې هر فرد د دوي يو جماعت دعظيم البطن دي نو معتبر په حضاجر کښې جمعيت اصلي دي. **فان قلت**: سره دويم غرض اعتراض په منع صرف دحضاجر کښې جمعيت اصلي اعتبار کولو ته څه ضرورت نه وو ځکه چې يو پکښې علميت دي اوبل پکښې تانيث دي چې ضبع مونث دضبعان دي. **قلت**: سره دريم غرض: جواب: جمعيت اصلي ځکه معتبر وو چې علميت پکښې موثر نه دي که چيرته موثر وی پکار وه چې بعد التنکير دا منصرف ګرځيدلی وي او سره ددينه چې غير منصرف وي او تانيث هم پکښې غيرمعتبر دي ځکه چې دا علم جنس دضبع دي مذکر او مونث پکښې برابر دي، ددي سره يو بل سوال هم دفع شو هغه داچې علم جنس دي نو د دوي په مابين کښې خو تضاد دي، **جواب**: علميت دلته معتبر نه دي

وانما اكتفى المصنف: سره څلورم غرض دفع داعتراض: **اعتراض**: تا چې دجمع څخه اصالةً جمع واخستله نو پکار ده چې وئيلی د وي چې شرطه ان يكون جمعا فى الاصل لکه په وصف کښې د چې وئيلی وو. **جواب**: داد پاره ددي چې متوهم دا وهم ونکړي چې جمع يو اصلي ده او بله عارضي او اصلي به غير منصرف وی او عارضی به نه وي او سره ددينه چې جمع عارضي با لکل نشته. **وسراويل جواب سوال مقدر**: اول غرض شارح غرض دماتن ذکر کوی، او غرض پکښې دفع داعتراض ده **اعتراض**: سراويل صيغه دمنتهی الجموع ده او جمع نه ده او صيغه دمنتهی الجموع ذا يواخې موثر نه وی په منع دصرف کښې بغير دجمع نه اوس دلته پکار ده چې سراويل دا منصرف شي او سره ددينه چې غير منصرف ده، ددي نه دري جوابو نه دي

فاجاب: اول جواب دادي چې ددي په منصرف والي او غير منصرف والي کښې اختلاف دي، خو اکثراستعمال ئې غير منصرف کيږي. نو چې غير منصرف شو نو دا

اعتراض پري وارديږي ، نو ددي جواب دادي چې دا عربي اسم نه دي بلکه عجمي دي او حمل دي په موازينو خپلو چې مصابيح او اناعيم دي ، نو جمع په دي کښې اګرچې حقيقتاً نه ده بلکه حکماً ده **فبناء هذا الجواب**: سره رد په بعضو خلقو کوي بعض خلقوونيلي دي چې دا جواب مبني دي په زيادت دسبب آخر باندي چې هغه حمل دي په موازينو خپلو نو ده پري رد اوکړو چې دا جواب مبني دي په تعميم دجمع باندي نه په زيادت دسبب آخر باندي.

وقيل هو اسم عربي: سره دويم جواب ذکر کوي . چې دا اسم عربي دي اوګرچې حقيقتاً جمع نه ده بلکه جمع ده. دسروالة خو سروالة ورلره تقديراً مفرد ګرځولي شوي دي **تقديراً فرضا فانه**: اول غرض معنی دتقديراً او دويم غرض دليل فانه سره ذکر کوي معنی دتقديراً فرضاً ده ، دويم غرض هر کله چې موجوده شوه په کلام دعربو کښې غير منصرف او دا قاعده ده چې وزن دمنتهی الجموع يواځې مانع دمنصرف والی څخه نه وو نو مونږ فرضاً دسروالة جمع اوګرځوله دپاره دحفاظت ددغه قاعدي نوګويا کښې دسراويل هره ټوټه دا مسمي کړي شوه په سروالة سره اوبيا جمع کړي شو .په سراويل سره . **وذا صرف اي سراويل**: سره دريم جواب ذکر کوي سراويل غير منصرف دسره نه دي ځکه دا جمع حقيقتاً نه ده نو ستا اشکال هم وارد نشو. **باالنقض به علي قاعدة الجمع** : اول غرض دفع داعتراض.

اعتراض: اشکال نکره ده او نکره چې واقع شي په سياق دنفي کښې عموم فائده کوي نو معنی دا شوه چې جنس اشکال نه وارديږي سره ددينه چې خاص اشکال خو وارديږي هغه چې مونږ اوونل چې فرازنة دا به بغير هاء وي که چيرته شي نو خرابي به پکښې راشي ځکه وزن به چې مفرد شي او جمعيت کښې به ئې فتور راشي اوس مصابيح او اناعيم دا په وزن دسراويل دي او دامفرد دي پکار ده چې دمفرد دموازنت دوجې نه منصرف شي؟ **جواب**: مراد زمونږ خاص اشکال دي چې په سراويل واقع کيده. **اعتراض من الخارج**: قاعده خرابه شوه چې تا د اشکال نه خاص اشکال واخستلو؟ **جواب**: نکره چې په سياق دنفي کښې واقع شي عموم فائده کوي خو چې قرينه مخالفه موجوده نه وي او دلته قرينه مخالفه موجوده ده چې په مونږ کوم اشکال

وارد شوي وو هغه مراد دي،

اوس په اناعيم اومصابيح چې کوم اعتراض وارد شوي وو چې دا په وزن دمفرداتو دي نو جمعيت کښې ئې قصور راغلو نو دهغې ځخه اول جواب دادي چې جمع کښ په وزن دمفرد سره نقصان راځي خو چې مفرد اتفاقاً وي او سراويل دا اتفاقاً مفرد نه دي، او دويم جواب دادي چې په جمعيت دجمع کښې په موازنت دمفرد سره فتور راځي خو چې مفرد عربي وي او سراويل عربي مفرد نه دي بلکه عجمي دي

په لفظ جوار کښې تشريح

ونحو جوار اى كل جمع: واو اعتراضيه دی دا جمله معترضه ده . بين الكلامين او مقصود بيان دحكم دجوار دي، يا واو عاطفه دي او دا جمله عطف ده . په سراويل للقرب او حضاجر للاصل باندي، **اعتراض**: مولانا صاحب جواري قبل الاعلال صيغه دمنتهى الجموع ده ، اختلاف پکښې ندي پکار ده چې بالاتفاق غير منصرف شي، او بعد الاعلال منتهى الجموع نده، پکار ده چې اتفاقاً منصرف شي نو دا اختلاف پکښې ولې دي، ؟ **جواب**: حالت نصبي کښې بالاتفاق غيرمنصرف دي او درفعي او جري کښې دري مذهبه دي، اول قبل الاعلال او بعد الاعلال منصرف دي. دويم قبل الاعلال او بعد الاعلال غير منصرف دي، دريم قبل الاعلال غير منصرف اوبعد الاعلال منصرف دي، داول مذهب دليل قبل الاعلال ځکه منصرف دي چې په معرض دزوال کښې دي، اوبعد الاعلال ځکه منصرف دي چې صيغه د منتهى الجموع نه ده، د دويم مذهب دليل :قبل الاعلال ځکه غير منصرف دي. چې منتهى الجموع ده او بعد الاعلال ځکه غير منصرف دي چې المحذوف كا لملفوظ ، د دريم مذهب دليل : قبل الاعلال ځکه غير منصرف دي چې صيغه دمنتهى الجموع ده، او بعد الاعلال منتهى الجموع نده نو منصرف دي.

رفعاً وجراً اى فى حالتى الرفع والجر: رفعاً وجراً منصوب بنابر ظرفيت يا منصوب دي على نزع الخافض تقدير داسي دي چې حالها كقاض حالتى الرفع والجر ، كقاض: اول وجه دتشبيه، دويم دفع اعتراض ، دريم توضيح با لمثال ، څلورم فائده دقيد، بيان داختلاف . اول غرض : جوار پشان دقاض دي دفع **اعتراض** :جوار جمع او قاض مفرد

دي، نو تشبیه دجوار د قاض سره صحیح نه شوه ؟ **جواب**: تشبیه ئی بحسب الصورة ده په حذف دیاء او په ادخال دتنوین کښې . **تقول**: سره دریم غرض توضیح بالمثال لکه جاءتنی جوار ومررت بجوار

واما فی حالة النصب: حالت رفعی او جري کښې پشان دقاض دي او حالت نصبی کښې دا پشان دقاض ندي لکه رایت جواري . **فذهب بعضهم**: سره دریم مذهب دا مذهب دجاج دي دي وائی چی قبل الاعلال او بعد الاعلال منصرف دي، بعد الاعلال ځکه چی صیغه دمنتهی الجموع نه ده پاتی اوقبل الاعلال ځکه چی اعلال مقدم دي، نو دا اسم په معرض د زوال کښې دي نو کا الزائد شو . **والتنوین**: تنوین خو په پنځه قسمه دي، تنوین صرف خو پکښې نشته ؟ **جواب**: مراد دصرف نه تمکن دي نو تنوین دتمکن شو . **اعتراض**: نه وائی چی اعلال مقدم وی او منصرف او غیر منصرف دا وروسته وی، نو چی کلمه مرفوع منصوب او مجرور وائی نو بیا منصرف او غیر منصرف د کلمی سره سره وی او اعلال خو د کلمی سره سره نه وی؟ **جواب**: مراد دتقدم نه تقدم ذاتی دي. او تقدم ذاتی منافی نه وي دمعیت زمانی سره .

بناء علی ان الاصل: اعلال مقدم وی په غیر منصرف نو په منصرف هم مقدم وی نو بیا دي منصرف هم نه ؟ **جواب**: منصرف مقدم دي په غیر منصرف ځکه اصل انصراف دي . **وذهب بعضهم**: سره دویم مذهب چی دا غیر منصرف دي ،قبل الاعلال او بعد الاعلال دواړه. ځکه چی المحذوف کا لملفوظ . **اعتراض**: تنوین دکوم ځائی نه راغلو چی غیر منصرف شو ؟ **جواب**: تنوین عوضی دي تنوین الصرف او یا دواړه حذف شو اویاء نه مو تعبیر په تنوین عوضی سره او کړو دا دوه مذهبه شول او دریم مذهب مو دبهر نه ذکر کړو مخکښې . **وفی لغة بعض العرب**: سره یو بل قول ذکر کوی، دي وائی چی په حالت جري کښې به هم یاء ثابته وی لکه په حالت نصبی کښې چی ده مثلاً رایت جواري ومررت بجواري . دوي وائی چی اعلال باندي انصراف او عدم انصراف مقدم دي نو چی اعلال پکښې نه وي شوي نو صیغه دمنتهی الجموع باقی ده، نو غیر منصرف شوه

د ترکیب معنی او قیودات

الترکیب: **اعتراض**: دترکیب شمارل ستا داسبابو دمنع صرف نه صحیح نه دي ځکه اسباب د منع صرف من قبیل المفردات دي؟ **جواب**: دا هم اوس بعد الترکیب مفرد ګرځیدلي **اعتراض** بیا ورته ترکیب ولی وایي ځکه دا خو مفرد ګرځیدلی؟ **جواب**: دا په اعتبار دماکان سره لکه یتیم ته بعد البلوغ یتیم وائی . دا په اعتبار دماکان سره .
وهو صیرورة الکلمتین: اول بیان دمعنی د ترکیب . دویم بیان دیو قید ، دریم فائده دقید تعین دمعنی هلته کیږي چی چیرته احتمالات متعدد وی، دترکیب ډیري معناګانی دي، اول جعل المتکلم الکلام مرکبا. دویم معنی حاصل باالمصدر ، دریم معنی کلمتین . دلته دریمه معنی مراد ده یادلته دا تعریف دترکیب کو ي.
من غیر حرفیة جزء: بیان دیو قید دوه کلمی اویا زیاتی خو به یوه کلمه وګرځوي خو حرف به پکښی جزء نه وی حرفیة مضاف او جزء مضاف الیه او په مضاف مضاف الیه کښی مقصود هغه مضاف وی، دلته مقصود نفی دحرفیة ده د جزئیت نه ده. **فلا یرد**: سره فائده دقید ذکر کوی چی دریم غرض دي که دا قید نه وی نو اعتراض راتلو چی نجم دوه کلمی دي ، بصري دوه کلمی دي که دایو کس ته نوم کړي پکار ده چی غیر منصرف شی او سره ددینه چی دا منصرف دي، **جواب**: دایو جزء حرف دي **العلمیة لیامن**: سره وجه داشتراط ذکر کوی ، **وان لا یکون باضافة**: دا نور شروط ذکر کوی . لان الاضافة سره شرط ذکر کوی ، اضافة غیر منصرف منصرف کوی، نو دي به څنګه غیر منصرف لره شرط شی،

والاسناد: اوله خبره : دلیل ، دویم اعتراض ، دریم جواب : **لان الاعلام**: یو مرکب چی پکښی اسنادي وی، او ته ئی چالره نوم کړي داد قبیلی دمبنیاتو څخه شو ، لکه تابط شراً (فعل فاعل مفعول) ولی دیکښی اسناد دي او قبیلی دمبنیاتو څخه دي اګرچي علم شی ځکه دیکښی اشاره ده هغه قصه غریبی ته که تغیر او تبدیل پکښی اوکړي نو په هغه قصه غریبه کښی فرق راځی ، بل مثال لکه فی الصیف ضیعة اللبن یعنی موقع درنه تلی ده دا مونث دي لیکن که سړي ته ئی اووائی نو بیا به هم هغه صیغه به نه وائی ځکه اشاره ده پکښی قصی غریبه ته. دارنګه تابط شراً اي جعل فی

الابط شراً که دا علم هم شي نوتعبير او تبديل به پکښې نه وي، ځکه قصه غريبهٔ کښې فرق راځي او دا دقبيلي دمبيناتو نه دي او غير منصرف خو معرباتو دقبيلي څخه دي.

فان قلت: سره دويم غرض بيان داعتراض دمصنف په عبارت کښې قصور دي، ځکه په مصنف يو اعتراض راځي ا دهغې جواب دپاره يو قيد لګول پکار وو او هغه نشته دي. لکه خمسة عشر، (سيبويه او نفطويه) دا چالره نوم کيږده ترکيب پکښې شته او علميت پکښې راوله نو غير منصرف دي شي سره ددينه چې دا دمبنياتو څخه دي. **قيل**: والاوائي چې اضافت به نه وي اسناد به له وی او صرف صوت به نه وي نو سيبويه اووتلو او جزء ثاني به متضمن حرف لره نه وي، نو خمسة عشر اووتلو، نو دي جواب نوی چې ! حُملنا: مادا قيدونه لګولو ځکه دا مې مخکښې وئيلي چې جزء ثاني به متضمن وی حرف لره او حرف صوت به وي، ولااسناداً به وي هم نه وي وئيلي، **جواب**: دا مې هلته نه ووذکر کړی دلته مې ولااسناداً اووئيلي **مثل بعلبک**: دي سره تطبيق دمثال دممثل سره ذکر کوی.

بيان دِ والا لف والنون

والالف والنون: کښې الف لام عهد خارجي شو، مراد ترينه هغه الف نون دي چې په اجمال کښې ذکردي، **تسمية**: سره وجه تسميه چې داد حروف زوائد څخه دي، حروف زوائد پس دتمام دکلمې څخه راځي. **وتسميان**: سره دريم غرض دا مشابه دي دمضارع سره، ديته الف نون مشابهتين وائی لکه ددوي مشابهت دي دالفين دتانيث سره په عدم دخول دتاء تانيث کښې.

وللنحاة: سره څلورم غرض: دالف نون په سببيت کښې اختلاف دي، کوفيان وائی دا فرع دمزيد عليه دي، مشابه دي دفعل سره په وجود د فرعيتين کښې، نو مشابهت سره داسم خواص لاړل چې جر او تنوين دي، بصرين وائی چې دا سبب د منع صرف دوجې دمشابهت دالفين دتانيث سره هغه وو نو دا هم سبب شو. **والراجح**: سره پنځم غرض راجح قول ثاني دي چې داد وجې دمشابهت دالفين دتانيث سبب دي نه دوجې دوجود دفرعيتين نه، ځکه ندمانهٔ کښې فرعيت دي اوسره ددينه چې غير منصرف نه دي، دا قول د مصنف نه شارح نقل کړي دي، محققين وائی ، چې اول قول

ارجح دي، ځکه که دا دمشابهت دوجې نه سبب شي نو بیا به اسباب ثمانیه پاتې شي ځکه دا خو مستقل سبب نه شو اویا به اسباب عشره شي

ولم یقل احد کذالک بهر حال قول صحیح کیدي شي. **ثم ان کا نتا فی اسم یعنی به**: اول غرض دفع اعتراض ، دویم قاعده کلیه یا بیان دفرق اعتراض: تا اووئیل چې ان کانتا فی اسم اوفی صفة اسماء صفت کښې دي مقابله راوستله دا مقابله نه ده. صحیح ځکه کله کله یو اسم او صفت یو ځائې جمع کیدي شي. لکه ضارب؟ **جواب**: اسم کله مقابل دفعل او حرف وي او کله مقابل دلقب او کنیت وي او کله مقابل دصفت وي او دلته مرادهغه اسم دي چې مقابل دصفت راځي . هغه صفتونه چې جمع کیږي ، نو فرق څه شو نو هغه اسم چې مقابل دفعل او حرف دي. دا اسم به یا دلالت کوي په صرف ذات لکه رجل او فرس او کله به دلالت په ذات مع الصفة کوي که دلالت صرف په ذات کوي نو دا اسم شو او چې صفت ورسره وي نو بیا دا صفت دي.

فشرطه ای شرط الالف والنون: اول دفع د اعتراض : دویم دفع اعتراض ، دریم جواب ثاني اعتراض تا اووئیل چې شرط یې علمیت دي زه به درته وښایم چې علمیت به پکښې نه وي. لکه مکران **جواب**: دا شرط دوجود دپاره نه دي. بلکه دسبب دمنع صرف دپاره دي. **واضداد الضمیر**: اعتراض : مخکښې الف ونون دوه شیان دي او تاوئیل چې شرطه نو شرطهما وئیل پکار وو؟ **جواب**: ضمیر موځکه مفرد راوړو سره ددینه چې دوه شیان دي ځکه چې دا دواړه سبب واحد دي .

اوشرط ذلک الاسم: سره جواب ثاني شرطه کښې ضمیر الف نون ته نه دي مخکښې ضمایر ټول اسبابو ته راجع وو او دلته اسم ته راجع شو. **العلمیة تحقیقاً**: اول وجه داشتراط. الف نون زائد ولې سبب دي، یا له وجې دمشابهت نه او یا له وجې د فرعیت نه او علمیت پکښې شرط دي چې فرعیت ئې قوي شي، ځکه اعلام محفوظ شي ددخول دتاء نه. **کعمران**: الف نون مزید تان به اسم کښې وي، ددي دري حالات دي، عثمان سلمان عمران.او چې صفت کښې وي هلته دوه حالات راتلې شي، مفتوح لکه مکران مضموم لکه عریان. **اوکا نتا فی صفة**: **اعتراض**: ماتن اووئل ان کانتا اوس وائې او کانتا او په ځائې دي آنْ ځنګه راوړلو، **جواب**: دا ترکیب دقبیلې دشرط او

جزا نه دي په عطف واحد باندي نو ان كانتا شرط او فشرطه العلمية دا جزاء دشرط جزا عطف شوه په ماقبل دشرط او (هم) لپاره دعطف دي اوس كه مونږه ان كانتا وئيلي وي نو يو جزا او شرط به عطف وى په بل جزا او شرط باندي نو دا به عطف دقصي راغلى وى، په قصي باندي او دلته دا نشته ځكه جملتين كښې بعد راغلو نو ده مخكښې جزا او وروسته ئې شرط يو كړل او په يو عاطف سره ئې ذكر كړل.

فانتفاء فعلانة اى ان كان: اول قاعده دعطف او دفع داعتراض، دا عطف شو په في اسم دهغى نه مخكښې وو، ان كانتا اوس وائى ان كانتا فى صفة اى ان كان. الف والنون يعنى امتناع. **اعتراض**: عريان كښې الف نون زائدتين صفت كښې دي او ديكښې فعلانة نشته نوشرط دانتفاء دفعلانة نشته نوغير منصرف ئې كړه؟ **جواب**: مراد لفظ نه دي بلكه وزن مراد دي او دده مونث فعلنة راځى يا مراد امتناع تاء تانيث ده او پدي كښې امتناع دتاء تانيث نشته. **وقيل شرطه وجود فعلى لانه متى**: اول وجه داشتراط چا وئيل چې شرط وجود فعلى وي نو په دي تاء نه راځى. مقصود د دواړو هغه نفى دتاء تانيث ده، **ومن ثم**: چې مخالفت دشرط راشى،

اختلاف په رحمان كښې

اختلف فى رحمنٰ: اول دفع اعتراض، دويم تطبيق، دمثال دممثل سره، اول **اعتراض**: رحمنٰ كښې خو خلاف نشته، دا خود الله نوم دي؟ **جواب**: په انصراف او عدم انصراف كښې اختلاف دي رحمنٰ كښې الف نون مزيد تان راغلى دي مونث ئې فعلانة رحمانة نشته دي نو شرط په كښې موجود شو نو غير منصرف شو، او بل دا چې فعلى وزن پكښې نه موجوديږي يعنى رحماء پكښې نشته نو وجود ئې شرط پكښې موجود نه شو نو منصرف شو، **دون سكران**: اول معنى د دون، دويم تطبيق دمثال دممثل سره، معنى د دون دا ده چې پدي كښې خلاف نشته چې غير منصرف دي اتفاقا ځكه مؤنث يي سكرانة نه راځى او سكراى راځى، **ودون ندمان**: ندمان كښې اختلاف نشته چې منصرف دي معنى د دون اى لاخلاف فى صرفية، دويم دليل دمتن ځكه شرط دمذهبين ندي موجود ځكه مونث ئې ندمانة راځى او وجود د ندمى پكښې نه راځى.

وهذا اذا كان ندمان: سره قول اخر ذكر كوى چې ندمان دنديم نه شي، نو بيا غير

منصرف دي او چې ندمان دندم نه شي نو بيا غير منصرف دي ځكه شرطين پكښې موجود دي، چې مونث ئې ندمې راځي ندمانة نه راځي **وزن الفعل وهو كون الاسم على وزن:** اول غرض دفع د ددو اعتراضونو ، دويم توطيه او تمهيد دمتن آتي دپاره، اول **اعتراض:** ، دوزن اضافت شويدي فعل ته او تبادر داضافت نه اضافت لامي وي او اضافت لامي مفيد دتخصيص وي نو معنى دا شوه چې دا وزن به خاص وي په فعل پوري نو چې دا فائده حاصل شوه نو وروسته عبارت ته حاجت پاتې نشو، چې هغه دادي.

ان يختص به: جواب نو ده جواب وركړو چې مراد د وزن نه هغه وزن دي چې يعدّ من اوزان الفعل اوس فعل پوري خاص وي او كه نه نو دا عام شو دويم **اعتراض:** چې هر كله اضافت دپاره دتخصيص نشو نو داضافت فايده څه شوه. **جواب:** اضافت د وزن فعل ته دا ادنى ملابست دي وجه څخه شويدي دلته ئې دوزن فعل تفسير په كون الاسم سره كړيدي سره ددينه چې وزن دا هغه حالت او هئيت ته وائي چې حاصل وي دترتيب دحروفو او حركاتو او سكناتو نه او دا غير دي دكون نه او كون خو معنى مصدري ده. بل جواب دادي چې دا دموافقت داسبابو سابقه و څخه **وهذا القدر لا يكفى:** سره دويم غرض ذكر كوي چې توطيه ده دمتن آتي دپاره، **احد الامرين:** سره دفع داعتراض: **اعتراض:** تاوئيل چې شرطه ان يختص به او يكون فى اوله الخ... (او) راځي دپاره تشكيك نو ستا هم پدې كښې شك دي چې كون يو به پكښې وي؟ **جواب:** (او) دپاره دتقسيم دي چې يو به ددې دواړو څخه پكښې وي.

باللغة العربية: سره دفع داعتراض: **اعتراض:** تا وزن فعل دپاره شرط هغه اختصاص اوګرځولو په فعل پوري زه به درته اوښايم. چې وزن فعل به هم پكښې وي او علميت به هم پكښې وي او دغه وزن به خاص نه وي، په فعل پوري بلكه د اول نه به په دغه اسم كښې موجود وي، لكه بضم. **جواب:** مراد دوزن نه هغه وزن دلغت عربي وي او بضم خو وزن عجمي دي **به اى بالفعل:** اول غر تعين دضمير، دويم معنى داختصاص . اول خبرا داده چې ضمير راجع دي فعل ته. دويم داختصاص معنى داده چې دا وزن به نه موجوديږي په اسم عربي كښې مګر منقول به وي دفعل څخه ،

كشمر على صيغة الخ... يو غرض تطبيق د مثال دممثل سره ذكر كوي، دويم .

تعمیم ، دریم تصریح بالاعتراض ، کشمر سره اول غرض اوشو چی شمر دا اسم دی او وزن ئی دفعل ماضی معلوم دي

وکذالک بذر: سره دویم غرض چی تعمیم ذکر کوی چی دشمر پشان بذر هم غیرمنصرف دي، دوجی دوزن فعل او بل دا بذر علم دي دپاره دماء . اوعشر هم دا غیر منصرف دي او همدرانگه **خصم: واما نحوبهم:** سره دریم غرض چی تصریح بالاعتراض ده او دا مخکښی تیر شوي ده، **ومثل ضرب:** سره یو غرض دفع داشتباع خطی . دویم وجه دماضی مجهول کیدلو. دریم اشاره اختلاف ته. اول غرض ، علی البناء للمفعول یعنی دا ماضی مجهول ده.

وانما قیدنا بالبناء للمفعول: سره دویم غرض: داخکه مبنی للفاعل نه دي چی هغه مختص ندي په فعل پوري . **ولم یذهب الی منع صرفه:** سره دریم غرض: ماضی معلوم چی کله دا وزن وی نو پدیکښی اختلاف دي بعض وائی چی دا غیر منصرف دي خکه دا وزن مشترکه دي چی په اسم کښی موجودیږي نو دا به منقول وی دفعل نه نو خاص شو دا وزن په فعل پوري جمهور وائی چی نه دا غیر منصرف دي خکه په دواړو کښی خاتته خاتته استعمالیږي منقول نه دي له چا نه او نه ئی چا پوري اختصاص شته

اویکون غیر مختص: سره ئی اشاره اوکړه قاعدي دعطف ته، چی اویکون عطف دي په ان یختص نو دشرطیه لاندي راغلو نو تقدیر داسی شو چی فشرطه ان یختص بالفعل اویکون فی اوله. فی اوله ای فی اول وزن الفعل او علی ماکان علی وزن الفعل: دي عبارت سره اشاره کوی ذکر داحتمالینو ته چی د اوله ضمیر دا راجع دي وزن فعل ته یا راجع دي علی ماکان علی وزنه ته. **زیادة ای زیادة حرف او حرف زائد:** دي عبارت سره دا خبره ذکر کوی چی که د اوله ضمیر راجع شي وزن الفعل ته نو زیادة به په معنی مصدري سره استعمالیږي ، تقدیر دعبارت به داسی وی چی فی اول وزن فعل زیادة حرف ، او که د اوله ضمیر راجع شی اول دماکان علی وزن الفعل ته نو بیا به زیادة په معنی دفاعل سره وی تقدیر دعبارت به داسي شی چی فی اول ماکان علی وزن الفعل حرف زائد .

کزیادة ای مثل: یو غرض معنی دکاف ، دویم غرض تعین دضمیر کوی غیر

قابل ، ای حال کون وزن الفعل یو غرض وجه دنصب دغیر قابل ، دویم بیان داحتمالینو ، اول غرض : غیر قابل دا حال دي داوله دضمیر نه او دا ضمیر مضاف الیه دي او حال واقع کیدل دمضاف الیه نه صحیح دي. په هغه صورت کښې چې حذف دمضاف جائز وی او مضا الیه قائمقام کیدي شی چې او یکون فی وزن الفعل زیادة غیر قابل للتاء ، لانه یخرج الوزن ، دي عبارت سره شارح دلیل ذکر کوی چې قابل دتاء به ولی نه وي ځکه چې پدي تاء سره دغه وزن د اوزانو دفعل څخه وځی ځکه تا خاص ده په اسم پوري ، ولو قال غیر قابل للتاء قیاساً . سره دفع داعتراضینو او پدی کښې تعریض ذکر کوی په ماتن ، او **اعتراض**: اربع دا دیو سړي نوم کیده پکار ده چې دا منصرف شی ځکه وزن فعل او علمیت پکښې شته خو شرط پکښې نشته، چې غیر قابل للتاء ، بلکه قابل دتاء دي، **جواب**: مراد دتاء څخه تا قیاسیه ده او اربع کښې خو تاء غیر قیاسی ده، ځکه په اسماء عدد وکښې تاء خلاف القیاس ، راځی دپاره دفرق په مابین دمذکر او مونث کښې ،

اعتراض: اسودة کښې وزن دفعل او علمیت شته او شرط پکښې نشته، چې عدم قابل للتاء دي بلکه قابل للتاء دي، ځکه چې اوسودة حیة السوداء تا ویلی شی او سره ددینه چې غیر منصرف دي پکار ده چې منصرف وي؟ **جواب**: مونږ دا وئیلی و چې قابل دتاء به نه وي خو چې دکومی وجی نه غیر منصرف شوي وي نو اسود تاء قبلوي خو دوصف داصلی وجی څخه نه بلکه د غلبه داسمیت عارضی دوجی نه ئی قبلوي

ومن ثم امتنع احمر: او دوجی داشتراط دعدم قبول دتاء څخه احمر غیر منصرف دي ځکه یو حرف دحروف اتینو څخه هم پکښې زیات شوي او عدم قابل دتاء هم دي **وانصرف یعمل**: یعمل دا منصرف دي ځکه چې قابل دتاء دي

ومافیه علمیة موثرة: ددي ځاي نه اسباب دانصراف ذکر کوي دانصراف پنځه اسباب دي، دوه ئی مخکښې ذکر کړل چې ضرورت شعري او تناسب دي اوس هغه نور دري ذکر کوی چې العلم اذا نکر صرف دي او جمیع اسباب دمنع صرف چې علمیت پکښې سبب اوشرط دواړه وی نو چې کله دغه اسم نکره کړي شی نو بلا سببه پاتی شی، نو

منصرف به گرځی او چی علمیت ورلره سبب ثانی وي شرط ورلره وی نو چی کله نکره کړيشي نو په سبب واحده سره به پاتی شی نو ددي وجی نه به منصرف گرځی ، او چی علمیت ورسره جمع شوي وي نه ورلره شرط وی او نه سبب ، نو چی کله نکره کړي شی نو بیا به غیر منصرف وی لکه په الفین دتانیث کښی او په جمع کښی .

ای کل اسم غیر منصرف : سره یو غرض دفع د اعتراض : دویم معنی دموثرة ، فائده دقید دموثرة ، اول غرض اعتراض : ملا صاحب ومافیه علمیة موثرة دا قضیه مهمله ده ، او مهملات په حکم دجزئیاتو کښی وي او قضا یا جزئیه دا ممنوع فی العلوم وی؟ **جواب:** خلاصه دجواب داده چی دا منم چی دا قضیه مهمله ده مهمله په دوه قسمه ده ، مهمله په محاوراتو کښی او مهمله په علومو کښی ، مهمله په محاوراتو کښی دا په حکم دجزءی کښی وي او مهمله په علومو کښی دا په حکم جزءی کښی نه وی او مونږ دلته بحث په علومو کښی کوو ، موثرة فی منع الصرف بالسببیة المحضة او مع الشرطیة: سره دویم غرض ذکر کوی چی موثر دا معنی چی یا صرف سبب وی او یا سبب هم وی او شرط هم .

واحترز بذلک: سره دریم غرض ذکر کوی ، چی فائده دقید ده ، دموثرة قید نه هغه اسباب اووتل چی علمیت ورسره صرف جمع شوي نه سبب وی او نه شرط ، لکه الفین دتانیث او صیغه دمنتهی الجموع ځکه دا دواړه ځانته ځانته قائمقام د سببینو دي علمیت لره پکښی څه تاثیر نشته ، **واذا نکر صرف**: اذا شرطیه ده او صرف ئی جزاء شوه ،

بان یوو العنم ، یو غرض یوه طریقه دتنکیر ، دویم توضیح بالمثال ، دریم دویمه طریقه . څلورم توضیح بالمثال : اول غرض : یوه طریقه دتنکیر داده چی دا علم واحد من الجماعة اوگرځوی لاعلی التعین لکه هذا زیدٌ ورایت زیداً اخر ، زید دا نکره ده ځکه صفت ئی نکره راغلی دي ، که چیرته معرفه وی نو صفت به ئی هم معرفه راغلی وي ، نود مثال سره دویم غرض اوشو ، او یعجل عبارة الخ ... سره دریم غرض چی دویه طریقه دتنکیر ، او هغه دا چی دا علم اوگرځوی هغه وصف چی مشهور وی په هغی سره صاحب ددغه عَلَمْ لکه فرعون دا مشهور دي په مبطل سره او موسی مشهور دي په محق سره او ته دلکل فرعون موسی نه لکل مبطل محق واخلی ، نو څلورم غرض

دمثالونو سره اوشو، لما تبين اى ظهر حين: سره يو غرض معنى دتبين. دويم دا چې (لما، ظرف دي او دا ذكر كوى چې كوم ځائې كښې دا خبره ظاهره شوي، من انها سره بيان دلما كوى، اول غ.ض: معنى دتبين ظهور ده. دويم غرض چې علم كله نكره كړي شي نو منصرف ګرځي هغه اسم چې دا علميت پكښې سبب او شرط دواړه وى او دا ظاهريږي په تانيث لفظي او معنوى اوپه عجمه تركيب او الف نون مزيدتين كښې.

الاما، اى السبب الذى: يو غرض تعين د (ما) كوى چې دا ما موصوله مشار اليه ده او دويم غرض ذكر، دمشار اليه كوى چې دهې دپاره شرط فيه. علميت مشار اليه ده. الاالعدل و وزن الفعل، استثناء من مابقى من الاستثناء الاول الخ.. سره غرض دفع داعتراض، دويم معنى دمتن، دريم توضيح بالمثال. اول غرض: د اعتراض نه مخكښې **يوه قاعده**:

قاعده داده چې يوه مستثنى منه راشي او دهغى نه وروسته استثناء راشي او د ي نه وروسته بله استثناء راشي نو كتابونه ليكي چې دوه مستثنى ګانې د يو مستثنى څخه ندي جائز او دعدم جواز دپاره ځا مشهوره وجه دا ښودلې ده چې فصل راځي په مابين دمستثنى منه او استثناء ثانى كښې په استثناء اولى سره لكه جاء القوم الازيداً الاعمر خو دا وجه كمزوري ده ځكه چې فصل دا په صفت او موصوف كښې ندي جائز په مستثنى منه او استثناء كښې خو جائز دي، دويمه وجه محققينو ذكر كړيده او هغه دا چې مستثنى اوله دا په حقيقت كښې مفعول اول او مستثنى ثانى دا مفعول ثانى وي او قاعده داده چې فعل كله متعدي كيږي، مفعول اول ته او بيا ئې ته متعدي كوى مفعول ثانى ته نو اعاده دعاطف دا ضروري وى، نو لهذا دلته هم اعاده مستثنى منه ضروري ده. دا ستثناء ثانى دپاره داسي وئيل پكاردي چې لاتجامع موثرة الاما هى شرط فيه ولا تجامع موثرة الاالعدل او وزن الفعل؟

جواب: دلته مستثنى منه يوه نده بلكه د استثناء ثانى دپاره مستثنى منه مابې داستثناً اولى ده تقدير دعبارت داسي دي چې لاتجامع موثرة الاماهى شرط فيه ولاتجامع غير ماهى شرط فيه الاالعدل و وزن الفعل. **لاتجامع:** سره دويم غرض ذكر كوى چې معنى دومتن ده.. **كمافى عمرواحمد:** سره توضيح بالمثال يعنى دويم غرض اوشو.

وهما متضادان: سره غرض دماتن دفع داعتراض ده ، **اعتراض:** ملا صاحب دا قاعده دي نه منم چی اذا نکر صرف : څکه که یو ځاي کښي عدل وزن فعل علمیت راغلی وي نو چی علم نکره کړي شي نو بیا هم دوه سببه دمنع صرف پاتی شول ته څرنګه وائی چی صرف؟ **جواب:** عدل او وزن فعل متضاد د ي .

ای العدل و وزن الفعل: سره شارح تعین دضمیر کړي، **لان الاسماء المعدولة** : سره دلیل د تضاد ذکر کوی، متضادین په دوه قسمه دي. بحسب المفهوم .دویم بحسب الاعتبار والاصطلاح .اول قسم بحسب المفهوم لکه صفت او علمیت، صفت دا هغه دي چی دلالت کوی په ذات مبهمه سره دبعضو صفاتو، او علمیت دا هغه دي چی دلالت کوی په ذات معینه بغیر دصفاتو څخه : دویم قسم بحسب الاعتبار والاصطلاح لکه مونږ په عربو کښی وګرځیدو دعدل اوزان یو هم دوزن فعل پشان نه وو. **فلا یکون معها الا احدهما:** عدل او وزن فعل دا دواړه متضادین دي دا نه جمع کیږي دواړه دعلمیت سره مګر یو یو ځانته.

د کان اقسام

ای لا یوجد شئی من الامر الدائر: یو غرض دا چی ، کان تامه دي، دویم دفع اعتراض.اول غرض : کان په دوه قسمه ده : یوه کان تامه ده، اوبل کان ناقصه ده ، کان تامه هغه ده چی جمله صرف په اسم سره پوره کیږي اوبل کان ناقصه هغه ده چی جمله صرف په اسم سره نه تمام کیږي بلکه خبر ته هم ضرورت پکښی وي او کان تامه څخه تعبیر په وجود او کون سره کولی شي، دویم غرض اعتراض :

اعتراض: الااحدهما استثناء ده داد چا څخه ده که مطلق سبب څخه وی نو کذب لازمیږي ځکه بیا به معنی داسي شي چی علمیت نه جمع کیږي دمطلق سبب سره مګر عدل یا وزن فعل سره او حالانکه د دوي نه علاوه نورو سره هم جمع کیږي لکه الف نون مزیدتینو سره یا عجمی سره، او که مستثنی منه عدل وګرځوی نو معنی به داسي شی چی نه جمع کیږي علمیت دعدل سره مګر داحدهما سره جمع کیږي ، نو لازمه شوه استثناء دشی دخپل نفس څخه ځکه احدهما کښی عدل هم شته، او که مستثنی منه دا وزن فعل اوګرځوی نو بیا هم لازمیږي استثناء دشي دخپل نفس څخه او که مستثنی

منه دواړه اوګرځوي یعني عدل او وزن فعل نو مطابقت نه راځي ، په مرجع او راجع کښې ځکه یکون کښې ضمیر مفرد دي، **جواب**: خلاصه دجواب داده چې ضمیر دواړو ته راجع دي، یعني امر دائر بینهما ته لاعلی التعین اوس امر دائر عام شو او احدهما خاص شو استثناء دخاص راغله دعام نه او دا جائز ده

فاذا نکر ای غیر المنصرف: سره شارح تعین دضمیر کوي چې نکر کښې ضمیر غیر منصرف ته راجع دي چې یو سبب پکښې علمیت دی. **فان قلت**: وړاندې نې هما متضادان وئیلی و او دلته دواړه جمع شو دا ولی ؟ **جواب**: په تحقق کښې جمع نه شي راتلی په اراده کښې راتلی شي او دلته جمع في الاراده ده. **ای لم یبق**: سره دفع داعتراض : **اعتراض**: ته وائې چې علمیت په کومو اسبابو کښې شرط دي، او نکره شي نو بقی بلا سبب نو سبب خو باقي دي، صرف نقصان پکښې راغلی دي؟ **جواب**: مراد دسبب نه سبب کامل دي او سبب کامل هغه دي چې شرط ورسره موجود وي، او دلته خو شرط ورسره نشته، دا داسي دي لکه صفت چې ورسره نه وی.

او علی سبب واحد: سره یو غرض تعین دهغه غیر منصرف چې وروسته دتنکیر نه باقي علی سبب وي. دویم دفع اعتراض. دریم جواب ، څلورم جواب آخر. **فیماهی لیست بشرط فیه**: سره اول غرض اوشو چې غیر منصرف چې وروسته دتنکیر نه باقي وی، په سبب واحده سره هغه یو وزن فعل اوبل عدل دي. **وقد قیل**: سره دویم غرض دفع اعتراض : **اعتراض**: ته وائې چې عدل او وزن فعل نه جمع کیږي ، زه به درته اوښایم چې جمع شوي به وي لکه (اصمت) دا وزن فعل هم دي او عدل پکښې هم شته، ځکه چې دا امر دي دصمت یصمت نه او قاعده داده چې امر دنصر نه بضمتین راځی اوس دلته بکسرتین راغله نو دینه معلومه شوه چې دا معدول دي بضمتین څخه

جواب: سره دریم غرض چې جواب اول دي زه دا نه منم چې دنصر څخه دي ځکه دا احتمال شته چې د ضرب نه وی نو بیا خو دضرب نه امر بکسرتین راځی او چې په کتابونو کښې دنصر څخه راغلي نو هغه مشهور دي، خو دا جواب ضعیف دي ځکه ده لجواز اوئیل او دجواز معنی امکان ده او امکان وائي احتمال ته او احتمال دیته وائي چې کیدي شي چې دابالکل نه وی دضرب نه ، **وایضاً قد عرفت**: سره څلورم غرض

جواب ثاني ، دا خبره تا مخکښې پيژندلې ده چې دعدل دپاره يواځې وجود داصل کافي نه وی بلکه ضروري وی اعتبار دخروج او خروج په وخت دضرورت کښې راځي او ضرورت دلته کښې نشته دي، ځکه سببين موجود دي ځکه اصمت کښې يو علميت دي اوبل پکښې تانيث دي، مصنف رحمه الله ډير هوښيار دي ځکه وزن فعل ئې پکښې معتبر نه کړو ځکه وزن فعل هغه پکښې يقيني ندي او تانيث پکښې يقيني دي. ثم انه اشار: سره يو غرض توطيه او تمهيد ذکر کوي، دويم غرض بيان دنکته اول غرض نکته داده چې ده وويل چې اشاره نو ده خو په حکم تصريح کړي اشاره خوئې ورته نه دي کړي؟ **جواب**: دادي چې اصالةً حکم ذکر کوی اوضمناً پکښې اشاره استثنى ته راغله او استثنى ضمني ديته وائي چې دقانون نه مخالف باندي قول اوکړي شي.

المشهورهوابوالحسن: سره غرض تعين داخفش رحمه الله کوی ، اخفش دري دي. استاذ دسيبويه چې دهغې اسم کنيه ابو الخطاب ده. دويم دده شاګرد چې هغه اسم کنيه ابوالحسن سعيد ابن سعده دي او دلته مراد هم دا دي، دريم دده ملګري چې دهغه اسم کنيه حسن علي ابن سليمان دي.

ولما كان قول التلميذ الخ.. سره غرض دفع داعتراض ده. **اعتراض**: هر کله چې استاذ سيبويه شو نو دمخالفت نسبت کول استاذ ته سوء ادب دي. ځکه څوك چې مخالفت کوی نو په هغه کښې يو نوعه تحقير وی او دتحقير نسبت کول شاګرد ته پکار نه وه چې اخفش وو ؟

جواب: داده چې دشاګرد قول موافق وو ، دقاعدي سره چې اذا نكر صرف نو دائې اصل وګرځولو او دمخالفت نسبت ئې استاذ ته اوکړو ، اګرچې داغير مستحسنه ده. بعضو خلقو دمخالفت نسبت شاګر ته کړي او سيبويه ئې ځکه مقدم کړي چې دا استاذ دي، خو دا توجيه کمزوري ده ديو قاعدي دوجې څخه. قاعده داده چې کله يو فعل وی او دهغه فاعل وی اومفعول له هم ورله وی نو قاعده پکښې داده چې فاعل دفعل اودمعلل به دا يو وی لکه ضربته تاديباً اوس دلته دضرب فاعل ضمير دمتکلم ، اوس دلته مخالف خو مفعول دي يعنى ضمير دمتکلم دي او تاديب دا فعل او اخفش فاعل او اعتباراً دا مفعول له دي ، نو دخالف ، فاعل اخفش شو او داعتباراً فاعل

سیبویه دي ځکه اعتبار دصفت اصلی خو دي کوی
العلم اذا نکر صرف: دي کښی اختلاف کړي دي سیبویه په یو شق کښی چی هغه احمر دي، سیبویه وائی دا غیر منصرف دي بعد التنکیر ځکه هغه وصفیت اصلی چی دعلمیت دوجی ختم شوي وو، هغه بیرته را معاد کیږي او اخفش وائی چی نه منصرف گرځی، دغه احمر چی کله نکره کړي شی او هغه وصف زائله نه را معاد کیږي **والمراد بمثل احمر:** اول غرض بیان دقاعدي کلیه ، دویم غرض دفع اعتراض ، دریم تتمیم دمافات ، اول غرض : قاعده داده چی مراد داحمر څخه هر هغه اسم تفضیل دي چی ترینه مراد دي چی قبل دعلمیت نه پکښی وصفیت ظاهر وی،
فیدخل فیه: سره دویم غرض دفع اعتراض ، **اعتراض:** په دوه طریقو سره دي، اوله طریقه ستاد احمر نه باب داحمر مراد او که نه نو که باب داحمر دمراد وي نو سکران کښی پکار ده چی دا اختلاف نه وی او سره ددینه چی پکښی شته؟ **جواب:** مراد داحمر نه نوع داحمر مراد ده نو سکران پکښی هم داخل شو، دویمه طریقه داعتراض ، **اعتراض:** هلکه ! چی باب داحمر دي ترینه مراد ندي، نو پکار ده چی اجمع کښی هم بعد التنکیر په انصراف او عدم انصراف کښی اختلاف وی او سره ددینه چی دا بعد التنکیر بالاتفاق منصرف دي، ؟ **جواب:** دا ځکه منصرف دي اتفاقاً چی معنی دوصفیت پکښی قبل العلمیت ظاهره نه وه، ځکه داقبل العلمیت په معنی دکل سره وو.
وکذالک افعل: سره دریم غرض ذکر کوی چی تتمیم دمافات دماتن، افعل دا په دوه قسمه دي یعنی اسم تفضیل یو هغه دي چی مجرد وي، د (من) څخه دابعد التنکیر بالاتفاق منصرف دي، ځکه معنی دوصفیت پکښی قبل العلمیت ظاهره نه وه تردي چی دا افعل اسمی گرځیدلی دي، دویم افعل چی (من) ورسره وی نو دا منصرف نه دي، بلا خلاف یعنی بالاتفاق منصرف ندي ځکه معنی دوصفیت پکښی ظاهره دوه قبل العلمیة نو فلا ینصرف بلا خلاف ، اکثر وشارحینو معنی داسي کړي ده چی منصرف ندي بالاتفاق خو دا تو جیه او معنی صحیح نه ده، ځکه دۀ مخکښی اوویل چی مثل داحمر کښی اختلاف دي خو چی معنی دوصفیت پکښی قبل العلمیت ظاهره وی. اوس دلته په افعل کښی چی (من) ورسره وی نو دي غیر منصرف بالاتفاق دي، نو

عبارت کښې تضاد راغلو، دويم دا چې وروسته دليل ئې هم نه صحيح کيږي چې لظهور معنى الوصفية صحيح وجه داده چې دا بناء ده په يوه قاعده باندې هغه قاعده داده چې کله يو فعل مقيد وي، په قيد سره او په هغه فعل نفي داخله شي نو نفي متوجه کيږي قيد ته. لکه ما جاءني زيد راکباً نو دلته نفي متوجه ده رکوب ته نه فعل ته چې مجئت دي، خو دا قاعده اکثريه ده کليه نه ده، ځکه الله ﷻ فرمائي چې (ان الله ليس بظلام للعبيد) اوس ظلام مبالغه ده په ظلم کښې اوس دا مبالغه هم قيد دي خو نفي دلته متوجه ده قيد او مقيد دواړو ته او که داسي نشي نو معنى کښې نقصان راځي، معنى به داسې شي (چې الله ﷻ ډير ظالم ندي او لږ دي) نعوذبالله من ذالك) حالانکه الله ﷻ خو بالکل ظالم ندي، اوس دلته ينصرف فعل مقيد دي په بلا خلاف سره نو نفي پرې داخله شوه نو قيد ئې ختم کړو، نو معنى دا شوه چې غير منصرف دي خو بلا خلاف نه بلکه سره د اختلاف نه. اعتبار اللصفة الاصلية.

اى انما خالف: دي عبارت سره شارح اشاره کوي چې لام اجليه په للصفة الاصلية کښې او دويم غرض دا چې شارح اشاره کوي چې اعتباراً مفعول دي د سيبويه دپاره.

فانما لما زالت: اول ذکر د خلاصه، دويم اعتراض، دريم جواب. څلورم رد په جواب، پنځم مذهب د اخفش، شپږم ما هو الراجح. اووم توطيه او تمهيد د متن آتي دپاره. اول غرض: خلاصه دا ده چې سيبويه په مثل د احمر کښې بعد التنكير وصفيت اصلي معتبره وي او دليل دا وائي چې مانع دوصفيت اصلي چې علميت وو ختم شو، په تنکير سره نو احمر غير منصرف شو دوجې دوصفيت اصلي او وزن فعل څخه. **فان قلت**: سره دويم اعتراض: چې مانع د اعتبار دوصفيت اصليه څخه موجود نه وو نو باعث په معتبر کولو دوصفيت څه دي، سره د دينه چې غير منصرف والى خلاف الاصل دي.

قيل: سره دويم غرض جواب: وصفيت اصليه ئې ځکه معتبر کړو چې اسود او ارقم دا بعد التنكير هم غير منصرف دي دوجې دوصفيت اصليه نه چې کوم زائل شوي وو او دوجې دوزن فعل څخه نو مونږ احمر هم پرې قياس کړو

وفيه بحث: سره څلورم غرض رد ذکر کوي، خلاصه د رد داده چې احمر مقيس دي او اسود او ارقم دا مقيس عليه دي، او علت جامعه اعتبار دوصفيت اصليه دي، نو

قیاس داحمر په اسود او ارقم قیاس مع الفارق دي، ځکه احمر څخه صفت اصلیه بالکلیه ختم شوي دي، او په اسود او ارقم کښي ئی څه شائبه شته، ځکه اسود تور مار ته وائی او ارقم برګ مار ته وائی، نو لهذا قیاس داحمر په اسود ارقم باندي حجت نه لري، په دي باندي دبهر نه یو اعتراض وارد شوي دي، هغه دا چی احمر دسور سړي دپاره علم کړه او بیا ئی نکره کړه، نو بعد التنکیر خو پکښی وصف اصلی شته؟ **جواب**: دادي چی دا هم نشی کیدي ځکه اسود او ارقم علم جنس دي او دعلم جنس څخه وصفیت بالکلیه نه لري کیږي او احمر علم شخص دي او علم شخص نه وصفیت بالکلیه لري کیدي شی ځکه چی اعلام اشخاصو کښی معنی لغوی معتبر نه وی.

واما الاخفش: سره پنځم غرض ذکر کوی چی بیان د مذهب داخفش دي ، امام اخفش فرمائی چی مثل داحمر وغیر به منصرف وی، بعد التنکیر ځکه وصفیت زائله شو په علمیت سره او علمیت زائله شو په تنکیر سره او زائله نشی معتبر کیدای بغیر دضرورت نه نو ضرورت ورته نشته، نو احمروغیره چی سکران دي په سبب واحده سره پاتی شو چی یو وزن فعل او بل په کښی الف نون مزید تان دي نو فینصرف.

وهذا القول اظهر: سره شپږم غرض چی ما هو الراجح دي ذکر کوی، دامام اخفش قول دا راجح دي د دریو وجو څخه ، اول دا چی دا مذهب موافق دي دقاعدي سره چی العلم اذا نکر صرف ، دویمه وجه داده چی په مذهب دسیبویه هغه مخکښی اعتراض وارد شو، چی باعث په معتبر کولو دوصفیت اصلیه باندي څه شی دي، دریمه وجه داده چی بل اعتراض هم پري واردیږي په ولا یلزم سره .

ولما اعتبر سیبویه: سره اووم غرض ذکر کوی چی توطیه او تمهید دتن آتی لپاره سیبویه اعتبار دصفت اصلیه کړي دي، اګرچی زائل شوي وي نویده اعتراض واردیږي ، او دهغی څخه ماتن جواب ورکوی، په ولا یلزم سره چی دومره سیبویه کمزوري هم ندي، **اعتراض**: دا دي چی حاتم داد یو سړي نوم دي یو پکښ وصفیت اصلیه دي او بل علمیت، نو په احمر کښی وصفیت اصلیه زائله شوي وو، او یو محال شی وو او تا فرض کړي وو نو دغه رنګه په باب دحاتم کښی هم یو علمیت دي اوبل پکښی وصف اصلی معتبر کړه.

ولا يلزم اى سيبويه: يو غرض تعين دضمير، دويم باعث داعتراض، ضمير خو راجع دي سيبويه ته او باعث د اعتراض هغه معتبر كول دوصفيت اصليه دي په احمر كښى بعد التنكير په نزد دسيبويه، نو خلاصه دجواب داده چې دا اعتراض نه وارديږي ځكه كه په حاتم كښى علميت سره وصف اصلي هم معتبر كړي نو لازم به شي اعتبار دمتضادينو په حكم واحده كښى چې غير منصرف والى دي،

د حاتم نه څه مراد دى

باب حاتم اى كل علم: سره يو غرض بيان دباب دحاتم، دويم حاصل داعتراض، اول غرض دحاتم نه مراد هر هغه علم دي چې په اصل كښى وصف وي، سره دبقاء دعلميت نه. **بان اعتبر فيه ايضاً**: سره دويم غرض **اعتراض**: حاصل داعتراض دادى چې په حاتم كښى دوصف اصلي معتبر كړي شي، او حكم داوكړي شي په منع صرف والى ددي باندي دوجه دعلميت او وصف اصلي نه. **يعنى الوصفية والعلمية**: سره اول تعين دمتضادينو چې هغه وصفيت او علميت دي، او دويم غرض دليل دتضاد او هغه دا چې علم كښى خصوصيت وى او په وصف كښى خصوصيت نه وي.

فى حكم واحد: سره غرض تعين دحكم. حكم واحد هغه منع صرف والي دي په لفظ واحده كښى، **فان قلت**: سره اعتراض: تضاد خو به په وصفيت او علميت كښى هغه وخت كښى وي چې وصفيت خو متحقق وي،نو وصفيت خو زائله دي صرف اعتبار ني اوكړه.؟ **قلنا**: سره جواب: فرض كول ديو دمتضادينو دضد آخر سره وروسته دزوال څخه دا په حكم دواحد كښى دي اوس دا اګر كه دقبيلى داجتماع دضدينو څخه ندي ليكن مشابه دي د اجتماع دضدينو سره او اعتبار دضدينو معاً دا غير مستحسن دي،

اعتراض: يو فعل چې كله مقيد وى په يو قيد نو كله چې نفى داخل شي په دغه فعل نو نفى به متوجه وي قيد ته نه مقيد ته نو دلته يلزم به دا نفى متوجه وى لما يلزم قيد ته، نو معنى دا شوه چې اعتراض نه وارديږي په باب دحاتم باندي دوجى داعتبار دمتضادينو څخه بلكه به دبل څه دوجى څخه واريږي او حالانكه بالكل په حاتم اعتراض نه وارديږي؟ **جواب**: دا قاعده اكثريه ده كليه نه ده.

وجميع الباب باللام او الاضافة الخ اى باب: سره يو غرض تعين دالف لام كوى په

الباب کښې چې عهدي دي معهود پدي سره ټول باب دغیر منصرف دي او دویم غرض دادي چې باب مجرور دي چې تفسیر شی دالباب دپاره ځکه اعراب دمفسَر او مفسِر هغه یو وي او جمیع مرفوع دي مستقله جمله ده. **ای بدخول لام التعریف:** یو غرض دفع داعتراض او دویم غرض تعین دالف لام کوی: اول غرض: **اعتراض:** ته وائی چې ټول باب دغیر منصرف په لام سره منصرف ګرځی، نو بیا په دنیا دخداي ﷻ کښې خو غیر منصرف بالکل پاتی نه شو، ؟ **جواب:** مراد دلام نه وجود دلام نه دي بلکه دخول دلام ترینه مراد دي، دویم غرض: په باللام کښې الف لام عهدي دي مراد ترینه لام تعریفی دي.

ای اضافته الی غیره: سره غرض دفع داعتراض ده **اعتراض:** ته وائی چه په اضافت سره غیر منصرف، منصرف ګرځی زه به درته اوښایم اضافت به وي او غیر منصرف به نه وي منصرف به وی لکه مررت بغلام احمد ؟ **جواب:** مراد داضافت نه، مضاف دي چې دغیر منصرف اضافت به بل ځاته شوي وي نه اضافت دغیر ده ته لکه مررت باحمد کم:

بالکسر ای بصورة الکسر لفظاً او تقدیراً الی آخره: اول غرض دفع اعتراض، دویم هم دفع داعتراض، دریم هم دفع اعتراض، څلورم هم دفع داعتراض، پنځم بیان داختلاف، شپږم بیا دفع داعتراض، اووم بیا دفع اعتراض، اتم بیان دقاعدي کلیه. نهم ماهو الراجح. **ای بصورة الکسر:** سره اول غرض، **اعتراض:** ته وائی چې غیر منصرف په دخول دالف لام او اضافت سره ینجر بالکسر، زه به درته اوښایم دخول الف لام او اضافت به نه وي او کسره به راغلی وي. لکه مررت باحمد دلته په احمد حکماً کسره راغلی ده، ځکه حالت نصبی تابع دجري وی په غیر منصرف کښې ؟ **جواب:** مراد دکسري نه کسره لفظی یا تقدیري ده نه حکمی.

وانما لم یکتف: سره دویم غرض دفع اعتراض بناء دمتونو په اختصار سره وی، داسی به دي ونیلی وي چې جمیع الباب باللام او الاضافة ینجر، بالکسر به دي نه ونیلی، ؟ **جواب:** ینجر ما ځکه ونه ویلو چې جر کله په فتحی سره هم راځی، **ولا بان یقول:** سره دریم غرض دفع داعتراض، **اعتراض:** ینجر سره هغه نقصان لازمیده نو صرف ینکسر به دي ونیلی وي؟ **جواب:** ینکسر مو ځکه او نه ویل چې دکسري اطلاق

په حرکاتو بنائیه وسره هم کیږي نو خلقو به دا توهم کولو چې وجمیع الباب باللام او الاضافة یصیر مبنیاً اوحالانکه خبره خو داسي نده.

وللنحاة خلاف: سره څلورم غرض دفع اعتراض هلکه ینجر او ینکسر دواړه بدي نه ویلی ینصرف به دي ویلی وي. ؟ **جواب:** ینصرف موځکه ونه ویل چې په انصراف او عدم انصراف کښې ئې اختلاف دي، بعد دخول لام نه او داضافة نه او په مجرور ګرځیدلو کښې په کسري سره په دي کښې اتفاق دي.

فمنهم من ذهب: سره پنځم غرض بیان داختلاف : اختلاف په دي کښې دي چې غیر منصرف په دخول دلام او اضافت سره منصرف ګرځی او که نه په دي کښې دري مذهبه دي، **اول مذهب** : دوي وائی چې دغه غیر منصرف ، منصرف ګرځی ، مطلقاً دا معنی چې علتین پکښې پس ددخول دالف لام نه موجود وی او که نه او همدارنګه پس داضافت نه او دلیل دا وائی چې دا غیر منصرف وو دوجی دمشابهت دفعل نه اوس چې په ده خواص داسم راغلل نو مشابهت ئی دفعل سره ضعیف شو، نو جهت داسمیت پکښې قوي شو نو اوس به ئی رجوع کیږي اصل خپل ته چې انصراف دي.

فدخله الکسر دون التنوین: سره شپږم غرض دفع داعتراض چې ته وائی منصرف ګرځی نو کسره پري راغله تنوین پري ولی نه راځی .؟ **جواب:** دتنوین ذاتاً دالف لام او اضافت سره تضاد دي ځکه الف لام راځی دپاره دتعریف او تنوین راځی دپاره دتنکیر ، او اضافت راځی دپاره داتصال او تنوین راځی دپاره انقطاع،

دویم مذهب : دادي چې دغه غیر منصرف به پس د دخول دالف لام نه او اضافت نه مطلق غیر منصرف وي. **والممنوع من غیر المنصرف:** سره اووم غرض چې دفع داعتراض ده، غیرمنصرف شو نو کسره پري ولی راځی ؟ **جواب:** ممنوع په غیر منصرف باندي اصالةً تنوین وو او کسره دتبعیت دتنوین نه پري منع شوه، ځکه تنوین خاصه داسم وه کسره هم خاصه داسم ده نو چې مشابهت ئی دفعل سره ضعیف شو، نو کسره چې تابع ده، دا پري راتلی شی او موثر شو علتین صرف په سقوط دتنوین کښې
ومنهم من ذهب: سره دریم مذهب ذکر کوی چې مونږ به ګورو که علتین پکښې موجود وو، سره دلام او اضافت نه نو اسم به غیر منصرف وی او که پکښې نه وو موجود نو اسم

به منصرف وی.

وبيان ذالك: سره اتم غرض بیان دقاعدي کليه . قاعده بناء ده په دي خبره چی مونږ به دا څرنګه معلومه وو چی علتین پکښی یو پاتی دي یا یو هم نشته او یا دواړه شته، قاعده داده چی علمیت دسبب آخر دپاره شرط وی نو اسم به منصرف ګرځی په دخول دالف لام اواضافت سره ځکه علمیت به هم ختم شي او مشروط به هم اسم به بلا سببه پاتی شی، لکه ابراهیم او که چیرته علمیت سبب وو لکه په احمد کښی نو په لام او اضافت سره به صرف علمیت ختم شی ، نو اسم به علی سبب واحد پاتی شی، نو منصرف به شی، او که دغه اسم کښی علمیت نه وو نو علتان به دواړه باقی وي لکه په احمد کښی یو وصفیت دي اوبل وزن فعل دي، نو دغه اسم به غیر منصرف وی،

وهذا القول انسب: سره بیان دماهو الراجح کوی کوم چی نهم غرض وو، دا آخري مذهب راجح دي ځکه مصنف هم دغیر منصرف دا تعریف کړي چی ما فیه علتان.

بيان د مرفوعاتو

هرکله چی فارغ شو مصنف دبیان دمنصرف او غیر منصرف نه نو شروع ئی اوکړه په مرفوعاتو کښی، چونکه مرفوعات منصوبات اومجرورات دا احوال دي، دکلمی او کلمه ذات دي نو بیان دکلمی ئی اوکړو اوس ئی احوال ذکر کوی او مرفوعات ئی په احوالو کښی مقدم کړو، ځکه دا عمده دي او عمده اولیٰ بالتقدیم وي، دویمه خبره ترکیب :

المرفوعات دا مرفوع دي ځکه دا خبر دي دمبتداء محذوفی لپاره چی هذه دي او یا دا مبتدا او خبر ئی محذوف دي چی المرفوعات هذه . اوس بهر حال مبتدا او خبر دواړه معرفه دي او مبتدا او خبر چی دواړه معرفه وی نو مفید دحصر وی اوس حصر به دچا په چا پوري راځی دي کښی دوه مذهبه دي، اول مذهب دادي چی حصر په دواړو کښی راتلی شی خو چی قرینه وي لکه زید المنطلق اوس دلته انحصار دزید راغلی چی مبتدا ده په انطلاق کښی ځکه چی دلته تعین دزید کوی چی مراد هغه مسافر زید دي ، او په المنطلق زید کښی حصر دانطلاق راغلی چی خبر دي په زید کښی چی مسافر څوك دي. زید دي او دویم مذهب دادي چی دواړه کلمي معرفه وی نو چی کوم

به منصرف وی.

وبیان ذالک: سره اتم غرض بیان دقاعدي کلیه قاعده بناء ده په دي خبره چی مونږ به دا څرنګه معلومه وو چی علتین پکښی یو پاتی دي یا یو هم نشته او یا دواړه شته، قاعده داده چی علمیت دسبب آخر دپاره شرط وی نو اسم به منصرف ګرځی په دخول دالف لام او اضافت سره ځکه علمیت به هم ختم شی او مشروط به هم اسم به بلا سببه پاتی شی، لکه ابراهیم او که چیرته علمیت سبب وو لکه په احمد کښی نو په لام او اضافت سره به صرف علمیت ختم شی ، نو اسم به علی سبب واحد پاتی شی، نو منصرف به شی، او که دغه اسم کښی علمیت نه وو نو علتان به دواړه باقی وي لکه په احمد کښی یو وصفیت دي اوبل وزن فعل دي، نو دغه اسم به غیر منصرف وی.

وهذا القول انسب: سره بیان دماهو الراجح کوی کوم چی نهم غرض وو، دا آخري مذهب راجح دي ځکه مصنف هم دغیر منصرف دا تعریف کړي چی ما فیه علتان.

بیان د مرفوعاتو

هرکله چی فارغ شو مصنف دبیان دمنصرف او غیر منصرف نه نو شروع ئی اوکړه په مرفوعاتو کښی، چونکه مرفوعات منصوبات اومجرورات دا احوال دي، دکلمی او کلمه ذات دي نو بیان دکلمی ئی اوکړو اوس ئی احوال ذکر کوی او مرفوعات ئی په احوالو کښی مقدم کړو، ځکه دا عمده دي او عمده اولیٰ بالتقدیم وي، دویمه خبره ترکیب :

المرفوعات دا مرفوع دي ځکه دا خبر دي دمبتداء محذوفی لپاره چی هذه دي او یا دا مبتدا او خبر ئی محذوف دي چی المرفوعات هذه . اوس بهر حال مبتدا او خبر دواړه معرفه دي او مبتدا او خبر چی دواړه معرفه وی نو مفید دحصر وی اوس حصر به دچا په چا پوري راځی دي کښی دوه مذهبه دي، اول مذهب دادي چی حصر په دواړو کښی راتلی شی خو چی قرینه وي لکه زید المنطلق اوس دلته انحصار دزید راغلی چی مبتدا ده په انطلاق کښی ځکه چی دلته تعین دزید کوی چی مراد هغه مسافر زید دي ، او په المنطلق زید کښی حصر دانطلاق راغلی چی خبر دي په زید کښی چی مسافر څوك دي. زید دي او دویم مذهب دادي چی دواړه کلمي معرفه وی نو چی کوم

يو معرف باللام وي نوهغه به محصور وي اوس دلته هذه المرفوعات كښې انحصار د مرفوعات راغلی په هذه كښې چې مرفوعات صرف هم دادي، خو دا مذهب ضعيف دی ځكه مرفوعات خو نور هم شته او دائی اكثر استعمالاً او مشهور دي، دريم تركيب چې المرفوعات مبتدا او ما اشتمل علی علم الفاعلية ورلره خبر دي، پنځم تركيب دادی چې دا المرفوعات دا نائب فاعل دي دفعل مقدر دپاره چې يبحث يا يبين دي، دريم خبره داده چې المرفوعات ئی معرفه راوړو او مخكښې ئی فالرفع علم الفاعلية معرفه راوړي وه او قاعده داده چې معرفه معاد شي معرفه نو ثانی عين اولی وي، نو مطلب دادي چې مرفوعات نه هغه مرفوع مراد دي چې كوم درته ما مخكښې وويل.

بيان د يوی قاعدی كليی

جمع المرفوع لا لمرفوعة: سره يو غرض دفع داعتراض او دويم غرض بيان دقاعدي كليه، **اعتراض**: مرفوعات دا جمع د مرفوع ده او كه دمرفوعة كه جمع دمرفوع وی نو دمذكر جمع خو په الف او تاء سره نه راځی او كه دمرفوعة جمع وی نو مطابقت بين الصفة والموصوف نه راځی ځكه مرفوعةٍ دا صفت داسم دي او اسم مذكر دي؟ **جواب**: داجمع دمرفوع ده او جمع ئی په الف او تاء سره ځكه راوړه چې دا صفت داسم دي او اسم مذكر لا يعقل وی نو مشابهت ئی دمونث سره راغلو.

ويجمع هذه الجمع: سره دويم غرض بيان دقاعدي كليه، قاعده داده چې داسم صفت چې دمذكر لا يعقل صفت وی نو جمع ئی په الف او تاء سره راځی مثلاً صافنات دا جمع د صافن ده او صافن صفت دفرس دي او فرس دا مذكر لا يعقل دي. همدارنګه دجمل جمع جمال راځی او صفت ئی سجلات راځی ځكه چې جمل دامذكر لا يعقل دي او همدارنګه دايام صفت خالياتٍ راغلی، ځكه ايام ديوم جمع ده او يوم مذكر غير عاقل دي.

په كالايام باندي اعتراض: جمال دا عطف دي په صافنات باندي نو دكاف لاندي راغلو او كالايام عطف دي په صافنات باندي دكاف لاندي راغلو نو په كالايام كښې دويم كاف راوړولو ته څه ضرورت وو؟ **جواب**: دا عطف دي په كالصافنات باندي نو دكاف لاندي رانغلو، او دا دپاره دفرق په مابين ديوم كښې او دنورو مثالونو كښې

ځکه هغه مخکښې مثالونو د ذو الروح دي او دا وروسته مثال دغير ذوي الروح دي.

وهـواى المرفـوع: يـو غـرض تعـين دضـمير او غـرض پکښـې دفـع اعتـراض،

اعتراض: هو ضمير مرفوعات ته راجع دي او که مرفوع ته، که مرفوعات ته راجع وى نو يو نقصان دا لازميږي چې مطابقت په مابين دراجع او دمرجع کښې نـه راځـي ، او دويـم نقصان دا راځي چې مرفوعات خو افراد دي نو لازم به شي تعريف دا افرادو او تعريف خو دماهيت کيږي نه دافرادو، او که ضمير راجع شي مرفوع تـه يعنـي خـاص مرفـوع تـه نو اضمار قبل الذکر لازميږي او که مطلق مرفوع ته راجع شي نو مطلق مرفوع خو هم مخکښې ندي ذکر؟ **جواب:** ضمير خاص مرفوع ته راجع دي او اضمار قبل الذکر هم نه راځي ، ځکه مرفوع دا په ضمن دمرفوعات کښې ذکر دي. دقبيلې د دلالت دجمع نه په جنس باندي،

لان التعريف: سره دويم غرض چې دفع داعتراض ده . **اعتـراض:** هـو ضـمير دي رواړو او مرفوع ته دي راجع کړو کوم چې ضمناً ذکر دي (هي) ضمير بـه دي راړوي وى چې مرفوعات ته راجع شوي دي کوم چې صراحتاً ذکر دي؟ **جواب:** تعريف دفرد پـه فـرد سره نشي کيدي لکه زيد ما هو او ته په جواب يا تعريف کښې ورته عمرو اووائى. ځکه چې دا معرِف به يا عين معرَف وى او يا غير معرَف ، که عين معرف وى نو تعريف دشى راځي په خپل نفس سره او که غير معرف وايي نو تعريف دشـي راځـي بالمباين ، او تعريف بالمباين هم نـدي جائز ځکه معرِف حمل وى په معرَف او حمـل دمبـاين پـه بـل مباين دا نه صحيح کيږي دغه شان تعريف دماهيت په فرد سره هم نه کيږي لکه الانسان ما هو او جواب ورکوى په زيد سره د زيد ځکه تعريف جامع نـه ګرځـي خپلـو لـره ځکـه انسان لره خو نور افراد هم شته، او دغه شان تعريف دفـرد هـم پـه ماهيت سره نـه کيـږي ځکه تعريف بيا مانع نه ګرځي ، دخول دغير لره لکه تعريف دزيد اوکړي په انسان سره نو انسان عمرو او بکر ته هم وائى، نو تعريف يـواځې دماهيت کيږي په ماهيت سره ، لکه تعريف دانسان اوکړي په حيوان ناطق سره، اوس هغـه اعتـراض پـرې واردېږي چې معرَف او معرِف عين وائى او که غير وائى.

که عين ئى وائى نو تعريف دشى راځي په خپل نفس سره او که غيـر ئـى وائـى نـو

تعریف بالمباین راځی ، ؟ **جواب**: دمعرف او دمعرف په مابین کښی تساوي بحسب المصداق وی یعنی په خارج کښی مصداق یو وي اوتغایر پکښی بحسب المفهوم وی یعنی مفهوم کښی سره مغایر وی لکه دانسان مفهوم دي حیوان ناطق او دحیوان مفهوم دي جسم نام حساس متحرك بالاراده،او دناطق مفهوم دي مدرك الكليات والجزئيات ، نو چی بحسب المفهوم پکښی تغیر راغلو نو تعریف دشی په خپل نفس سره رانغلو او چی بحسب المصداق پکښی تساوي راغلو نو تعریف بالمباین نه شو، **ما اشتمل اى اسم**: یو غرض تعین د (ما) کوی چی ما موصوفه او مراد ترینه اسم دي، او غرض پکښی دفع داعتراض ده، (ما) عبارت دي دشی نه، نو تعریف دي مانع نشو دخول دغیر لره داخل شو، پکښی متکلم او یا فم (زبان) دمتکلم څکه هغه هم مشتمل وي په علم د فاعلیت ؟ **جواب**: (**ما**) عبارت دي داسم نه.

اى علامة كون الاسم فاعلاً: اول تعین دیا تاء مصدري، دویم تعین دعلامو، دریم تعین داستعمال، څلورم دفع اعتراض، پنځم رد په شارح هندي: اول خبره: اى علامة كون الاسم فاعلاً سره اول غرض اوشو، چی یا تاء هغی ته وائی چی ګرځوی خپل ملحق به لره خبر دپاره د (کان) محذوفه سره داسم محذوفه نه،

وهى الضمة والواو والالف: سره دویم غرض ضمه راځی په مفرد او جمع مکسر منصرف او واو راځی په اسماء ستهٔ کښی او په جموعو کښی او الف راځی په تثنیو کښی **والمراد باشتمال الاسم**: سره دریم غرض، اشتمال دیته وائی چي اشتمال د کل وی په جزء او بل اشتمال دصفت دي په موصوف او دلته مراد اشتمال دصفت دي په موصوف باندي

لفظاً او تقديراً او محلاً: سره څلورم غرض : **اعتراض**: هلکه تا وویل چی رفع علامه دفاعل ده زه به درته وښایم چی فاعل به وي او رفع به نه وي لکه : قام هٰؤلاء؟ **جواب**: رفع عامه ده لفظاً وی او که تقديراً او که محلاً وی. **ولا شك**: سره پنځم غرض رد په شارح هندي، شارح هندي وائی چی رفع په مبنیاتو کښی نه راځی نو شارح پری رد وکړو چی ته معنی درفع محلی نه پیژنی رفع محلی دیته وایي چي اسم مبنی په داسي ځاي کښی واقع شی چی که دغلته معرب اسم وی نو خامخا به پري یو نوع داعراب راغلی وی یا لفظاً او یا تقديراً اوس چی دامبنی اسم راغلو نو همدا به مرفوع

محلاً وی او دویمه وجه داده چی وروسته نحاة بحث کوی داحوال هغه فاعل نه چی ضمیر متصل واقع وی نو ضمیر خودمبنیاتوڅخه دي که چیرته رفع محلی نه راتللی نو ضمیر به بیا فاعل نه واقع کیدلو، فکیف کښی کیف دپاره داستفهام انکار دي.

فمنه: فا تفصیلیه ده او من ابتدائیه ده او من تبعیضی نه ده ځکه من تبعیضی داخلیږي په جمع لکه (اخذت من الدراهم) او دلته په مفرد داخل شویدي بعض علماء وائی چی (من) تبعیضی دي ځکه چی په منها المبتدا کښی من تبعیضی دي نو هلکه چی من تبعیضی شی نو هغه خو داخلیږي په جمع او مرفوع خو جمع نه ده نو دوي وائی چی مرفوع دا خو جنس دي او په جنس کښی معنی دجمع وی چی هغه تکثر دي خو دا خبره ددوي کمزوي ده ځکه په جنس کښی معنی دجمع وی نو په فرد کښی هم جنس وي نو په فرد کښی به هم تکثر وي اوبل دوي وائی چی من تبعیضی ځکه دي چی موافقت راشی دمنها المبتدا سره نو مونږ وایو چی موافقت ضروري ندي اوس چی من ابتدائی شو بغیر د آلی څخه وی لکه دلته او دیته من ابتدائی اتصالی وائی اویو سره دآلی نه وی او دیته من ابتدائی انفصالی وایی نو دي سره دفع داعتراض هم اوشوه چی هلکه من ابتدائی شو نو آلی کوم دي نوجواب دادي چی من دا اتصالی دي.

فمنه: یو غرض تعین دضمیر او دویم ذکر داحتمالین: اول غرض او دویم په یو ځائی کیږي ضمیر یا راجع دي مرفوع ته اویا ما اشتمل علی علم الفاعلیة ته او په دواړو کښی قبح او حسن شته که راجع شی مرفوع ته نو یوه قبحه پکښی داده چی ضمیر بعید ته راجع شو او دویمه قبح پکښی داده چی غیر صریحی ته راجع شو او حسن پکښی دادي چی مقصود ته راجع شو او که ما اشتمل علی علم الفاعلیة ته راجع شی نو حسن پکښی دادي چی قریب او صریح ته به راجع شی او قبح پکښی داده چی غیر مقصود ته به راجع شی.

وانما قدمه: یو غرض دفع داعتراض، دویم اختلاف ته پکښی اشاره، دریم دلیل: اول غرض: **اعتراض**: تا دخپل اصل نه مخالفت ولی کړي چی جار الله زمخشري دي هغه مبتدا مخکښی کړي او تا فاعل؟ **جواب**: ځکه چی دا اصل دمرفوعات دي عند الجمهور لانه اصل المرفوعات صغري ده او اصل مقدم وی داکبری نتیجه دا شوه

چې ځکه مو فاعل مقدم کړو کبرئ خو مسلمه ده چې اصل مقدم وی او صغري لپاره دليل چې لانه جزء جملة الفعلية او جمله فعلية دا اصل ده او دا ځکه چې دوه نوعی دي يو خبر اوبل انشاء او دا دواړه په جملهٔ فعليه کښې راځي او جمله اسميه کښې صرف خبر راځي ، دويمه وجه داده چې جمله اسميه جوړيده دجمله فعلي څخه لکه وروسته به درته راشي چې سلام عليك جوړ دي دسلمت سلاماً عليك څخه دريمه وجه داده چې جمله فعليه کښې جزئين وی او حذف د احدهما ندي جائز او په جمله اسميه کښې جزئين وي خو حذف د احدهما جائز دي،

ولان عامله: سره دويم دليل ذکر کوی چې فاعل عامل دا اقوی دي ځکه لفظی دي او عامل دمبتدا معنوی وي. **وقيل:** سره دويم مذهب ذکر کوی چې دجار الله زمخشری دي دي وائی چې اصل په مرفوعاتو کښې مبتدا ده اول دليل دادي چې فاعل او مبتدا مسند اليه دي او اصل په مسند اليه کښې تقديم وی او مبتداء په خپل اصل پاتی دی چي هغه تقديم دي ، بل دليل دا چې په مبتدا باندي حکم په مشتق او جامد دواړو سره کولی شی او په فاعل باندي حکم يوائې په مشتق سره کولی شی نو اول غرض دويم او دريم تول وشو خو دا دويم مذهب ضعيف دي د دوه وجهو نه اول وجه دا ده چې مصنف د په قيل سره ذکر کړي او بل دا چې په مقابله کښې ئی جمهور دي اوس چې ضعيف شو نو ددوي د اول دليل نه جواب دا کوو چې فاعل هم په خپل اصل باندي پاتې دي خو مونږ دعذر له وجهې نه وروسته کړو چې هغه التباس دفاعل دي په صورت دتقديم کښې دمبتدا سره او دويم دليل نه دا جواب کوو چې په فاعل باندي هم په مشتق او جامد دواړو سره حکم کولی شی مشتق سره خو ظاهر دي او دجامد مثال لکه افعال مدح او ذم سره لکه نعم زيد نعم فعل دي او جامد دي او ساء عمرو.

د فاعل تعريف

وهو اى الفاعل: دي ځاي نه تعريف دفاعل کوی يو فاعل لغوی اوبل فاعل اصطلاحی ، فاعل لغوی وائی ما صدر عنه فعل ته لکه مات زيد قائماً دلته فاعل لغوی هغه زيد نه دي، ځکه دمات فاعل هغه خو الله ﷻ دي، اوبل فاعل اصطلاحی دي، مصنف تعريف دفاعل اصطلاحی کوي نه دفاعل لغوی، وهو سره تعين دضمير

کوی چی فاعل ته راجع دي.

ما ای اسم حقيقة او حكماً: يو غرض تعريف د (ما) کوی چی ما موصوفة ده او دۀ ترينه تعبير په اسم سره کړي، نو اعتراض پري وارديږي چی ما موصوفة نه خو تعبير په شئ سره کولی شی، نو جواب دادي چی ده ترينه تعبير په اسمٌ سره اوکړو، دپاره دقصر مسافت دويم غرض دفع اعتراض : **اعتراض:** ته وائی چی فاعل دا هغه اسم دي زه به درته اوښايم چی فاعل به وي او اسم به نه وی، لکه اعجبنی ان ضربت زيدا اعجبنی فعل مفعول به او ان ضربت زيداً دا جملة فعليه فاعل واقع شوي اواسم نه دي، ؟ **جواب:** دا اسم عام دي حقيقتاً وی او که حکماً ، حکماً هغه دي چی په تاويل دمصدر سره وي.

اسند اليه الفعل بالاصلة: اول دفع اعتراض ، دويم تعميم ، دريم دفع اعتراض ، اول غرض : زه به درته وښايم چی اسناد فعل به ورته شوي وي او فاعل به ورته ځوك نه وائی لکه ضرب زيد وعمر ، دضرب نسبت عمرو ته هم شوي دي، لکه څرنګه چی زيد نه وشوي دي او د يته ځوك فاعل نه وائی، ؟ **جواب:** دا اسناد دفعل به دغه فاعل ته اصالةً شوي وي او دلته خو عمرو ته اسناد ضرب شوي دي خو په تبع دزيد کښی يعنی دا عطف دي په زيد.

وكذا المراد فی جميع حدود المرفوعات الخ... سره دويم غرض تعميم يعنی لکه څرنګه چی شرط په فاعل کښی هغه اسناد اصالةً معتبر دي دا رنګی په منصوباتو او مجروراتو کښی هم لکه ضرب زيد عمرو او بکراً دلته دوقوع دفعل نسبت چی څرنګه عمرو ته شوي دا رنګی بکر ته هم شوي او سره ددينه ځوك بكر ته مفعول نه وائی ځکه نسبت دوقوع دفعل ورته اصالةً شوي، او همدارنګه په مجروراتو لکه مررت بزيد وعمرو کښی عمرو ته ځوك مجرور نه وائی بلکه معطوف ئی ورته وويلی.

بقرينه ذكر التوابع: سره دريم غرض : چی باالاصالة قيد معتبر وو، خو ذکر کړي به دي وی . **جواب:** موږ ځکه دا قيد ذکر نه کړو چی وروسته توابع ذکر دي، که چيرته توابع دلته مراد وی نو وروسته به ئی بيا نۀ ذکر کول.

د فاعل اقسام

او شبهه ای ما یشبهه الخ... دلته او دپاره دتشکیك ندي بلکه دپاره دتنویع دي چی فاعل په دوه قسمه دي، یو هغه چی عامل فعل وی او دویم هغه چی عامل ئی شبه فعل وی، ای ما یشبهه سره غرض دمصنف ما فیه شبهه ذکر کوی چی مشابه دفعل نه مراد مشابه فی العمل دي، وانما قال: سره مصنف فائده داو شبهه ذکر کوی چی فائده ئی داده چی شامل شی تعریف دفاعل، فاعل داسم فاعل دصفت مشبه او مصدر او اسم فعل او داسم تفضیل او ظرف ته،

وقدم: دا دویم قید دفاعل دي، اول غرض تعین دضمیر او غرض پکښی دفع داعتراض، **اعتراض**: دادي چی ضمیر په قدم کښی فعل ته که راجع وی نو شبه فعل پاتی شواو که شبه فعل ته راجع وی نو فعل پاتی شو او که دواړو ته راجع وی نو مطابقت نه راځی بین الراجع المرجع. **جواب**: خلاصه دجواب داده چی ضمیر فعل ته راجع دي او شبه فعل پري عطف دي، او بعضو دا وئیلی دي چی اسند الیه ته راجع دي نو فعل او شبه فعل پکښی دواړه راغلل، **علیه**: اول تعین دضمیر، دویم فائده، دریم دفع داعتراض، څلورم هم دفع داعتراض، پنځم، جواب:

ای علی ذالك الاسم: سره اول غرض اوشو چی ضمیر اسم ته راجع دي، **واحترزبه الخ**... سره دویم غرض فائده، فائده د قدم علیه دقید ضمیر زید ته راجع نه دي او اسناد د فعل هغه ضمیر ته شوي دي او اسناد ضمیر دشی ته دا اسناد وی په حقیقت کښی عین هغه شی ته نو ځکه ورته فاعل نه وایو چی دا قید پکښی نشته،

والمراد تقدیمه علیه وجوباً: سره دریم غرض دفع اعتراض، په دي ترکیب کښی چی کریم من یکرمك دي، کریم اسم فاعل دي او مقدم دي او اسناد یي من یکرمك ته شوي دي پکارده چی ده ته شبه فعل اووئیلی شی، او دي جملی ته جمله فعلیه خبریه او سره ددیته چی کریم ته خلق خبر مقدم وائی ؟ **جواب**: مونږ وایو چی دتقدیم نه مراد هغه تقدیم دفعل وشبه فعل دي، وجوباً او دلته کریم وجوباً مقدم ندي ځکه که چیرته وجوباً مقدم وي نو په تاخیر سره به په معنی کښی فساد راتلی او دلته فساد نه راځی، من یکرمك کریم هم وئیلی شی.

فان قلت: سره څلورم غرض **اعتراض**: زه به درته اوښايم چې شبه فعل به وي او اسناد به ئې هم اسم ته شوي وی او واجب التقديم به وي. او څوک به ورته شبه فعل نه وائی ، لکه فی الدار رجل کښې فی الدار ظرف دي او واجب التقديم دي؟ **جواب**: مراد تقديم نه تقديم دنوع دما اسند اليه دي، نه خاص تقديم چې هغه نکارت دمبتدا دي او دا خو په ټوله نوعه دخبر کښې نه جاري کيږي.

علی جهة قيامه ای اسنادا واقعاً: اول غرض تعين دمتعلق او غرض پکښې دفع اعتراض ، دويم محل دجملې، دريم معنی د جهت ، څلورم تعين دضمير دقيامه، پنځم دفع داعتراض ، **ای اسنادا واقعاً**: سره اول غرض اعتراض ، **اعتراض**: علی جهة قيامه په قدم عليه پوري متعلق دي او که ما اسند پوري. که قدم پوري متعلق وی نو دوه نقصانه لازميږي. اول دا چې قدم به متعلق شي او قاعده په متعلق کښې داده چې کله وی او کله نه وی لکه زيد فی زيد فی الدار نو زيد متعلق دي نو زيد به کله وی په کور کښې او کله به نه وي، نو اوس په قدم کښې به معنی داسي شي چې کله به تقديم دفعل او شبه فعل وی او کله به نه وي او دويم نقصان به دا لازم شي چې يو متعلق هغه عليه دي او دويم به علی جهة قيامه شي نو لازم به شي تعلق دمتعلقينو په متعلق واحده پوري بغير دعاطف نه او که علی جهة قيامه متعلق شي په ما اسند پوري نو د اسند په صله کښې علی نه راځی بلکه الی راځی؟ **جواب**: دا د دواړو پوري متعلق نه دي بلکه په واقعاً پوري متعلق دي.

اسناداً واقعاً: سره دويم غرض : علی جهة قيامه دا په اعتبار دمتعلق سره مفعول مطلق واقع شوي دي. د اسند دپاره نو اسند خو مشتمل دي په اسناد باندي نه په واقعاً نو جواب دادي چې واقعاً مفعول مطلق دي خو په اعتبار د موصوف محذوفه سره تقدير داسي دي چې اسند اسناداً واقعاً نو اسناداً موصوف حذف شو او صفت قائم مقام دهغې شو او شي چې قائمقام شي په ځائې دغير نو هغه لره حکم دغير وی نو اسناداً مفعول مطلق وونو واقعاً هم مفعول مطلق شو.

علی طريقة: سره دريم غرض معنی دجهت ده. **اعتراض**: ستا دجهت نه کوم جهت مراد دي، آيا جهت لغوی چې امام. خلف. تحت. فوق. يمين. دي او که جهت

درياضي والامراد دي چې هغه نقطه او خط دي او که جهت منطقي دي مراد دي چې هغه دوام او ضرورت او لادوام او لاضرورت دی ؟ **جواب:** مراد دجهت نه زما طريقه مراد ده نه هغه چې کوم تا ووئيل .

قيام الفعل اوشبهه: سره څلورم غرض دي چې ضمير فعل شبه فعل ته راجع دي او پنځم غرض هم اوشو چې هم دغه زوړ اعتراض او جواب دي **به:** اول تعين دمتعلق دبه ، دويم طريقه دقيام، دريم فائده دقيد ، څلورم اشاره اختلاف ته، پنځم دفع داعتراض ، **اى بالفاعل:** سره اول غرض اوشو چې متعلق دبه هغه فاعل دي، **فطريق قيامه:** سره دويم غرض طريقه دقيام داده چې دافعل به يا په صيغه معلوم سره وي او يا په حکم دصيغي د معلوم لکه اسم فاعل او صفت مشبه واحترز بهذاالقيد . سره دريم غرض چې فائدة دقيد على جهة قيامه داده چې دا (به) مفعول مالم يسم فاعل نه وي يعنى په صيغه دمجهول سره به نه وي لکه ضُرِبَ زيدٌ

والاحتياج الى هذا القيد: سره څلورم غرض چې اختلاف دي په نائب فاعل کښې اختلاف دادي چې مصنف نائب فاعل او فاعل ځانته ځانته قسمين ګرځولى دي، او جار الله زمخشري دواړه يو قسم ګرځولى دي ، او دي سره دفع داعتراض هم اوشوه ستا کتاب ماخوذ دي دجار الله زمخشري نه هغه دا قيد چې على جهة قيامه به دي نه دي لګولى او تا راوړى دي ولې ؟ **جواب:** دي وائى دا ځکه چې زما غرض او دهغه غرض کښې فرق دي زما په نزد فاعل او نائب فاعل جدا قسمين دي او هغه نائب فاعل عين فاعل ګرځولى دي

مثل قام زيد. اى زيد فى قام زيد ، وابوه فى زيد قائم ابوه: شارح ابوه راوړو او زيد ئې راوړو دپاره ددفع دتوهم چې خلق دا وهم او نه کړي چې فاعل په مجموعى دقام زيد ته او يا مجموعى د زيد قائم ابوه ته وائى . **اعتراض:** توضيح دممثل دپاره يو مثال کافى دي تا دوه ولې راوړل ؟ **جواب:** اول مثال دفعل دي او دويم مثال دشبه فعل دي. **والاصل ان يلى الفعل:** هر کله چې فارغ شو مصنف دتعريف دفاعل نه نو شروع ئې اوکړه په يو څو قواعدو دفاعل کښې اوله قاعده داده چې دا فاعل به فعل ته نژدي وي .

والاصل فى الفاعل: اول غرض تعين دالف لام اوغرض پکښې دفع داعتراض ده،

دویم معنی داصل ، دریم دفع اعتراض ، اول خبره الف لام په الاصل کښې یا عهدي دي معهودپه دي سره اصل دفاعل دي او یا عوض دي دمضاف الیه نه تقدیر داسي وو چې اصل الفاعل نو مضاف الیه حذف شو او دهغه عوض کښې الف لام په مضاف راوړلی شو، او په دي سره دفع داعتراض هم اوشوه چې الاصل مبتدا ده او ان یلی الفعل ورلره خبر دي او خبر حمل په مبتدا باندي او دلته حمل نه صحیح کیږي ځکه حمل د خاص راځي په عام باندي الاصل عام دي ځکه دا پته نشته چې د چا اصل دي، او خبر خاص دي نو **جواب:** اوشو چې اصل دفاعل مراد دي نو مبتدا هم خاص وو حمل صحیح شو.

ای ما ینبغی الخ... سره دریم غرض اعتراض : **اعتراض:** اصل په لغت کښې ما یبتنی علیه غیره ته وائی او په اصطلاح کښې دقاعدي دلیل راجح او اسصحاب الحال په معنی سره راځی ستا کوم مراد دي؟ **جواب:** مراد زمونږ د اصل نه راجح دي. **ان لم یمنع مانع:** سره دریم غرض **اعترض:** تا وئیل چې اصل په فاعل کښې داده چې دا به نزدي وی فعل ته زه به درته اوښایم چې تقدیم دمفعول به واجب وی لکه ضربك زیداً ؟ **جواب:** مونږ خو دا وئیلی ووچې مانه شوي که مونږ فاعل مقدم کړو نو متصل نه به منفصل جوړ شی،

ان یلـی الفعـل: اول اعتراض ږ دویم معنی دلیل ، دریم دلیل ، څلورم دلیل للدلیل ، اول خبره **المسند الیه:** سره اول غرض دفع داعتراض **اعتراض:** تا وئیل چې الا صل فی الفاعل ان یلی الفعل نو دغه رنګه قاعده خو په شبه فعل کښې هم ده هغه دي ولی ذکر نه کړو؟ **جواب:** مراد د فعل نه مسند دي بیا مسند عام دي فعل وی او که شبه فعل . **ای یکون بعده:** سره دویم غرض معنی د یلی ملا صاحب د (یلی) خو یوه معنی داده چې اول فعل وی او وریسي فاعل وی او دویمه دا چې اول فاعل وی او وریسی فعل وی ستا کومه یوه مراد ده، ؟ **جواب:** زما اوله معنی چې اول فعل او رویسي فاعل وی مراد ده .

لا نه کا الجزء من الفعل: سره دریم غرض دلیل ذکر کوی، چې دا به ولی نزدي وی ځکه چې فاعل پشان دجزء دي، دفعل نه په شدة احتیاج کښې چې دفعل فاعل ته احتیاج کښې چې دفعل فاعل ته احتیاج چې څرنګه دفعل فاعل ته وی دغه رنګه مفعول ته هم وی ؟ **جواب:** احتیاج په دوه قسمه دي یو په نفس الامر کښې او بل په تعقل

کښې په نفس الامر کښې اګر چې شته خو لیکن په تعقل کښې احتیاج ورلره نشته **ویدل علی ذالک**: سره څلورم غرض ذکر کوی چې دلیل دپاره د دلیل چې فاعل ولې جزء دي دفعل نه. دي وائي ځکه چې سکون د لام دلالت کوي په ضربتُ کښې په جزئیت باندي دپاره د دي چې توالي داربع حرکاتو را نشي په هغه ځائی کښې چې هغه په منزله د یوی کاسي دي.

فلذالک ای الاصل الذی الخ... اول تعین دمشار الیه کوی چې دهغه اصل دوجې نه چې فاعل دهغې دوجې نه تقاضا د تقدیم کوی په ټولو معمولاتو دفعل باندي. جاز ضرب غلامه زیدٌ: مراد په دي سره هر هغه ترکیب دي چې اتصال دضمیر دفاعل راغلی وی، په مفعول پوري او فاعل موخر وی **لتقدم مرجع الضمیر**: سره دلیل دجواز ذکر کوي دا ترکیب ځکه جائز دي چې دفاعل اګرچې لفظاً موخر دي خو مرتبةً مقدم دي نو اضمار قبل الذکر نه راځي، وامتنع ضرب غلامه زیدا. مراد په دي سره هر هغه ترکیب دي چې اتصال دضمیر دمفعول راغلی وي په فاعل پوري او مفعول مواخر وی، او ل دلیل دامتناع دویم بیان داختلاف، دریم دلیل دمخالف، څلورم جواب: **لتاخر مرجع الضمیر**: سره اول غرض دلیل دامتناع، ځکه داترکیب ممتنع دي چې مرجع دضمیر چې مفعول دیْ موخر دي، هم لفظاً او هم رتبةً نو لازم شو اضمار قبل الذکر،

خلافا للاخفش: سره دویم بیان داختلاف، امام اخفش او ابن جني دوي وائی چې څرنګه دفعل ضرورت وی فاعل ته دا رنګه ئی ضرورت مفعول ته هم وی، نو د فاعل صورت کښې اضمار قبل الذکر جائز وو، نو په مفعول کښې هم اضمارقبل الذکر جائز دي، او ددوي دپاره یو دلیل دغه عقلي دلیل وو او دوه دلائل نقلیه وائی او هغه دادي **ومستندهما ذلک**: سره دلیل دمخالف، دوي دلیل دا شعر وائی چې (**جزي ربه عنی عدي ابن حاتم. جزی الکلاب العاویات وقد فعل**)دي شعر کښې جزي دا فعل دي رب دا فعال دي او (ه) ضمیر ته چې عدي ابن حاتم دي راجع دي. او سدا شعر دوي وائی چې هغه فصیح وو او سره ددیته داسې ئی کړي دي، او دویم ئی دا شعر دي،

لما عصا اصحابه مصعباً. ادی الیه الکیل صاعاً بصاع: عصا فعل او اصحابه فاعل او (ه) ضمیر دا مفعول ته چې مصعباً دي راجع دي نو اضمار قبل الذکر راغلو.

د احتياج اقسام

واجيب: سره څلورم غرض جواب: دليل عقلي نه خارجي جواب كوو چي احتياج على قسمين دي يو په نفس الامر كښي اوبل په تعقل كښي ،احتياج په تعقل كښي فاعل ته شته او مفعول ته نشته او دويم داچي فاعل چي ذكر شي نو جمله مفيده دفائدي تامي وي اګركه مفعول ورسره ذكر هم نشي، او دليل نقلي نه ئې جواب دادي چي دادضرورت شعري دوجې نه اضمار قبل الذكر زاغلي، او زمونږه خبره په وسعة دكلام كښي ده يعني په نثر كښي ده. او دويم جواب دادي چي دا ضمائر مفعول ته نه دي راجع بلكه مصدر د جزاء او دعصا ته راجع دي چې الجزاء او العصيان دي خو دا جواب ضعيف دي ځكه په دي باندي څه قرينه نشته، **اعتراض**: تا دقاعدي دمناظري نه مخالفت ولي او كړو ځكه اول جواب منعي ذكر كيږي او بيا تسليمي او تاعكس كړي دي. **جواب**: اول خودا دي چې دا قاعده خو ضروري نه ده، او دويم جواب دادي چې مونږه اول جواب تسليمي ذكر كړو، ځكه په دي كښي اشاره وه قوت دجواب تسليمي ته.

واذا انتفى الاعراب: دي ځاي نه دويمه قاعده دفاعل ذكر كوي او داپه حقيقت كښي څلور قاعدي دي او هغه داچي په كومو صورتونو كښي تقديم دفاعل واجب دي. **الدال على فاعلية الفاعل**: اول تعين دالف لام او غرض پكښي، دويم دفع داعتراض، دريم رد په شارح هندي، اول خبره: الف لام عهدي او معهود په دي سره هغه اعراب دفاعل دي. دويم غرض هم اوشو چي زمومږه خبره شروع وه په فاعل كښي او ته اعراب ته لاړي نو دا خو خروج عن البحث راغلو،؟ **جواب**: زه اعراب دفاعل ذكر كوم.

فرق په مابين د اعراب او قرينه كښي

بالوضع: سره دريم غرض: چي مصنف وائي اعراب هغه امر ته وائي چي په فاعليت دفاعل او مفعوليت دمفعول دلالت اوكړي، بالوضع او قرينه وائي هغه امر ته چي دلالت كوي په فاعليت دفاعل او په مفعوليت دمفعول خو بغير دوضع نه او شارح هندي وائي چي قرينه عامه ده چي وضع وي او كه نه وي او اعراب خاص چي وضع به وي نو شارح پري رد اوكړو چي د دوي دواړو په مابين كښي فرض شته.

لفظاً فيهما اى فى الفاعل: يو غرض تعين دضمير. دويم دفع داعتراض، اول خبره:

ضمير دهما راجع دي فاعل او مفعول ته. **المتقدم ذكره**: سره دويم غرض: فاعل خو مخكښې ذكروو او مفعول نه دي ذكر نو ته څنګه وائې چې ضمير فاعل ته هم راجع دي، نو اضمار قبل الذكر راغلو، ؟ **جواب**: فاعل مخكښې صراحتاً هم ذكر وو او په ضمن دمثله كښې هم او مفعول په ضمن دامثله كښې ذكر وو نو لايلزم الاضمار قبل الذكر ،

معنى او تقسيم د قرينې

والقرينة الخ... اول معنى دقريني ، دويم دليل ، دريم رد په شارح هندي. څلورم قسمين دقريني . **الامر الدال عليهما**: اول غرض: قرينه دا هغه ته وائې چې دلالت كوي په فاعل او مفعول باندي بغير دوضع نه يعنى وضع دقريني دپاره د دلالت كولو په فاعل او مفعول نه ده شوي، **اذ لا يعهد**: سره دويم غرض: ځكه معلومه نه ده دا خبره چې اطلاق دقريني اوشي په هغه شي چې په مقابله ديوشي كښې وضع شوي لكه عبدالله چې علم او كرځوي دپاره ديو كس اوس دا دلالت كوي په حيوان ناطق مع هذا التشخص خو بالوضع ، نه دا چې دا عبدالله قرينه ده په حيوان ناطق مع هذا التشخص باندي.

فلا يرد عليه: دي سره دريم غرض ، رد په شارح هندي: ده اعتراض كړي په ماتن چې قرينه دا عامه ده ځكه چې دا په فاعليت دفاعل او مفعوليت دمفعول باندي دلالت كوي بالوضع وي او كه نه ، او اعراب خاص دي ځكه دا بالوضع دلالت كوي نو پكار دا وه چې داسي دي وئيلى وى، اذا انتفى القرينة لفظاً فيهما ځكه چې انتفا دعام مستلزم وى انتفا دخاص لره نو انتفاء دقريني سره به انتفاء داعراب هم راغلى وى؟ **جواب**: ده رد اوكړو چې په مابين داعراب او دقريني كښې نسبت دعموم خصوص مطلق نه دي بلكه نسبت پكښې د تباين دي، نو انتفاء دقريني سره انتفاء داعراب نه راځي ،

وهى اما لفظية: څلورم غرض: قرينه په دوه قسمه ده، اول لفظيه دويم معنوية دلفظيه مثال لكه ضربت موسى حبلى ، اوس دلته لفظي قرينه موجود ده په فاعليت دحبلى، ځكه فعل مونث دي او دمعنوى مثال لكه اكل الكمثري يحيى دلته په فاعليت ديحيى باندي معنوى قرينه شته چې هغه كمثري ده .

او كان مضمر متصلاً: اول قسمين دضمير متصل ، دويم دفع اعتراض ، اول خبره :ضمير متصل دا په دوه قسمه دي بارز لكه ضربت زيداً . او بل ضمير مستتر لكه

زيداً ضرب : **بشرط ان يكون المفعول:** دويم دفع اعتراض : تـه وائي چي ضمير متصل وی دفاعل تقديم واجب دي پـه مفعول باندي زه بـه درتـه اوښايم چي ضمير دفاعل بـه متصل وی او مقدم بـه نـه وي پـه مفعـول بلکـه مفعول بـه مقدم وی لکـه زيداً ضربت. ؟
جواب: تقديم ددغه فاعل واجب په مفعول دي خو په دي شرط سره چي مفعول به په فعل نه وی مقدم ، اودلته خو په فعل هم مفعول مقدم دي.

او وقع مفعوله بعد: سره دريمه قاعده ذکر کوی، **شرط توسطها:** سره بيان دشرط چی دا (الا) به واقع وي په مابين دفاعل او مفعول کښی په صورتينو دتقديم او دتاخير کښی يعنی چی فاعل مقدم وی او مفعول موخر او يا عکس ددي، او بعد معناها : سره ځلورمه قاعده ذکر کوی چی يا واقع وی فاعل پس دمعنی د (الا) نه چی انما دي لکه انما ضرب زيد عمرو، او معنی د (الا) داده چی اثبات او نفی پيدا کوی دغه رنګه انما هم دي خو په انما کښی حصر هم دي .

وجب تقديمه: اول بيان دضمائرو، دويم دلائل دځلورو واړو قاعدو، دريم فائده دقيد دبشرط توسطها ، ځلورم اشاره اختلاف تـه، پـنځم دفـع اعـتـراض. **ای تقديم الفاعل علی المفعول:** اول غرض : تقديم دفاعل به په مفعول راغلی وی، **اما فی صورة الانتفاء:** سره دويم غرض دلائل، په اول ضورت کښی چی انتفـاء داعـراب او دقريـنـي وی نو تقديم دفاعل واجب وی په مفعول دپاره دځان ساتلو دالتباس نه لکه ضرب موسي عيسي . او په دويم صورت کښی چی فاعل ضمير متصل بالفعل وی نو ځکه تقديم دفاعل واجب دي، ځکه که فاعل وروسته کړي شی نوضمير متصل نه به منفصل جوړ شی او دريم صورت کښی چی مفعول واقـع وی پـس د (الا) نـه لکـن بشـرط توسط الا بينهما تقديم دفاعل واجب دي ځکه چی حصر مطلوبه منقلب نشی حصر مطلوبه هغه انحصار دضاربيت دزيد دي په عمرو کښی او هر چی عمرو دي نو هغه دنورو دپاره هم مضروب کيدي شی ، اوس کـه مفعـول پـه فاعـل مقدم کړو نو انحصار دمضروبيت بـه راشي پـه عمرو کښـی او هر چی زيد دي نو هغـه دنورو دپـاره هـم فاعـل ضارب واقـع کيداي شی، لکه ماضرب زيدٌ الا عمرواً او ځلورمی قاعدي وجه ئی وروسته راوړي چی کله مفعول واقع وی، پس دمعنی د (الا) نه چی انما دي لکه انما ضرب زيدٌ عمرواً اوس

دلته تقديم دفاعل واجب دي. ځکه دلته حصر هغه په جزء اخير کښې دي اوس که فاعل مؤخر کړي نو هغه حصر مطلوبه او هغه معنی منقلبة شي .

وانما قلنا بشرط توسطها: سره دريم غرض فائده دقيد داده چې که مفعول مقدم کړي په فاعل باندې سره د (الا) نه نو ترکيب به داسي شي چې ماضرب الاعمراً زيدٌ نو ظاهره خبره داده په دي ترکيب کښې چې انحصار دضاربيت راځي په زيد کښې ځکه حصر په يلي د الا کښې وي اويلي د الا مخکښې او دي منقلب ترکيب کښې عمرو واقع دي نو معنی صحيح شوه .

ولکنه لم يستحسنه بعضهم: سره څلورم غرض . بيان داختلاف . عبد القاهر او اخفش او سکاکي، دوي وائي چې دا ترکيب چې ماضرب الاعمرواً زيد دا صحيح نه دي او ددوي دپاره دوه دلايل دي اول دا چې دا قصر دصفت دي فاعل راغلو. مخکښې دتماميدو ددي صفت نه، اوس دلته ضرب دا صفت دي فاعل ئې نه دي ذکر او قصر پکښې په الا عمروا سره راغلو او صفت دا تماميږي په فاعل باندي، او دويم دليل دادي چې مستثنى به راشي مخکښې دتماميدو دمستثنى منه نه، وانما الظاهر: سره پنځم غرض اعتراض : په ماضرب زيد الاعمروادا صورت چې ماضرب عمرواً الا زيد دي کښې تا وئيل ظاهره داده نو دينه معلوميږي چې غير ظاهره خبره به هم وي، ؟

جواب: او غير ظاهره خبره هم شته دي چې هغه انحصار دي په طرفينو کښې انحصار دضاربيت په زيد کښې او انحصار دمضروبيت دي په عمرو کښې، خارجي

اعتراض: تا په مذکوره مثال کښې اووئيل چې دفاعل اودمفعول په مابين کښې (الا) وي نو دانصحار د فعل دفاعل به راغلي وي، په مفعول کښې او هر چې مفعول دي نو دا دنورو دپاره هم مفعول کيداي شي، اوس يوه مقوله ده ما خلق الله على احسن صورة الا يوسف : خلق فعل . الله فاعل دي او يوسف وروسته د الانه واقع دي او صورة الا يوسف ، دلته معنی دا شوه چې خالقيت دالله ﷻ دا خاص دي په يوسف پوري او هر چې يوسف دي نو هغه به مخلوق دنورو دپاره هم واقع شوي وي او حالانکه خبره خو داسي نه ده ؟ **جواب**: دلته انحصار د خالقيت نه دي بلکه انحصار دحسن دي په يوسف کښې او دا کيداي شي چې په يوسف کښې عارضي حسن بل چا هم راوستى وي، خو دا

جواب ضعیف دي، اصل جواب دادي چې انحصار دفعل دفاعل به په داسيې مفعول کښې ، خو چې قرائن خارجیه نه وی او دلته خو قرائن خارجیه شته. چې خالق دحسن هغه یواځې الله ﷻ دي

واذا اتصل به ضمیر مفعول: مخکښې هغه صورتونه ذکر شو چیرته چې دفاعل تقدیم واجب وو، اوس هغه صورتونه ذکر کوی چیرته چې دفاعل تاخیر واجب وی ، **واذا اتصل به:** یو غرض تعین دضمیر کوی چې فاعل ته راجع دي یو ځاي داشو چې کله ضمیر دمفعول په فاعل پوري متصل شی، او وقع ای للفاعل یو غرض تعین دضمي کوی چې فاعل ته راجع دي او دویم ځائی دي چې فاعل پس د (الا) نه واقع وی **المتوسطه بینهما:** سره غرض بیان دقید کوی چې الا به په مینځ دمفعول او دفاعل کښې واقع وی په صورتینو دتقدیم او دتاخیر کښې . لکه مثال ئی دادي چې ما ضرب عمرواً الازیدٌ

وفائده هذا القید: سره فائده دقید ذکر کوی چې الا به ځکه په توسط کښې واقع وی چې هغه انحصار چې مضروبیت دعمرو دي منقلب نه شی، **اوبعد معناها:** اول معنی د (الا) چې معنی دالاهغه انما دي، دویم مثال لکه انما ضرب عمرواً زیدا **او اتصل مفعولة به:** اول معنی دمتن په داسي شان سره چې وی مفعول ضمیر متصل وی په فاعل پوري او فاعل غیر ضمیر وی لکه ضربك زید، وجب تاخیره، اول بیان دضمائرو، دویم دلائل ، دریم فائده دقید (هو) غیر ضمیر متصل ، **ای تاخیر الفاعل:** سره اول غرض چې دفاعل تاخیر په مفعول واجب دي

اما فی صورة: بیان د دلائلو: په اول صورت کښې چې فاعل پوري ضمیر دمفعول متصل وی، ځکه تقدیم واجب دي چې اضمار قبل الذکر رانشی ، او په دویم صورت چې فاعل پس د (الا) یا دمعنی د الانه واقع شی، تقدیم ځکه واجب دي چې حصر مطلوبه منقلب نشی، اوپه دریم صورت کښې چې فاعل غیر ضمیر متصل وی او مفعول ضمیر متصل وي نو تقدیم ځکه واجب دي چې ضمیر متصل به منفصل شی او دي دواړو کښې منافات دي **بخلاف ما اذا:** سره فائده دقید: فائده دقید داده که چیرته فاعل هم ضمیر متصل وی نو بیا تقدیم دفاعل واجب دي لکه ضربتك ،

وقد يخلاف الفعل: سره دريمه قاعده په فاعل كښي ذكر كوى، **الرفع للفاعل:** سره غرض دفع داعتراضينو، اول غرض : ته فعل ته لاړي او زمونږ خبره په فاعل كښي شروع وه، نو خروج عن البحث راغلو، دويم اعتراض : **اعتراض:** ته وائى چى وقد يحذف الفعل نو شبه فعل خو هم حذف كيږي هغه دي ولى ذكر نه كړو ؟ **جواب:** مراد دفعل نه رافع للفاعل دي نو لهذا خروج عن البحث رانغلو او چي مراد دفعل نه رافع للفاعل شو نو برابره خبره ده چى فعل وى او كه شبه فعل.

لقيام قرينة: لام دلته وقتيه دي تعليليه نه دي دا خبره ددي پاره اوشوه، چى چا به دا توهم كولو چى لام به تعليليه وي او لام تعليليه نه ما قبل معلول او مابعد علت وي او قاعده په علت او معلول كښى داده چي په دوي كښى تخلف نه وى، تخلف دا معنى چى معلول وى علت به هم وى او چى علت وى نو معلول به هم وى، نو اول دلته به معنى دا وى چى حذف دفعل وى نو قيام دقرينى به وى نو حذف دفعل به هم وي او سره ددينه چى وروسته وائى چى جوازاً كله به حذف وى او كله به نه وى نو دجوازاً تضاد راځى دلام تعليلي سره نو لهذا لام اجليه ده،

جوازاً اى حذفاً جائزاً: اول غرض دجه دنصب ، دويم دفع داعتراض، **اعتراض:** جوازاً منصوب دي او دنصب دپاره طرق كثيره دي دلته په كومه وجه سره منصوب دي كه ته وائى چي منصوب دي بناء برمفعول نو يحذف خو فعل مجهول دي او الفعل ورله نائب فاعل دي مفعول غواړي نه، او كه ته وائى دي بناء برمفعول فيه غير نو مفعول فيه خو په دوه قسمه دي، ظرف زمان او ظرف مكان او جوازاً خو يو هم ندي، او كه ته وائى چى منصوب دي بناء برحاليت نو حال خو يا هئيت دفاعل اوياد مفعول بيانوي، او جوازاً دايو كار هم نه كوى او كه ته وائى چى منصوب دي بناء برمفعول مطلق نومفعول مطلق خو هغه دي چى فعل مشتمل وى په ده باندي دقبيلي داشتمال دكل نه په جزء باندي او يحذف خو په حذفاً مشتمل دي نه په جوازاً ؟ **جواب:** دا منصوب دي او مفعول مطلق دي بناء برموصوف محذوفه چى حذفاً دي نو حذفاً حذف شو او جائزاً دا قائمقام دهغه شو اوشي چى قائمقام شى په ځاى دغير نو هغه لره حكم د غير وى نو هغه مفعول مطلق وو نو دا هم شو،

اى فيما كان جواباً ،سره بيان دمثل كوى چي دا به په هغه ځاى كښي وي چي جواب وى د سوال محقق نه يعني صراحتاً سوال ذكر وى ، **سائلاً عمن يتوهم**: اول تطبيق دمثال دممثل سره ، دويم دفع اعتراض ، دريم رد په شارح هندي، څلورم توطيه او تمهيد دمتن آتى دپاره او غرض پكښي دفع اعتراض سائلاً : سره اول غرض چي من قام سره سوال وى دهغه كس په باره كښي چي دا قيام په هغه پوري قائم وى.

وانما قدرالفعل: سره دويم غرض : **اعتراض**: ته وائى چي زيداً فاعل دي نو دا حذف دخبر نه اوگرځوه ، يعني زيد مبتدا كړه او خبر ئى قام محذوفه اوگرځوه ، داشارح هندي وئيلى دي يو ددي وجى نه چي مخكښي سوال كښي جمله اسميه ده او په جواب كښي به هم جمله اسميه راشي، بل دا چي قرآن كريم كښي راځي ، ولئن سالتهم من خلق السموٰت والارض دا سوال دي او جواب كښي چي الله خلقهن نو خلقهن خبر دي او جمهور وائى چي دا دباب دحذف دفعل نه دي نه دخبر ځكه دخبر په صورت كښي حذف دجملي راځي، لكه زيد قام كښي قام فعل او ضمير پكښي فاعل دي، نو جمله شوه او په صورت دحذف دفعل كښي حذف ديو جز دجملي راځي، نوقلت دحذف شو او قلت دحذف دفعل اولي وى دكثرت نه، او دشارح هندي داول دليل نه جواب دا كوى چي جواب د جمله فعليه اوگرځوى نو بيا هم مطابقت راځي ، ځكه سوال كښي هم جمله فعليه ده، اصل كښي داسيي وو چي اقام فلان اقام فلان دتطويل دوجي من قام ته را نقل شو، او ددويهم دليل نه ئى جمهورو دا جواب كړي ، چي قرآن كريم دا هم راغلى چي ولئن سالتهم من خلق السموت والارض دا سوال دي او جواب كښي راغلي چي خلقهن العزيز العليم نو دا جمله فعليه ده.

وكذا يحذف: سره څلورم غرض: **اعتراض**: توضيح دممثل دپاره يو مثال كافي دي تا دوه مثاله ولي راوړلي ، يو دي من قام زيد اوبل دي شعر راوړو؟ **جواب**: **ممثل له هغه دوه دي يو هغه چي قرينه پري سوال محقق وي او دويم دا چي قرينه پري سوال مقدر وى، ليبك على البناء للمفعول: اول غرض تعين دصيغه كوى چي دمجهول صيغه ده، ضارع اى عاجز: اول معنى دضارع ، دويم تطبيق دمثال دممثل سره، دريم رواية آخر، اى عاجز: سره اول غرض چي معنى دضارع عاجز او خوار ده. فان قلت: ضارع كښي**

اعتماد نشته؟ **جواب:** اعتماد شته چې موصوف مقدر دي اى شخص ضارع
وهو فاعل: سره دويم غرض: ضارع دا فاعل دمحذوفه دپاره چې يبكيه او قرينه په حذف دفعل سوال مقدر دي چې من يبكيه. **واما على رواية:** سره دريم غرض ذكر كړي چې روايت آخر په دې شعر كښې دادي چې ليبكه فعل معلوم شي او يزيد منصوب مفعول شي اوضارع فاعل شي دليبك دپاره نو دا به بيا دمانحن فيه نه نهٔ شي، ځكه ضارع خو مذكور دي او دريم تركيب هم پكښې شته چې ليبك فعل ضارع ئې فاعل او يا يزيد منادي شي، خو دا هم دمانحن فيه نه نهٔ شو ځكه فعل پكښې مذكور دي.

د شعر معنى

لخصومة متعلق: اول تعين دجار مجرور د متعلق. دويم معنى دشعر، دريم وجه د ورود د شعر، اول خبره دا متعلق په ضارع پوري دي نو معنى دا شوه چې دي ژاړي هغه كس چې عاجزي دي د مقابله دخصم نه اويا متعلق دي په يبكى پوري نو معنى دا شوه چې ودي ژاړي هغه عاجز دوجې دخصومت ديزيد نه. او دويم غرض هم اوشو. **لانه ظهر العجزة:** سره دريم غرض دا شعر ئې ځكه راوړو چې يزيد دا ملا تړ وو دعاجزو خلكو، ومختبط مما تطيح الطوائح :دا نيم بيتى په اصل نسخو دكافيو كښې نشته دي او كومو كښې چې شته نو هغه دكاتبينو غلطي ده.

والمختبط السائل الخ.. يو غرض هغه معنى دلغاتو، دويم غرض ربط داول نيم بيتى سره. دريم توطيه او تمهيد دمتن آتى دپاره، څلورم دفع داعتراضينو. اول خبره مختبط هغه سايل ته وايي چې بغير دتعلق نه سوال كوي يا هغه سائل چې دحياء دوجې دشپې سوال كوي، او احاطه هلاكت ته وايي، او طوائح دا جمع دمطيحة ده خلاف القياس لكه لواقح دا جمع دملحقة ده، او مما متعلق دي په مختبط پوري او ما مصدريه ده.

يعني ويبكيه: سره دويم غرض چې ربط، يعني ودي ژاړي هغه كس چې سوال كوي بغير دمتعلق نه دوجې دهلاكت دهلاك كونكى دمال نه چې يزيد دي او هغه خوك چې څوك وسيلى نيسى په دي يزيد باندي حصول دمال دپاره ځكه چې دا وركونكى وو سوال كوونكو ته بغير دپيژندګلو نه. **وقد يحذف الفعل:** سره دريم غرض توطيه او

تمهید دمتن آتی دپاره. **الرافع للفاعل**: سره خلورم غرض ، دي کښې هم هغه اعتراضین دي کوم چې پرون درس کښې تیر شوي دي او جواب ئې هم هم شوي دي.
وجوبا ای حذفا واجباً: سره هم هغه اعتراض دي کوم چې په جوازاً کښې وو او جواب هم پروني درس شوي دي.

ای فی کل موضع: اول بیان دمثل یا دقاعدي ، دویم وجه دحذف دوجوبې دي، دریم دفع اعتراض ، خلورم تطبیق دمثال دممثل سره. پنځم دفع اعتراض ، ای فی کل موضع: سره اول غرض چې دا حذف د فعل به وجوبې وي په هر هغه ځای کښې چې فعل حذف شوي وي، بیا تغیر درفع دابهام شوي وی، هغه ابهام چې کوم را پیدا شوي دي دهغه فعل نه: **فانه**: سره دویم غرض چې حذف وجوباً ځکه دي چې که مفسر هم ذکر کړي او مفسر هم ذکر وی نو مفسر به حشوه او زائد شی.

بخلاف المفسر الذي: سره دریم غرض: **اعتراض**: ته وائی چې جمع په مابین دمفسَر او مفسِر کښې نه ده جائز زه به درته اوښایم چې جمع به ئې راغلی وی، لکه جاءنی رجل ای زید ، رجل دا مفسر دي او زید ئې تفسیر دي، **جواب**: مفسر په دوه قسمه دي یو هغه چې په هغه کښې ابهام دحذف دوجې وی لکه په مذکوره متن کښې چي کوم مثال ذکر دي اوبل هغه مفسر دي چې دهغه په لفظ کښې ابهام وی لکه دا مثال چې تا کوم اعتراض کښې اووئیل. داسې مفسر او مفسر جمع کیدای شی.
فتقدیر الایة: سره خلورم غرض: تقدیر دآیت داسي دي چې (وان استجارك احد من المشرکین استجارك فاجره) دلته احدٌ فاعل دفعل دمحذوفه دي چې هغه اول استجارك دي چې دهغه تفسیر په استجارك ثانی سره شوي دي.

ولا یجوزان یکون: سره پنځم غرض اعتراض **اعتراض**: دا احد مرفوع کړه بناء برابتدائت او (ان) دا مخفف من المثقل اوګرځوه، ؟ **جواب**: (ان) دا مخفف من المثقل نه ګرځوو بلکه دا (ان) شرطیه دي او (ان) شرطیه نه داخلیږي ، مګر په فعل او دلته تري وروسته احد اسم راغلی نو دینه معلومه شوه چې دلته فعل حذف دي.

وقد یحذفان معاً: دفعل او فاعل خلور صورتونه دي، یو صورت دادي چې دواړه مذکوروی لکه ضرب زیدٌ او دویم دا چې دواړه محذوف وی لکه دلته، او دریم فعل

حذف وي فقط دا دریواړه صورتونه جائز دي، او څلورم هغه چی فاعل وی دا نه دی جائز، ځکه حذف دجز دجملی راځی او دا ناجائز دي. **اعتراض** حذف دفاعل په صورت کښی هم حذف دجز دجملی راځی نو هغه څرنګه جائز دي **جواب**: دادي چی په حذف **دفعل** په صورت کښی یواځی فعل نه حذف کیږي بلکه په هغی کښی هغه اسناد دفاعل هم حذف کیږي ، نو ګویا حکماً جمله حذف شوه، خو صرف دري صورتونه دي چی هلته فاعل حذف کیږي یو په تنازع دفعلینو کښی علی قول او دویم په مفعول مالم یسم فاعله کښی ، دریم په جمع کښی واو دا په نزد دبعضو نحاتو باندي فاعل دي نو په وخت داضافت کښی دا واو حذف کیږي لفظاً نه کتابةً لکه ضربوا الیوم.

ای نعم قام زید: اول تطبیق دمثال دممثل سره ، دویم تعین دحذف ، دریم دفع اعتراض ، **اول غرض**: لکه په جواب داقام زیدٌ کښی نعم اووئی او حذف دفعل او فاعل دواړو اوکړي چی قام زیدٌ دي . **وهذا الحذف جائز**: سره دا دویم غرض : چی دا حذف جوازاً دي ، د دوو وجهو نه اول دا چی دلته سد مسد نشی کیدي ځکه دا غیر مستقل دي که چیرته حذف وجوبی کړو نو دلته اګر چی نعم کړو نو سدمسد نشته په کلام کښی به استدراك راشی ، په صورت د ذکر سره نو بیا به واجبولي ، او دویمه وجه داده چی کله کله مونږ دعربو نه اورو چی نعم قام زید که چیرته حذف وجوبی وی نو عربو به پکښی تکرار نه کولو، **وانما قدرالجملة الفعلية**: سره دریم غرض : **اعتراض**: دلته تا جمله فعلیه چی قام زید دي په وجواب کښی مقدره کړه، جمله اسمیه به دي مقدر کړي دي، ؟ **جواب**: مونږ ځکه جمله فعلیه وه نو جواب کښی هم مونږه جمله فعلیه مقدره کړه،

د تنازع فعلین بیان

هرکله چی فارغ شو مصنف رحمة الله علیه دبیان دتعریف او داحکامو دفاعل نه نو شروع ئی اوکړه په متعلقاتو دفاعل کښی **بل العاملان**: اول دفع اعتراض ، دویم دفع اعتراض ، دریم دفع اعتراض ، بل یا د اضراب دپاره دي اضراب وائی دیته چی ذکر دیو فعل شبه فعل اوکړي او مراد ترینه بل فعل شبه فعل واخلی نو دلته هم ذکر دفعلینو او مراد ترینه عاملان دي او یا بل دپاره دترقی دي، چی تنازع په فعلانو کښی څه کوی په عاملانو کښی هم راځی ،اول غرض : تا ووئیل چی تنازع الفعلین نو تنازع خو بغیر

د فعلين څخه هم راځي لکه زيد معط ومکرم عمروا دلته معط او مکرم تنازع راغلى ده په عمروا کښى. او سره ددينه چى فعلين نه دي بلکه اسم فاعل دي. ؟ **جواب:** ذکر دفعلينو مراد ترينه عاملان دي او عاملان عام دي فعلين وى او که نه.

واقتصر على الفعل: سره دويم غرض اعتراض : **اعتراض:** چى مراد عاملان وو نو عاملان به دي وئيلى واى فعلين دي ولى وئيل، ؟ **جواب:** فعلان مى ځکه ذکر کړل چى دا اصل دي په عمل کښى. **وانما قال الفعلان:** سره دريم غرض اعتراض : **اعتراض:** تا وئيل چى تنازع دفعلين، زه به درته اوښايم چى تنازع د ډيرو افعالو به راغلى وي، لکه په درود ابراهيمى کښى (اللهم صلى على محمد وعلى آل محمد کما بارکت ورحمت وترحمت على ابراهيم) دلته تنازع دډيرو افعالو راغلى ده ؟ **جواب:** موږ فعلين دپاره دحصر نه دي وئيلى بلکه دپاره دښودلو داقل مرتبى دتنازع چى په فعلين کښى راځى او په ډيرو کښى هم راتلى شى.

اى اسما ظاهرا واقعاً: اول غرض تعين دموصوف دظاهرا کوى چى ظاهراً صفت دي داسماً دپاره، دويم غرض متعلق دبعدهما ئى ذکر کړو چى واقعاً دي، بعدهما : اوله خبره تعين دضميرين ، دويم فائده دقيد دبعدهما ،دريم دفع اعتراض ،څلورم دفع اعتراض ، پنځم فائده دقيد داسماً ظاهراً ،شپږم دفع داعتراض، اووم دفع داعتراض، **اى بعد الفعلين:** سره اول غرض اوشو چى ضمير فعلين ته راجع دي اذا المتقدم عليهما سره دويم غرض که چيرته بعدد فعلين نه اسم ظاهر واقع نه شى نو يا به مقدم وى په دواړو او يا به توسط کښى واقع وى په دې دواړو صورتينو کښى به دغه اسم ظاهر دفعل اول دپاره معمول وى بالاتفاق او دپه دي کښى بيا هيڅ مجال دتنازع نشته دي.

تنازع فعلين معنى

ومعنى تنازعهما: سره دريم غرض دفع اعتراض : تنازع باب تفاعل دي معنى ئى يو دبل سره جنګ کول او دا خاصيت خو د ذوي الروح دي او تا ئى نسبت غير ذوي الروح ته اوکړو. ؟ **جواب:** مراد تنازع نه توجه ده او دا دواړه سره لازم او ملزوم دي، **ويصح ان يكون:** سره څلورم غرض : تا دا مثال چى ضربت واکرمنى زيد په باب دتنازع کښى ذکر کړي په دي خو دي چى اجراء داعراب اوکړه نو پته اولګيده چى دا يا فاعل

دي داکرمنی دپاره اویا مفعول دي دضربت دپاره ؟ **جواب**: مراد دتنازع نه دادي چی دا اسم ظاهر به په داسي مقام کښی واقع وی چی دهر واحد دپاره معمول واقع کیدي شی بناء بربدلیت بغیر دجراء داعراب نه.

فحینئذ لا یتصور: سره پنځم غرض: فائده داسم ظاهر د قید داده که چیرته دغه اسم، ضمیر متصل وی نو ضمیر متصل چی دکوم فعل پوري متصل وي دهم هغه دپاره به معمول وی، داسي خو نشی کیدي چی متصل دي وی په فعل ثانی پوري او معمول دي وي دفعل اول دپاره. **واما الضمیر المنفصل**: سره شپږم غرض دفع داعتراض **اعتراض**: ظاهر قید فائده خو په صورت دضمیر متصل کښی شته نو په ضمیر منفصل کښی هم تنازع راتلی شی، لکه ماضرب واکرم الا انا: دلته داسم ظاهر قید ته بیا ضرورت نه ووُ؟ **جواب**: مونږ دتنازع هغه صورتونه ذکر کوو چی قطع دتنازع پکښی راتلی شی، اوس دلته قطع دتنازع نشی راتلی ځکه بصریان اضمار دفاعل وائی په فعل اول کښی او کوفیان ئی په فعل ثانی کښی وائی، بهر حال د ((الا انا اضمار یا به سره دالا نه کوی اویا بغیر دالانه که سره د الانه ئی کوی نو الا خو حرف دي او دحرف اضمار خو نه کیږي او که بغیر دالانه ئی کوي نو فساد په معنی کښی راځی، مخکښی معنی مشتبه وه اوس به تري منفی جوړه شی.

واما التنازع الواقع: سره اووم غرض دفع داعتراض: **اعتراض**: هلکه اوس به دلته ترکیب ځنګه کوو، **جواب**: بعض علماء ذا ترکیب حل کړي دي، کسائی وائی چی د اول فعل فاعل حذف دي تقدیر داسي دي چی ماضرب الاانا واکرم الاانا، او امام فراء وائی چی الاانا د دواړو فعلینو دپاره معمول ګرځیدي شی، خودا مذهب ضعیف دي ځکه لازمیږي توارد دعاملینو مستقلینو په معمول واحده باندي، خو دینه جواب شوي دي چی دا فعلین امارات او علامات دي او په علاماتو کښی تعدد راتلی شی، علل حقیقیه نه دي.

فقد یکون فی الفاعلیة والمفعولیة: فقد یکون کښی فا تفصیله ده او اذا تنازع دا شرط دي او جزا ورلره مقدره ده چی فیختار البصریون والکوفیون او فقد یکون دا تفصیل دشرط دي، او ځینی عالمان بیا وائی چی شرط اذا تنازع الفعلان دي او جزاء ورلره محذوفه دي، ای تنازع الفعلین: سره غرض دشارح تعین دضمیر او غرض

پکښې دفع داعتراض، **اعتراض**: یکون ضمیر فعلین ته راجع دي او که اسم ظاهر ته که فعلین ته وی نو مطابقت بین الراجع والمرجع نه راځی او که اسم ظاهر ته راجع وي نو فساد په معنی کښې راځی ؟

جواب: ضمیر فعلین ته راجع دي خو په اعتبار دحذف دمضاف سره چې تنازع الفعلین ده ،مطابقت بین الراجع والمرجع راځی، فی الفاعلیة : مصنف علیه الرحمة فی الفاعلیة وویل فی الفاعل ئی ونه ویل دپاره ددي چې شامل شی فاعل حکمی ته هم چې مفعول ما لم یسم فاعله دي **بان یقتضی**: سره صورت دتنازع ذکر کوی، دا تنازع به پداسي طریقه سره وی چې هر یو د فعلین نه تقاضا کوی چې دا مابعد اسم ظاهر دي ورلره فاعل شی، لکه ضربنی واکرمنی زیدٌ، دایوه نوعه دتنازع ده .

د تنازع فعلین دویم قسم

والمفعولیة بان یقتضی: دا دویم قسم دتنازع دي، چې هر یو دفعلینو تقاضاه کوی چې مابعد اسم ظاهر دي ورلره مفعول شی لکه ضربت واکرمت زیداً .

وقد یکون تنازعهما: دا دریم قسم دتنازع ذکر کوی خو دا په دوه قسمه ده، یو دا چې دوه فعلین وی او وروسته اسمین ظاهرین وی هر یو فعل دا تقاضا کوی چې دایو اسم ظاهر دي ورلره فاعل شی او دویم دي ورلره مفعول شی لکه ضرب واهان زیدٌ عمرواً او دویم هغه دي چې فعلین وی او وروسته یو اسم ظاهر وی خو فعلین مختلفین فی الاقتضاء وي لکه ضربت واکرمنی زیدٌ، اومراد دلته داقسم ثانی دي،

وهذا القسم لیس قسما ثالثاً: دا دفع داعتراض ده : **اعتراض**: حصر دي دتنازع په دریو اقسامو کښې صحیح نه دي ځکه قسمْ ثالث هم شته چې دا ترکیب دي چې ضرب واهان زیدٌ عمرواً نو ده **جواب:** اوکړو چې دا قسم ثالث نه دي بلکه دا مجموعه دقسمین اولینو ده .

مختلفین لتخصیص: اول بیان دما هو المقصود کوی. دویم اعراب دریم دفع اعتراض ، څلورم تتمیم دمافات دماتن رحمه الله : لتخصیص : سره اول غرض دي چې مختلفین دا مربوط دي په دریم صورت پوري حال دفعلین واقع کیږي نه په تنازع الفعلین کښې یعنی دمضاف الیه نه او حال مضاف الیه نه صحیح کیږي خو په دي شرط سره چې حذف دمضاف جائز وي او اقامة دمضاف الیه صحیح وی په مقام

مضاف لكه په بل نتبع ملة ابراهيم حنيفاً كښې جواب دادې چې دلته هغه شرط نشته ځکه دا شرط دي چې حذف دمضاف او اقامة دمضاف اليه په مقام دهغه مضاف داهله دي چې مضاف مصدر نه وى او دلته مضاف مصدر دې نو لهذا حال ددغه مضاف اليه نه صحيح كيږي بغير ددغه شرط نه.

وانما لم يورد مثالاً: سره دريم غرض دفع اعتراض: **اعتراض**: دتنازع دقسمين دپاره دي مثالونه راوړل او ددې آخري قسم دپاره دي مثال رانهٔ وړو، ؟ **جواب**: ددريم قسم دپاره ئې مثالونه ځکه رانه وړل ځکه داولينو قسمونو نه يو فعل داول قسم او دويم فعل د دريم قسم نه راواخله نو ددريم قسم مثال به ترينه جوړ شي، لكه ضربت واكرمنى زيدٌ : **وذالك يتصور على وجوه كثيرة**: سره ځلورم غرض تتميم دمافات دماتن ذكر كوى، چې ددې دريم قسم مثالونه پډ ډېر صورتونو سره دي.

فيختار النحاة البصريون: د النحاة سره شارح اشاره اوكړه ديته چې په بصره كښې قاريان او مفسرين هم شته او مراد دبصرينو نه اوسيدونکي دبصري نه دي، بلكه هغه كسان تري مراد دي ځوك چې متفق وى د دوي سره په دي مسئله كښې لكه امام كسائى دكوفى دي خو دوي سره متفق دي . **اعمال الفعل الثانى**: بصريان فعل ثانى ته عمل وركوى او ددوي دپاره ځلور دلائل دي، اول دا چې اسم ظاهر قريب دي دفعل ثانى سره ، دويم دا چې كه چيرته عمل دفعل اول ته وركړي نو فصل به راشى په مابين دفعل اول كښې او د اسم ظاهر كښې په فعل ثانى سره، دريم دا چې قرآن كريم كښې راځى چې (هاؤم اقرؤا كتابيه) دلته هاؤا هم دا تقاضاه كوى چې كتابيه دي ما دپاره مفعول وګرځوى او اقرؤا هم داتقاضا كوى چې كتابيه دي مادپاره مفعول اوګرځى.

دكوفيانو مذهب دا دى چې عمل به فعل اول ته وركړي، او فعل ثانى ته به ګوري كه تقاضا دفاعل ئى كوله نو هم ضمير به پكښې راوړي، او كه تقاضا د مفعول ئى كوله نو هم ضمير به پكښې راوړي، اوس دلته اقرؤا فعل ثانى تقاضا دمفعول كوي او ضمير پكښې نشته نو پته اولږيده چې كتابيه دا مفعول داقرؤا فعل ثانى دي اوبصريان وائى چې فعل ثانى ته به عمل وركړي او فعل اول كه تقاضا دفاعل كوله نو ضمير به راوړي او كه تقاضا دمفعول ئى كوله نو حذف به ئى كړي، اوس دلته اقرؤا

دپاره کتابیه مفعول دي او هاؤا مفعول حذف دي، څلورم دلیل دادي چې قرآن کریم کښې راځي چې (آتوني افرغ علیه قطراً) او په دیکښې هم هغه وجې دي کوم چې په هاؤام اقرؤا کتابیه کښې دي.

مع تجویز اعمال الاول: سره نوعه د اختلاف ذکر کوی چې اختلاف په اولی او عدم اولی کښې دي، په جواز او عدم جواز کښې نشته، **ویختار النحاة الکوفین**: کوفیان عمل فعل اول ته ورکوي او ددوي دپاره دوه دلائل دي، **لسبقه وللا حتراز**: یو دلیل دادي چې دوجې دسبقت دفعل اول نه او الحق للمتقدم. او دویم دلیل دادي چې که فعل اول کښې ضمیر دفاعل راوړي نو ضمیر به بیا هغه اسم ظاهر ته راجع وی نو اضمار قبل الذکر به لازم شی، خو د دوي د اول دلیل نه بصریانو دا جواب کړي چې مجرد سبقیت دا دلیل دترجیح نشی ګرځیدلی، او د دویم دلیل نه جواب دادي چې اضمار قبل الذکر راځی په فاعل کښې او فاعل عمده دي او اضمار قبل الذکر په عمده کښې جائز دي، مذهب دبصرینو راجح دي ځکه مصنف رحمه الله هم مخکښې ذکر کړو.

فان اعملت الثانی: اول تعین دمذهب کوی، دویم بیان دیوي نکتې کوي، **کما هو مذهب البصرین**، سره اول غرض اوشو چې دامذهب د بصریانو دي، **وبدا به**: سره دویم غرض چې اول ئې دا مذهب ځکه ذکر کړو چې دامختار دي. **اضمرت الفاعل**: سره اول غرض دفع داعتراض، دویم غرض بیان د دلیل چې عمل دي فعل ثانی ته ورکړو نو فعل ته به ګوري که چیرته ئې تقاضا دفاعل کوله نو اضمار به اوکړي نو اعتراض واردیږي چې اضمار قبل الذکر راځي.

د وقف معنی

لجواز الاضمار: سره جواب چې اضمار قبل الذکر جائز دي په عمده کښې، وللزوم التکرار، سره دویم غرض چې اضمار به ځکه کوی چې قطع دتنازع دپاره دري طریقې دي که ذکر کوی نو تکرار لازمیږي او که حذف کوی نو حذف دعمده راځي او دا ممتنع دي او اضمار پاتې شو نواضمار به کوی علی وفق الاسم الظاهر. اول تعین دموصوف، دویم تعین دالف لام، دریم معنی دوقف. الاسم الظاهر، سرم اول غرض اوشو چې الظاهر صفت او الاسم ئې موصوف. **الواقع بعد الفعلین**: سره دویم غرض چې

الف لام په الظاهر کښې عهدي او معهود په دي سره ظاهر دي چې واقع بعد الفعلين وی. **ای علی موافقة**: سره دريم غرض چې معنی دوقف داده چې دغه ضمير به موافق وی داسم ظاهر سره په افراد تثنيه جمع تذکير او تانيث کښې.

دون الحذف: حذف دضمير به نه کوی مګر په دوه ځايونو کښې چې هلته قائمقام موجود وي يو په مفعول مالم يسم فاعله کښې چې مفعول دادفاعل په ځا ی قايم دي او دويم په دي متن دبهر نه اعتراض : **اعتراض**: چې تا ووئيل چې ان اقتضی الفاعل نو اضمرت : نو چې اضمار اوشی نو معلومه به شی چې حذف به نه وی شوي نو دون الحذف ته ضرورت نه وو ؟ **جواب**: مقصود دلته هغه خلاف دکسائی دي يعنی بيان دمذهب دکسائی دي . **وحذف المفعول**: که فعل اول تقاضا دفاعل کوله نو دهغی حکم تير شو اوس که تقاضا دمفعول ئی کوله نو حذف کوی به ي، **تحرزاً**: سره دليل ذکر کوی چې که ذکر کوونو تکرار لازميږي او که ضمار کوو نو اضمار قبل الذکر راځی په فضله کښې او تکرار او مذکوره اضمار دواړه ندي جائز .

ان استغنی عنه: که چيرته استغناء دمفعول دذکر نه وه نو حذف به کوی او که نه وه نو ظاهره وی به ئی، لکه حسبنی منطلقا و حسبت زيداً منطلقا ، دلته يو تنازع داده چې حسبنی وائی چې زيد دي مالره فاعل شی او حسبت وائی چې زيداً دي مالره مفعول شی . اوس به دلته دغه وروستنی اسم ظاهر چې منطلقا دي مخکښې ذکر کوو، دليل ئی دادي لانه لا يجوز حذف: دا دليل دي ځکه حذف ندي جائز چې دباب دحسبت ديو مفعول حذف ندي جائز حذف ديو دمفعولينو دا په حقيقت کښې حذف دجزء دي ځکه مفعولين دافعال قلوب دا مفعول واحد وی، او دويم دا چې اضمار ئی هم ندي جائز ځکه لازم به شی اضمار قبل الذکر په فضله کښې وهذا ايضاً ليس بجائز .

وان اعملت الفعل الاول: شارح قيد دالفعل راويستلو پدي سره تعين دموصوف د الاول يي وکړو، **کما هو مختار الکوفين**: سره شارح تعين دمذهب دکوفينو وکړو او دا تصريح بما علم التزاماً دي، **اضمرت الفاعل**: نو فعل ثانی ته به ګوري که تقاضا دفاعل ئی کوله نو ضمير دفاعل به راوړي لکه ضربنی واکرمنی زيدٌ . **واضمرت المفعول**: شارح قاعدي دعطف ته اشاره وکړه چې المفعول عطف دي په الفاعل نو د

اضمرت لانذي راغلو، علی المذهب المختار اول بیان داختلاف، دویم دلیل دمذهب مختار، دریم توضیح بالمثال ولم تحذفه وان جاز حذفه، سره اول غرض، په مفعول دفعل ثانی کښی دوه مذهبه دي، يو مذهب دادي چی اضمار ئی وکړي او دامختار هم دي او دویم مذهب دا دي چی حذف ئی وکړي، لئلا يتوهم سره دويم غرض مذهب مختار والاوائی که چیرته مفعول دفعل ثانی حذف کړو نو خلق به توهم کوی چي مفعول دفعل ثانی دا به مغاير وی دمفعول دفعل اول نه

ضربني واكرمته زيدٌ: سره دريم غرض توضيح بالمثال ، الاان يمنع مانع، دا الا استثناء ده دمدلول دكلام سابق نه مخكښی دوه خبري ذكر شوي، يو دا چی بناء برمذهب مختار به حذف كوي كه ددي دواړو نه مانع موجود وو **من الاضمار:** سره شارح بيان دما منه المانع كوی چی داضمار نه مانع وی اودحذف نه مانع وی، **فتظهر المفعول:** اول دليل دفتظهر ، دويم توضيح دمثال ، دريم تطبيق دمثال، څلورم بيان اعتراض ، پنځم جواب ، فانه اذا امتنع ، سره اول غرض. اظهار به دمفعول څكه كوی چی حذف او اضمار ممتنع دي

نحو حسبنی وحسبتهما منطلقين الزيدان منطلقا: سره دويم غرض ، **حيث اعمل** : سره دريم غرض تطبيق دمثال دممثل سره كوی پدي تركيب دوه تنازع دي يوه دا چی حسبنی وائی زما دپاره دي الزيدان فاعل شی او حسبت وائی زما دپاره دي الزيدان مفعول شی دي سره زمونږه كار نشته، دويمه تنازع داده چی حسبنی وائی چی زما يو مفعول شته چی ياء دمتكلم ده او دويم مفعول دي مالره منطلقا شی اوحسبت وائی چی زما دپاره يو مفعول شته چی هما ضمير دي او مفعول ثاني دي مالره منطلقاً شی اوس دكوفيانو په نزد مونږ فعل اول ته عمل وركړو او فعل ثانی تقاضا دمفعول كوی نو كه حذف كوو نو حذف ديو دمفعولينو دافعال قلوبو راځی او دا ندي جائز او كه اضمار كوو نو يا به ضمير دتثنيه راوړو اويا ضمير دمفرد كه ضمير دتثنيه راوړو نو مطابقت به مابين دراجع او مرجع كښی نه راځی ضمير به تثنيه شی او مرجع چی منطلقاً دي مفرد دي او كه ضمير د مفرد راوړو نو مطابقت نه راځی په مابين دمفعولينو كښی يو مفعول تثنيه ده او بل به مفرد شی نو فتعين الاظهار

ولا يخفى انه لا يتصور: سره څلورم غرض بيان داعتراض په حسبني او حسبت باندي هغه داسي چې حسبني او حسبت په مابين کښې خو تنازع نشته ځکه حسبني مفعول غواړي خو مفرد او حسبت مفعول غواړي خو تثنيه او منطلقاً مفرد دي نو دينه معلوميږي چې دا معمول دحسبني دي، **الا اذا لاحظت** : سره پنځم غرض جواب : خلاصه دجواب داده چې دتنازع دپاره دا مفعول ثاني مونږ په درجه دلابشرط الشئ کښې اخلو يعني ذات من له الانطلاق بغير داعتبار دمفرد او دتثنيه نه.

د شاعرانو اقسام

ولما استدل الكوفيون: اول توطيه او تمهيد او غرض پکښې دفع داعتراض، دويم دفع داعتراض ، دريم هم دفع داعتراض ، **اعتراض:** , خبره په تنازع کښې وه او ته شاعرانو پسي لاړې، ؟ **جواب:** دا شعر دکوفيانو دپاره دليل وو ځکه مونږ دلته را نقل کړو شاعران په څلور قسمه دي، اول شاعر جاهلي چې دجاهليت په زمانه کښې تير شوي وي ، دويم اسلامي چې داسلام په زمانه کښې تير شوي يوي برابر خبره ده چې مسلمان وي او که نه . دريم شاعر محضرمي چې دواړه زماني پري تيري شوي وي، څلورم شاعر محدث چې وروسته زمانه کښې تير شوي وي په اولنيو دري شاعرانو باندي چې دهر يو قول وى په عربى لغت کښې پدي دليل نيولى شى او په څلورم ئې نشى نيولى او دنبى اکرمﷺ په قول هم دليل په نحوه کښې نيولى شى مطلقاً :

امرء القيس الذى هو افصح: سره دويم غرض دفع اعتراض : **اعتراض:** امر القيس خو شاعر دي دده په قول څرنګه دليل نيسيي؟ **جواب:** جواب استدلال دده په خبره ځکه نيسو چې داډير فصيح دي دعربو. **اذ لا قائل بتساوى الا عمالين:** سره دريم غرض دفع داعتراض ، **اعتراض:** استدلال په اوليت دفعل اول سره دا صحيح ندي ځکه کيداي شى چې دده په نزد دواړه فعلين عمل کښې سره برابر وى ؟ **جواب:** پدي خبري هيڅوک قائل ندي چې دامرء القيس په نزد عمل کښې سره برابر دي

فاجاب المصنف ليس منه اى من باب التنازع: اول غرض دفع اعتراض :دويم فساد دمعنى ، دريم مبنى دفساد ، څلورم تصحيح دشعر ، پنځم تائيد دخپل قول دپاره ، شپږم معنى دشعر ، اي ليس من باب الخ. سره اول غرض دفع اعتراض تا مخکښې

ووئيل چې كوفيانو دليل نيولى په قول دامرء القيس او دلته وائى چې دا قول دامر القيس ندي؟ **جواب:** دليس منع معنى دا نده چې دا قول دامر القيس ندي بلكه معنى ئې داده چې دا دباب دتنازع نه ندي .

على تقدير توجه: سره دويم غرض فساد دمعنى دا بناء دي په يوه قاعدة او هغه دا چې (لو) خپل مدخول كه مثبت وى منفى كوى يې او كه منفى وي مثبت كوى نو ددي شعر معنى به داسي شى چې زه سعى او كوشش نه كوم لپاره دادنى معيشت او كافى ندي مالره لږ مال او زه طلب كومه لږ مال نو معنى فاسده شوه او دا فساد معني دا دتنازع نه راغله .

وذالك لان لوتجعل: سره دريم غرض ذكر كوى چې مبنى دفساد هغه (لو) دي ، فعلي هذا ينبغى سره څلورم غرض، تصحيح دشعر دا ده چې دلته دسره تنازع نشته قليل من المال دا فاعل دفعل اول دپاره چې كفانى دي او دلم اطلب مفعول محذوف دي چې هغه العز والمجد دي. **كما يدل عليه البيت المتاخر**: سره پنځم غرض تائيد د خپل قول چې حذف دمفعول دفعل ثانى باندي آخرنى بيت دلالت كوى شعر: ولكنما اسعى لمجد موثّل وقد يدريك المجد المؤثل امثالى) **وحينئذ**: سره شپږم غرض ذكر كوى چې معنى دشعر به اوس برابره شى سره دلحاظ د (لو) نه .

بيان د مفعول مالم يسم فاعله

مفعول مالم يسم فاعله: هر كله چې فارغ شو ماتن دفاعل نه نو شروع ئې اوكړه په نائب فاعل كښې نو وي ووئيل مفعول مالم يسم فاعله ، اول تعين د (ما) كوى ، دويم دفع اعتراض ، دريم معنى د (لم) يسم ذكر كوى او غرض ئې پكښې دفع داعتراض ده ، څلورم دفع داعتراض ، **اى مفعول فعل**: اول غرض چې ما موصوفه ده او عبارت ده دفعل او شبه فعل نه، او شبه فعل سره دويم غرض : **اعتراض**: (ما) دچا نه عبارت ده كه دفعل نه وى شبه فعل پاتى شو او كه دشبه فعل نه وى نو فعل پاتى شو او كه د دواړو نه عبارت وى نو (ما) خو لفظاً مفرد دي، ؟ **جواب**: (ما) عبارت دي د فعل نه او شبه فعل پري عطف دي نو معنى به داسي شى چې مفعول دهغه فعل او شبه فعل چې نه وى ذكر فاعل دِ ده .

لم يذكر فاعله: سره دريم غرض : باب دسمی يسمي په دوو معنی ؤ سره راځی په معنی د ذکر سره اوبل په معنی دوضع سره قرينه ئی داده که متعدي وو يو مفعول ته دلته په معنی د ذکر سره راځی لکه پدي ځائی کښی چی متعدي يو مفعول ته دي چی هغه فاعله دي او که متعدي وی مفعولينو ته بيا په معنی دوضع سره وی لکه (هو سمّکم المسلمين) دلته متعدي دوو مفعولينو ته دي يو (کم) دي او بل (المسلمين) دي نو په معنی دوضع سره دي يعنی وضع اسمکم المسلمين لم يسم فاعله، لم يسم به په معنی دلم يوضع سره وی چی فاعل ئی نه وی وضع شوي نو مفعول به دکوم ځای نه راشی. ؟ **جواب**: لم يسم فاعله دا په معنی دلم يذکر فاعله سره دي.

وانما لم يفصله عن الفاعل: څلورم غرض دفع اعتراض، په فاعل کښی ووئيل ومنه الفاعل او وروسته په مبتدا او خبر کښی هم وائی چی ومنها المبتدا والخبر نو دلته به دي هم و يلی وی چی ومنه مفعول الخ... ؟ **جواب**: شته دي په شرحه کښی.

په لفظ کُل باندی اعتراض

کل مفعول حذف فاعله: معنی لغوی ئی دنائب فاعل ذکر کړه اوس معنیٰ اصطلاحی ذکر کوی چی کل مفعول الخ. دبهر نه په متن دوه اعتراضه واردیږي. **اعتراض**: منطقيان کل په تعريفاتو کښی نه راوړي ځکه کل راځی دپاره داحاطی دافرادو او تعريف دماهيت کيږي نه دا افرادو تا ولی دلته په تعريف کښی کل راوړي؟ **جواب**: دا دمنطقيانو خبري دي او دا نحوه ده مونږ دلته کل راوړي لپاره دجامعيت او مانعيت چی تعريف جامع مانع شی نه دپاره د احاطه دافرادو، دويم **اعتراض**: ته تعريف دمالم يسمّ فاعله کوی او وروسته تعريف کښی هم راځی کل مفعول حذف فاعله نو لازم شو اخذ دمحدود په حد کښی او دا ناجائز دي؟ **جواب**: محدود کښی مفعول نه مراد مفعول اصطلاحی دي او وروسته په تعريف کښی چی کوم مفعول دي دينه مراد مفعول لغوی دي نو مفعول اصطلاحی موقوف شو په مفعول لغوی باندي.

ای فاعل ذالک المفعول: تعين دضمير دفاعله کوی چی دا راجع دي مفعول ددغه فاعل ته. **وانما اضيف الی المفعول**: دي سره غرض دشارح دفع داعتراض ده، **اعتراض**: ته وائی چی حذف فاعله دفاعل نسبت خو فعل ته کيږي او تا دلته نسبت دفاعل

مُفعول ته کړو دا ولی ؟ **جواب:** اضافت دفاعل مفعول ته دا له وجی د ادنی ملابست څخه دي او اُدنی ملابست دیته وائی چی اضافت دیو شی وکړي داسي یو شی ته چی د اصل مضاف الیه او ددغه مضاف الیـه په مابین کښـی سره تعلق وی یا ادنی ملابسـت دیته وائی چی دوه شیان دیو شی دمتعلقاتو څخه وی او دلتـه هم فاعل او مفعول دمتعلقاتو دفعل نه دي، یا دا مجموعه عبارت دائی فاعل ذالك المفعول نه تر آخره پوري دفع دیو اعتراض ده هغـه دا چی دای فاعلـه کښـی دا (ه) ضـمیر چا تـه راجـع دي، فعـل تـه او کـه مفعول ته که فعل ته راجع وی نو اضمار قبل الذکر راځی او که مفعول تـه راجع وی نو بیا اضافت نه صحیح کیږي ځکه اضافت دفاعل فعل ته کیږي نه مفعول تـه ؟ **جـواب:** ضمیر راجع دي مفعول ته او دا اضافت دوجی د ادنی ملابست نه دي.

واقیم هو ای المفعول: هو ضمیر راجع دي مفعول تـه **مقامـه:** اول تعین دمرجع دضمیر دمقامه کوی ای مقام الفاعل، دویم وجه دقیام ذکر کوی چی فی اسناد الفعل او شبهه الیه ، **اعتـراض پـه مـتن:** پـه بحث د ضمائرو کښـی دي وئیلی چی ولا یسوغ المنفصل الالتعذر المتصل او دلته خو ضمیر متصل شته متعذر ندي ځکه اقیم کښی ضمیر شته نو (هو) ته څه ضرورت وه ؟ **جـواب:** محشـی کړي دي او هغـه دا چی مـونږه داسي کار وکړو ځکه چا به توهم کولو چي فاعل د اقیم مقامه دي نو بیا خو جمله بلا عائد پاتی شوه ځکه ضمیر نشته چی مخکښی ته یي راجع کړي نو فاعل د اقیم هغه مفعول دي چی دغه (هو) ضمیر هم ورته راجع دي.

شرط مفعول مالم یسم فاعله

وشرطه ای شرط مفعول مالم یسم فاعله: اول بیـان دضـمیر دویم دفـع اعتـراض ، دریم دفع دا اعتراض ، اول خبره چی ضمیر په شرطه کښـی مفعـول مـا لـم یسـم فاعلـه تـه راجع دي. **فی حذف فاعله:** دي سره دفع داعتـراض کـوی هغـه دا چی دا شرطیه دتصور دمفعول ما لم یسم فاعله دپاره وي سره ددینه چی دتصور دپاره ئی دا شرط ندي بغیر ددغه شرط نه هم په تصور کښـی راځی ؟ **جـواب:** داشرط دي دحذف دفاعل دمفعول دپاره. **اذا کان عامله فعلاً:** دفع داعتراض : **اعتراض:** زه به درتـه ووښـایم ، نائب فاعـل به وی او سره ددینه چی صیغه دفعل بـه فَعَلَ نـه فُعِلَ تـه او یَفعَلُ نـه بـه یُفعَلُ تـه نـه وي

متغير شوي لکه زيد مضروب غلامه ؟ **جواب:** دا شرط هلته دي چې عامل به فعل وي او دلته عامل مضروب مفعول دي.

ان تغير صيغه الفعل الى فُعِلَ اى الى الماضى المجهول: دفع داعتراض: زه به درته وښايم نائب فاعل به وي او دفعل نه به صيغه نه وي متغيره شوي فعل ته لکه اکل زيدٌ خبراً زيد فاعل حذف کړه نو داسي به شي اکل خبرٌ نائب فاعل شته چې خبرٌ دي او فَعَلَ فُعِلَ ته نده متغير شوي ؟ **جواب:** الى الى الماضى المجهول ، ۱۲ حاشيه کښې شته ذکر دعلم مراد ترينه وصف دي . **فيتناول مثل افتعل:** دي سره فائده ذکر کوي او دفع دتوهم کوي هغه دا چې دا صيغه دفعل به صرف دفَعَلَ نه فُعِلَ او يَفْعَلُ نه يُفْعَلُ ته منتقل شوي، دي وائي نه نور هم وتلي شي دمجرد و نه معلوم نه به مجهول ته لاړ شي بيا مجهول عام دي مجرد وي او که مزيد وي، **ولا موقع الفاعل:** دفع داعتراض هغه دا چې تا ووئيل چې نه واقع کيږي مفعول ثاني دباب دعلمت نو تا مفعول معدوم کړو، ؟ **جواب:** په ځای دفاعل نه واقع کيږي .

لانه مسند الى المفعول الاول: اول دليل ، دويم دفع داعتراض : مفعول ثاني دباب دعلمت ځکه په ځاي دفاعل نشي واقع کيدلی چې دا مفعولين په حقيقت کښې مبتدا او خبروي نو دوهم مفعول ئې په منزله دخبر شو او خبر مسند وي نو قائمقام دفاعل به هم شي نو مسند اليه به شي ځکه فاعل مسند اليه وي نو يو شی به مسند او مسند اليه وګرځي او يوشی مسند او مسند اليه نشي ګرځيدلی نو ځکه قائممقام دفاعل نه ګرځي . **بخلاف اعجبنى ضرب زيد عمرواً: دفع داعتراض:** هغه دا چې زه به درته اوښايم چې يو شی به مسند او مسند اليه ګرځيدلي وي لکه اعجبنى ضرب زيد عمرواً دلته ضرب زيد فاعل داعجبنى دي نو مسند اليه او مسند دواړه وګرځيده ؟ **جواب:** يو داسنادينو نه چې هغه اسناد دمصدر دي دا غير تام دي ځکه دا خو ځانله مبتدا اوخبر جمله واقع کيږي داضرب زيد دي مسند او مسند اليه نه مراد زمونږ چې يو شی مسند او مسند اليه نشي واقع کيدلی خو په اسناد تام کښې .

ولا المفعول الثالث من مفاعيل باب اعلمت: مراد دباب داعملت نه هغه فعل دي چې درې مفعوله غواړي . **اذ حكمه:** سره دليل ذکر کوی، **والمفعول له بلا لام:** اول

دفع داعتراض، دویم دلیل ذکر کوی، دریم تصریح بالاعتراض ، **اعتراض:** زه به درته وښایم چې مفعول له به وي او په ځاي دفاعل به راغلی وي لکه ضرب للتایب ؟ **جواب:** مراد دمفعول له نه هغه مفعول له دي چې بغیر دلام نه وي او دا خو سره دلام نه دي لکه ضربت زیداً تادیباً داسي نشی وئیلی چې فاعل حذف کړي وویي چې ضربَ تادیباً

لان النصب فیه مشعر بالعلیة: دلیل ذکر کوی چې مفعول له وئی په ځاي دفاعل نشی واقع کیدلی ، بخلاف ما کان مع اللام. تصریح بالاعتراض او ددي جواب په اول غرض کښې چې دفع داعتراض ده وشو. والمفعول معه کذلك، ای کل من المفعول له اول وجه دشبه، دویم دلیل ، اول غرض ای کل من المفعول له سره دي **واما المفعول له فلما عرفت:** دي سره دلیل ذکر کوی، **واذا وجد المفعول به:** په متن باندي یو اعتراض دي خو بناء دي په یوه قاعدي: هغه دا چې جمله فعلیه کښې حامل دفائدي فاعل وی او په جمله اسمیه کښې حامل دفائدي جزاء وی نو که فائده دشرط نه معلومیده نو جزا ته ضرورت نشته دي او دغه شان که په مخکینو دوؤ کښې فائده دمبتدا او فعل نه معلومیدهَ نو خبر او فاعل ته ضرورت نشته اوس دلته واذا وجد المفعول به دا شرط دي او وروسته تعین له ورلره جزا دا نو دیته خو ضرورت نشته؟

جواب: دجزاء فائده شته ځکه دا هغه صورت دي چې ددي مفعول به سره نور مفاعیل هم وي نو پته نه لګیده چې کوم یو قایمقام دفاعل دي نو ده ووئلو تعین له او چې مفعول به ځانته وی هغه صورت دلته زمونږ ندي مراد ، دتعین دوه معنی دي یو معنی ئی وجوب ده او بله معنی ئی اولویت ده، نو دلته دوه مذهبه دي، اول بصریان دي دویم کوفیان دي، کوفیان وائی چې په دغه صورت کښې چې مفعول به د نورو مفاعلیو سره په کلام کښې راشی نو واجب دي چې دغه مفعول به نائب فاعل جوړ کړي او کوفیان وائی چې اولی ده چې نائب فاعل دغه مفعول به شی. **له: ای لوقع موقع الفاعل:** اول تعین دضمیر ، دویم دلیل ، دریم توضیح بالمثال . اول غرض دا چې ضمیر مفعول به ته راجع دي.

لشدة شبهه بالفاعل: دي سره دلیل ذکر کوی. دفعل دپاره دوه وجوده دي وجود ذهنی او او بل وجود خارجی ، وجود ذهنی دفعل صرف فعل او فاعل غواړي او وجود

خارجي دفعل فاعل، مفعول ، علت مكان پس ټول متعلقات غواړي، **فان الضرب مثلاً**: توضيح كوي، **ضرباً شديداً مفعول مطلق للنوع**: دي سره تعين دمفعول مطلق كوي چې مفعول مطلق كله د تاكيد دپاره راځي كله دعدد دپاره راځي او كله دنوع لپاره راځي نو دلته دا ضرباً شديداً د څه لپاره دي نو دي وائي چې دلته دنوع دپاره دي په اعتبار دصفت سره،

وفائدة وصف الضرب: چې ته مفعول مطلق قائمقام دفاعل ګرځوي نو يوصفت سره به ئې مقيد كوي څكه نفس حدث باندي خو فعل هم دال دي **وان لم يكن**: كه مفعول به په كلام كښې نه وو لكه (والله يدعوا الى دار السلام) مفعول نشته چې هغه كل واحد دي **اى وان لم يوجد**: دي عبارت سره اشاره كوي چې كان تامه دي او غرض پكښې دفع داعتراض ده هغه دا چې يكن فعل دي دافعال ناقصه اسم مرفوع خبر منصوب غواړي نو دا فالجميع سواءٌ كه ورلره اسم شي نو خبر ئې كوم دي او كه دائي خبر شي نو اسم يې كوم دي؟ **جواب**: يكن دا تامه دي فالجميع سواءٌ وزلره اسم دي خبر ته ئې ضرورت نشته ، كه مفعول به په كلام كښې نه وي بيا ټول مفاعيل برابر دي چې قايم مقام دفاعل شي دا خو جوازاً دي او په اولويت كښې اختلاف دي څوك وائي مفعول مطلق اولىٰ دي اوڅوك وائي ظرف اولىٰ دي۔

والمفعول الاول من باب اعطيت اى الفعل المتعدى : اول قاعده كليه هغه دا چې صرف مفعول اول دباب داعطيت ندي مراد چې په مقام دفاعل اولىٰ دي بلكه هر هغه فعل چې متعدي وي مفعولينو ته نو اولى داده چې مفعول اوّل پكښې په مقام دفاعل واقع شي . **وثانيهما غير الاول**: دفع اعتراض : **اعتراض**: هغه دا چې تا مخكښې ووئيل چې په باب داعطيت كښې مفعول اول قايمقام دفاعل شي نو ديته خو معلوميږي چې مفعول ثاني دباب داعطيت هم جائز دي چې قايمقام دفاعل شي نو هلته امتناع ده او دلته جواز دي؟ **جواب**: دلته جواز دمفعول ثاني دباب داعطيت معلوميږي د اول مفعول نه چې قايمقام دفاعل خو ليكن دا مفعول ثاني غير وي دمفعول اول نه نو اولويت كښې نشو او جواز ئې شته چې قايمقام دفاعل شي لكه اعطيت زيداً درهماً نو درهماً غير دي دزيد نه، او باب دعلمت كښې چې مفعول ثاني قايمقام دفاعل شي واقع

کیدلی شی ځکه چی مفعول اول او ثانی دواړه عین دي لکه علمت زیداً فاضلاً نو زید فاضل او فاضل زید دي دواړه عین دي.

اولی ان یقام مقام الفاعل: دا معنی داولی ذکر کوی. **من المفعول الثانی لان فیه**: اول دلیل ،دویم توضیح دریم دفع اعتراض ، لان فیه دي سره دلیل ذکر کوی او نحو أُعطی درهما سره توضیح بالمثال کوی . **وذالک عند الا من من اللبس**: دا دفع داعتراض ده هغه دا چی ستا داولی نه دا خبره معلومیږي چی مفعول ثانی دباب داعطیت قایمقام دفاعل کیدي شی جوازاً خو اول اولی دي زه به درته وښایم چی مفعول ثانی دباب داعطیت به دفاعل قایمقام نشی کیدي لکه اعطیت زیداً عمرواً دینه فاعل حذف کړ نو داسي به شی چی اعطی زیدٌ عمرواً نو د اخذ نه ماخوذ او دمالك نه به مملوك جوړ شی، ؟ **جواب**: جواز دمفعول ثانی دباب اعطیت په مقام دفاعل باندي خو په وخت دعدم التباس کښی او که التباس موجودٌ وو بیا خو واجب دي چی مفعول اول قایمقام دفاعل کړي.

بیان دُ تعدد د نسخو په منه کښی

ومنها المبتدا والخبر وفی بعض النسخ: اول غرض تعدد دنسخو. دویم صحت دنسخي، دریم دفع داعتراض، څلورم دفع داعتراض بعضو نسخو کښی دي «ومنه» او په بعضو نسخو کښی دي ومنها ، نو صحت دنسخو کوی چی دواړه صَحیح دي نسخه کهٔ دي ومنهما شی نو من جملة المرفوعات او که منه شی نو من جملة المرفوع المبتدا او الخبر ، جمعها فی فصل واحد ، دي سره دفع داعتراض کوی هغه دا چی دا دواړه عین دمرفوعاتو نه دي نو پکار ده چی جدا جدا ئی ذکر کړي او تا دواړه په یوه منها او یو فصل کښی راجمع کړي ددي دپاره دوه دلیله دي. اول دلیل په مینځ د دوي کښی تلازم دي، دویم دلیل واشتراکهما فی العامل المعنوي . **علی ما هوالاصل**: دي سره دفع داعتراض کوی هغه دا چی ته وائی چي په مابین د دوي کښی تلازم دي نو مبتدا قسم ثانی شته او خبر نشته ځکه مابعد فاعل سد مسد دخبر دي؟ **جواب**: تلازم په اصلی مبتدا کښی دي او قسم ثانی خو مجازي مبتدا ده.

تعریف د مبتد

فالمبتدا هو الاسم: تعریف دمبتدا کوی او په لفظاً او تقدیراً سره تعمیم ذکر کوی چی اسم عام دي لفظاً وی او که تقدیراً : **لیتاول**: سره دفع داعتراض کوی هغه دا چی ته وائی چی مبتدا به اسم وی نظر اوکړه (ان تصوموا) ته مبتدا فعل دي او خبر ورلره خیرلکم دي ؟ **جواب**: اسم عام دي حقیقتاً وی او که تاویلاً دا تول مؤول دي په تاویل د مصدر سره چی صیامکم خیرلکم یا لکه تسمع بالمعید ای دلته هم مبتدا تسمع فعل دي لیکن مؤول دي په ان مصدریه سره چی سماعك بالمعیداو دا تاویل په االنذرتهم ام لم تنذرهم کښی هم دي، قاعده : په بیضاوي کښی قاعده ده چی هر فعل مبتدا واقع کیدي شی چی کله معنی حدثی ورنه واخلی او نسبت او زمانه ورنه کټ کړي.

المجرد عن العوامل اللفظیة: اول دفع اعتراض . دریم فائده ددي قید. دریم دفع داعتراض : **اعتراض**: المجرد صیغه داسم مفعول ده او الف لام پري داخل شوي دي او دا قاعده ده چی الف لام په اسم فاعل یا اسم مفعول داخل شی په معنی د الذی او اللتی سره وی او اسم فاعل به په معنی دفعل معلوم سره وی او اسم مفعول به په معنی دفعل مجهول سره وی دلته به داسي شی چی الذی جرد مبتدا هغه اسم دي چی خالی کړي شوي وی نو خالی کول مخکښی اعراب غواړي بیا به ئی خالی کوی نو چی ابتدائی مبتدا کوی نو دلته خو عامل نشته ؟ **جواب**: الذی لم یوجد فیه عامل لفظی اصلا .

واحترزبه: دي سره فائده دقید ذکر کوی، وکانه اراد بالعامل اللفظی : دفع داعتراض : ته وائی چی مبتدا کښی به عامل لفظی نه وی زه به درته درته وښایم چی مبتدا به وی او عامل به پکښی لفظی وی لکه بحسبك زیدٌ دلته بحسبك مبتدا ده او عامل پکښی لفظی دي چی هغه باء ده؟ **جواب**: مراد دعامل نه مؤثر فی المعنی دي او دلته خو باء زائده ده که وی او که نه معنی کښی ئی څه فرق نه راځی

اعتراض په متن: عوامل جمع ده او دجمع کم از کم افراد دري وي نو معنی دا شوه چی مبتدا به کم از کم د دریو عاملو نه خالی وی نو بیابه مبتدا وی، ؟ **جواب**: په العوامل کښی الف لام جنسی دي او دا چی په جمع داخل شی نو جمعیت ئی باطلوی **مسند الیه**: الاسم دا اسم جنس دي او المجرد عن العوامل اللفظیه دافصل اول شو او

مسند اليه ورلره فصل ثاني شو دا مخکښې د مبتدا قسم اول وو، او الصفة الواقعة سره قسم ثاني دمبتدا ذکر کوی په متن باندي اعتراض .

اعتراض: په اوالصفة کښې (او) عاطفه دي دا په چا عطف دي عام شارحين وائی لکه حاشيه کښې شته چې دا عطف دي په اسم باندي نو دمعطوف عليه نه مخکښې عبارت به دلته هم راوباسي چې فالمبتدا الصفة الواقعة الخ ... دا خبره ضعيفه ده ځکه دا پته ونه لګيدله چې قسم ثاني دمبتدا به هم مجرد وی ددي عواملو لفظيه ؤنه او که نه به وی او سره ددينه چې داخبره خو په قسم ثاني دمبتدا کښې هم شته چې خالي به وي د عواملو لفظيه نه صحيح وجه عبد الغفور ذکر کړي ده چې دا عطف دي په مسند اليه باندي نو معنی به داسي شي چې مبتدا هغه اسم دي چې مجرد به وي دعواملو لفظيه ؤ نه او واقع به وی وروسته دحرف نفی او ياداستفهام نه او دا قول راجح دي،

اعتراض: او لپاره دتشکيك او تعريف لپاره دوضاحت نو راوړل د (او) په تعريف کښې شنيع دي؟ **جواب**: او لپاره دتنويع دي چې مبتدا په دوه قسمه ده يو مبتدا مسند اليه او بل مبتدا صفت دي **سواءٌ کانت مشتقة**: دي سره تعميم ذکر کوی، **الواقعة بعد حرف النفی**: تعين دحرف نفی کوی چې ما او لا دي

اوالف الاستفهام او نحوه: اول تعميم دويم اختلاف . دريم دليل دمخالف. څلورم دفع داعتراض : اول خبره : يواځې الف استفهام نه بلکه چې په مثل ددي وی لکه (هل وما من)، وعن سيبويه بيان داختلاف کوی پدي مبتدا کښې دري مذاهب دي، اول جمهور وائی چې صفت به هله مبتدا واقع کيږي چې وروسته دحرف نفی او الف استفهام نه وی ونحوه دا ورلره شرط دي، دويم سيبويه وائی چې صفت بغير دحرف نفی او استفهام نه مبتدا واقع کيدای شی ليکن دا مع قبح، دريم اخفش وايی چې صفت مبتدا واقع کيداي شی که بغير دحرف نفی او استفهام نه وي او دا مع قبح ندي بلکه حسن دي .

وعليه قول الشاعر فخير نحن عند الناس منکم: دي سره دليل دمخالف ذکر کوی چې اخفش دي ترکيب خير اسم تفضيل دي صفت دي مبتدأ ثانی ده او نحن فاعل سد مسد دخبر دی پس دحرف نفی نه ندي او وروسته ورنه الف الاستفهام هم نشته ، **ولوجعل**: دفع داعتراض : **اعتراض**: په اخفش واردیږي چې ستا استدلال پدي شعر

باندي ندي صحيح ځکه خيرٌ خبر مقدم نشي ګرځيدلی ځکه که شي نو خير اسم تفضيل دي او منکم نی مفعول دي نو بيا به د اسم تفضيل او دده په مابين کښي فصل راشي په نحن سره چي اجنبي دي او فصل بالاجنبی صحيح ندي ځکه اسم تفضيل ضعيف العمل دي او که خيرٌ مبتدا شي نو نحن به ورلره فاعل شي او فصل په فاعل سره دا جائز دي ځکه فاعل کالجزء وی او مبتدا مستقله ده دجمهورود طرف نه دوي ته دوه جوابونه دي اول جواب دادي چي صفت مبتدا واقع کيدي شي خو وروسته دحرف نفی او استفهام نه به وي دا ورلره پکار دي خو په صحت دکلام کښي او دلته چي مبتدا صفت دي او بغير دحرف نفی او الف استفهام نه راغلی دا دضرورت شعري دوجی نه. دويم جواب دادي چي خيرٌ خبر مقدم دي او نحن مبتدا موخره ده که ته وائی چي فصل راغی په نحن سره منکم معمول دنحن دي دمسئله کحل په شان او په عند الناس ظرف سره فصل چي راغلی دا پشان دکلا فصل دي ځکه په ظروفو کښي توسع وی

رافعـة لظـاهر او مـايجرى مجـراه: اول دفع داعتراض . دويم فائده ددي قيد ، **اعتراض:** زه به درته وښايم صفت به وي وروسته دحرف نفی او الف استفهام نه به وي مبتدا به هم وی او رافع به ظاهر لره نه وی بلکه رافع دضمير به وی لکه ‹ اراغبٌ انت عن آلهتی يا ابراهيم › اراغب مبتدا ثانی ده او رافع ده ضمير لره چي انت ده، ؟ **جواب:** رفع به ورکوی اسم ظاهر لره ياجاري مجراي دظاهر لره نو دلته انت جاری مجراي ظاهر دي ځکه دا ضمير مرفوع منفصل دي.

واحترزبـه عـن نحـو اقائمـان الزيـدان: دي سره فائده دقيد ذکر کوی چي په اقائمان تپول تعريف دمبتدا ثانی صادق دي نو دلته اقائمان نه مبتدا قسم ثانی نه وائي او وروسته ته سد مسد نه وائی دفاعل ځکه به دا رافع نه وي الزيدان لره او که وی نو قاعده داده چي نسبت دفعل شبه فعل وشي اسم ظاهر ته نو وحد الفعل ابداً او دلته فاعل اسم ظاهر دي او بيا هم فعل اقائمان تثنيه ده نو ترکيب به داسي کوی چي اقائمان خبر مقدم او الزيدان ورلره مبتدا موخره ده. **مثل زيد قائم:** اول تعين دممثل له ، دويم دفع داعتراض . هغه دا چي دتوضيح دممثل دپاره يو مثال کافي وي او تا دري مثاله راوړي ؟ **جواب:** ممثلان هم دري دي **فـان طابقـت:** ددي خبري تعلق مبتدا قسم

ثانی سره دي دغه صفت چی واقع وی پس دحرف نفی نه الخ چی موافق نشی دهغه مفرد سره چی کوم ددي صفت نه وروسته واقع وی لکه اقائم زید نو پدي صورت کښی جاز الامران یو امر دا چی قائم صفت د مبتدا قسم ثانی شی او زید فاعل سدمسد دخبر دا ورلره خبر شی دویم امر دا چی قائم خبر مقدم او زید مبتدا موخر شی.

الصفة الواقعة: دي سره دفع داعتراض کوی هغه دا چی مطابقت کښی ضمیر چا ته راجع دي که مطلق صفت ته راشی نو بیا پکار ده چی په قایم زید کښی هم جواز د امرینو شی ځکه دلته هم مطلق صفت مطابق دي وروسته مفرد سره او دسره ددینه چی دلته جواز دامرینو نشته بلکه یو امر دي هغه دا چی قائم خبر مقدم دي او زید مبتدا مؤخره ده. او که په مطابقت کښی ضمیر دغه صفت مذکوره ته راجع شی یعنی چی واقع وی وروسته د حرف نفی نه الخ نو بیا پکار ده چی اقائم الزیدان کښی هم جواز دامرینو شی سره ددینه چی الزیدان فاعل دي او قائم شبه فعل دي فان طابقت مفرداً ندي؟ **جواب**: مراد دصفت مذکور دي خو دلته وروسته یو قید چی رافعة لظاهر، او دلته داسي ندي ځکه اقائم مفرد دي او الزیدان تثنیه ده. خو الزیدان ته قائم رفع نه ده ورکړي بلکه دا مرفوع دي دفاعلیت په وجه او سد مسد دخبر دا قائم دي. **مذکورا بعدها**: اول تعین دمفرد، دویم توضیح بالمثال، دریم فائده دمفرد، واحترز عمااذا طابقت مثنی. دي سره دریم غرض فائده ذکر کوی کون الصفة مبتدا الخ تعین دامرین، دویم تتمیم دمافات دماتن ذکر کوی.

والخبر هو المجرد ای هو الاسم المجرد: اول تعین دالف لام کوی په المجرد کښی، دویم قرینه پدي ذکر کوی دریم دفع داعتراض په المجرد کښی الف لام عهدي دي او معهود پدي سره اسم مجرد دي. **لان الکلام**: دي سره دویم غرض قرینه ذکر کوی. **فلا یصدق علی یضرب**: دریم غرض دفع اعتراض د ه او په **انه المجرد** سره ورود د اعتراض کوی هغه دا چی تعریف دخبر دي مانع نشو داخل شو پکښی یضرب په یضرب زید کښی ځکه مجرد دي دعوامل لفظیه ؤ نه مسند دي او مغایر دي صفت مذکوره لره پکار ده چي یضرب ته خبر ووئیلی شی سره ددي نه چی دیته څوك خبر نه وائی؟

جواب: مراد زمونږ دمجرد نه اسم مجرد دي او داخو فعل دي.

المسند به ای ما یوقع به الاسناد. اول معنی دمسند به ذکر کوی. دویم فائده ددي قید . دریم غرض مسند به دا معنی چی ددي خبر دوجه نه به اسناد راغلی وي **المغائر للصفة المذكوره**: فی تعریف المبتدا ددي مبتدا نه مبتدا قسم ثانی مراد ده **واحترزبه**. اول فائده ددي ، دویم توجیه آخره دعبارت ، دریم دفع داعتراض ، څلورم بیان داختلاف په واحترز به سره اول غرض دي او په ولك ان تقول سره دویم غرض ذکر کوی چی دوه توجیه دي پکښی وعلی التقديرين سره دریم غرض دفع اعتراض هغه دا چی تا دا دوه توجیه ذکر کړي صحیح ده هغه دوه توجیه چی په المسند به کښی دي نو المغایر للصفة المذکوره د دي څه فائده شوه ځکه پدغه دوه توجهینو سره مبتدا قسم اول او قسم ثانی وځی ، ؟ **جواب**: دا به صرف دتاکید لپاره شی دا توجهین صحیح دي خو لیکن ضعیف دي ځکه تاکید به هله راځی چی هلته شك وی او دلته شك نشته .

واعلم ان العامل فی المبتدا: دي سره څلورم غرض بیان داختلاف ذکر کوی شارح دري مذهبه ذکر کړي، اول مذهب دجمهورو دي او دا په ټولو کښی غوره دي دجمهورو په مذهب اعتراض واردیږي هغه دا چی تجريد عدمی شی دي عدمی شی څنګه عامل ګرځی ځکه دعامل معنی داده چی دا به مؤثر وی او د تاثير دپاره لابدي وی د وجود نه، اول **جواب**: دادي چی عدمی په دوه قسمه دي، اول مطلق عدمی دویم عدمی خاص، مطلق عدمی مؤثر نشی ګرځیدی او عدمی خاص مؤثر ګرځیدی شی لکه یو کمره وی او تاسره څوك نه وی او ته ویریږي چی یا رپیږي یا کوم شی به راباندي راشی نو دلته عدمی شی مؤثر وګرځیدلو او دا عدمی خاص دي، دویم جواب. دادي چی عوامل دنحوی په کلام دعربو کښی علامات دی او عدمی شی علامه ګرځیدی شی لکه ته مدرسی ته ټیلیفون وکړي او څوك نی نه اوچتوی مذاهب ثلثه دا په کتاب کښی متن کښی موجود دي او څلورم مذهب هغه عکس د دوهم مذهب دي او پنځم مذهب دکوفیانو دي دوی وائی چي مبتدا کښی عامل هغه ضمير دخبر وی چی دا راجع وی مبتدا ته .

معنی د لفظ اصل

واصل المبتدا ای ما ینبغی: هر کله چی فارغ شو مصنف دتعریف دمبتدا او دخبر نه نوشروع یی کړه په قواعدو دمبتدا او خبر کښی ، اوله قاعده داده چی اصل په مبتدا

کښې تقديم دي اى ماينبغي ، اول تعين دمعنى داصل . دويم دفع داعتراض، اصل په ډيرو معنا ګانو سره راځي اصل په معنى دقاعدي کليه سره راځي اصل په معنى د دليل سره راځي اصل په معنى دما يبتنى عليه غيره سره راځي ، اصل په معنى داستصحاب الحال سره راځي نو شارح فرمائي چې اصل دلته په معنى دما ينبغي سره دي .

اذا لم يمنع مانعٌ: دي سره دوهم غرض دفع اعتراض هغه دا چې زه به درته وښايم چې مبتدا به وي او تاخير به ئې واجب وي لکه في الدار رجل ؟ **جواب**: دلته مانع شته تقديم دمبتدا لره ځکه که رجلٌ مبتدا کړو بيا نکارت دمبتدا راځي **التقديم على الخبر لفظاً**: اول متعلق دتقديم ذکر کوي. دويم دليل متعلق دتقديم هغه خبر دي او لان المبتدا ذات سره دليل ذکر کوي چې دا ئې ووئيلو چې مبتدا ذات وي او خبر حال وي د احوال دمبتدا نه نو انشاء خبر نشي واقع کيدلي ځکه انشاء حال نه وي البته تاويل سره انشاء حال واقع کيداى شي. تاووئيل چې مبتدا ذات وي او خبر حال وي پدي باندي اعتراضات وارديږي ، **اول اعتراض**: تاووئيل چې خبر حال وي زه به درته وښايم لکه هذا زيدٌ هذا مبتدا ده او زيد خبر دي دلته خو خبر حال ندي بلکه ذات دي؟

جواب: دا مؤول دي په تاويل دهذا مسمى زيد سره هذا مبتدا او مسمى زيد مضاف مضاف اليه خبر حال دي **دويم اعتراض**: ته وائې مبتدا ذات وي زه به درته وښايم چې مبتدا به وى او ذات به نه وي لکه العلم حسنٌ ، العلم مبتدا او حسنٌ خبر نو العلم مبتدا ذات ندي؟ **جواب**: ذات نه مراد قائم بالذات ندي بلکه د ذات نه مراد چې دهغې نه خبر ورکولي شي او دلته مونږ خبر ورکړو چې العلم حسنٌ ، **دريم اعتراض** دا دليل دتقديم دمبتدا بجميع مقدماتها جاري دي په فاعل کښې ځکه فاعل هم ذات وي نو پکار ده چې واجب التقديم شي سره ددينه چې واجب التاخير دي دا فاعل دفعل نه وروسته وي نو مدعي ترينه مخالفه ده؟ **جواب**: تاخير دفاعل دمانع دوجې نه دي دفعل نه که موخر نشي نو بيا به ئې التباس راشي دمبتدا سره .

ومن ثم اى ومن اجل: ثم اسم اشاره ومن اجل سره مشار اليه ذکر کوي. **جاز قولهم في داره مع کون الضمير**: تطبيق دمثال ذکر کوي دممثل سره. **وامتنع قولهم صاحبتها في الدار لعود المضير**: تطبيق دمثال کوي **وقد يکون المبتدا نکرة**: اوس دوهمه قاعده

ذکر کوی چې کله کله به مبتدا نکرة وی نو اصل پکښې تعریف شو **اعتراض**: چې اصل په مبتدا کښې تعریف دي نو پکار ده چې داسې دي وئیلی وي چې الاصل فی المبتدا التعریف وقد یکون المبتدا نکرة ؟ **جواب**: دادي چې بنا ، دمتونو په اختصار سره وی دلته قد لپاره دتقلیل دي دینه پته معلومیږي چې اکثر به مبتدا معرفه وی

وان کان الاصل فیه: اول دفع داعتراض، دویم دلیل . دریم توطیه او تمهید دمتن لپاره **اعتراض**: قد داخل دي په فعل مضارع او دا قد لپاره دتقلیل دي نو تقلیل خو تکثر غواړي ؟ **جواب**: مخکښې شوي دي. **لان للمعرّفة**: دي سره دلیل ذکر کوی خلاصه داده چې په مبتدا حکم شوي وي نو لابدي ده چې هغه شی چې حکم پرې شوي وي هغه به معرفه وی او اصل په خبر کښې تنکیر دي ځکه چې دي سره خبر ورکول کیږي نو ته چې چا ته دیوشی خبر ورکوی نو پکار ده چې هغه بل کس ورنه خبر نه وی که ورنه خبر وی نو بیا ددي خبري څه فائده شوه .

ولکنه لا یقع نکرة علی الاطلاق: دریم غرض توطیه او تمهید ذکر کوی متن ته دعلی الاطلاق معنی ده علی التعمیم . بل اذا تخصصت: اول تعین د (ما) دویم معنی دتخصیص . دریم دلیل (ما) دلته دتعمیم لپاره دي د (ما) خپله معنی نشته بوجه منون دي ددي لپاره تاکید واقع دي که تنوین دتعظیم لپاره وی نو دا ماً تاکید دي په دغه تعظیم کښې دغه شانته که دتحقیر لپاره وی بس دا ما ورلره تاکید دي.

اذ بالتخصیص: دوهم غرض معنی دتخصیص . دتخصیص دوه معنی دي، اول دنحویانو په نزد دوي وائی چې تخصیص تقلیل دافرادو ته وائی، دویم دعلماؤ دمعانی په نزد دوي وائی چې تخصیص وائی رفع داحتمال ته دلته شارح دتخصیص معنی دنحویانو ذکر کوی پدي باندي خارجی اعتراض چې دتخصیص کومه معنی اخلی دنحویانو او که دعلماؤ دمعانی معنی اخلی که اوله معنی اخلی نو په ما احد خیر منك کښې تقلیل افرادو نشته دي تعمیم دي پکښې او که دوهمه معنی اخلی نو بیا ترینه ولعبد مومن خیر من مشرك خارج شو ځکه دي کښې خو رفع داحتمال نده راغلی بلکه تقلیل دافرادو راغلی .

لتخصصه بتقدیم الخبر: تطبیق دمثال دممثل له سره کوی، **ومثل قولك سلام**

عليك: دلته سلام مبتدا نكره ده څكه تخصيص پكښې راغلى دوجه دمصدر نه. لتخصصه بالنسبه الى المتكلم : اول تطبيق دمثال دممثل سره كوى. دويم دفع داعتراض دريم بيان داختلاف . څلورم ماهو الحق . پنځم توطيه او تمهيد متن دپاره او غرض پكښې دفع داعتراض. **فكانه قال سلامى اى سلام من قبلى عليك**: دويم غرض **اعتراض**: هركله چې داسي شوه چې سلامى نو اضافت ئې وشو ياء دمتكلم ته نو معرفه شوه نو ديته څه ضرورت دي چې تخصيص پكښې راولى ؟ **جواب**: دا اضافت لفظى دي حقيقى ندي او اضافت لفظى مفيد تعريف نه وى نو جواب ئې وكړو اى سلاما من قبلى عليك سره نو سلام نكرة مبتدا ده .

هذا هو المشهور فيا بين النحاة: دي سره دريم غرض بيان داختلاف كوى وائى دا خو مشهوره خبره ده په مابين دنحاتو كښې چې نكرد هم مبتدا واقع كيداى شى خو چې تخصيص ئې وشى په يو وجې دوجوهو دتخصيص سره او ذكر كوى چې وقال بعض المحققين چې هغه ابن الديان دي چې دار مدار دمبتدا والى دا په فائدي باندي دي كه مبتدا نكره هم وي خو چې مفيد دفائدي نه وى نو مبتدا واقع كيدي شى او كه مبتدا معرفه هم وى خو چې مفيد دفائدي نه وى نو مبتدا واقع كيدل ئې صحيح ندي لكه زيد شئ **هذا القول اقرب الى الصواب**: دي سره څلورم غرض ماهو الراجح ذكر كوى.

ولما كان الخبر المعرف فيما سبق: توطيه او تمهيد ذكر كوي لپاره دمتن او غرض پكښې دفع داعتراض ده هغه دا چې تا ووئيلو چې والخبر قد يكون جملةً قد چې په مضارع داخل شى نو تقليل فائده كوى نو تا خو مخكښې ندي ويلى چې خبر به مفرد وى ؟ **جواب**: مخكښې تعريف كښې خبر قسم د اسم دي او اسم قسم دكلمه دي او په كلمه كښې افراد وى او كله كله خبر جمله هم راتلى شى. **والخبر قديكون جملة اسمية**: شارح قيد داسميت راوويستلو غرض ئې پكښې دفع داعتراض ده هغه دا چې دتوضيح دممثل لپاره مثال واحده كافي وى تا دوه مثاله ولى راوړل . ؟ **جواب**: دلته ممثل دوه دي .

ولم يذكر الظرفية: اول دفع داعتراض ، دويم توطيه او تمهيد متن ته. **اعتراض**: تا ووئيل چې كله به خبر جمله اسميه وى او كله فعليه نو كله خو خبر جمله ظرفيه هم راځى شرطيه هم راځى هغه دي ولى ذكر نه كړو؟ **جواب**: جمله ظرفيه ئې ذكر

نکره ځکه چی جمله ظرفیه راجع وی جملی فعلیي لره لکه دبصریانو په نزد دمتعلق دجار مجرور فعل راوباسي دغه جمله شرطیه هم.

واذا کان الخبر جملة: دي سره توطیه او تمهید ذکر کوی متن ته اوس چی خبر جمله راشی نو لابدي ده پکښی دعائد نه نو په ذالك العائد سره بیان عوائدو کوی چی کله به عائد ضمیر وی لکه په مثالین مذکورین کښی چی کوم کتاب کښی دي یا عائد غیر وی دضمیر نه لکه لام شو په نعم الرجل زیدٌ کښی او یا به عاید وضع دمظهر وی په ځاي دمضمر لکه (الحاقة ما الحاقة) نو د دوهم ماالحاقة په ځای ماهی پکار وو او یا به خبر تفسیر وی لپاره دمبتدا دا هم عائد دي لکه (قل هو الله احدٌ) دلته هو ضمیر شان مبتدا ده او الله بیا مبتدا ده او احد ورلره خبر دي بیا دا خبر او مبتدا خبر دي لپاره دمبتدا اولی وقد یحذف العائد اذا کان ضمیراً القیام قرینة کله کله عاید حذف کولی شی لفظ کښی به نه وی خو مراد به وی اول تعین دعائد کوی چی کوم عائد به حذف کیږي وائی چی که عائد ضمیر وی، دویم توضیح بالمثال کوی،

وما وقع ظرفاً ای الخبر الذی: اول تعین د (ما) کوی دویم دفع داعتراض، (ما) عبارت دي دخبر نه. **اعتراض**: وقد وقع ظرفاً ظرف دي مطلق ذکر کړو او شی چی مطلق ذکر شی صرف کیږي فرد کامل ته او فرد کامل دظرف نه یا زمان دي او یا مکان دي دا قاعده خو پدي کښی شوه نو په فی الدار جار مجرور کښی به څه کوی ځکه دا خو نه زمان دي او نه مکان؟ **جواب**: دلته مطلق جاري دي په خپل اطلاق باندي ظرف عام دي حقیقتاً وی او که حکماً وی نو فی الدار حکماً ظرف دي.

فا الاکثر من النحاة: اول تعین داکثرو کوی چی بصرین دي. **اعتراض**: تصریح ولی نکوی چی فالبصریون؟ **جواب**: دي کښی فائده ده ځکه که ده ویلی وی چی دامذهب دبصریانو دي نو بیا به چا اعتراض کولو چی دکوفیانو مذهب دي ولی ذکر نه کړو نو بیا به ده جواب کولو چی مذهب دبصریانو اکثر دي نو ده اولاً فالاکثر وویل. دا اکثر کنایه ده دبصریانو نه او کنایه ابلغ وی دتصریح نه ځکه په کنایه کښی دعوه سره د دلیل نه وی.

وعلی انه ای الخبر: مرجع د (انه) د ضمیر ذکر کوی و مقدر ای مؤول دي سره

غرض دفع اعتراض ده هغه دا چې خبر ظرف واقع شي نو مقدر به وي په جملې سره نو ظرف خو مقدر نه وی بلکه ذکر وی؟ **جواب:** مراد دمقدر نه مؤول دي **بتقدیر الفعل** اول معنی دمتن ذکر کوی، دویم دلیل، دریم اختلاف ته پکښې اشاره ده، څلورم دلیل دجانبین، پنځم توطیه او تمهید دمتن دپاره، اول خبره: هغه خبر چې ظرف واقع شي هغه به مؤول وی په جملې سره ددي معنی ده چې بتقدیر الفعل نو فاعل به ورسره هم وی او فعل فاعل نه وی مګر جمله نو مؤول به وی په جملې سره دویم او دریم غرض هم دي سره کتاب کښې شته،

ووجه الاکثر: څلورم غرض دلیل د جانبینو ذکر کوی، اعتراض دبهر نه، کوفیانو دپاره هم دلیل شته او د بصریانو دپاره هم نو ماتن په څه دلیل سره دبصریانو مذهب غوره کړي او ترجیح ورکوی،؟ **جواب:** د دوو وجوهو نه اوله وجه داده چې کوفیان تقدیر د اسم کوی خو داسم حقیقی نه بلکه داسم فاعل کوی اوبصریان تقدیر دفعل حقیقی کوی، دویمه وجه داده چې کوفیان چې بند راشي په تقدیر د اسم کښې نو بیا رجوع کوی تقدیر دفعل ته نو مذهب دبصریانو راجح دي.

ثم ان الاصل فی المبتدا: دي سره پنځم غرض توطیه او تمهید ذکر کوی، **واذا کان المبتدا مشتملا علی ماله صدر الکلام ای علی معنی:** اول غرض تعین د (ما) کوی په علی ما کښې او غرض پکښې دفع اعتراض کوی، دویم مصداق ددي (ما) دریم دلیل دپاره دتقدیم دوجوب، اول خبره: مراد د (ما) نه معنی ده **اعتراض:** (ما) به عبارت وی د لفظ نه نو معنی دا شوه چې مبتدا به مشتمله وی په لفظ باندي نو مبتدا هم لفظ دي او مشتمله هم شوه په لفظ باندي نو اشتمال دشی راغی په خپل نفس وهذا لایجوز؟ **جواب:** (ما) عبارت دي دمعنی نه، نه دلفظ نه، **کالاستفهام:** مصداق دما ذکر کوی **فانه یجب حینئذ:** دي سره بدلیل ذکر کوی، دا مبتدا چې مشتمله وی دااشتمال په دوه قسمه دي یو اشتمال هغه په طریقی دجزئیت سره دي لکه من ابوک کښې من مبتدا ده مشتمل دي په استفهام خوجزء دي خکه مبتدا ده، کله به اشتمال په طریقی دمجاورت سره وي لکه اقائم زید نو همزه داستفهام خو دزید نه جز ندي بلکه ورسره مجاوره ده.

فان من مبتدا مشتمل: اول تطبیق دمثال دممثل سره کوی، دویم دفع داعتراض، دریم بیان اختلاف ، اول غرض کتاب کښی شته ، فان معناه، دي سره دفع داعتراض . **اعتراض**: من نکره ده او ته وائی چی مبتدا ده مخکښی خو تاوئیلی چی مبتدا معرفه وی وقد یکون المبتدا نکرة پریږده. ؟ **جواب**: دا من معرفه خو په اعتبار داصل سره چی اهذا ابوك ام ذاك الخ . د اختصار دپاره تولو ته تعبیر په من سره وشو نو هذا اسم اشاره معرفه ده او دینه تعبیر په من سره شوي نو لهذا من معرفه او صالح للمبتدا وګرځیده.وهذا مذهب سیبویه دي سره دریم غرض اختلاف ذکر کوی.

او کانا معرفتین متساویین: اول دفع داعتراض ، دویم هم دفع داعتراض ، د[ریـ]ـم توضیح بالمثال ، **اعتراض**: بناء دمتونو په اختصار سره وی تا وویل او کانا معرفتین بیا وروسته وائی او کانا متساوین داسي وئیل کافی وو چی او کانا متساویین فقط. ؟ **جواب**: دمعرفتین او متساویین په مینځ کښی فرق دي ځکه چی معرفتین وی نو مساوات ئی ضروري ندي **ولا قرینة**: دفع داعتراض ، زه به درته وښایم چی دواړه به معرفتین وی او تقدیم مبتدا به واجب نه وی لکه ابو یوسف ابو حنیفة دلته ابو یوسف مبتدا ده او ابو حنیفة خبر دي او دلته عکس هم وئیلی شی ؟

جواب: مبتدا او خبر چی معرفتین وی نو مبتدا به واجب التقدیم وی خو چی قرینه نه وی ، او دلته قرینه شته چی ابویوسف شاګرد او امام ابو حنیفة استاد دي او خلك تشبیه دشاګرد خلك داستاد سره ورکوی، لکه زید المنطلق کښی مبتدا او خبر دواړه معرفه دي لیکن تعریف کښی ندي برابر زید کښی تعریف دعلمیت دوجی نه دي او المنطلق کښی د الف لام دوجی نه دي نو دلته زید مبتدا او المنطلق ورلره خبر دي او که داسي شی چی المنطلق زیدٌ نو اول مبتدا او ثانی خبر دي.

او کانا متساویین: اول معنی دمتساویین ، دویم توضیح بالمثال ، دصحت دپاره به دواړه صحیح وي اګرکه قدر دتخصیص کښی کمی وی یو بل نه تعریف کښی کم وی لکه غلام رجل صالح مبتدا ده او خیر منك خبر دي صالح مرفوع وویل شی چی صفت دغلام شی او صالح مجرور ویلی شی چی صفت رجل شی دلته مبتدا او خبر په معرفه والی کښی سره برابر دي خو په قدر دتعریف کښی سره برابر ندي، په مبتدا

كښي دوه تخصيصه دي يو اضافت دي بل صفت دموصوف شوي او خبر كښي يو تخصيص دي چي اضافت دي

مثل افضل مني افضل منك: افضل مني مبتدا ده او افضل منك ورلره خبر دي مبتدا كښي تعريف ډير دي ځكه ضمير دمتكلم ته ئي اضافت شوي دي او خبر كښي ضمير دمخاطب دي او ضمير دمتكلم دا اعرف وي دضمير دمخاطب نه. **اعتراض:** ماتن يو مثال راوړي وو نوشارح ولي بل مثال راوړو؟ **جواب:** دماتن مثال كښي اشتباه وه ځكه مبتدا او خبر كښي ضمير وو او دشارح مثال كښي مبتدا كښي اضافت او صفت وو او خبر كښي صرف اضافت وو نو دشارح په مثال كښي ډير وضاحت دي،

رفعاً للاشتباه: دا مفعول مطلق دي دفعل مقدره دپاره چي يجب تقديم المبتدا في الصورتين رفعاً للاشتباه . **اوكان الخبر فعلا له اي للمبتدا:** اول بيان دضمير ، دويم فائده ددي قيد ، دريم توضيح بالمثال مثال زيد قائم وجب تقديمه قام زيد نشي وئيلي ځكه التباس راځي فاعل سره، **اي تقديم المبتدا على الخبر:** اول بيان دضمائرو كوي، دويم دلايل ذكر كوي، دريم اشاره اختلاف ته : اولنيو دريو صورتونو كښي تقديم دمبتدا واجب دي پ اولني صورت كښي ځكه چي صدارت دكلام فوت نشي او په دويم او دريم صورت كښي ځكه چي رفعاً للاشتباه. او په آخري صورت كښي چي زيد قام دي چي التباس دفاعل سره رانشي .

قاما الزيدان: دلته دوه مذهبه دي يو مذهب والاوائي چي قام فعل (ما) فاعل او الزيدان بدل دفاعل نه، دويم مذهب قام فعل او ما ذا علامه دتثنيه ده او الزيدان فاعل دي نو په اول صورت كښي بدل عن الفاعل سره التباس راځي او په دويم مذهب سره دفاعل سره التباس راځي . دوه صورته دماتن نه پاتي دي چي هلته تقديم دمبتدا واجب دي يو دا چي خبر بعد الآنه راشي،

لكه مازيد الاقائم او تقديم دمبتدا واجب دي، صدارت غواړي حصر منقلب نه شي او اوبل صورت دتقديم چي بعد معني د الانه راشي لكه انما زيد قائم دا هم يا صدارت غواړي يا حصر بالعكس نه شي .

بیان د تقدیم د خبر

واذا تضمن الخبر المفرد: هر کله چی فارغ شو مصنف رحمة الله علیه د بیان دهغه مواضعو نه چی هلته تقدیم دمبتدا واجب دي، نو شروع ئی و کړه په بیان دهغه مواضعو کښی چی هلته تقدیم دخبر واجب دي په مبتدا کښی وئیلی وو اشتمل او دلته وائی چی تضمن دا صرف دتفنن فی العبارة دپاره.

ای الذی لیس بجملة صورة: اول تعین دمفرد، دویم دفع داعتراض: مراد دمفرد نه هغه مفرد دي چی په مقابله دجمله کښی وی ، **اعتراض**: مثال دي مطابق دقاعدي سره نه دي، این زید این خبر مقدم دي او دا خو ظرف دي او مخکښی تا وویل چی وما وقع ظرفاً فالاکثر علی انه مقدر ای مؤول بجملة او ته خو خبره په خبر مفرد کښی کوي؟ **جواب**: چی صورتاً مفرد وی اګرکه حقیقتاً جمله وی.

ماله صدر الکلام: اول تعین د (ما) کوی او غرض پکښی دفع داعتراض ده، چی ما عبارت دلفظ نه ، نه دي، بلکه دمعنی نه عبارت دي، دریم مصداق د (ما) ذکر کوی، **مثل این زید فزید مبتدا**: اول تطبیق دمثال کوی دممثل سره، دویم احتمالین ذکر کول دي، دریم فایده ددي قید ، **وهوظرف**: دي سره احتمالین ذکر کوی، **واحترزبه**: دي سره فایده دقید ذکر کوی، **اوکان الخبر بتقدیمه مصححا له**: په الخبر سره تعین دکان دضمیر کوی چی هغه راجه دي خبر ته، بتقدیمه سره غرض هغه دفع داعتراض ده، هغه دا چی ته وائی خبر دا مصحح دي مبتدا لره، نو خبر خو ځاشته جز دکلام دي؟ **جواب**: خبر مصحح نه دي مبتدا لره بلکه تقدیم دخبر مصحح دي مبتدا لره ذات دخبر نه دي مصحح

ای للمبتدا: بیان دضمیر کوی چی (له) کښی ضمیر مبتدا ته راجع دي، **من حیث انه مبتدا**: دفع داعتراض کوی هغه دا چی ته وائی چی خبر به مصحح وی ذات دمبتدا لره نو که خبر وی او که نه وی نو مبتدا به وی چی رجل دي؟ **جواب**: ذات دمبتدابه وی خو ذات دمبتدا دلته ندي مراد بلکه وصف دابتدائیت مراد دي فان الدار سره تطبیق دمثال دممثل سره کوی. **اوکان لمتعلقه تمهید**: چی مبتدا راشی ، دویم داچی ورلره خبر راشي. دریم دا چی دخبر لپاره یو متعلق راشي. څلورم په جانب دمبتدا کښی یو ضمیر وی چی راجع وی متعلق ددغه خبر ته، پنځم دا چی دخبر

اودمتعلق په مابين کښې داسي تعلق وي چې ددغه تعلق دوجې نه تقديم دمتعلق په خبر نښي راتلی يعني تعلق پکښې دکل او دجزء وي نه دعامل او اودمعمول ځکه دلته تقديم راتلی شي

علی التمرة مثلها زبدا: دي مثال کښې دغه پنځه واړه خبري شته دلته تقديم دخبر واجب دي لپاره ددي چې اضمار قبل الذکر را نشي ځکه په مثلها کښې ضمير التمرة ته راجع دي اوس که مبتدا مقدم کړي نو اضمار قبل الذکر راځي ، اوس راشه او کان لمتعلقه بکسر اللام ته . اول رفع داشتباه خطی کوي. دويم ضمير دلمتعلقه دپاره مرجع ذکر کوي، دريم يو قيد ذکر کوي، څلورم فائده ددي قيد نو بکسر اللام سره غرض اول وشو اي کان لمتعلق الخبر سره دويم غرض وشو. التابع له : دريم غرض قيد ذکر کوي چې دا متعلق به تابع وي دخبر داسي تابع به وي چې تقديم به يي ممتنع وي په خبر باندي .

فلا يرد نحو علی الله عبده متوکل: څلورم غرض فائده ددي قيد ذکر کوي اعتراض : عبده مبتدا ده متوکل ورلره خبر دي علی الله متعلق دخبر دي او پدي مبتدا کښې ضمير متعلق د خبر ته راجع دي دلته شروط شته او تقديم دخبر ندي راغلی **جواب**: دلته پنځم شرط نشته هغه دا چې دمتعلق او دخبر په مابين کښې به تعلق دجز او دکل وي نه دعامل او دمعمول او دلته چې کوم تعلق دي هغه دعامل او دمعمول دي نو ځکه تقديم دخبر ندي شوي بلکه دمبتدا شوي **ضمير کائن فی جانب المبتدا:** نو په ذات دمبتدا کښې خو ضمير نشته دي وائي نه په جانب دمبتدا کښې به ضمير وي .

واذ لو اخر. دي سره وجه د وجوب دتقديم دخبر ذکر کوي مثل علی التمرة مثلها زبداً ، فقوله مثلها دي خاي سره تطبيق دمثال کوي دممثل سره . **او کان الخبر خبراً عن ان المفتوحة:** اول غرض رفع داشتباه خطی ، دويم دفع داعتراض ، دريم دليل ، څلورم دفع داعتراض .

الواقعة مع اسمها وخبرها: دوهم غرض دفع داعتراض هغه دا چې ته وائي يا به خبر . خبر د أنَّ وي نو ان به مبتدا وي او دا خو حرف دي دا څنګه مبتدا واقع کيږي دي جواب کوي چې ان سره داسم او سره دخبر نه المؤول بالمفرد دا مبتدا ده او

مخکښې ورلره خبر دي **اذ فی تاخیره**: دي سره دلیل ذکر کوي چې تقدیم دخبر ولې واجب دي **لامکان الذهول عن الفتحة**: دي سره څلورم غرض دفع اعتراض ده هغه دا چې ګډوډېږي نه زیر زبر ئې ورته کړي وې لکه (انك قائمٌ ؟ **جواب**: کیدای شي دغفلت دوجې نه یاد کتاب نه په هیره پاتې شوي وي.

وجب تقدیمه: اول بیان دضمایرو کوي. دویم دلایل ذکر کوي. وقد یتعدد الخبر من غیر تعدد المخبر عنه . اوله خبره : دفع اعتراض دویم احتمالین . دریم استعمالین، اوله خبره :اعتراض مسایل دفن نظري وې چې مبتدا کښې تعدد وې او دا خبره چې خبر کښې تعدد وې دا خو بدیهي ده؟ **جواب**: دي وائي چې تعدد دلته دخبر وې نه دمخبر عنه . **وذالك التعدد اما بحسب اللفظ**: دویم غرض احتمالین ، دلته یو احتمال دي چې دغه تعدد به یا بحسب اللفظ وې والمعنی او وروسته بل احتمال ذکر کوي او په یستعمل سره دریم غرض استعمالین ذکر کوي.

مثل زیدٌ عالمٌ عاقلٌ: پدي کښې قسم ثاني داحتمالین ذکر کوي، دویم حکم دهغې ، دریم قول اخر څلورم دفع داعتراض ، پنځم بل جواب یو قسم ذکر شو چې لفظ او معنی دواړو کښې تعدد وي او بل قسم دا چې دا تعدد به په اعتبار دلفظ سره وي فقط لکه هذا حلو حامض فی هذه الصورة حکم د دي ذکر کوي **ونظر بعض النحاة**: سره قول آخر ذکر کوي، **اعتراض**: تاوونیل دلته ترك دعطف اولی دي په قسم ثاني کښې نو داولی نه معلومه شوه چې عطف جائز دي نو دي قول ته څه ضرورت وو چې (ونظر بعض النحاة وجوز العطف ؟ **جواب**: دلته جواز په معنی داولی سره دي بعضو ترك عطف اولی وئیلی او بعضو عطف نه اولی ویلی دي.

ولا یبعد: دفع د اعتراض هر کله چې دوه استعماله وو یو سره د عطف بل بغیر دعطف نه نو مثالونه هم دوه پکار وو سره ددینه چې ده یو مثال راوړي چې هغه مثال دترك عطف دي داولی ؟ **جواب**: دوه جوابونه دي اول جواب دادي چې که عطف سره تعدد راشي هغه خو بدیهي خبر ده نوځکه ئې یو مثال راوړو. وایضاً سره جواب اخر ذکر کوي

وقد یتضمن المبتدا معنی الشرط وهو سببیة الاول للثانی: کله چې مبتدا متضمن وي معنی دشرط لره نو دخول دفاء صحیح دي په خبر باندي اول معنی دشرط،دویم

قيد ، دريم فائده دقيد چې غرض پکښې دفع داعتراض ده. څلورم وجه د ايراد دفاء په خبر کښې ، اول خبره : د شرط لپاره دوه معنى دي اول لزوم داول ثاني لره. دويم سببيت د اوله دپاره دثاني لکه ان كانت الشمس طالعة فالنهار موجود **او للحكم به**: دي سره قيد ذکر کوي چې يا به اول سبب وي دپاره دحکم په ثاني ، **فلا يرد عليه**: فائده دقيد اعتراض ، وما بكم من نعمة فمن الله ، دلته وما بكم من نعمة مبتدا ده او فمن الله خبر دي پديکښې فا راغله سره ددينه چې مبتدا متضمن نده معنى دشرط لره ځکه نا دشرط معنى وکړه چې اول سبب وي دپاره دثاني نو نعمت خو الله ﷻ لره سبب ندي بلکه الله ﷻ سبب دي لپاره دنعمت؟ **جواب**: دا اعتراض نه واريږي ، ځکه دشرطيت مونږ دوه معنى وکړي دلته نعمت وي دا سبب دپاره دحکم ګرځي چې دا نعمت دالله ﷻ دطرف نه دي دلته نعمت ندي لپاره دثاني چې الله ﷻ دي

فشبه المبتدا: وجه د ايراد دفاء ذکر کوي، فيصح دخول الفاء **في الخبر ويصح عدم دخوله**: غرض دفع داعتراض هغه دا چې هر کله مبتدا متضمن وي معنى دشرط لره نو معنى دا شوه چې مبتدا سبب شوه لپاره دخبرنو فيصح وويل نه ؤ پکار بلکه فيجب ويل پکار وو ځکه ستا مقصود دلالت دي په سبب باندي نو دال پري پکار دي او هغه نده مگر فاء ده؟ **جواب**: په ويصح عدم دخوله سره کوي ټول دري صورتونه دي، **وذالك المبتدا المتضمن**: بيان دمشار اليه کوي دلته اته صورتونه دي چې مبتدا متضمن ده معنى دشرط لره څلور صورتونه ماتن رحمه الله ذکر کړي او څلور صورتونه شارح ذکر کوي ددي ټولو مبتداګانو په خبر کښې فاء راځي

معنى د موصول

اما الاسم الموصول بفعل او ظرف اى الذى جعلت: اول معنى دموصول ذکر کوي، دويم وجه د اشتراط . دريم تتميم دمافات دماتن کوي. اول خبره : موصول نه مراد موصول لغوى دي په معنى ديو ځاي کړي شوي. بله خبره ، وماوقع ظرفاً : چې خبر ظرف واقع شي نو فا الاكثر على انه مقدر بجملة نو دجار مجرور لپاره متعلق بصريانو فعل راوويستلو او کوفيانو اسم راوويستلو او راجح مذهب دبصريانو دي ځکه يوه وجه پکښې دا وه چې کوم ځاي تقدير د اسم نه کيږي نو بيا کوفيان تقدير دفعل کوي

هغه دا خاي دي چي اسم موصول بفعل او ظرف هغه اسم چي گرځولی شوي وي صله ددي جملي فعليي يا جمله ظرفيه چي مؤوله وی په جمله فعليه سره نو دلته به ددي جار مجرور دپاره بالاتفاق متعلق فعل راوباسو ځکه که اسم راوباسو نو هغه خومؤول په جملي فعليي سره نه گرځي نو فعل به راوباسو،

وانما اشترط: وجه داشتراط ذکر کوی چي ولي به ئی صله فعل اويا ظرف راوباسي دي سره دوه صورته وشوه. **وفی حکم الاسم الموصول المذکور الاسم الموصوف به:** تتميم دمافات دماتن کوی دوي دوه صورتونه ماتن ذکر کړه او دريم صورت ذکر کوی او دا بيا دوه جوړيږي نو دمخکنيو دوه صورتونو سره به څلور صورتونه جوړ شی **اوالنکرة الموصوفة بهما ای باحدهما:** اول دفع داعتراض ، دويم تتميم دمافات دماتن رحمة الله عليه کوی، **اعتراض**: مثال دي مطابق ندي دممثل سره ځکه خو صفت دواړه په يو وخت کښي نه راځی ، ؟ **جواب:** دا نکره به موصوفة وی په يو ددغه دواړو سره

وفی حکمها الاسم المضاف اليها: تتميم دمافات کوی وائی چي په حکم ددغه شان نکري کښي دي هغه اسم چي مضاف وی دغه نکري ته ، **مثل الذی ياتينی:** اول تعين دمثال کوی دهر يو ممثل له سره مگر يو قسم دپاره چي وفی حکم الاسم ، الاسم الموصوف به ددي لپاره ئی مثال ندي ذکر کړي چي ظرف پکښي راځي له وجي دبداهت نه لکه ان الموت فی مکة فانه ملاقيکم دنورو مثالونه شته **وليت وفعل من الحروف المشبهه:** اول دفع اعتراض، هغه دا چي خبره په مبتدا او خبر کښي ده او ته حروفو ته لاړي ؟ **جواب:** په من الحروف سره کوی، **ما نعان عن دخوله عليه:** اول تعين دمانع، دويم دليل، دريم متعلق دبالاتفاق ذکر کوی، **فلا يقال:** اول بيان دمثال، دويم اعتراض ، دريم جواب : فان قيل سره اعتراض دي او دقيل تخصيصهما سره جواب دي

والحق بعضهم ان المکسورة بهما ای بليت ولعل: اول بيان دضمير دبهما کوی، دويم مابه الالحاق ، دريم ماهو الراجح ، څلورم دليل ، پنځم اعتراض ، شپږم جواب اووم ما هو الحق يا تتميم دمافات دماتن کوی، والاصح سره دريم غرض ماهو الراجح ذکر کوی. په لانها لاتخرج سره څلورم غرض دليل ذکر کوی، **فان قيل:** دي سره اعتراض او دي نه وروسته قيل سره جواب ذکر کوی،

وقد يحذف المبتدا لقيام قرينة لفظية او جوازا ای حذفا جائزاً: اول اعراب دجوازاً ، دويم معنى دجواز ، دريم تتميم ، څلورم دليل ، اول خبره جوازاً مفعول مطلق دي په اعتبار دموصوف محذوفه سره لاواجباً سره دويم غرض معنى دجوازاً ذكر كوی جواز په معنى دامكان خاص سره دي سلب دضرورت پكښې دجانبينو نه دي امكان عام ندي ځكه امكان عام كله كله جمع كيږي دوجوب سره. وقد يجب حذفه : دي سره دريم غرض تتميم كوی دا خبره شارح كوی چی مبتدا كله كله حذف كيږي وجوباًخو ماتن دا خبره نه كوی چی حذف دمبتدا وجوباً هم راځی ځكه دي وائی چی مبتدا ركن اعظم دكلام دي او بعض وائی چی كله كله وجوباً هم حذف كيږي او دشارح هم داقول دي شارح وائی چی مبتدا حذف كيږي وجوباً چی كله قطع دصفت وشی دموصوف خپل نه او دوي وائی په رفع سره لكه الحمد لله اهل الحمد دلته الله ﷻ موصوف دي او اهل الحمد صفت دي، الله ﷻ خو مجرور دي دا هم مجرور وٌوئيل پكار وو چی اهل الحمد دينه معلوميږي چی اهل مرفوع دي نو مبتدا حذف ده چی هو اهل الحمد. وانما وجب حذفه دي سره دليل ذكر كوی، ويجب حذفه ايضاً الخ پديځاي كښې هم حذف دمبتدا واجب دي ځكه چی نعم الرجل زيد، پدي كښې دوه تركيبه دي يو دا چی نعم الرجل خبر مقدم او زيد مبتدا موخره شی دي سره زمونږ كار نشته ځكه دلته خو حذف دمبتدا رانغلو. بل تركيب دا چی نعم الرجل فعل او فاعل ځانته جمله شی او زيد خبر شی او مبتدائی محذوفه وګرځی چی (هو) دي دا تركيب زمونږ مقصود دي.

كقول المستهل ای المبتدا المحذوف: اول دفع داعتراض ، دويم معنى دمستهل **اعتراض**: كقول المستهل كه مبتدا وی نو خبر ئی څه شو او كه دا خبر وی نو مبتدائی څه شوه لهذا مثال دی مطابق نشو ممثل سره **جواب**: پدي ټول مثال كښې چی قول المستهل الهلال والله دي مبتدا محذوفه ده الهلال والله ای هذا الهلال والله اول تطبيق دمثال دممثل سره كوی، دويم رد . دريم بيان دفائدي، اول غرض كتاب كښې واضح ذكر دي، وليس من باب حذف الخبر، دي سره رد كوی په بعضو بعضى وائی چی دا دباب دحذف دخبر نه دي چی الهلال هذا،

وانما اتی: دي سره دريم غرض بيان دفائدي كوی ددي نه يو جواب په وانما اتی

سره کړيٰ او اعراب يې ترينه په لئلا يتوهم سره کړي دي **وقد يحذف الخبر جوازاً**: هر کله چې مصنف فارغ شو دبيان دحذف دمبتدا نه نو شروع ئې وکړه په حذف دخبر کښې، **حذفاً جائزاً**: اول اعراب دجوازاً قرينه په جواز. **مثل الخبر المحذوف فى قولك خرجت فاذا السبع**: اول دفع اعتراض: خبره په مبتدا او خبر کښې ده او ته وائې چې خرجت دا خو فعل دي ؟ **جواب**: دي جمله کښې مثال پروت دي،

فان تقديره: اول تطبيق دمثال دممثل سره کوي. دويم اشاره اختلاف ته کوي، فان تقديره سره اول غرض ذکر کوي على المذهب الصحيح، بل تقدير دا دي چې اذا ظرف مکان دي نو بيا دما نحن فيه نه ندي ځکه حذف دخبر رانغلو،خروج عن البحث راځي ځکه مونږ حذف وجوبي دخبر ذکر کوونه دمبتدا: ځکه اذا ظرف مکان دي او روسته مبتدا ده او ظرف ئې خبر دي بلکه اذا ظرف زمان دي او دا په جمله داخليږي او السبع مفرد دي نو معلوميږي چې خبر حذف دي چې واقف او ظرف مکان په مفرد داخليږي

وقد يحذف الخبر وجوباً اى حذفا واجباً: دي سره اعراب ذکر کوي، دوجوباً فيما التزم اى فى ترکيب التزم، دفع اعتراض په دي فيما کښې (ما) دځه نه عبارت ده که عبارت شي دمبتدا نو خروج عن البحث راغي ځکه مونږ حذف وجوبي دخبر ذکر کوو نه دمبتدا او که عبارت شي دخبر نه نو وروسته فى موضعه کښې ضمير ته ضرورت نه ؤ ځکه چې په هغې کښې ضمير خبر ته راجع ده ؟ **جواب**: (ما) عبارت ده دترکيب نه دمبتدا او خبر نه. **غيره اى غير الخبر**: اول تعين دضمير وشو چې خبر ته راجع دي، دويم وذالك سره اجمال ذکر کوي، دريم غرض دفع داعتراض کوي چې مثالونه ئې ځکه څلور راوړل چې ممثلات څلور دي، په متن اعتراض واراديږي، چې فيما کښې ما موصوله ده او التزام ورلره صله جمله ده نو عائد پکښې ضروري دي او دلته عائد نشته، ؟ **جواب**: عائد شته دي چې فيه دي او دا فيه ضمير عبارت دي دمانه او ما عبارت د فى ترکيب نه.

مثل لولا زيد لكان كذا اى لولا زيدٌ: اول تطبيق دمثال دممثل سره، دويم دفع اعتراض. دريم بيان داختلاف ، دلته حذف دخبر وجوباً ځکه قرينه هم پري شته چې لولا دي او سد مسد ئې هم شته چې هغه جواب دلولا دي لو لا زيد لهلك الناس نو موجود

خبر حذف دي. **هذا اذا كان الخبر عاماً**: دفع اعتراض . هغه دا چي زه به درته وښايم چي مبتدا به پس دلولا نه وي نو لولا قرينه به پري هم وي او سد مسد جواب دلولا به هم وي نو پکار ده چي دمبتدا خبر حذف شي په حذف وجوبي سره او سره ددينه چي خبر مذکور دي لکه پدي شعر کښي. (ولولا الشعر بالعلماء يزري لکنت اليوم اشعر من لبيد) دلته الشعر مبتدا پس دلولا نه ده دا قرينه شوي پري او وروسته يزري ورلره خبر دي او خبر حذف ندي او سد مسد شته دي چي جواب دلولا دي چي هغه لکنت اليوم دي؟ **جواب**: ددي شروطو سره خبر واجب الحذف دي خو چي خبر دافعال عامهؤ نه وي او دلته خبر دافعالو خاصه ؤ څخه دي او افعال عامه څلور دي، شعر افعال عموم نزد ارباب عقول کون است ثبوت است حصول است وجود است . **اعتراض**: مطلق شعر خو عيب ندي حسان بن ثابتﷺ څه شاعر نه ؤ ، **جواب**: کامل شاعر هغه دي چي هر نوعه شعر ووئيلی شی که غم وی که دصفت وی که د خوشحالی وی نو داسي شاعر دعيب شعر هم ويلی شیٰ لکه الله جَلّجلالهُ فرمائي : والشعرآء يتبعهم الغاؤن)

هذا على مذهب البصرين: اشاره کوی اختلاف ته، امام کسائی وائی چي کوم اسم واقع شی پس د داسي مبتدا نه نو دا به فاعل دپاره دفعل مقدره ای لولا وجد زيدٌ خو دامذهب ضعيف دي، اوله وجه دضعف داده چي فعل هلته حذف کيږي چي وروسته ئی تفسير شوي وي لکه (وان احد المشرکين استجارك) کښي اودلته دوجد فعل تفسير ندي شوي، دويم دضعف داده چي فعل حذف کيږي چي کله جواب دقسم کښي راشي او دلته په جواب دقسم کښي هم ندي، **وقال الفراء**: فراء صاحب وائی زيدٌ خبر دي او لولا اسم فعل دي مبتدا ده لولا رافع دي زيد لره ليکن دده مذهب هم ضعيف دي څکه اسم فعل يوه کلمه وی او لولا دوه کلمي دی يو لفظ د (لو) او بل (لا) دي .

وثانيهما كل مبتدا كان مصدرا: اول قاعده کليه ذکر کوی، دويم تتميم دمافات دماتنؒ ذکر کوی، دريم دماتن خبره چي مثل ضربي زيداً دا په حذف دخبر کښيوه وجوباً بيا شارح اجمال ذکر کړو، چي دا په څلورو بابونو کښي کيږي ، دهغه څلور ځايونو نه يو ځائی ذکر شوي، چي خبر پس دلولا نه راشي، اوس ئی دوهم ځائی ذکر کړو هغه دا چي هره مبتدا چي وي مصدر صورةً(حقيقة) او يا تاويلاً مصدر وي. او

د دغه مبتدا نسبت شوي وي فاعل ته يا مفعول ته او يا دواړو ته او وروسته د دغه مبتدا نه حال وی، يا به اسم تفضيل وی مضاف به وي دغه مصدر ته چی مضاف وی فاعل يا مفعول او يا دواړو ته او دغه شان وروسته به ورنه حال وی نو دلته بيا حذف دخبر واجب دي او قرينه پري شته چی هغه نسبت ديوشی دي بل شی ته. ددينه ثبوت په خپله معلوميږي او سد مسد هم ورلره شته چی هغه دغه وروسته حال وي.

وذلک مثل ذهابی راجلاً: تتميم دمثالونو کوی خکه ماتن يو مثال ذکر کړي چی ومثل ضربی زيداً قائماً شارح پوره مثالونه ذکر کوی دا پورتنی مثال چی ذکر دي چی ذهابی راجلاً دمصدر صريحي مثال دي مضاف دي فاعل ته دا مبتدا شوه اوخبر محذوف دي وجوباً او راجلاً ئی حال دي نو قرينه هم شته چی هغه نسبت دي او سد مسد هم شته چی دا حال دي. **وضرب زيد قائماً**: دلته هم مصدر صريحي دي مضاف دي مفعول ته دامبتدا شوه خبر ئی حذف دي وجوباً او قائماً حال دي کله چی دا زيد مفعول به شی، **ومثل ضربی زيداً قائماً او قائمين**: دلته اضافت دمصدر فاعل او مفعول دواړو ته شوي دي، وان ضربت زيداً قايماً او قائمين ، دا مثال دمصدر تاويلی دي، دلته اضافت دمصدرفاعل او مفعول دواړو ته شويدي او مصدر هغه ضرب دي،

واکثر شربی السويق ملتوتاً: دا مثال داسم تفضيل دي مضاف دي مصدر ته او دا مصدر بيا مضاف دي فاعل او مفعول دواړو ته چی يو يا دمتکلم او بل السويق دي او ملتوتاً حال دي **واخطب ما يکون الامير قائماً**: دا مثال داسم تفضيل دي اضافت ئی شويدي مصدر تاويلی ته ای کون الامير الخ .. او ددي مصدر اضافت شوي فاعل ته چی الامير دي او قائماً حال دي دفاعل نه. ومثل ضربی زيداً نه وروسته يو غرض اتمام دامثله ، دويم مذهب دبصريانو ، دريم ردّ په مذهب دبصريانو، څلورم قول آخر، پنځم ددي نظير. شپږم قول اخر دکوفيانو اووم پدي مذهب دکوفيانو رد. اتم قول آخر. نهم قول آخر اولنی غرض چی امثله مخکښی ذکر شو او دا ترکيب چی کوم ذکر شو نو دامذهب د بصريانووو

قال الرضی هذا ماقيل فيه تکلفات کثيرة: دي سره رد په بصريانو چی کوم دريم غرض دي امام رضی فرمانی چی بصريانو دري تکلفات کړي دي. اول حذف د اذا

ظرف راغلو سره دعامل نه چې کان دي او داسي کار چيرته ندي شوي بغير ددي ځاي نه، دويم دا چې متبادر دکان نه کان ناقصه دي او ته کان تامه ته لاړي دريم دا چې حال ته څرنګه قائمقام دظرف ګرځوی دا خو ضعيف دي. راضي رحمه الله په بصريانو رد وکړو مونږ ددي نه جوابونه کوو داولنی خبري نه ئی جواب دادي چې ددي نظائر موجود دي په کلام دعربو کښې ته چې کومه خبره کوی دا دعوه بلا دليله ده چې چيرته داسي ندي شوي بغير ددي ځاي نه. د دويمی خبري نه جواب دادي چې د کان نه هريو اخستی شی او دلته ناقصه دي دريمی خبری نه جواب دادي چې حال قائم مقام دظرف ګرځيدلی شی ځکه حال کښې معنی دظرفيت پرته ده هيڅ بعد پکښې نشته دي.

والذی يظهر لی: دي سره امام رضی رحمه الله خپله رأيه پيش کوی د ده درائ نه به مونږ جواب وکړو دبصريانو دري تکلفه ؤ خو ستا يو تکلف دهغوی نه زيات مضر دي ځکه تا چې کومه معنی وکړه دا نه فهم کيږي دمحاوراتو دعربو نه **وقال الكوفيون:** دي سره شپږم غرض ذکر کوی. ويلزمهم حذف الخبر . دي سره اووم غرض رد په دوي باندي هغه دا چې حذف دخبر په کښې راغلو او بل دا چې تقيد دمبتدا راغلو او مبتدا عامه وی. حذف دخبر راغلو نو سد مسد نشته دي ځکه قائماً دا دمتعلقاتو دمبتدا نه دي او مقدم دي او قايم مقام دشی موخر وي، خو دا مذهب دشيخ په نزد غوره دی ځکه قلت دحذف پکښې دي او د رد نه مونږ دا جواب کوو چې دمبتدا او خبر په مابين کښې شدت اتصال وی نو قائماً چې دمتعلقاتو دمبتدا نه دي دا داسي دي لکه چې دمتعلقاتو دخبر نه وی او متعلق دشی قائم مقام ګرځيدلی شی. او دويم ده وئيل چې مبتدا کښې تقيد راغلو او مراد ددينه عموم دي نو جواب دادي چې دا تقيد لصحة العبارة دي او دا په مقصود کښې معتبر ندي.

وذهب الاخفش: سره اتم غرض ذکر کوی چې دلته حذف دخبر شته خو دغه خبر مصدر دي .خو دده مذهب ضعيف دي ځکه دلته مصدر عامل وو پدي حال کښې نو مصدر حذف شو او معمول ئی پاتی دي چې حال دي نو حذف دعامل سره دبقاء دمعمول نه او مصدر ضعيف العمل دي که مذکور وی عمل کوی او که مذکوږ نه وی نو بيا عمل نه کوي. دي رد نه جواب دادي چې خلاف دعامل ضعيفه سره دبقاء دمعمول

نه هغه وخت منع دي چې قرينه نه وي او دلته قرينه شته چې مخکښې ضربي دي

وذهب بعضهم: دي سره نهم غرض ذکر کوی. قول آخر پکښې دادي چې ضربي زيداً قايماً کښې ضربي زيداً مبتدا ده او قائماً حال دي او خبر يې دسره نشته دي دا پشان دمبتدا قسم ثاني دي خبر نه غواړي دلته مبتدا په معنی دفعل سره ده اصل کښې تقدير دعبارت داسي دي چې ما اضرب زيداً الاقايماً دا مذهب ضعيف دي. اول څکه چې مبتدا لره چې خبر نه وی هغه خاصه مبتدا ده چې صفت به وي او واقع به وي وروسته دحرف نفی نه. دويم ديکښې حصر نشته او تا پکښې حصر را پيدا کړو. ليکن ظاهراً دا خبره صحيح ده څکه يو خو داده چې حذف پکښې رانغلو بل دا چې دا مبتدا داسي ده چې خبر نه غواړي که اعتراض کوی چې دا خو هغه مبتدا قسم ثاني نده نو مونږه جواب کوو چې په اعتبار دمعنی سره خبر نه غواړي، او په اعتبار دلفظ سره يې غواړي او په اعتبار دمعنی سره څکه خبر نه غواړي چې دا مبتدا بمعنی الفعل ده.

وثالثهما کل مبتدا: دي سره قاعده دپاره دمثال ذکر کوی، قاعده داده چې هر هغه مبتدا چې مشتمل وی خبر ددي په معنی دمقارنت سره او عطف شوي وي په خبر يو شی په واو بمعنی مع سره لکه کل رجل وضيعة **ای کل رجل مقرون وضيعته**: دي سره تطبيق دمثال دممثل سره ذکر کوی ددغه شان خبر حذف واجب دي دوجې دقرينې او دسد مسد نه قرينه دلته واو دي او سد مسد هغه معطوف دي پدي مثال دبهر نه يو اعتراض هغه دا چې وضيعته کښې ضمير چاته راجع دي کل مضاف ته او که رجل مضاف اليه ته او دا دواړه نه صحيح کيږي اول ته که راجع شي نو معنی به داشي چې هر سړي دا دهر سړي دځمکی سره مقرون دي او حالانکه دا معنی غلطه ده او که رجل ته راجع شی نو معنی به داشي چې ټول سړي په ديو سړي دځمکی سره وی او دا هم صحيح نده؟

جواب: دا راجع دي کل ته او کل رجل دا هم جمع ده او ضمير هم دوي ته راجع دي او جمع چې په مقابله دجمع کښې راشی نو مراد انقسام علی الاحاد وی نو معنی دا شوه چې هر سړی به دخپل سامان سره وی لکه رکبُوادوابَهُمْ

حذف د خبر بيان

ورابعها: دي سره قاعده کليه للمثال ذکر کوی چې مبتدا مقسم به وی او خبر

پکښې قسم واقع وی نو حذف دخبر پکښې واجب دي. **ای لعمرک:** دي سره تطبیق دمثال دممثل سره کوی، دویم بیان دنکتي کوی والعمر والعمر بمعنی واحد مقسم به مفتوح وائی یعنی عین کلمه ځکه فتحه خفیفه ده او یمین تقاضا دتخفیف کوی

خبران و اختواتها بیان

خبر ان واخواتها ای من المرفوعات: اول اعراب بیانول، دویم دفع داعتراض، دریم بیان داخوات، څلورم بیان داختلاف . ای من المرفوعات کښې اشاره ده دیته چې خبرد ان واخواتها مبتدا ده او من المرفوعات دا خبر مقدم دي، **ای اشباهها:** سره دویم غرض دفع اعتراض هغه دا چې اخوات خو ذوي الروح لره راځی ،؟ **جواب:** مراد داخوات نه اشباه دي.

وهو مرفوع بهذا الحروف: دي سره بیان داختلاف کوی، مثال ان زیداً قایمٌ دلته دوه مذهبه دي، اول مذهب بصریانو دي، دویم مذهب دکوفیانو دي. بصریان وائی چې ان په اسم او خبر دواړو کښې عمل کوی، د ان عمل خو په اسم کښې بالاتفاق دي خبر کښې دبصریانو په نزد عامل ان دي، ځکه دا ورلره خبر دي او دکوفیانو په نزد دا مرفوع دي دوجې دخبریت نه خو راجح قول دبصریانو دي، ځکه خبر خو هغه وخت خبر وی چې مجرد عن العوامل وی او دلته خو پرې ان عامل راغلی دي، دویم که مرفوع بنابر خبریت شي نو عامل به پکښې معنوی شي ، او ان عامل لفظي دي او عامل لفظي قوي وي کوفیانو وائی چې اِنَّ ضعیف العمل دي په نزدي کښې عمل کولی شي نه په لري کښې نو په زیداً کښې ئې عمل کړي نه په قایمٌ کښې چې دا لري دي دکوفیانو جواب: ان قوي العمل دي ځکه دا حروف مشابه دي دفعل سره لفظاً هم او معنی هم لفظاً مشابهت ئې په ثلاثیت او رباعیت کښې او معناً دا چې دا حروف په معنی دفعل سره دي لکه ان په.

د فعل لپاره دوه عمله دی

معنی دحقیقت دفعل دپاره دوه عمله دي، اول عمل اصلي چې تقدیم دمرفوع دي په منصوب ، دریم بل عمل فرعي چې تقدیم دمنصوب په مرفوع باندي د اول مثال لکه ضرب زیدٌ عمرواً او د دویم مثال لکه ضرب عمروا زیداً حروف مشبه بالفعل ته

موعمل فرعي دفعل ورکړو چې تقديم دمنصوب دي په مرفوع باندي

تعریف د خبران

هو خبر ان واخواتها المسندالی شئی اخر: اول تعریف دخبر دان ذکر کوی په سند کښې دواړه احتماله شته چې ددي اسناد دي بل شی ته شوي وي اويا ديته دبل شی اسناد شوي وي. نو شارح وويل چې الی شئٍ آخر چې دده اسناد به شوي وي بل شی ته **بعد دخول احد هذه الحروف عليها**: شارح قيد د احد راويستلو غرض په دي سره دفع داعتراض ده هغه دا چې ته ما ته يو مثال هم داسي نشی ښودلی چې هغه خبر به مرفوع وی پس ددخول ددي ټولو حروفو نه، ؟ **جواب**: چې يو ددي حروفو نه پري شی نو دا خبر به وروسته مرفوع وی. اول غرض فوائد دقيوداتو. دويم دفع اعتراض، دريم رد په بعضو خلقو **والمراد بدخول هذه الحروف**: سره دفع داعتراض هغه دا چې زه به درته اوښايم چې مسند به وي بعد دخول هذه الحروف به وی او خبر د ان نه به نه وی لکه ان زيدا يقوم ابوه ږ ستا په ترکيب کښې پکار ده چې يقوم ته دي خبر وويل شی وخلق ټولی جملې يقوم ابوه ته خبر وائی ؟ **جواب**: مراد د دخول ددي حروفو نه اثر پيدا کول دي او انّ يواځی په دي يقوم کښې اثرنه دي کړي بلکه په دي ټوله جمله کښې يی اثر کړي دي ، نو دغه جمله ځکه خبر لپاره د انّ دي،

لفظاً ومعنیً: لفظاً اثر دا چې يو مرفوع او بل منصوب ګرځوی او معنی اثر دادي چې ثبوت دمسند دپاره دمسند اليه علي سبيل التحقيق ګرځوی ، **فلا يحتاج الی ان يجاب عنه**: دي سره رد کوی په بعض خلقو ددي اعتراض نه جواب کړي دي، چې المسنداسنا به شوي وي اسم د ان ته او دلته خو ديقوم اسناد ابوه ته شوي دي، نو ځکه يقوم ته شوي دي، نو ځکه يقوم ته خبر دان وائی . دا قوي جواب دي ليکن شارح پري رد کوی ځکه دا قيد به بيا مستدرك شی چې بعد دخول هذه الحروف ځکه چې خبرد انّ به مسند وی اسم د ان ته چې ان پري داخل شوي وي که نه نو بعد دخول هذه الحروف ته څه ضرورت نشته دي، ددينه دبهر نه جواب چې دا بعد دخول هذه الحروف قيد لپاره دتصريح بما علم التزاماً ځکه خبر د انّ اسناد شوي وي اسم د ان ته ددينه ضمناً دخول د ان معلوميږي . ليکن ماتن پري تصريح وکړه او دي تصريح ته ځوك

مستدرك نه وايي

ولا الى ان يجاب بان المراد: دي سره رد كوي په نورو خلقو باندي، هغوى ددي اعتراض جواب داسي كوي چې مراد دمسند نه اسم مسند دي او يقوم خو فعل دي، دا جواب صحيح نه دي، داسم سره ګرځوي، او دا خو تكلف بعيده دي. **مثل ان زيداً قائمٌ فانه:** دي سره تطبيق دمثال دممثل سره كوي. **وامره كامر خبر المبتدا اى حكمه:** اول دفع اعتراض، دويم بيان دنظائرو، دريم دفع اعتراض، **اعتراض:** ته وائې چې امر دخبر دان الخ... دامر نسبت خو آمر ته كيږي چې امر دفلان او خبر امر نه دي چې مونږ ورته نسبت دامر اوكړو، ؟ **جواب:** مراد دامر نه حكم دي. **والمراد ان امره كامره بعد انّ:** دفع داعتراض ده، هغه دا چې زه به درته اوښايم چې يو شي به خبر دمبتدا جوړيږي او خبر انّ به نه وي او اسناد خبري نه دا معلوميږي چې كوم شي خبر دمبتدا جوړيږي هغه به خبر د انّ هم جوړيږي لكه اين زيدٌ ؟ **جواب:** خبر دمبتدا دا خبر د انّ جوړيږي خو عند انتفاء موانعه او په مذكوره مثال كښې مانع شته چې صدارت داين فوت كيږي ځكه دا خو حرف استفهام دي.

الا فى تقديمه اى ليس: اول معنى دمتن، دويم دليل، اوله خبره معنى دمتن داده چې خبر د انّ پشان دخبر دمبتدا دي مګر په تقديم كښې په اسم د انّ باندي ځكه چې تقديم داسم دخبر په اسم د انّ باندي نه دي جائز. **وذالك لان:** دي سره دليل ذكر كوي دپاره دعدم تقديم دخبر د انّ **الا ان يكون ظرفاً:** اول غرض دفع داعتراض ده، دويم بيان دقسمين دي، دريم غرض دليل دمتن. **اى ليس امره:** اعتراض: دلته يوه مستثنى هغه ده چې امره كامرخبر المبتدا او دويمه الافى تقديمه استثناء راغلى دويمه استثناء الاان يكون ظرفا، او ديوي مستثنى منه دوه استثناء ګانى نه راځي ،؟ **جواب:** دا دووهمه استثناء د استثناء ده دمابقى من الاستثناء الاول چې وحكمه هذا فى جميع الاحوال الاان يكون ظرفاً.

د انّ اقسام

اذا كان الاسم معرفة: سره دويم غرض بيان دقسمين: اول قسم اسم د انّ چې كله معرفه وي او خبر ظرف وي، نو تقديم دخبر جائز دي لكه: انّ الينا ايابهم: دويم

او چې کله اسم د انّ په دغه صورت کښې چې ظرف خبر واقع شوي نو تقدیم دخبر واجب دي لکه : انّ من الشعر لحکمة : **وذالك لتوسعهم:** سره دریم غرض بیان د دلیل، چې تقدیم دخبر جائز اویا واجب دي چې کله ظرف وی ځکه ظروف کا الاقارب دي یعنی هیڅ یو فعل دظرف نه ، نه خالي کیږي **خبر لا التی لنفی الجنس:** دي ځاي نه شپږم مرفوع ذکر کوی خبر لا اَلّتِیْ دا مبتده ده او شارح ورته الکائنة خبر معرفه راوړو او عام طورّ سره داسي ځاي کښې تقدیر دنکري کیږي . ځکه چې ده رعایت د معنی کړي، چې لا دا علم دي دلانفی جنس دپاره نو مبتدا هم معرفه شوه :

ای لنفی صفته: دفع داعتراض ده : هغه دا چې ته وائی چې لا دپاره دنفی جنس راځی ، په دي مثال کښې چې لا رجل قائم دلته خو نفی دصفت راغلی چې قیام به وي نه نفی دجنس، ؟ **جواب:** عبارت دلته په حذف د مضاف سره دي چې لنفی صفة الجنس **هو المسند الی شئی اخر:** اول رفع داشتباه ، دویم فائده : اول غرض : هلکه ! اسناد به دده شوي وي او که ده ته به دبل شی شوي وي؟ **جواب:** اسناد به ددهٔ شوي وي بل شی ته، **هذا شامل:** دي سره دویم غرض فائده ذکر کوی،

ای بعد دخول لا : اول مرجع دضمیر د (ها) ذکر کوی چې بعد دخول لا ، **والمراد بدخولها:** سره دریم غرض دفع داعتراض: هغه دا چې زه به درته اوښایم دخول دلا به پري راغلی وي اومسند به هم وی او څوك به ورته خبر د (لا) نه وائی لکه لا رجل یضرب ابوه کښې یضرب ته ځانته څوك خبر نه وائی بلکه ټولی جملی ته وائی .؟ **جواب:** مراد د دخول نه ایراث داثر دي او اثر (لا) دلته په یضرب ابوه ټوله جملهٔ کښې کړي ،

نحو لا غلام رجل ظریف.. وانما عدل: سره دفع داعتراض هغه دا چې تا ولی دمشهور مثال نه چې لا رجل فمنها نه عدول وکړو؟ **جواب:** په مثال مشهور کښې احتمال دي ددي خبري چې خبر حذف دي او فی الدار صفت شی دپاره دخبر نو د امثال حسن دي او زما مثال احسن دي نو مثالونه په څلور قسمه دي، اول چې نص وی په مقصود کښې او احتمال دغیر نه لري دا احسن مثال دي، دویم چې نص وی په غیر مقصود کښې او احتمال دمقصود لري او دیته قبیح وائی، دریم چې نص وي په غیر مقصود کښې او احتمال دمقصود لري او دیته اقبح وائی او دماتن مثال دا احتمال

دغير نه لري ځکه لاغلام رجل دا معرب دي منصوب دي جائز ندي چې ددي صفت مرفوع راشي، بلکه منصوب پکار وو او ظريفٌ مرفوع دي **فيها اي في الدار**: اول ارجاع دضمير کوی چې ضمير راجع دي في الدار ته، دويم اعراب ذکر کوی دريم دفع داعتراض.

خبر بعد خبر: دريم غرض دافيها خبر بعد الخبر دي او ظرف هم نه دي دظرفيت دپاره او حال هم نه دي دضمير دظرفی نه، ظرف ځکه ندي چې بيا به ظرافت مقيد اوګرځی مکان دون مکان نه او ظرافت خو چې وي بيا په هر ځاي کښی وی او حال هم ندي، ځکه حال دا قيد وی دپاره دعامل د ذوالحال نو ظرافت به مقيد شي بحال دون حال او دا هم صحيح ندي. **وانما اتی به**: سره دريم غرض دفع داعتراض هغه دا چې ملا صاحب بناء دمتونو په اختصار سره وی يو خبر چې ظريف دي کافی وو بل خبر چې فيها دي ديته څه ضرورت دي ؟ **جواب**: دپاره ددي چې کذب لازم نشی ځکه بيا معنی دا کيد له چې نشته هيڅ يو کس غلام ظريف، او بل دپاره ددي چې خبر د لا ظرف هم راځی او غير ظرف هم راځی ،

ويحذف خبر لا حذفاً کثيراً: خبر لا سره ئی اشاره و کړه چې يحذف کښی دضمير مرجع دغه ده او حذفاً کثيراً سره ئی اشاره و کړه ، اعراب دکثيراً ته چې دا مفعول مطلق دي په اعتبار دموصوف محذوفه سره ، **اذا کان الخبر**: سره بيان دقيد کوی چې فحذف دخبر د لا به په وخت دکيدلو دخبر کښی دافعال عامه ؤ څخه وی **لدلالة النفی**: دي سره دليل ذکر کوی چې حذف دخبر باندي قرينه او دال هغه منفی ده، ځکه نفی دلالت کوی په منفی باندي، لکه لااله الاالله کښی لااله موجود ، موجود خبر دي حذف دي دا مذهب دجمهورو دي، جار الله زمخشري وائی چې دلته خبر نشته اصل کښی اللهُ الهٌ وو بيا دپاره دحصر ادوات دحصر را پيدا شو ،

وبنوتميم لا يثبتونه: بنو تميم وائی چې د لا دپاره خبر نه وی دلا يثبتون دوه معنی دي، يو دا چې دوي لفظاً خبر نه منی بلکه واجب الحذف دي، او دويمه معنی ئی دا چې لا دپاره نه خبر لفظاً شته او نه معناً ، دوي وائی چې لا په معنی دفعل سره ده ځکه خبر نه غواړي لکه لااهل ولامال دا په معنی د انتفی المال والاهل **وعلی**

التقديرين: دي سره دويم غرض دفع داعتراض . هغه دا چی کوم ځای کښې چی خبر راشی دلا دپاره نو بیا بنو تمیم تاسو څه وائی دیته؟ **جواب**: په دي صورت کښی به خبر حمل کولی شی په صفت سره.

بيان د اسم ما ولامشبهتين

اسم ما ولا المشبهتين: **فی معنیٰ النفی والدخول الخ**.. اول ما به المشابهة بیانوی. چی لیس دنفی دپاره راځی . اودخول ئی په مبتدا او خبر راځی ، دغه رنګه ما ولاهم دي هذا شامل ، سره فائده ذکر کوی. **وانما اتی بالنكرة**: اول دفع داعتراض، دويم مابه الاختلاف ، دریم ما هوالراجح اول غرض دفع داعتراض هغه دا چی د (ما) نه وروسته دي معرفه راوړه د (لا) نه وروسته دي نکره راوړه دا ولی . ؟ **جواب**: دي کښی اشاره دد دیته چی د (ما) نه وروسته معرفه او نکره دواړه راځی او د (لا) په اسم کښی صرف نکره راځی ، بیا پري اعتراض واردیږي چی دما نه وروسته معرفه او نکره راځی نو بیا به دي دواړه راوړي وی ، او یا به دصرف نکره راوړي وی؟ **جواب**: معرفه ئی ځکه راوړا دوجی داصالت نه.

اختلاف د حجاز ینو او بنی تمیمو

وهذا لغة اهل الحجاز: دي سره بیان داختلاف ذکر کوی دا مذهب مذکوره داهل حجازو دي. او بنو تمیم وائی چی ما ولا عمل نه کوی اوددوي دپاره یودلیل دادي چی دعامل دپاره شرط دادي چی دا به خاص وی دیوي نوعی پوري او ماولا په اسم اوخبر دواړو باندي داخلیږي او دويم دليل هغه شعر دي چی ومهفهف الخ..

وعلى لغة اهل الحجاز: دي سره بیان د ما هو الراجح کوی چی مذهب داهل حجاز غوره دي ځکه چی قرآن کریم کښی ئی عمل کړي چی (ما هذا بشراً) او دهغوی اول نه جواب دادي چی دا درته چا ویلی چی دا خاص دي په یوي نوعی پوري او د دويم دليل نه جواب دادي چی دا مصادره علی المطلوب ده **قليل**: اول دفع د اعتراض دويم دليل ، دریم دفع اعتراض . اول خبره : دفع اعتراض ، ته وائی چی عمل دلاپشان دلیس نه دي او شاذ دي ستا دشاذ نه که مخالف القانون مراد وی نو لا بیا ولی نحاة راوړي ؟ **جواب**: مراد دشاذ نه قلیل دي نو ځکه ئی نحاة راوړي. **لان ليس**: دي سره

دليل ذكر كوى، اعلم ان المراد : سره دفع اعتراض كوى او ددي دوه طريقي دي اوله طريقه ستا دمسند اومسند اليه نه چي كوم دي ذكر كړل عام مراد دي چي بالاصالة وى او كه بالتبعية وى نو وروسته تابع دي ولي ذكر كول . دويمه طريقه داده چي مرفوع به وي او مسند او مسند اليه به نه وى بلكه تابع به وى ؟ جواب: مراد دمسند او مسند اليه نه باالاصالة دي نو دتوابع ذكر كولو ته ضرورت پيدا شو او مراد مسند او مسنداليه نه بالاصالة دي او توابع خو منصوب واقع كيږي يا مجرور خو مسند اليه نه وى بالاصالة

د منصوباتو بيان

ولما فرغ من المرفوعات: اول تذكير دماسبق كوى، **شرع فى المنصوبات**: دويم توطيه او تمهيد دپاره د متن آتى . **وقدمها على المجرورات**: دريم غرض دفع داعتراض هغه دا چي منصوبات ئى ولي مقدم كړل په مجروراتو ؟ **جواب**: دوجي دكثرت نه او دوجي دصفت دنصب نه، **اعتراض**: كثرت خو تقاضا دتاخير كوى اوقلت تقاضا دتقديم كوى، پكار ده چي منصوبات ئى وروسته كړي وى، ؟ **جواب**: نكات بعد الوقوع دي

اعرابات خمسه په المنصوبات كښې

المنصوبات: په دي كښې پنځه تركيبه دي په المرفوعات كښى تير شوي دي، **قدتبين شرحه**: اول دفع اعتراض ، دويم تعين دعلم ، دريم تعين ديا تا ، څلورم تعميم ، پنځم تعين د علامو، شپږم غرض بيان دمثالونو ، اول غرض دفع اعتراض هغه دا چي تا په منصوبات تشريح او نه كړه، چي دا جمع دچا ده، ؟ **جواب**: ذدي شرحه په مرفوعات كښى تيره شوي ده. **والمراد**: علم خو جبل او نوم ته او علامي ته وائى ستا كومه يوه معني مراد ده ؟ **جواب**: مراد په علم دمفعوليت سره علامه ده.

كون الاسم مفعولاً: سره دريم غرض تعين د (يا او تا) كوى چي يا تا دلته مصدري دي او يا تا مصدري ديته وائى چي ګرځوى خپل ملحق به لره خبر دپاره د كان محذوفه سره دااسم محذوفه نه. **حقيقة او حكماً**: سره څلورم غرض تعميم دمنصوباتو ذكر كوى : **وهى اربع**: سره پنځم غرض تعين دعلامو كوى چي فتحه او كسره او الف او ياء علامي دنصب دي، فتحه په مفرداتو كښى او كسره په جمع مونث سالمه كښى او الف په اسماء سته مكبره كښى او (يا) په تثنيه او جمع كښى **اعتراض من الخارج**: ته

وائی چی فتحه علامه دنصب ده. زه به درته اوښایم چی فتحه به وي او علامه دنصب به نه وی لکه مررت باحمد ، او هم دا رنګه زه به درته اوښایم چی یا به وي او علامه دنصب به نه وی، لکه مررت بمسلمین؟ **جواب:** دا فتحه او یا به علامه دنصب وي خو چی قائم مقام دغیر نه وی او دلته خو قائم مقام دغیر دي چی خبر دي، **نحورایت زیداً ومسلمات وایاك:** دي سره شپږم غرض ذکر کوی چی مثالونه دي

فمنه ای من المنصوبات او الخ.. اول بیان داحتمالینو کوی دغه کښی ضمیر یا راجع دي منصوب ته خو په دي کښی یو حسن دي او یوه قبحه حسن پکښی دادي چی مقصود ته راجع دي او قبحه پکښی داده چی غیر مذکور ته راجع دي او یا ضمیر ما اشتمل الخ ... ته راجع دي په دي کښی هم یو حسن دي او یوه قبحه ده، حسن پکښی دادي چی مذکور ته راجع دي او قبحه پکښی داده چی غیر مقصود ته راجع دي **سمی به لصحة:** دي سره وجه تسمیه دمفعول مطلق ذکر کوی. اعتراض من الخارج په مفعول مطلق چی دا هم مقید دي ځکه المفعول موصوف او المطلق صفت او صفت دا قید وی دپاره د موصوف ؟ **جواب:** مراد قید نه عام قید نه دي مراد بلکه خاص قید مراد دي چی هغه (له ، به ، معه، فیه،) دي .

والمراد بفعل الفاعل: اول دفع داعتراض ، دویم فائده دزیادت دقید داسم، دریم فائده دټول عبارت تمهید ، یو فاعل لغوی نحوی دیته وائی ، چی اسناد ئی دفعل ورته کیږي، اوس اعتراض او کړه چی متبادر دفاعل نه فاعل لغوی دي نو معنی داشوه چی فاعل به اثر کړي وی په فعل کښی نو مات زیدٌ موتا کښی دي، موتاً مفعول مطلق نشی ځکه زید خومات کښی اثر ندي کړي ؟ **جواب:** مراد دفاعل نه فاعل نحوی دي نفیاً او اثباتاً سره دفع دیو اعتراض ده، هلکه ! مفعول مطلق هغه ته وائی چی اسناد دفعل پکښی فاعل ته شوي وي نو ماضرب زیدٌ ضرباً کښی دي ضرباً مفعول مطلق نشی ځکه دلته خو دزید نه نفی دفعل راغلی؟ **جواب:** مراد د نسبت نه نفیاً او اثباتاً دواړه نسبت دي

وانما زیدٌ لفظ الاسم: سره دویم غرض ذکر کوی چی هلکه ! اسم قید دی ولی راوړو. ؟ **جواب:** اصل ما فعله الفاعل خو یوه معنی ده یو غرض دي په هغه چی کوم

شی دلالت کوی هغه دغه اسم دي **ويدخل فيه المصادر كلها**: سره فائده ددي تول عبارت ذکر کوی **مذكور صفة للفعل**: اول دفع د توهم دويم دفع د اعتراض ، دريم فائده ددي قيد ، اول غرض متوهم به دا توهم کولو چی مذکور به صفت دفاعل وی نو دا ترکيب چی ضرب ضرباً کښی چی فاعل نشته ضرباً ته دي مفعول مطلق او نه وويل شی. ؟ **جواب**: دا صفة دفعل دپاره دي چی دا فعل به مذکور وی **وهواعم**: دي سره دويم غرض دفع داعتراض هغه دا چی ته وائی چی مذکور صفت دفعل دي نو زه به درته اوښايم چی مفعول مطلق به وي او فعل به نه وی لکه فضرب الرقاب ، ؟ **جواب**: فعل عام دي حقيقتاً وی او که حکماً او دلته مقدر دي چی فاضربوا ضرب الرقاب ،

وخرج به المصادر: دي سره دريم غرض فائده ددي قيد فرق بين مفعول المطلق والمفعول به مفعول مطلق متعدي او لازمی دواړو نه راتلی شی او مفعول به صرف متعدي نه دويم فرق مفعول مطلق مفعول لغوی راتلی شی او مفعول به لغوی چی معنی ئی ده : کرده شده: نه شی راتلی **بمعناه صفة ثانية للفعل**: اول اعراب دمتن ، دويم دفع اعتراض، دريم دفع اعتراض، او رد په شارح رضی باندي، اول اعراب دمتن خو دادي چی بمعناه صفة ثانيه للفعل .

وليس المراد: سره دويم غرض دفع داعتراض اول تمهيد متبادر داده چی بمعناه به صفة ثانيه للفعل وی په اعتبار د کائنٌ سره او متبادر به دکينونت نه کينونت دلازم او دملزوم وی او يا به متبادر د کينونت نه يو نوعه تعلق وی نو اوس اعتراض : تعريف دي مانع نشو دخول دغير لره داخل شو پکښی مفعول له، لکه ضربته تاديباً ، ځکه تاديباً دا ما فعله فاعل فعل مذکوره هم دي او دضرب سره لازم هم دي او يا يو نوعه تعلق هم شته چی ضرب دپاره دتاديب وی نو ؟ **جواب**: دلته معنی داده چی دافعل به مشتمل وی په مفعول مطلق دقبيلی داشتمال دکل نه په جزء باندي.

وكذالك خرج به: سره دريم غرض دفع داعتراض او رد په شارح رضی، شارح رضی په ماتن اعتراض کړي چی تعريف دي مانع نشو دخول دغير نه داخل شو پکښی مفعول به په دي ترکيب کښی چی کرهت کراهتی ما فعله فاعل فعل مذکور هم دي او فعل مشتمل دي په دي باندي دقبيلی داشتمال دکل نه په جزء باندي ؟ **جواب**: د

کراهتی دوه اعتباره دي یو اعتبار دادي چی دا قائم شی په فاعل دفعل مذکور پوري او فعل مشتق اوګرځی دده نه نو په دي صورت کښی فعل مشتمل دي په ده باندي نو مفعول مطلق اوګرځيدو، اصل کښی داسی وو کرهت کراهتی، او بل دا اعتبار دي چی دا فعل واقع شی په ده باندي یعنی کرهت کراهتی نو په دي صورت کښی مفعول به دي مفعول مطلق نه دي. ځکه فعل واقع دي په ده باندي فعل مشتمل نه دي په ده باندي، نو تعریف جامع مانع اوګرځيدو

د مفعول مطلق بيان

وقد يكون للتاكيد اى المفعول المطلق: دي سره تعین دضمیر کوی. **ان لم يكن فى مفهومه:** دي سره تاکید ذکر کوی خو په دي اعتراض واردیږي، چی فائده بیا دتاکید څه شوه ؟ **جواب:** فائده دفع دسهو او دفع دمجاز ده چی خلکو به دا وویل چی دا سهوا شوي او یا په دي سره ئی بل څه شی مراد دي. **فالاول اى الذى لا نه:** لاته سره دلیل ذکر کوی چی تاکید تثنیه او جمع ځکه نه راځی چی تاکید دا دلالت کوی په ماهیت چی معري وی دتعدد نه او تثنیه او جمع خومستلزم للتعدد دي.

الا اذا قصد به النوع والعدد: دي باندي اعتراض واردیږي چی کله قصد دنوع او دعدد تري اوشی نو بیا خو دتاکید دپاره نشو نو تثنیه کیدل او جمع کیدل خو ئی صحیح شو ؟ **جواب:** دا استثناء دلا يثنى ولا يجمع نه، نه ده بلکه دا استثناء ده د جلست جلوس نه چی جلست جلوسین یا جلوسات وویل شی چی کله قصد دنوع او دعدد او کړي **اللذين هما للنوع والعدد:** دي سره بیان داخوین کوي.

دمغايرت اقسام

اي مغاير اللفظ يو غرض دفع داعتراض، دویم بیان دقسمین دریم بیان دمثالونو. څلورم بیان داختلاف. اول غرض دفع داعتراض هغه ده چی غیر په معنی د دون سره راځی نو معنی به دا وی چی مفعول مطلق دا کله بي د لفظ او ذکر دفعل نه وی نو دوه نقصانه پکښی راغلل یو دا چی مثال دي مخالف شو ځکه په مثال کښی دي فعل ذکر دي او بل نقصان دادي چی وروسته ته وائی چی دقد يحذف الفعل نو دا تحصیل دحاصل دي؟ **جواب:** غير په معنی دمغاير سره دي چی فعل کله کله مغاير

دلفظ دمفعول مطلق نه راځي

اما بحسب المادة: سره دويم غرض قسمين دمغايرت ذكر كوي چې دا تغاير به يا بحيث الماده وي لكه قعدت جلوسا او يا به په حسب د باب سره وي لكه انبته الله نباتاً او دي سره دريم غرض بيان د امثله ؤ هم اوشو. وسيبويه: سره ځلورم غرض بيان داختلاف ذكر كوي چې سيبويه وائي چې داسي تركيب كښې به عامل يا فعل دمحذف راوباسي لكه قعدت وجلست جلوسا. خودا مذهب ضعيف دي ځكه كلام دعربو نه مخالف دي. **الناصب**: سره غرض دفع داعتراض ذكر كوي هغه دا چې زمونږ بحث په مفعول مطلق كښې شروع وو او ته فعل ته لاړې؟ **جواب**: مراد دفعل نه ناصب للمفعول المطلق دي

ومصدريته باعتبار الموصوف الخ... دي سره غرض دفع داعتراض ده هغه دا چې خير اسم تفضيل دي. د ده راوړل په مفعول مطلق سره صحيح نه دي ځكه خير ذات مع الوصف دي او مفعول مطلق خو صرف وصف وي؟ **جواب**: دا يا مصدر دي په اعتبار دموصوف محذوف سره چې قدوماً خير مقدم دي او يا مصدر دي په اعتبار دمضاف اليه سره چې مقدم دي او حكم د اسم تفضيل هغه دمضاف اليه وي. نو مضاف اليه دلته مقدم مصدر دي نو خير هم حكماً مصدر شو.

اى سماعياً: دي سره غرض دفع اعتراض هغه دا چې سماعاً دا عطف دي په جوازاً نودا هم ديحذف الفعل لاندي راغلو نو دسماعاً چې صرف وصف دي حمل په يحذف الفعل چې ذات مع الوصف دي نه صحيح كيږي؟ **جواب**: سماعاً په معنى دسماعياً سره اى منصوب الى السماع نو اوس ذات مع الوصف شو نو حمل ئې صحيح شو په يحذف الفعل باندي. **لاقاعدة له**: دي سره معنى دسماع ذكر كوي او غرض پكښې دفع اعتراض هغه دا چې دقياسا سمع خو هم شوي؟ **جواب**: مراد دسماع نه داده چې قاعده ورلره نه وي او قياسي لره خو وي.

اى خاب خيبة: سره يو غرض وشو چې توضيح بالمثال ده او دويم غرض دبهر نه اعتراضين. اول اعتراض: تاويل چې خيبة دا دخاب نه دي نو معنى دا شوه چې دامشتق دي دخاب نه نو دامذهب خو كوفيانو دي چې مصدر دا مشتق دي دفعل نه؟

جواب: دلته دا ذکر کوی چي خيبة دا مفعول مطلق دي دخاب نه ، مشتق دخاب نه ندي دويم اعتراض : داد ي چي ته وائی دخيبة فعل به حذف وی دلته خو ذکر دي؟
جواب: دلته فعل دخيبة نه ذکر کوی بلکه مقصد دلته دادي چي عرب خيبة وائی اذا لم يفعل ماطلب فانه لم يوجد . دي سره معنی دحذف وجوبی سماعی ذکر کوی

قيل: سره اعتراض ذکر کوی هغه دا چی ته وائی چی حمداً او شکراً او عجباً د دوي دفعل حذف دي سماعاً : **فاجاب:** سره جواب کوی چی دا کلام دفصحاؤ نه . نه دي بلکه د مستحدثينو قول دي . وبعضهم سره دريم جواب کوی هغه دا چی ددغه افعالو حذف واجب دي خو چی سره دلام نه مستعمل وی او دا سره دلام نه مستعمل نه دی .خو په دي اعتراض وارديږي چی ماتن رحمه الله ته هم پکار دی چی لام ئی راوړي وی . نودي نه جواب دادي چی لام يي ندي راوړي دپاره داختصار

حذفاً قياسياً: دي باندي هغه اعتراض دي کوم چی سماعيا سره دفع شوي وو.
يعلم له ضابط کلی: دي سره معنی دقياسي ذکر کوی . موضع ما: دي سره غرض دفع اعتراض هغه دا چی ما ته عبارت دموضع نه اخلی او که دمفعول مطلق نه که دمفعول نه عبارت وی نو حمل ئی په منها باندي نه صحيح کيږي . ځکه منها کښی ضمير راجع دي موضع ته او ما به عبارت شی دمفعول مطلق نه او که ما عبارت شی دموضع نه نو حمل خو ئی په منها صحيح کيږي خو په معنی کښی فساد راځی او هغه داسي چی بعض دمواضعو نه هغه موضع دي چی واقع شی مثبت او حالانکه مثبت خو مفعول مطلق واقع کيږي ؟ **جواب:** ما عبارت دي دمفعول مطلق نه خو په اعتبار دموصوف محذوفه سره چی موضع دي نو حمل ئی په منها باندي صحيح شو.

اريد اثباته : دي عبارت سره شارح دفع داعتراض کوی او هغه دا چی ته وائی مفعول مطلق به واقع وی مثبت بعد نفی نو پس دنفی نه خو منفی وی نه اثبات؟ **جواب:** اثبات به په دغه نفی سره اراده کړي شوي وي. **فانه لواريد:** دي سره فائده دقيد دمثبتاً ذکر کوی **ای عن ذالک الاسم:** دي سره مرجع دضمير دعنه کوی، **وانما وصف الاسم:** دي سره فائده دقيد دلا يکون خبراً عنه کوی **وانما قال علی اسم:** دي سره فائده دقيد دلا يکون خبراً عنه کوی، او وقع مکرراً : دي سره دويم موضع او اول موضع سره جدا دي

ای فی موضع الخبر : دي سره غرض دفع داعتراض ده او هغه دا چې زه به درته اوښايم چې **مفعول** مطلق به مکرر وی او حذف دناصب به نې نه وی راغلی لکه ﴿اذا دکت الارض دکا دکا﴾ ؟ **جواب:** زمونږ مراد هغه مفعول مطلق دي چې پس داسم نه وی په ځائی دخبر واقع وی خو خبر دغه اسم نه واقع کيږي . اودلته دکت فعل دي او الارض نائب فعل دي، اسم نشته چې هغه خبر وغواړي .

وانما جمع: سره دفع داعتراض ده او هغه دا چې دا دواړه قاعدي چې جداوی نو په يوه منها کښې دي ولې راوړي؟ **جواب:** دا دواړه قاعدي په يو شرط کښې سره شريك دي چې دا مفعول مطلق به پس دداسي اسم نه واقع وی چې دا به خبر دهغې نه ، نه وی واقع نو ځکه مې په يوه منها کښې راوړل **نحو ما انت الا سيراً:** الاسيرا دا مفعول مطلق دي واقع دي په ځای دخبر خو خبر نه صحيح کيږي ځکه حمل دوصف به راشی په ذات مع الوصف . دويمه خبره داده چې تقدير دفعل به پس د الانه کوو، ولې که مخکښې د الانه مو وکړي نو استثناء به راشي دخپل نفس نه وهذا ايضاً لا يجوز : فان قيل مستثنیٰ خو اسم وی دلته خو فعل دي ؟ **جواب:** اصل کښې عبارت داسي دي ما انت الاشخص تيسر تيسرا .

وانما اورد مثالين: دي سره دفع داعتراض کوی هغه دا چې دوه مثاله ماتن ولی راوړل ؟ **جواب:** په دريو طريقو سره دي اول دا چې دي کښې اشاره وه ديته چې هغه، مفعول مطلق چې واقع دي په موضع دخبر نو دامعرفه او نکره دواړه راتللی شی خو اول دنکري مثال دي او دويم دمعرفی مثال دي ،دويمه طريقه دجواب داده چې دغه مفعول دمبتدا دا په معنی دفعل دمبتدا سره هم راځی لکه ما انت الاتيسر تيسرا نو سيرا دا معنی دتسيرا ده، اويا دا مفعول مطلق مشابه دفعل دمبتدا سره راځی لکه ما انت تيسرا لاسيرالبريد دي مثال کښې فعل مخکښي د الانه هم راوړي شی، ځکه استثناء دخپل نفس نه نه راځی ځکه مخکښې تيسر عام دي او سير البريد کښې خاص سير مراد دي. او دريمه طريقه دجواب داده چې په راوړلو د دواړو مثالونو کښې اشاره ده ديته چې داسي مفعول مطلق مفرد او مضاف دواړه راتللی شی .

وانما انت الاسيرا: دامثال دهغه مفعول مطلق دي چې پس دمعنی دنفی نه واقع

وی چی انما دي. **وزيد سيرا سيرا**: دا مثال دهغه مفعول مطلق دي چی مکرر واقع وي.
ای موضع ما: سره غرض دفع داعتراض سابقه ده.

معنی د مضمون د جملی

تفصيلاً لاثر مضمون جملة متقدمة: اول معنی دمضمون دجملی ، دويم معنی داثر. دريم معنی دتفصيل داثر. **والمراد بمضمون الجملة**: مراد په مضمون دجملی سره هغه مصدر دي چی فهم کړي شوي وي، ددغه جملی نه او مضاف وی فاعل يا مفعول ته. **وباثره**: سره دويم غرض چی معنی داثر دمضمون دجملی غرض مطلوب ددي جملی دي

وتفصيل الاثر: سره دريم غرض چی تفصيل د اثر معنی داده چی دا جمله ځومره احتمالات لري **فشدوا الوثاق الخ... فقوله**: سره غرض تطبيق دمثال دممثل سره کوی. **ومنها**: دي سره څلورم موضع ذکر کوی. ای موضع سره زوړ اعتراض دي ، **للتشبيه ای لان يشبه**: دي سره معنی دتشبيه ذکر کوی چی دا مفعول مطلق به مشبه به وی او دبل شی تشبيه به ورسره ورکړل شوي وي. **واحترزبه**: سره فائده دللتشبيه ذکر کوی چی که مفعول مطلق دتشبيه دپاره نه وو، نو حذف دفعل ئی واجب نه دي، لکه لزيد صوتٌ صوتاً حسناً دلته صوت حسن مفعول مطلق دي خو بدل دي دمخکښی جملی نه، علاجاً ای حال کونه، وجه دنصب او معنی دعلاجاً ذکر کوی چی دا مفعول مطلق به دافعال جوارحو نه وی، واحترز به عن نحو: دي سره فائده دقيد دعلاجاً ذکر کوی چی که دا مفعول مطلق دافعال جوارحو نه وو نو حذف دناصب ئی واجب ندي لکه لزيد زهد زهد الصلحاء اوس زهد الصلحاء مفعول مطلق دي خو فعل دي دقلب.

بعد جملة: دا دريم شرط دي چی دا مفعول مطلق به پس دجملي نه واقع وی، واحترز به: سره فائده ددي قيد ذکر کوی چی کله بعد دجملي نه نه وو واقع نو حذف دناصب ئی نه دي واجب لکه صوت زيد صوت حمار خکه صوت زيد خو جمله نه ده. **مشتملة علی اسم بمعناه**: دا څلورم شرط دي چی دا جمله به مشتمل وی په داسي يو اسم چی په معنی ددغه مفعول مطلق سره به وی **واحترزبه**: دي سره فائده ددي قيد ذکر کوی چی که جمله کښی داسي اسم نه وو نو حذف دناصب واجب نه دي لکه مررت به فاذا له ضرب صوت حمار دلته ضرب اسم شته خو په معنی دمفعول مطلق سره نه دي

وعلى صاحبه دي سره پنځم شرط ذكر كوي چي دا جمله به مشتمله وي په صاحب ددغه اسم باندي. واحترز به سره فائده ذكر كوي ددغه قيد چي كه صاحب ددغه اسم په دغه جمله كښي نه وو نو حذف دناصب ئې نه دي واجب لكه مررت بالبلد فاذا به صوت صوت حمار دلته فاذابه كښي ضمير بلد ته راجع دي

نحو مررت به فاذا له صوت صوت حمار: صوت حمار دا مفعول مطلق دي او واقع دي دپاره دتشبيه او د افعال جوارحو نه هم دي او پس دجملې د (له) صوت نه هم دا مشتمل دي په يو اسم چي په معنى دمفعول مطلق سره دي چي صوتاً دي او همدارنګه دي جمله كښي صاحب داسم هم شته چي له دي **ونحو مررت به فاذا له صراخ صراخ الثكلى**: دا دويم مثال دي ماتن رحمه الله دوه مثاله راوړل اول دنكري او دويم دمعرفي مثال دي. **ومنها**: دي ځاي نه څلورم غرض ذكر كوي موضع ما سره زوړ اعتراض او جواب دي لامحتمل لها غيره: دلته دوه تركيبه دي يو دا چي لائي نفى جنس محتمل لها ورلره اسم او غيره ورلره خبر ، او بل دا چي محتمل اسم او لها خبر او غيره بدل عن الخبر شي.

اى اعترفت اعترافاً: توضيح دمثال كوي فاعترافاً: دي سره تطبيق دمثال كوي چي اعترافاً مصدر دي او واقع دي مضمون دجملې چي على الف درهم ځكه ددي جملې معنى هغه اعتراض او اقرار دي او بغير داعتراف نه څه احتمال هم نه لري **اى لنفس المفعول المطلق**: دا به تاكيد دپاره دخپل نفس وي. ځكه دا مفعول مطلق خپل ذات موكد كوي نه دا امر مغاير اګركه دا امر مغاير بالاعتبار وي. بعضو دلته معنى داسي كړي چي مفعول مطلق تاكيد دخپل ذات راولى نه د امر مغاير اګر كه بالاعتبار به مغاير وي. خو دا معنى صحيح نه ده ځكه مخكښي سره ئې تضاد راځي . چي يؤكد نفسه لاامراً مغايراً دي.

ومنها ما وقع: سره پنځم نمبر قاعده ذكر كوي خو بعضو دلته (منها) نه دد راوړي او مخكښي څلورمه او دا قاعده ئې يوه ګرځولي په دي اعتبار سره چي دواړه مضمون دجملې واقع كيږي او چا چي منها راوړي هغوي ديته كتلي دي چي څلورمه قاعده كښي مفعول مطلق تاكيد لنفسه راوړي او جملې لره احتمال دغير نه وي او پنځمه قاعده كښي مفعول مطلق تاكيد دغير راولى او جمله احتمال دغير لري من حق

یحق . دي سره معنی لغوی دحقا ذکر کوی. فحقاً مصدر دي سره تطبیق دمثال ممثل سره کوی

لانها تحتمل الصدق والکذب والحق والباطل: صدق وائی چی کلام مطابق شی دواقع سره او کذب ددي برعکس .او معتزله وائی چی صدق وائی چی، کلام مطابق شی دعقیدي سره اګرکه په واقع کښی داسي نه وي او کذب ددي برعکس ده، او جاحظ وائی چی صدق دا هغه کلام دي چی مطابق وي د واقع او عقیدي دواړو سره شی او کذب ددي برعکس دي، او حق وائی چی واقع مطابق شی دکلام سره او باطل ددي برعکس دي **لانه من حیث هو منصوص علیه**: دي سره غرض دفع اعتراض او هغه دا چی تاکید لغیره خو په دنیا کښی نشته دي ځکه تاکید وائی دیته چی یو شی مکرر او دوباره ذکر شی؟ **جواب**: دا مفعول مطلق ددي حیثیت نه چی راوړل شوي وي په لفظ دمصدر سره دا تاکید دخپل نفس کوی ځکه دا مخکښی جمله دا احتمال دصدق هم لري او دي حیثیت ته ئی چی اوګوري چی احتمال دکذب هم لري، دا جمله نو بیا تاکید لغیره شو.

ویحتمل ان یکون المراد: دي سره جواب آخر ذکر کوی چی دا احتمال هم شته. چی لغیره کښی لام اجلیه شي نو معنی به داسي شی . چی دا مفعول مطلق نه راځی تاکید دپاره د دفعی دغیر.

وعلی هذا ینبغي: سره ضعف دجواب ثانی ته اشاره کوی چی بیا دي په تاکید لنفسه کښی هم لام اجلیه شي چی تقابل پکښی راشي او یادا قول دشارح دي اوجواب ثانی حسن ته اشاره کوی چی تاکید لنفسه کښی هم لام اجلیه دي، ځکه تاکید به مکرر او ثابت شی. او تقابل به ئی هم راشی، ومنها ما وقع مثنی ، سره شپږمه قاعده ذکر کوی چی مفعول مطلق مثنی واقع شی **ای علی صیغة التثنیه**: سره غرض دفع اعتراض هغه دا چی تا ووئیل چی مفعول مطلق تثنیه وی او مثال کښی دي لبیك راوړو ددي په معنی کښی خو تکثیر دي؟ **جواب**: دا به په صیغه دتثنیه سره وی اګرکه معنی کښی تکثیر وی او ددي مثال قرآن کریم کښی هم شته دي لکه القیا فی جهنم کل کفار عنید

ولابد فی تتمیم هذه القاعدة: سره غرض دفع داعتراض ده او هغه دا چی زه به درته وښایم مفعول مطلق به وي تثنیه به هم وی او ناصب به ئی حذف نه وی لکه

(فارجع البصر كرتين) ؟ **جواب**: دلته يو قيد شته چې دا مفعول مطلق به مضاف وي فاعل ته يا مفعول ته او دكرتين اضافت يو ته هم نه دي شوي ، نو په دي اعتراض واردېږي چې دا قيد معتبر وو نو ذكر كړي به دي وي؟ **جواب**: اكتفاء ئې وكړه په امثله سره **وفي جعل المثال**: سره په دي آخري جواب باندي اعتراض كوي چې په مثال سره تتميم دقاعدي كول دا تكلف دي خو په شارح اعتراض واردېږي چې ښه ته راته جواب اوكړه؟ ده جواب كړي چې دا قيد ظاهر وو خو ده ته به ظاهر نه وو.

مثل لبيك اصله: يو غرض توضيح دمثال واقيم لخد متك سره معنى ذكر كوي او فحذف الفعل سره تطبيق دمثال دممثل سره كوي. ويجوز ان يكون سره قول آخر ذكر كوي. **سعديك**: اى اسعدك سره اصل ذكر كوي بمعنى اعينك سره معنى ذكر كوي . **الا ان اسعد**: سره فرق ذكر كوي چې اسعد دا متعدي بنفسه راځي او الب دا متعدي كيږي په لام سره .

مفعول به

المفعول به: مفعول به ئې مقدم كړو په نورو باندي څكه دا معمول دي دفعل دپاره بغير دواسطي نه او مفعول فيه اوله او معه وغيره دا معمول دي دفعل دپاره سره دواسطي نه چې هغه لـه. او معه او فيه دي، په (به) كښې با دپاره دملابست ده او يادپاره دسببيت ده،

اى هواسم: دي سره غرض تعين د (ما) كوي چې ما موصوفه ده او غرض پكښې دفع اعتراض ده هغه دا چې تاوويل مفعول به دا به هغه وي چې وقع عليه فعل الفاعل او په مثال كښې دي راوړو چې ضربت زيداً نو تا لفظ د زيد ته مفعول وويل، بلكه مفعول به خو ذات دزيد دي،؟ **جواب**: هغه اسم چې واقع وي په هغه فعل دفاعل مراد دي **ولم يذكر الاسم**: اول دفع داعتراض، دويم دفع داعتراض، دريم فائده دقيد، څلورم دفع داعتراض، پنځم هم دفع داعتراض، دا رنګه شپږم هم دفع اعتراض ، اووم رد په شارح باندي. اول غرض هر كله چې دا قيد مراد ؤ بيا ئې ولې نه ذكر كولو؟ **جواب**: اكتفاء ئې او كړه په ذكر دمفعول مطلق كښې

والمراد بوقوع فعل الفاعل: دي سره دويم غرض تعريف دمفعول به كښې مجرور

داخل شو. په دي ترکیب کښې چې مررت بزید. ځکه بزید ماوقع علیه فعل الفاعل دي او سره ددینه څوك ورته مفعول به نه وائی؟ **جواب**: مراد په وقوع دفعل دفاعل سره تعلق دفعل دي دمفعول به سره بغیر دواسطي دحرف جر نه. او دلته واسطه حرف جر ده **فخرج به**: سره فائده ددي قید ذکر کوی چې مفاعیل ثلاثه باقیه په دي سره خارج شو ځکه هغه وقع فیه وقع له او معه دي **والمفعول المطلق**: سره څلورم غرض دفع داعتراض ده هغه دا چې په تعریف دمفعول به کښې دي مفعول مطلق داخل شو ځکه تا دوقوع معنی دا اوکړه چې تعلق به ئی وی دمفعول به سره بغیر دواسطی نه. او داسي مفعول مطلق هم دي لکه ضربت ضرباً؟ **جواب**: مونږ دا یو چې دوقع نه دا معلومیږي چې دفعل او مفعول به په منځ کښې به تغایر وی او دفعل او مفعول مطلق معنی خو یوه وی.

والمراد بفعل الفاعل: دي سره پنځم غرض دفع داعتراض ده هغه دا چې تعریف دي مانع نشو دخول دغیر نه داخل شو پکښې زید په ضُرِبَ زیدٌ کښې، ځکه دا مفعول مالم یسم فاعله دي او وقوع دفعل پري راغلی؟ **جواب**: مراد په فعل دفاعل سره هغه اسناد دفعل دي فاعل ته حقیقتاً او دلته اسناد دفعل حقیقتاً ندي بلکه مجازاً دي او بیا دا فاعل عام دي حقیقتاً وي لکه ضربت زیدا کښې ضمیر متکلم او که حکماً وي لکه اعطی زیدٌ درهماً کښې زید. **ولا یشکل بمثل**: دي سره غرض شپږمه خبره دفع داعتراض کوی چې تعریف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه درهما پدي ترکیب کښې چې اعطی زید درهما ځکه اسناد دفعل فاعل ته مجازاً دي؟ **جواب**: فاعل په دوه قسمه دي حقیقتاً او حکماً او دلته فاعل حکمی دي

وبما ذکر ناظهر: سره اووم غرض رد په شارح هندي شارح هندي وائی چې په کلام کښې استدراك دي هغه دا چې الفاعل دي نه وی ذکر کړي نو ښه وه نو ده رد وکړ چې الفاعل سره دا فائده حاصله شوه چې مجرور خارج شو او درهما په تعریف دمفعول به کښې داخل شو **فان زیداً**: دي سره غرض تطبیق دمثال دممثل سره کوی. **العامل فیه**: سره غرض دفع اعتراض هغه دا چې خروج عن البحث لازم شو زمونږه خبره شروع وه په مفعول به کښې او ته لاړي فعل ته؟ **جواب**: مراد دفعل نه عامل دمفعول به دي **اما جوازواما وجوباً**: سره قسمین دتقدیم دمفعول به ذکر کوی چې یا به جواز لکه زالله

اعبد، ووجه الحبيب اتمنى او يا به وجوباً وي لكه من رايت. من تكرم يكرمك

وهذا اذا لم يكن: سره دفع داعتراض ده هغه دا چې زه به درته وښايم چې تقديم به ممتنع وى لكه من البر ان تكف لسانك؟ **جواب**: دا هله واجب او جائز دي چې مانع نوى او دلته مانع شته چې هغه ان مصدريه دا (تكف) جمله په تاويل دمصدر سره اړوي او داضعيف العمل دي په معمول متقدمه كښې عمل نشي كولى

العامل فيه: سره بيا زوړ اعتراض او جواب **مقاليه او حاليه**: دي سره قسمين دقرينې ذكر كوى. **تخصيصها ليس للحصر**: دي سره غرض دفع اعتراض ده هغه دا چې نه وائى چې دا څلور ځايونو وجوبى دي زه به درته اوښايم چې نور به هم وى لكه باب داغراء كښې (برانګيخته كول) لكه اخاك اخاك يا منصوب على المدح يا ذم ياد ترحم لكه الحمد لله الحميد. اتانى زيد الفاسق الخبيث. يا مررت بزيد المسكين.

(**جواب**: تخصيص پدي څلورو دپاره دحصر دي. **بل لكثرة**: سره دفع داعتراض هغه دا چې بيا دي ولې دا څلور خاص كړل **جواب**: دا څلور مو ځكه خاص كړل چې ديكښې مباحث ډير دي **اعتراض**: سماعى كښې خو مباحث ډير ندي صرف دري ځايونه دي **جواب**: دا متقدمينو راوړي نو ما هم راوړل اى اتيت اهلاً دي سره معنيين ذكر كوى،

والثانى: دي سره دويم ځاي ذكر كوى چيرته چې حذف دفعل قياساً واجب دي شارح قيد دالموضع راوويستلو دا موصوف او الثانى صفت دي من لك المواضع سره بيان دثانى كوي

هو المطلوب الخ.. دا هغه قسم دي چې مطلوب وى اقبال د ده. **يوجهه او بقلبه** يو غرض معنى داقبال او غرض پكښې دفع اعتراض، دويم دفع اعتراض دريم هم دفع اعتراض. څلورم رد دي په ماتن باندي، پنځم تاكيد دخپل رد **اى توجهه اليك**: دا اول غرض چې معنى داقبال ده. او دفع اعتراض هغه دا چې تعريف ومنادي نه دي خارج شو هغه سړي چې مخامخ وى

جواب: اقبال عام دي بوجهه وى او كه بقلبه وى وجها خو به مخامخ وى خو قلب به ئى په ندا سره متوجه كيږي **حقيقتاً او حكماً**: دي سره دويم غرض دفع اعتراض هغه دا چې تعريف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه يا سماء او يا ارض

ځکه ددي قلب او وجه نشته؟ **جواب**: وجه عام دي حقيقتاً وي لکه یا زید او یا حکماً وی لکه یا سماء . دا سماء اول نازل شو په منزله دهغه چا چی صلاحیت دندا لري بیا دهغی وروسته پري حرف ندا داخل شو نو حکماً د دوي اقبال مطلوب دي

اعتراض: [ددي اعتراض نه مخکښی دا خبره یاد لره چی په قرآن کریم کښی الله ﷻ لره (ید او وجه) ثابت دي او مونږ پري ایمان لروچی دا دالله ﷻ صفات دي او مونږه دا خبره کوو چی الله ﷻ لره وجه شته خو لکن لا کوجهنا او الله ﷻ لره ید شته خو لاکایدنا کما یلیق بشانه تعالی] اوس اعتراض ته راشه: هلکه تعریف نه دي الله ﷻ خارج شو ځکه الله ﷻ لره خو وجه او قلب نشته. **جواب**: دلته قلب او توجه دا په اعتبار دمنادي سره دي چی دي وایي دویم جواب چی مقصود ندا نه وی بلکه مقصود اجابت د ندا وی

بخلاف المندوب: دي سره دریم غرض دفع اعتراض . هغه دا چی ندا عامه شوه حقیقتاً وي او که حکماً وی نو یا جبال الخ ... پکښی داخل شو نو مندوب دي هم داخل شی په منادي کښی نو بیا ددي لپاره ئی وروسته مستقل بحث ولی راوړي ؟**جواب**: مندوب باندي چی کله یا داخله شی نو هلته اقبال مقصود نه وی نه بوجهه او نه بقلبه بلکه هلته یادپاره دتفجع او د غم وی. **وفیه تحکم**: سره څلورم غرض رد په ماتن باندي تحکم وائی خبره بلا دلیل ته مندوب دي په منادي کښی داخل نه کړو سره ددینه چی دیکښی صلاحیت د اقبال شته او یا سماء کښی صلاحیت داقبال نشته او هغه دي په منادي کښی داخل کړي پکار ده چی مندوب دي داخل کړي وي **کما فعله صاحب المفصل**: دي سره پنځمه خبره ذکر کوی چی دخپل رد تاکید دي دي وائی دا کار صاحب مفصل هم کړي او چا ویلی چی هغه ویونکی امام رضی دي چی دسیبویه دکلام نه هم معلومیږي چی مندوب په منادی کښی داخل دي

خو مونږ دماتن ملګرتیا کوو او دشارح نه جوابات کوو چی مندوب داخل نه دي په منادي کښی عرفاً لکه یو سړي قسم وخوري چی زه به تا ته آواز نه کوم نو چی هغه سړي مړ شی او آواز ورته کوی نو دا سړي نه حانث کیږي ځکه دا عرفاً ندا نده، دویم جواب دادي چی مندوب که داخل شی په منادي کښی نو حروف ندا به شپږ شی دریم جواب دادي چی زه منم چی مندوب په منادي کښی داخل دي خو مندوب باب وسیع

دي ددي لپاره خانة احکام دي نو ځکه ئی وروسته مستقل ذکر کوی

بحرف نایب مناب ادعوا: اول بیان دنائب کوی دویم فایده ددي قید . اول غرض بیان دنائب خو ئی وکړه چی حروف خمسه دي او په واحترز به سره فایده دقید ذکر کوی چی یقبل زیدٌ نه احتراز راغی ځکه دلته مطلوب اقبال دي خو په حرف ندا سره نه دي.

لفظا او تقدیراً لتفصیل الطلب: اول دفع اعتراض . دویم دفع اعتراض. دریم هم دفع اعتراض . څلورم بیان دمثال. پنځم قول آخر . شپږم دفع داعتراض. اووم قول آخر ، اتم بیان دمثال ، نهم اختلاف ، لسم ثمرتین د اختلاف اول غرض لفظا او تقدیراً منصوب دي او وجه دنصب لره طرق کثیره دي که ته وائی چی دامنصوب دي بناء بر مفعول به خودا نه صحیح کیږي ځکه د المطلوب دپاره خو یو مفعول شته چی اقباله دي بل مفعول به خو نه غواړي او که ته وائی چی منصوب دي بناء برمفعول مطلق نو هم نه صحیح کیږي ځکه المطلوب خومشتمل دي په طلباً نه په لفظاً او تقدیراً باندي او که ته وائی چی دا منصوب دي بناء برمفعول فیه نو مفعول فیه خو یا زمان وی او یا مکان نو لفظاً او تقدیراً خو نه زمان دي او نه مکان.

جواب: دا منصوب دي بناء بر مفعول مطلق خو په اعتبار دموصوف محذوفه سره چی طلباً لفظیاً او تقدیریاً لفظاً او تقدیراً صرف اوصاف دي نو دا ئی مؤول کړل په لفظیا او تقدیریاً سره نو دي سره دویم غرض چی دفع داعتراض وشوه چی مفعول مطلق دا هغه دي الخ ... **بان تکون آلة الطلب لفظیة:** سره دریم غرض دفع داعتراض هغه دا چی تا وئیل چی طلب به یا لفظی وي او یا تقدیري نو طلب خو یو امر معنوی دي لفظی او تقدیری خو نه شی کیدي؟ **جواب:** دا نسبت مجازي دي کله به آله دطلب لفظی وي او که به تقدیري وی. **نحو یا زید:** دي سره څلورم غرض بیان دمثال یا زید مثال دهغه دي چی اله دطلب پکښی لفظی وي او دهغه مثال چی اله دطلب پکښی تقدیري وی لکه یوسف اعرض عن هذا.

او للنیابة: پنځم غرض قول آخر چی دا مفعول مطلق دي دناب دپاره ای ناب نیابة لفظیة او تقدیریة **بان یکون النائب ملفوظاً او تقدیراً:** سره شپږمه خبره دفع اعتراض هغه دا چی نیابت خو امر معنوی دي هغه څرنګه لفظی او تقدیري شی نو دي

اوللمنادي: سره وائی چی هغه نائب به ئی یا لفظی وی او یا تقدیري چی هغه یاء ده اوومه خبره قول آخر ذکر کوی هغه دا چی لفظاً او تقدیراً دا منصوب دي بنابر حالیت او دا حال د اقبال د (ۀ) ضمیر نه چی راجع دي منادیٰ ته نو حال دمضاف الیه نه راغلو او حال دمضاف الیه نه صحیح وی خو چی حذف دمضاف جائز وي او مضاف الیه دا قائمقام دمضاف کیداي شی نو تقدیر به داسي شی چی والمطلوب هو لفظاً الخ

مثال یا زید والمقدر مثال: دي سره غرض اتمه خبره بیان دمثال کوی.

اختلاف په منادی منصوبه کښی

وانتصاب المنادیٰ عند سیبویه: سره نهمه خبره اختلاف د منادیٰ چی منصوبه وی دا نصب ئی دچا ذ وجی نه دي پدیکښی دري مذهبه دي اول مذهب د سیبویه دي دي وائی چی منادیٰ منصوب وی او ناصب ئی فعل مقدر وي لکه یا زید اصل کښی وو ادعوا زیداً اصل ئی منصوب دي او مرفوع ئی ځکه وایو چی محل دمبنی کښی دي، دویم مذهب دامام مبرد دي دي وائی چی منادیٰ منصوبه وی او عامل ئی همدغه یاء وی نه فعل ځکه دا یاء قائمقام ددغه فعل ده او شئ چی قایمقام شی په ځائی دغیر نو هغه لره حکم دغیر وی، دده مذهب ضعیف دي ځکه دار مدار دقواعدو دعربیه په سماع دي او دا مونږه نه دي اوریدلی چی دا منادی منصوبه ده دیاء دوجی نه او نه دا چی یاء عامل ناصبه دي ، دریم مذهب دامام ابو علی دي ، دي وائی دا یاء اسم فعل ده، دامذهب ضعیف دي ځکه اسم فعل به یو حرف وګرځی اوبل دا چی اسم فعل په معنی دامر حاضر یا ماضی سره وی.

فعلی هذین المذهبین: سره لسم غرض ذکر کوی چی ثمرتین د اختلاف ، یو ثمره داده چی دټولو مذهبونو په نزد یا زید جمله ده بالاتفاق او جمله خو عبارت وی دمسند او مسند الیه نه نو دسیبویه په نزد پکښی نه مسند او نه مسند الیه شته فعل او فاعل دواړه دده په نزد مقدر دي. او دامام مبرد په نزد (یاء) قائمقام دفعل ده نو مسند شته چی فعل دي او مسند الیه چی فاعل دي هغه مقدر دي، اودابوعلی په نزد یودجزئین نه اسم فعل دي او فاعل ئی مقدر دي چی هغه ضمیر مستتر دي په دي اسم فعل کښی .

ويبنى اى المنادىٰ: بيان دضمير ديبنى. دويم دفع داعتراض. اول ضمير راجع دي منادىٰ ته. **قدم بيان البناء**: سره دفع اعتراض هغه دا چې بحث په منصوباتو کښې دي او ته بحث کوې په احوالو دمنادىٰ کښې نو پکار ده چې دنصب حال ئې مخکښې ذکر کړي وي ځکه دمقام سره ئې مناسبت نشته؟ **جواب**: دا بحث دمرفوع او دمجرور دواړو نه وو نو ځکه ئې مقدم کړل او دنصب بحث اوږد وو نو هغه ئې موخر کړو. **جواب ثانى**: مقصود زمونږ اختصار وو نو اول مو دا ذکر کړل چې مرفوع به وی پدي شی مجرور به وی پدي شی او ينصب ماسواهما.

على ما يرفع به اى على الضمة: اول تعين د (ما) کوی دويم دفع داعتراض. دريم جواب ذکر کول، څلورم رد په بعضو خلقو. نو (ما) عبارت دي دحرف يا حرکت نه چې ضمه او الف او ياء دي. **التى يرفع بها**: سره اول غرض دفع داعتراض هغه دا چې ستا په کلام کښې تعارض دي يو طرف ته وائې چې منادى به مبنى کولې شي او بل طرف ته وائې چې منادي به على ما يرفع به وي نو رفع خو په معرب کښې راځي. **اعتراض ثانى**: دا منادى به مبنى کولې شي په على ما يرفع به سره چې کوم ځائې کښې معرب وى ما عبارت شو دحرف يا حرکت نه او يرفع به کښې هم به ضمير عبارت شي دحرف يا حرکت نه نو حرف او حرکت ته تا بناء او حرکت وويل؟ **جواب**: دادي چې يرفع فعل مسند دي جار مجرور ته چې به او دي جار مجرور کښې ضمير حرف يا حرکت ته نه دي راجع.

وارجاع الضمير الى الاسم غير ملايم لسوق الكلام: دي سره څلورم غرض رد په بعضو خلقو ذکر کوی دلته دوي ددي اعتراض نه بل جواب کړي هغه دا چې دا (به) کښې ضمير اسم ته راجع دي نو معنى به داسي شي چې مبنى کولې دا منادىٰ په هغه حرف يا حرکت باندي چې مرفوع کولې شي دا اسم په هغه باندي نو شارح پري رد کوی چې دا جواب معنىً صحيح دي خو ملايم ندي دسوق دکلام سره ځکه انتشار به ضمائرو کښې راشي ځکه مخکښې ضماير منادىٰ ته راجع وو او دلته به اسم ته راجع شي.

ان كان المنادى مفرداً اى لا يكون مضافاً: معنى دمفرد غرض پکښې دفع داعتراض ده. دويم معنى دشبه مضاف او غرض پکښې دفع داعتراض ده، مفرد دلته

په مقابله دمضاف شبه مضاف کښې دي يعنې دا مناديٰ به داسې نه وی. **اعتراض:** تاوونيل چې منادی مفرده معرفه وي نو بيا به مبنی وی په ضمی سره زه به درته وښايم منادیٰ، به مفرده معرفه نه وی او دا اعراب به ئې وي لکه يا زيدان ؟ **جواب:** مفرد نه مراد دادی چې مضاف شبه مضاف به نه وی نو تثنيه پکښې داخله شوه.

معنی د شبه مضاف

ولا شبه مضاف: معنی دشبه مضاف داده چې هر هغه اسم چې نه تماميږي معنی ددي مگر په انضمام د امر آخر سره لکه طالعاً جبلاً . **اعتراض:** زه به درته وښايم شبه مضاف به وي او اعراب به ئې نه وی لکه يا رجل العالم رجل موصوف دي او عالم ورلره صفت دي مشابه دي دمضاف سره او صفت مشابه دي دمضاف اليه سره. **جواب:** مراد دشبه مضاف نه هغه دي چې معنی ئې نه تماميږي په غير دانضمام د امر آخر سره او ددي معنی خو تماميږي.

معرفة قبل النداء او بعده: اول دفع داعتراض، دويم دليل ذکر کول، دريم هم دفع داعتراض ، **اوله خبره دفع داعتراض:** هلکه ! ته وائې چې منادیٰ مفرده معرفه مبنی کولی شی په ضمی سره ستا دمعرفی نه کومه معرفه مراد ده چې قبل النداء وی او که بعد النداء که قبل النداء وائې نو يا زيدُ ترينه خارج شو او که بعد النداء وائې نو يارجل ترينه خارج شو ؟ **جواب:** که قبل النداء معرفه وی او که بعد النداء دواړه زمونږ مراد دي، **وانما بنی المفرد المعرفة:** هغه دويمه خبره ذکر کوی چې دليل دي، ، منادي مفرده معرفه مبنی وي په ضمی سره ځکه دا واقع دي په ځای د کاف اسمی باندي، کاف اسمی هغه ته ويلی شی چې دهغه په ځاي اسم ظاهر راوړلی شی او دا کاف اسمی مشابه دي د خطابی سره لفظاً هم او معناً هم . لفظاً دا چې دواړه مفرد دي او معناً ځکه چې دا دواړه معرفی دي، او کاف حرف خطابی ديته وايی چې په منزله دکاف اسمی باندي چې هغه ادعوك دي او دا کاف اسمی مشابه دي دکاف حرفی خطابی سره لفظاً هم او معناً هم نو کاف اسمی مشابه شو دمبنی الاصل سره نو دا هم مبنی شو.

وانما قلنا: سره دفع داعتراض ده هغه دا چې خبره دي دومره اوړده کړه داسې به دي ويلی وو چې منادی مفرده معرفه ځکه مبنی ده په ضمی سره چې دامشابه دکاف

اسمي سره او هغه مبني دي نو دا هم مبني شوه ز

جواب: يو اسم چې دبل اسم سره مشابه شي نو دي مبني نه گرځي له وجې دمشابهت نه بلکه ترخو پورې يې چې دمبني الاصل سره مشابهت نه وي راغلی. **اعتراض**: دا حصر زه نه منم چې مبني به صرف مشابهت سره گرځي. **جواب**: مراد داسم نه اسم مرکب دي دا مبني نشي گرځيدلی ترخو پورې ئې چې مشابهت دمبني الاصل سره نه وي راغلی. **مثل يا زيد ويا رجل**: اول تعين دممثل له کوي. دويم دفع داعتراض هغه دا چې دوه مثاله دي ولې راوړه يو مثال کافي وو **جواب**: چې ممثل له دوه وو ځکه مې دوه مثاله راوړل **ويخفض اى وينجر المنادى**: سره غرض دفع اعتراض هغه دا چې خفض يخفض متعدي صفت دخافض دي دمتکلم نو دا څنګه حال گرځي د احوالو دمنادی نه؟ **جواب**: دا متعدي مونږ ورنه تعبير وکړو په لازمي سره چې ينجر نو داحال دي دکلام نه

بلام الاستغاثة اى بلام: اول دفع داعتراض ، دويم دليل، **اعتراض**: استغاثة فرياد ته وائي نو داستغاثة په لام سره خو څوك فرياد نه کوي ؟ **جواب**: دا نسبت د ادنی ملابست دي چې په وخت دفرياد کښې ئې راوړي دلته هم دا مستغيث دا مستغاث تولو خلقو پورې خاص کوي با الدعاء . **مثل يا لزيد وانما فتحت**: اول دفع داعتراض، دويم دهم دفع داعتراض . دريم مسئله اخري . څلورم دفع داعتراض ، پنځم هم اعتراض شپږم جواب . اووم جواب آخر، اتم رد دي په جواب آخر باندي . **اعتراض**: څه وجه ده چې دلته تا لام مفتوح کړو او سره ددينه چې دا لام تخصيص دي اولام تخصيص خو مجرور وی لکه المال لزيد ؟ **جواب**: مستغاث کښې دا لام مفتوح کړي شو ځکه چې التباس ئې را نشي مستغاث له سره چې کله مستغاث حذف وي لکه مستغاث کښې لام مفتوح دي يا لزيد اومستغاث له کښې لام مجرور وي لکه يا للمظلوم اصل کښې يا للقوم للمظلوم

ولم يعكس الامر: سره دويم غرض دفع داعتراض هغه دا چې عکس به دي کړي وی مستغاث کښې لام مکسور او مستغاث له کښې به دي لام مفتوح کړي وي؟ **جواب**: منادی مستغاث واقع ده په ځاي دکاف ضميري باندي لکه (لكَ) او ددي کاف

ضميري سره لام مفتوح راخي **فان عطفت على المستغاث بغير ياء**: دي سره دريم غرض مسئله اخري ذكر كوى هغه دا چي په مستغاث عطف وكړي بغير د يا، نه لكه يا لزيد ولعمرو. نو لام به لعمرو كښې مكسور وائى څكه فرق راغى په مابين دمعطوف او په مابين دمستغاث له كښې په عطف كولو ددي معطوف كښې په مستغاث باندي

وانما اعرب المنادى: سره غرض دفع اعتراض هغه دا چي تا ووئيل چي منادى مفرده معرفه به مبنى وي په ضمى سره دلته يا لزيد كښې صرف لام راغلو او تا مجرور كړو نو معرب دي كړو كسره خو دي ونه ووئيله ؟ **جواب**: منادى مفرده معرفه مبنى ده له وجى دمشابهت نه نو دلته د لام د وجى نه مشابهت دحرف سره كمزوري شو څكه لام خاصه داسم ده نو خپل اصل ته را معاد شوه چي هغه اعراب دي څكه اصل په اسماؤ كښې اعراب دي

قيل قد يخفض المنادى: سره پنځم غرض اعتراض هغه دا چي لام تعجب او لام تهديد سره هم منادى مجرور گرځى دائى ولى پريښودل دويمه طريقه داعتراض لام تعجب په ينصب كښې داخل دي او منصوب نه دي ؟ بلـه خبره دا چي په وينصب ماسواهما لام تعجب او لام تهديد ترينه خراج شو سره ددينه چي په دي سره خو منادى مجرور گرځى

واجيب: سره جواب كوى چي دا دواړه داخل دي په لام استغاثه كښې څكه ئى ندي ذكر كړي **واجيب عن لام التعجب بوجه آخر**: دي سره اووم غرض جواب آخر هغه دا چي لام تعجب كښې منادى ماء او دواهى ندي بلكه دا مستغاث له دي او منادى قوم دي او لام تهديد قليل ؤ نو څكه ئى ذكر نه كړل **ولا يخفى**: دي سره اتم غرض رد ذكر كول هغه دي دا چي دا ماء او دواهى مستغاث له شو نو مخكښې دمستغاث فرق وشو چي لام دمستغاث به مفتوح وى او لام دمستغاث له به مجرور وى نو كه يا للماء او يا للدواهى تا پكښې لام مفتوح ووئيلو نو دا خو بيا مستغاث له نشى گرځيدلى څكه ددي لام خو مكسور وى او كه لام پكښې مكسور وائى نوبيا خو خبره ظاهره ده څكه ددي دپاره لام مكسور راخي

ويفتح اى يبنى المنادى على الفتح: دي سره معنى ديفتح ذكر كوى اول مرجع دها

دضمیر او غرض پکښې دفع داعتراض. ، دویم دلیل ذکر کول. **اعتراض**: الف خو خاتته مستقل حرف دي ، دي سره خو استغاثه نه کیږي دي وائی چی مفتوح کولی شی منادی چی کله الحاق دالف د استغاثی راشي دآخر دمنادی سره. **لاقتضاء الالف ماقبل**: دي سره دویم غرض دلیل وشو. **ولا لام فیه حینئذ**: دي سره دلیل ذکر کوی چی ولی به پکښې لام نه وی. **مثل یا زیداه الحاق الهاء به للوقف**: اول دفع داعتراض، هغه دا چی مثال دي مطابق نه شو دممثل سره ته وائی چی په آخر کښې به ئی الف وی داستغاثه او دلته خو هاء راغلی نو دي جواب کوی چی دا په حالت دوقف کښې.

وینصب ماسواهما ای وینصب بالمفعولیة: اول دلیل یا وجه دنصب ، دویم دفع داعتراض ، دریم دفع اعتراض، څلورم بیان دماسوا، پنځم توطیه او تمهید متن ته او غرض پکښې دفع اعتراض. اول وجه دنصب . دا منادي به منصوب بناء برمفعولیت او دلیل ئی دوهمه کرښه کښې لان علة النصب سره ذکر کړیدي.

ماسوی المنادی المفردة المعرفة: سره دویم غرض دفع اعتراض هغه دا چی مخکښې دري صورتونه ذکر دي یو منادی مفرده معرفه بله منادی مستغاثه باللام او دریم منادی منادی مستغاثه بالالف او هما ضمیر دي تثنیه هر دوو ته ئی چی راجع کړي نو یو پاتی کیږي. **جواب**: هما ضمیر دوو ته راجع دي یو منادی مفرده معرفه او بله منادی مستغاثه بیادا منادی مستغاثه عامه ده که مع اللام وی او که مع الالف وی لفظا او تقدیراً دا دینصب سره لګیږي. **ان کان معرباً قبل دخول حرف النداء**: دي سره دریم غرض دفع داعتراض هغه دا چی زه به درته وښایم چی ماسواهما به وي او ینصب به نه وی لکه خمسة وعشرك نو جواب دادي چی دلته یو بل قید دي چی دا هغه وخت کښې چی معرب قبل دخول حرف النداء وی او دا خمسة وعشرك خو قبل الدخول حرف النداء مبنی دي.

وماسوی المفرد العامة: دي سره غرض بیان دماسواکوی چی څلور دي دري ماتن ذکر کړي او شارح یو ذکر کړي. **فالقسم الاول**: سره پنځم غرض توطیه متن ته، اعتراض. یومثال کافی وو دري مثاله ماتن راوړي او یو شارح راوړلی دي دا ولی ؟ **جواب**: ممثلات هم څلور دي. **یاطالعاً جبلاً**: **اعتراض**: هغه دا چی طالعاً صیغه داسم

فاعل ده او دا هله عمل کوی چې اعتماد ئې کړي وی په یو داشیاؤ ستهؤ باندي او دلته ئې عمل کړي په جبلاً کښې او اعتماد ئې نشته دي؟ **جواب:** دلته موصوف مقدر دي دا به دباب ددینه شی چې یا رجلاً صالحاً طالعاً جبلاً . نودلته دطالعاً اعتماد راغلی دي په موصوف او صفت باندي چې رجلاً صالحاً دي خو دا جواب ضعیف دي ځکه طالعاً جبلاً معرفه ده ځکه صفت ئې معرفه راځی او رجلاً صالحاً نکره موصوف دي نو ته څنګه دصفت معرفه دپاره موصوف نکره راوړي دویم جواب دادی چې ددې اسم فاعل اعتماد راغلی په موصوف مقدره معرفه باندي نو تقدیر به داسي شی چې یا ایها الطالع نو موصوف هم معرفه شو.

دریم جواب: خارج نه دي هغه دا چې موصوف اسم فاعل هلته ضروري دي چې دعمل کولو په وخت به ئې اعتماد کړي وی په یو داشیاؤ ستهؤ باندي چې بغیر دحرف نداء نه وی او که مستعمل سره دیاء نه وی نو بیا ئې احتیاج نشته په عمل کولو کښې اعتماد ته. **مثل یا رجلاً مقولاً لغیر معین ای لرجل غیر معین:** شارح قید د مقولاً راویستلو اشاره ئې وکړه دي خبري ته چې لغیر معین جار مجرور متعلق دي دمقولاً پوري. اول دفع داعتراض ، دویم تتمیم دما فات دماتن کوی. دریم اعتراض ، څلورم جواب : پنځم بل جواب ، شپږم دفع اعتراض

اعتراض: تاووئیل یارجلاً مقولاً لغیر معین نو دغیر معین قید دي ولی ولګولو ځکه قید لګول هله پکار وی چې احتمال دمعین پکښې وي او دلته نشته ځکه رجلاً نکره ده **جواب:** داقید نه دي بلکه دا توقیت دي دپاره دنصب درجلاً ځکه دا منصوب دي احتمال دغیر شته دي **والقسم الرابع:** دي سره دویم غرض تتمیم دمافات دماتن ذکر کوی چې قسم رابع هغه دي چې نه مفرد وی او نه معرفه مثل یا حسناً وجهه ظریفاً دا مشابه بالمضاف شو نو مفرد نه شو او معرفه هم نده ځکه حسناً نکره ده.

ولم یورد المصنف لهذا القسم مثالاً: دریم بیان داعتراض هغه دا چې ماتن ددې قسم رابع دپاره مثال ولی نه دي راوړي **اذ حیث:** دي سره څلورم غرض جواب : چې کله انتفاء دیو قید راغله چې مفرد به نه وی او بیا انتفاء دبل قید راغله چې معرفه به نه وی دهغې مثالونه مې راوړل نودبل قسم چې رابع دي دمثال پته پخپله ولګیده. **مع ان**

المثال الثانی یحتمله: سره پنځم غرض جواب آخر هغه دا چی په طالعاً جبلاً کښی احتمال شته چی طالعاً نه عام واخلو که معین وی او که غیر معین وی که معین واخلو نو مثال دقسم ثانی شو ځکه یا طالعاً جبلاً مفرد دي معرفه نده اګرچه معین دي لیکن دنحویانو په نزد معرفه نده او که غیر معین ورنه واخلو نو نه مفرد دي اونه معرفه نو مثال دقسم رابع شو.

وهذه الامثله کلها: سره شپږم غرض دفع داعتراض ده هغه دا چی مصنف ووئیلو چی وینصب ماسواهما نو منادی مفرده معرفه وه اوبله منادی مستغاثه وه نو مصنف خو ماسوا دمنادی مفردي معرفی مثالونه راوړل او دماسوا منادی مستغاثی مثالونه خو ئی را نه وړل ؟ **جواب**: دا مثالونه دماسوا منادي مستغاثي دپاره هم دي

توابع د منادی

وتوابع المنادی المبنی علی ما یرفع به المفردة حقیقتة او حکماً: کله چی فارغ شو مصنف دمنادی نه او دهغی داحوالونه نو شروع ئی وکړه په توابعو دمنادی مبنی کښی اعتراض دخارج نه، وروسته خو دتوابعو مستقل بحث شته دي دلته دي ولی راوړلو؟ **جواب**: ددي توابعو حکم ترفع او تنصب دي خو دا حکم یواځی دتوابع ندي بلکه منادي ورسره پکښی شریکه ده نو دي وجه نه ئی توابع په بحث دمنادی کښی راوړل . معنی دا شوه چی توابع دمنادی داسي منادی چی مبنی به وي الخ. نو هغه اعتراض هم دفع شو هغه دا چی یو طرفته وائی چی توابع دمنادي مبنی او بل طرف ته وایی چی علی مایرفع به المفردة نو رفع خو معرب کښی راځی ؟ **جواب**: مخکښی د دخول دحرف ندا نه مرفوع وو اوس مبنی دي.

حقیقةً او حکماً: اول تعمیم دمفرد، دویم فانده دقید دمبنی ، دریم دقید دعلی مایرفع ، څلورم فائده دقید دمفرد، پنځم فائده دتعمیم، شپږم مثال، اووم دفع داعتراض، . اول خبره : مفرد عام دي حقیقتاً وی او که حکماًوی مفرد حقیقی دیته وائی چی نه مضاف په اضافت لفظی سره وی او نه معنوی سره او نه شبه مضاف وی او مفرد حکمی دیته وائی چی مضاف وی په اضافت لفظی سره یا شبه مضاف وی او نه مضاف وی په اضافت معنوي سره .

وانما قيد المنادى بكونه مبنياً: دي سره فائده دقيد دالمبني ذكر كوى. **وانما قيد المبني بكونه على مايرفع:** دي سره فائده دقيد دعلى مايرفع به ذكر كوى مخكښې ئې ووئيل انما قيد المنادي الخ ... او دلته وائى انما قيدنا المبني، نسبت ئې خانته وكړو دتقييد چې دا تقيد شارح وائى ما هم كړي او ماتن هم كړي ديكښې اشاره ده ديته چې المبني كښې الف لام جنسي دي او يا عهدي دي مراد ترينه هغه مبني ده چې مخكښې مصنف رحمه الله ووئيلى وو چې ويبنى على ما يرفع به

وقيد التوابع بكونه مفردة: څلورمه خبره فائده دقيد دمفردةً ذكر كوى. **وانما جعلنا المفرد اعم:** پنځمه خبره فائده دتعميم دمفرد ذكر كوى بل دفع داعتراض هغه دا چې زه به درته وښايم مفرد به نه وي او حكم به ئې ترفع او تنصب وى لكه يازيد حسنُ الوجه يا زيد حسنَ الوجه.

جواب: مفرد عام دي حقيقتا وى او كه حكماً وى دلته حسن الوجه حكما مفرد دي اضافت معنوى پكښې نشته او اضافت لفظى دي پكښې وى لاباس به . **نحويا زيد الحسن الخ..** سره شپږم غرض بيان دمثالونو ذكر كوى، اولنى دوه مثالونه داضافت لفظي دي او دوه آخرنى دا مثالونه دشبه مضاف دي هر يو ترفع او تنصب دي اضافت پكښې لفظي دي او دا په حكم دمفرد كښې دي.

وانما لم يجر الحكم الاتى فى التوابع كلها: سره اووم غرض دفع اعتراض هغه دا چې منم دمنادي توابع ذكركوى خو ټول ذكر كړه تا دري ولى ذكر كړل چې تاكيد، صفت او عطف بيان دي او دوه دي پريښودل چې بدل او عطف بالحرف دي. **جواب:** وروسته چې كوم حكم دي چې ترفع وتنصب هغه په دي ټولو كښې نه جاري كيږي كومو كښې چې جاري كيده هغه مو راوړل.

فقال من التاكيد اى المعنوى: اول دفع داعتراض ، دويم دفع داعتراض، **اعتراض:** زه به درته وښايم چې تابع دمنادى مبني به وي او ترفع او تنصب به نه وى لكه يا زيدُ زيدُ دلته دوهم زيد تاكيد دي اول لره او ترفع او تنصب خو نه دي. **جواب:** مراد تاكيد نه تاكيد معنوى دي او دلته تاكيد لفظي دي **وقديكون اعرابه رفعا ونصبا وكان المختار عند المصنف ذالك:** سره دويم غرض دفع اعتراض هغه دا چې مراد

دتاكيد نه تاكيد معنوي وي نو دا قيد به دي لګولى وى چى من التاكيد المعنوى **والصفة مطلقاً**: صفت عام دي كه صفت مادحه وى لكه بسم الله او كه صفت ذامه وى لكه اعوذ باالله.. الخ...

وعطف البيان كذالك: يعنى كه سره دلام نه وى او كه بغير دلام څخه وى **والمعطوف بحرف الممتنع دخول يا عليه. يعنى المعرف باللام**: اول غرض تعين دمعطوف كوى چى هغه معطوف چى دخول ديا پري ممتنع وى. دويم بخلاف البدل سره دفع اعتراض هغه دا چى نور دي ذكر كړل او بدل او معطوف چى دخول دياء پري ممتنع نه وى دي ذكر نه كړل دا ولى ؟ **جواب**: دا ځكه چى د دوي حكم غير دي دهغى نه چى كوم منږ بيانوؤ. **ترفع حملاً على لفظه الظاهر والمقدر**: شارح قيد دحملاً راوويستلو. اشاره ئى وكړه دي خبري ته چى على لفظه جار مجرور متعلق دي تر حملاً پوري اول دفع داعترا ض، دويم دليل. **اعتراض**: زه به درته وښايم منادي مفردة معرفه به راغلى وي تابع به ئى راغلى وى او ترفع على لفظه به نه وى لكه يا فتىً والغلام نو دلته والغلام تابع دي معطوف دي او دهغه معطوف چى دخول دياء پري ممتنع وى. **جواب**: رفع عامه ده كه ظاهره وى او كه مقدره وى نو فتىً كښى مقدره ده،

لان بناء المنادى عرضى: سره دليل، منادى مبنى مونږ ويلى وه چى دا ځكه مبنى ده چى مشابه ده دكاف اسمى سره نو بناء پكښى عارضى راغلى نو مشابهت ئى دمعرب سره شته دي ځكه چى تابع دمعرب تابع دلفظ دمعرب وى او تابع دمبنى تابع دمحل دمبنى وى. **وتنصب حملاً على محله**: على محله متعلق دي دحملاً پوري **لان حق تابع المنادى**: دي سره دليل ذكر كوى چى ولى به منصوب وى على محله **ومثل ياتيم اجمعون واجمعين**: تعين دممثل له كوى، تيم منادى مفرده معرفه ده، اجمعون تابع دي تاكيد دي اجمعون هم وئيلى ځكه دا به تابع دلفظ دمنادى شى او هغه مرفوع دي دا به هم مرفوع شى ځكه تيم منادى مفرده معرفه ده بوى پكښى دمعرب شته دي او اجمعين هم ويلى شى ځكه تابع دمحل دمنادى به شى چى ادعوا تيماً نو منصوب به وي بنابر مفعول به.

ويازيد العاقلُ والعاقلَ: اول تعين دممثل له. دويم دفع اعتراض، **اعتراض**: نور

مثالونه دي ولې ذکر نه کړل دعطف بيان او معطوف بحرف الممتنع دخول ياء عليه
جواب: دتاکيد او دصفت مثالونه مشهور دي نو دائی ذکر کړل او دنورو ئې پرېښودل
شارح وائي هغه به درته زه ذکر کړم . يوه مسئله ختمه شوه هغه دا چې ترفع او تنصب
دواړه جائز دي خو غوره کوم يو دي پدې معطوف کښې نو پدې کښې درې مذهبه دي
والخليل بن احم وهواستاذ سيبويه: تعين دخليل کوی **يختارالرفع مع تجويزه النصب**: اول
دفع اعتراض . دويم دليل. **اعتراض:** يختار کله په معنی دوجوب سره راځي. نو مطلب
دا شو چې رفع پکښې واجبه ده نو ته ولې وائي چې ترفع وتنصب ؟ **جواب:** دې جواب
کوی چې يختار په معنی د راجح سره او نصب پکښې هم جائز دي
لان المعطوف: دويم دليل. يازيد والحارث کښې والحارث دا په حقيقت کښې
منادی مستقله ده نو داسې شوه چې يا پرې وی نو منادی مفرده معرفه ده نو منادی
مفرده معرفه مبنی وی په ضمې سره نو دا هم مبنی شوه په ضمې سره چونکه ياء حرف
نداء ورسره نشته دي نو دغه بناء په ضمه سره مونږه اعراب بالرفع وګرځولو مطلب
دادي چې يازيد مبنی شو او الحارث معرب شو دخليل په نزد معرب دي نو ځکه وائي
چې رفع پکښې غوره ده. **وابو عمرو ابن العلاء النحوی القاري المقدم على الخليل**: مراد
دتقدم نه زماني تقدم دي. اول تعين دابو عمرو کوی. دويم اشاره ئې وکړه قاعدې
دعطف ته متن داسې دي وابو عمرو النصب . النصب عطف دي په پورته الرفع باندې
نو دا لرفع نه چې مخکښې کوم عبارت دي هغه دلته هم راوباسی ځکه کوم شی چې
مراد وی په معطوف عليه کښې هم هغه شی معطوف کښې هم مراد وي
يختار فيه الرفع مع تجويزه النصب: اول دفع داعتراض ، دويم دليل د اعتراض،
اعتراض: هغه دا چې يختار کله په معنی دوجوب سره راځي الخ **جواب:** يختار په
معنی دراجح سره دي **فانه لما امتنع تقدير حرف النداء**: دې سره دليل ذکر کوی يا زيد
والحارث باندې ياء نشی داخليدې ځکه بيا جمع راځي په مابين دآلتينو، دتعريف
کښې چې لام او ياء ده نو منادی مستقله نشوه بلکه خالصه تابع وګرځيده نو زيد مبنی
دي او محل ئې دنصب دي نو دي هم منصوب دي **وابوالعباس المبرد**: تعين
دابوالعباس کوی دې وائي چې که دا معطوف پشان دحسن يعنی الف لام ورنه لرې

کيدي شو بيا دخليل ملګري يم يعنی رفع پري بهتره ده ځکه دا يله مستقله منادی شی او نصب پري جائز دي او که چيرته ددغه معطوف مذکوره نه لام نه شو لري کيدي يعنی الف لام ورسره وضعاً راغلی وو نو بيا دابو عمرو ملګري يم يعنی نصب پکښی بهتر او رفع پکښی جائز ده.

ای کاسم الحسن: اول دفع داعتراض دويم وجه دشبه. **اعتراض**: ته وائی چی دا معطوف مذکور پشان دحسن وو نو حسن خو دسړي نوم دي او معطوف خو لفظ دي نو دا معطوف خو پشان دهغه سړي نه دي. ډي جواب کوی چی دامعطوف مذکور پشان داسم حسن دي په جواز دلري کيدلو دلام کښی چی لام ورنه لري کيدي شو. **ای فابو العباس مثل الخليل**: اول دفع داعتراض هغه دا چی ابو العباس دا خو صورت دخليل پشان ندي جواب فی اختيار رفعه او دا وجه دشبه هم شوه کوم چی دويم غرض دي. **والا ای وان لم يكن**: اول معنی د الا . دويم دفع اعتراض ذکر کوی. **والمضافة عطف علی المفردة**: اول تعين دمعطوف عليه، دويم اشاره کوی قاعدي دعطف ته . دريم يو قيد لګوی، اول خبره: المضافة عطف دي په علی المفردة باندي او توابع المنادي دي سره اشاره وشوه قاعده دعطف ته، بالاضافة الحقيقة دا دريم غرض چی قيد دي مضاف به وي په اضافت حقيقی سره ځکه که مضاف په اضافت حکمی سره وی نو بيادا منادی مستقله نده نو ځاتته تنصب به نه وي بلکه ترفع بيا هم راتلی شی.

تنصب لا نها اذا واقعت: اول دليل، دويم توضيح بالمثال . مثل ياتيهم کلها فی التاکيد سره دويم غرض ذکر کوی. **والبدل والمعطوف غير ماذکر**: حکم د دوي دمنادی مستقلی دي. **ای غير المعطوف**: تعين دغير ما ذکر کوی. **حکمه ای حکم کل واحد**: سره دفع اعتراض هغه دا چی حکمهما پکار وو ځکه مخکښی يو بدل او بل معطوف ذکر کوو. ؟ **جواب**: ضمير په حکمه کښی هر واحد ته راجع دي **حکم المنادی المستقل ، الذی باشره حرف النداء**: اول معنی دمستقل په ذالك سره دليل ذکر کوی

مطلقاً: ای حال کون کل واحد منها ، اول وجه دنصب دمطلقاً ذکر کوی، دويم معنی دمطلقاً .دريم بالمثال ، اول غرض. مطلقاً منصوب دي ځکه دا حال دي ضمير نه چی مضاف اليه دي.

ای سواء کانا مفردین: دي سره معنی دمطلقاً ذکر کوی. **فالبدل**: سره توضیح بالمثال کوی او بدل اودمعطوف غیر ماذکر حکمه دهر یو دپاره څلور څلور مثاله راوړي. **والعلم ای العلم المنادی**: اول بیان دقیدینو کوی، دویم دفع داعتراض، ای العلم المنادی سره قید اول او المبنی علی الضم سره قید ثانی ذکر کوی أما کونه، دي سره دفع داعتراض هغه دا چې دا دوه قیده دي دکوم ځای نه راوویستل ، دي په واما کونه سره جواب کوی. **الموصوف بابن مجرد عن التاء**: اول دفع اعتراض، دویم بیان دیو قید ، دریم دفع داعتراض، څلورم دفائده دهغه قید ، **اعتراض**: ته وائی موصوف به وي په ابن سره زه به درته وښایم چې موصوف به نه وي په ابن سره بلکه موصوف به وي په ابنة سره او حکم به ئی دا وی، ؟ **جواب**: ابنة ملحق د ابنّ دي .

بلا تخلل واسطة بین الابن وموصوفه: دي سره دویم غرض بیان دقید وشو، **کما هوالمتبادرالی الفهم**: دي سره دریم غرض دفع داعتراض. هغه دا چې دا قید دکوم ځای نه راوویستلو ، ؟ **جواب**: دا متبادر دفهم نه چې دموصوف او صفت په مابین کښې فصل ندي جائز ، **فیخرج عنه**: سره څلورم غرض فائده دقید ذکر کوی چې خلل او فصل راغلی په دغه موصوف بابن کښې نو بیا به فتحه واجب وی. **مضافاً**: ای حال کون، وجه دنصب دمضافاً ذکر کوی چې دا منصوب دي بناء برظرف زمان. **الی علم اخر فکل علم**: دي سره توطیه او تمهید ذکر کوی متن ته ځکه ته وائی یختار فتحه نو دینه معلومیږي چې بل قول هم شته.

یختار فتحه لکثرة وقوع المنادی: اول دلیل، دویم دفع اعتراض **اعتراض**: مونږه اوریدلی دي چې اخف الحرکة خو کسره ده ځکه الساکن اذا حرك الخ . **جواب**: کسره خو خفیفه ده خو دا منادي مفرده معرفه او ددي اعراب محلی هغه نصب دي بنابرمفعول به نوځکه مو منصوب کړه .**واذا نودی المعرف باللام ، ای اذا ارید**: غرض دماتن په اذا نودي سره دفع داعتراض ده هغه دا چې تا مخکښې ووئیل چې یا او الف لام نه جمع کیږي نو چه یو شی معرف باللام وی او ندا ورته کوی نو څه به کوی، **جواب**: دحرف ندا لکه یا شوه او دمنادی په مینځ کښې به فاصل راوړي لکه یا ایها الرجل .

ای اذا ارید: نو دا صیغه دماضی مجهول ده چې کله آواز وکړي شی بیا څه له

یاایها الرجل وائی **جواب:** نو دا فعل اختیاري دي او هر فعل اختیاری نه مخکښی اراده پته وی **مثلاً یا ایها الرجل:** شارح قید دمثلاً راوویستلو لپاره ددفع دتوهم چی دا به خاص وی په رجل پوري دي وائی نه په مؤنث کښی هم راتلی شی **والتزموا:** غرض دماتن دفع اعتراض هغه دا چی تا وویل چي توابع دمنادی مفرده معرفه دا به ترفع او تنصب وی نو په ایها الرجل کښی ای حرف منادی دي او الرجل تابع دي پکار ده چی ترفع او تنصب شی سره ددینه چی دا به صرف مرفوع وی؟ **جواب:** ځکه مقصود باالنداء هغه رجل دي او منادی مفرده معرفه مبنی وي په ضمي سره نو الرجل دا مونږه مرفوع کړو دپاره ددي چی موافقت دحرکت اعرابیه راشی دحرکت بنائی سره.

لانه ای الرجل: دي سره مرجع دضمیر (ه) ذکر کوی، **فالتزم:** سره اتمام د دلیل کوی کوم چی مخکښی ذکر شی **وهذا بمنزلة المستثنی :** دي سره دفع داعتراض کوی هغه دا چی مخکښی دي ویل چی توابع دمنادی دا ترفع او تنصب وی او دلته داسي او ترفع او تنصب ندي **جواب:** دا په منزله دمستثنی دي دمخکښی قاعدي نه، معنی دا چی مخکښی یوه قاعده راشی او دهغی نه یو جزء مخالف راشی نو دا جزء مخالف دي، دي وجی نه مصنف هلته داسي ونه ووئیل چی وتوابع المنادی الخ ترفع وتنصب الاالصفة المبهم.

وتوابعه: تابع ددغه رجل به هم مرفوع وی **بالجر عطف:** دي سره تعین دمعطوف علیه کوی چی الرجل دي **والتزموا رفع:** دي سره قاعدي دعطف ته اشاره کوی چی کوم شی په معطوف علیه کښی مراد دي هغه په معطوف کښی هم مراد دي **نحو یا ایها الرجل ویا ایها الرجل ذو المال:** دي سره مثالونه ذکر کوی اول مثال دهغه تابع دی چې مفرد وی او ثانی چی مضاف وی **لانها توابع منادی معرب:** دي به مرفوع وی او منصوب به نه وی ځکه دا تابع دمنادی معربی دي او جواز دوجهین په تابع دمنادی مبنی کښی دي **وقالوا یا الله خاصة:** غرض دماتن دفع داعتراض هغه دا چی تا مخکښی ووئیل چی کوم شی معرف باللام وی نو یا پري نه داخلیږي زه به درته وښایم دلام اویاء په مینځ کښی به فصل هم نه وی او راغلی به وی یو ځای؟ **جواب:** دا یا الله خاص دي ګویا کښی دا هم په منزله مستثنیٰ دي.

بناء علی قاعدة: شارح قاعده ذکر کوی چی اجتماع دالف لام او دیا حرف ندا دا جائز دي خو چی الف لام لازم وی دکلمی سره او بل دا چی الف لام عوض وی دمحذوف نه **لان اصله الا اله:** سره اول غرض اثبات دامرینو، دي سره اصل دلفظ الله ذکر کوی چی اصل یا الاله ثانی همزه حذفه شوه او الف لام عوض وګرځیدو دهمزي او لام په لام کښی مدغم شو او الف لام په عوض کښی راوړل شول **ولما لم یجتمع:** دي سره دویم غرض توطیه او تمهید متن ته ذکر کوی هغه دا چی دا امرین په غیر دلفظ دالله ﷻ نه بل ځای کښی نه وو جمع شوي نو دغه جواز داجتماع دیاء او دالف لام په دغه اسم پوري خاص شو،

واما النجم والصعق: سره دفع داعتراض ده هغه دا چی زه به درته وښایم چی لازم به وي دکلمی سره او جواز داجتماع به نه وی ؟ **جواب:** دلته اګرچه لام لازم دکلمی سره دي لیکن عوض ندي دمحذوف نه **واما الناس:** دي سره دفع داعتراض ده هغه دا چی زه به درته وښایم عوض به وي لام دمحذوف نه او (یاء) به ورسره نه جمع کیږي لکه الناس اصل کښی اناس وو همزه حذفه شوه او عوض کښی الف لام راوړل شول ؟ **جواب:** دلته اګرچه لام عوضی دي خو لازم الکلمة ندي **ولعدم جریان:** دریم خبره دفع داعتراض. هغه دا چی زه به درته وښایم چی لام به عوضی نه وي لازم الکلمة به وي او دخول دیاء به پري راغلی وي لکه یا التی پدي شعر کښی:

من اجلک یا التی تیمت قلبی

جواب: دا قاعده پکښی نده جاري او نحاتو دیته شاذ وویلی دي **وفی الغلامان:** سره دفع داعتراض ده هغه دا چی زه به درته وښایم چی لام به نه وی عوضی او نه به لازم الکلمة وی او دخول دیاء به پري شوي وي لکه پدي شعر کښی:

فیا الغلامان اللذان فرا: ایاکما ان تکسبان شر

جواب: دا اشذ شذوذاً دي

ولک ای وجاز لک: دي سره معنی د ولك ذکر کوی. **ای فی ترکیب:** سره قاعده کلیه ذکر کوی چی هر هغه ترکیب چی په هغی کښی تکرار دمنادی مفردي معرفی صورة شوي وي او دثانی سره نزدي یو اسم مجرور وی چی مضاف وی منادی اولی ته نو په اوله کښی ضمه او نصب دواړه جائز دي او په ثانی کښی نصب فقط **اما الضم فی**

الاول: اول بیان د دلائلو دویم بیان د اختلاف . دریم تتمیم دشعر . څلورم تعین دشاعر . پنځم معنی دشعر اول غرض په اوله منادی کښی ضمه ځکه جائز ده چی منادي مفرده معرفه ده او نصب ځکه جائز دي چی اضافت نی شوي دي عدي مذکور ته نو منادی مضافه شوه نو دا خو منصوب وی او ثانی منادی کښی نصب متعین دي ځکه ثانی منادیٰ یا خو تابع ده دمضاف چی منادی اوله ده هغه منصوب وه نو دا هم منصوب شوه او یا دا په خپله تابع مضاف ده نو منادی مضافه شوه نو ځکه منصوب ده فقط .

وذلک مذهب سیبویه: دي سره دویم غرض بیان د اختلاف کوم چی ذکر شو دا مذهب د سیبویه دي . دویم امام مبرد دي . دي وائی چی منادي اوله به مضاف وی عدي محذوف ته نو تقدیر دعبارت داسي شي یا تیم عدي تیم عدي . دریم مذهب صیرافی دي . دي وائی چی فتحه هم جائز ده دنصب په ځائی په منادی اوله کښی دوجه د اتباع دنصب دمنادی ثانی ، **وتمام البیت:** سره دریم غرض تتمیم دشعر کوی . **والبیت لجریر:** سره څلورم غرض تعین دشاعر کوی چی دا شعر په مقابله د عمر تیمی کښی جریر وئیلی دي

لا تترکوا عمر: سره پنځم غرض معنی دشعر کوی چی ای بنو تمیم تاسي عمر مه پریږدي چی زما بد بیان کړي ځکه بیا به زه ستاسي بد بیانوم . **والمنادی المضاف الی یاء المتکلم:** هغه منادی چی مضافه وی یاء دمتکلم ته نو په هغی کښی څلور وجوه جائز دي اول فتحه دیاء لکه یا غلامیَ . دویم سکون دیاء لکه یا غلامیْ ، دریم اسقاط دیاء او اکتفاء په کسري دماقبل خو چی کله کسره وی په ماقبل دیاء که کسره نه وه په ماقبل دیاء نو اسقاط دیاء ندي جائز لکه یا فتایَ څلورم قلب دیاء په الف سره لکه غلاما **وهذان الوجهان یقعان:** اول فرق ،دویم دلیل، دریم دفع داعتراض ،څلورم تتمیم دمافات. دا آخرنی دوه وجهی اکثر واقع کیږي په نداء کښی

لان النداء: دي سره دلیل ذکر کوی. **وهما ای هذان الخ..:** دي سره دریم غرض دفع داعتراض ده هغه دا چی زه به درته وښایم چی منادی مضافه به وی یاء دمتکلم ته او دا دوه آخرنی وجی به پکښی نه وی جائز لکه یا عدوی اویا عدوا ، **جواب:** دا دوه آخرنی وجی په هره منادی کښی نه دي جایز بلکه په هغه منادی کښی چی اضافت یاء دمتکلم

ته مشهور وی او دلته مشهور ندي. **وقد جاء شاذاً فی المنادیٰ**: دي سره څلورم غرض تتميم دمافات دماتن کوی چی حذف دالف او اکتفاء په فتحه دالف سره جائز ده په غلام کښې خودا شاذ دي.

ويكون ای المنادیٰ: سره شارح تعين دضمير کوی چی راجع دي منادی مضاف الی یاء المتکلم ته. **وقفا ای فی حالة الوقف**: اول وجه دنصب دوقفا ذکر کوی چی دا منصوب دي بنابر ظرفيت، او دريم غرض بيان د امثله ؤ کوی. **وقالوا یا ابی ويا امی**: سره غرض دفع اعتراض، هغه دا چی ستا په کلام کښې تکرار دي ځکه دا خودي مخکښې وويل چی غلامی کښې څلور وجوه جاري کيږي، اويا ابي او امی خو هم په شان دغلامی دي نو بيا دي دا څه دپاره ذکر کړل؟ **جواب**: زما مقصد داندي چی دا څلور وجوه پکښې جاري کيږي بلکه پديکښې دوه وجوه نور هم جاري کيږي **فتحاً وکسراً ای حال کون التاء مفتوحة**: اول وجه دنصب ددي فتحاً او کسراً ، دويم دليل ، دريم تتميم دمافات دماتن کوی، څلورم دفع داعتراض، اوله خبره: فتحاً اوکسراً دا منصوب دي بناء برحاليت او حال دي ديابت او یاامت کښې دتاء نه او تاء دا مفعول به واقع ده دقالوا دپاره

مفتوحة علی وفق: سره دليل ذکر کوی چی مفتوح به ئی وائی چی موافق شی دحرکت دياء سره او مکسور ئی هم وئيلی شی دوجی دمناسبت دياء نه. **وقد جاء الضم**: دي سره دريم غرض تتميم دمافات ذکر کوی هغه دا چی ضمه هم په ابت او یاامت باندي وئيلی شی ځکه دا قائم دي په مقام دمنادی مفردي معرفی او منادی مفرده معرفه دا مبنی وی ضمی سره نو دا به هم مضمومه وی. **ولم يذكر للقلة**: دا دفع داعتراض ده هغه دا چی دا دضمی صورة ماتن ولی ندي ذکر کړي. ؟ **جواب**: استعمال ئی قليل دي په کلام دعربو کښې

وقالوا يا ابن عم الخ هذا الاختصاص: دي سره غرض دفع اعتراض هغه دا چی دا خاصة وويلی صحيح ندي ځکه يا بنت ام هم وئيلی شی لکه څنګه چی يا ابن ام وويلی شی؟ **جواب**: دا اختصاص په نظر سره ام او عم ته دي چی دا نه شی بدلولی او د ابن په ځائی بنت وويلی شی.

ولما كان من خصائص النداء الترخيم شرع في بيانه

دي سره توطيه او تمهيد ذكر كوى دمتن آتي دپاره. **جائز اى واقع**: سره غرض معنى دجائز چې دا په معنى دواقع سره دي او غرض پكښې دفع داعتراض ده هغه دا چې جواز مترادف د امكان دي او متبادر دامكان نه امكان خاص دي او ديكښې سلب دضرورة راغلى وي دجانبينو نه نو معنى دا شوه چې نه ئې ترخيم او نه ئې عدم ترخيم ضروري دي او حالانكه په ضرورة شعري كښې ضروري دي

اعتراض من الخارج: چې جواز په معنى دامكان عام سره دي نو د امكان عام نه خو تعبير په لا يمتنع سره كيږي نه په واقع سره؟ **جواب**: لا يمتنع دا لازم دي دجواز سره نو چې جواز يې راغلو نو بيا به يا ضروري وى او يا نه **وهو في غيره اى غير المنادى**: سره تعين دضمير كوى، اعتراض په متن: شارحه تا مخكښې وويل چې ترخيم دا خو دخواصو د منادى څخه دي او دلته ماتن وائي چې وهو غير المنادى، نو تعارض راغى؟ **جواب**: دا خاصه دمنادى ده خو په غير ضرورت كښې او ضرورت كښې په بل ځاى كښې هم موجود يدى شى، او يا جواب دادي چې خاص په معنى دكثرت سره چې كثير دي ترخيم په منادى كښې.

ضرورة: اول وجه دنصب، دويم معنى دضرورت. **اى لضرورة**: سره اول غرض چې ضرورة منصوب دي ځكه دا مفعول له دي دپاره دترخيم. **لضرورية شعرية**: سره دويم غرض چې دضرورة معنى ضرورت دي چې هغه داعى ددغه ترخيم دي. **اعتراض**: قاعده داده چې عامل دفعل او دمعلل له دا يو وى لكه ضربت زيداً تاديباً دلته دضرب عامل هم (تُ) ضمير دي او دتاديب عامل هم (تُ) دي او دلته عامل دجواز هغه ترخيم دي او عامل دضرورة هغه شاعر دي. ؟ **جواب**: دا مفعول له دي دپاره دفعل دترخيم او ترخيم دا مصدر دي او مصدر چې كله عامل وى نو هغه مؤل دي په تاويل د انْ مع الفعل سره نو تقدير داسي شو چې ان يرخم المنادى ضرورة نو عامل په منادى كښې او په ضرورة كښې ان يرخم يعنى عامل ئى يو شو.

وهو اى ترخيم المنادى: دي سره تعين ضمير كوى. **حذف في آخره اى**: دي سره هم تعين دضمير كوى، **اى لمجرد التخفيف**: اول وجه دنصب دتخفيفاً چې دا مفعول له

دي. دويم دفع داعتراض ، دريم دفع داعتراض. څلورم جواب اخر **لا لعلة اخرى:** تعريف كښې دي محذوفات قياسيه داخل شول ځكه ددوي په آخر كښې هم حذف راغلى وى لتخفيف لكه قاضٍ ؟ **جواب:** حذف به ئې په آخر كښې راغلى وي دپاره دتخفيف خو نه دقاعدي دوجې نه او محذوف قياسي كښې خو دقاعدي دوجې نه راغلى وي

فعلى هذا يكون الخ.. دي سره دريم غرض دفع داعتراض هغه دا چې تعريف دترخيم دمنادى كښې دي مطلق ترخيم داخل شو ځكه دمطلق ترخيم هم دا تعريف دي اويا اعتراض داسې دي چې دمطلق ترخيم تعريف راته وكړه ؟ **جواب:** ترخيم مطلق قياساً دترخيم دمنادى نه معلوميږي **ويكمن حمله:** دي سره څلورم غرض جواب آخر هغه دا چې دا مذكوره تعريف دمطلق ترخيم دي چې وهو ضمير راجع كړي مطلق ترخيم ته او في آخره كښې ضمير راجع كړي اسم ته نو معنى داشوه چې مطلق ترخيم دا حذف دي په آخر داسم كښې

وشرطه: يو غرض ذكر داحتمالين په مرجع دضمير كښې چې شرط دپاره دترخيم دمنادى يا شرط دپاره دمطلق ترخيم خو كله چې په منادى كښې واقع شي **امور اربعة:** سره اجمال ذكر كوى **حقيقتاً او حكماً:** اول خبره دا چې دا اضافت عام دي حقيقتاً وى او كه حكماً **فدخل فيه:** سره فائده دتعميم ذكر كوى **اذ لا يكمن:** دريم غرض دليل دي هغه دا چې ترخيم كه په منادى كښې وى دا به مضافه نه وى ځكه كه حذف په مضاف كښې كوى نو په اعتبار دمعنى سره حذف په وسط دمنادى كښې راځي او كه حذف دمضاف اليه په آخر كښې كوي نو په اعتبار دلفظ سره خو مضاف اليه جدا كلمه ده

وان لا يكون مستغاثا لا مجروراً: اول دليل .دويم دفع داعتراض. اول خبره : منادى مستغاثه كښې ترخيم ځكه نشي كولى كه مجروره باللام وى نو پدي كښې خو اثر دندا چې چې نصب او ضمه ده نشته نو خواص دمنادى چې ترخيم دي دا به پكښې ثرنګه راشي ، ار كه مستغاثه بالالف وى نو هغې كښې خو زيادت دالف راغلى او زيادت منافي وى دحذف سره **ولم يذكر المندوب:** اول دفع داعتراض . **اعتراض:**

مانته؛ ستا کلام کښې نقصان دي داسې به دي هم ووئيلي وو چې وان لا يكون مندوباً
جواب: مندوب داخل ندي په منادی کښې او په بعضو نسخو کښې چې راغلی هغه غلطی دکاتبانو ده او که په منادی کښې که بالفرض داخله شی نو په مندوب کښې زيادت دالف وی دپاره دمدالصوت او زيادت او حذف منافی وی.

وان لا يكون جملة: دا منادی به جملة نه وی ځکه که جمله کښې ترخيم وکړي نو هغه قصه باندي بيا دلالت نه کوی لکه تابط شراً **والشرط الرابع:** سره اول توطيه او تمهيد، دويم دليل، دريم دفع داعتراض **لانه لعلميته:** سره دويم غرض دليل ذکر کوی. **بلا علة موجبة:** سره دريم غرض دفع داعتراض ده زه به درته وښايم چې دوه حرفه به پکښې وی او معرب به وي ؟ **جواب:** دلته دوه حرفه دوجې د قاعدي څخه دي. **واما اسماً:** سره يو غرض موصوف ئې ذکر کړو چې اسماً او بل متعلق دبتاء التانيث ئې ذکر کړو چې همدا اسماً دي.

لان وضع التاء: دي سره اول دليل ذکر کوی، دويم دفع اعتراض، دريم هم دفع داعتراض. لان وضع التاء سره دليل ذکر کوی، **ولم يبالوا:** سره دويم غرض دفع اعتراض ده هغه دا چې واما بتاء التانيث سره به دي هم چې زائدا على الثلاثة ځکه چې دا تاء زائده چې حذفه شی نو قدر صالح دکلمې به ختم شی، يا اعتراض دادي چې ثبة او يا شاة ديوکس نوم وګرځوه او عند النداء دا تاحذف کړي نو معرب باقی پاتی کيږي په حرفينو باندي ؟ **جواب:** که دا تاء وی او که نه نو دا اسمين به باقی وي په حرفينو باندي ځکه تاء دا خو کلمه ده ځانته **ولا يرخم لغير ضرورة:** دي سره غرض دفع داعتراض ده هغه دا چې زه به درته وښايم دغه شروط مذکوره به په منادی کښې نه وی او ترخيم به پکښې شوي لکه يا صاح په ياصاحب کښې ؟ **جواب:** داسې واقعې شاذ وی.

ولما فرغ من بيان شرائط الترخيم

دي سره توطيه او تمهيد دمتن دپاره ذکر کوی دلته دوه قاعدي دي يو دا چې فان فی اخره زيادتان فی حكم الواحدة او دويمه دا چې او كان حرف صحيح فی آخره وقبله مدة. نو حذفتا دا ئې حكم دي **ای آخر المنادی:** دي سره تعين دضمير داخره کوی، **كائنتان:** دي سره شارح متعلق دفی حكم وښودلو **فی انهما زيد تامعاً:** سره

غرض اول معنی دحکم واحد ، دویم فائده ددي اول غرض زید تامعاً سره وشوه چی یو ځای زیاتی کړي شوي وي ، او واحترز به سره فائده ذکر کوی چی په ثمانیة او مرجانة کنبی اول یا نون زیات شوي بیا تاء وروسته زیاتی کړي شوي نو لهذا صرف حرف اخیر چی تاء ده دا به حذف کیږي **اذ جعلتها فعلاء** : دفع اعتراض، دویم اشاره اختلاف ته. اعتراض مثال دي مطابق نشو دممثل سره ځکه اسماء دا خو دقاعدي ثانی مثال دي اوستا غرض د اولی قاعدي مثال دي ؟ **جواب**: دا د اولی قاعدي مثال دي چی کله دا دفعلاء په وزن وی د وِسامة نه په معنی دحسن سره لکه څرنګه چه مذهب دسیبویه دی او دا چی دا فعالاً په وزن سره شی چی جمع داسم شی لکه دا مذهب دبعضو دي نو دا به بیا دقاعدي ثانی مثال شی، دي سره بیان د اختلاف چی دویم غرض هغه هم وشو.

او كان فی آخره: دي سره معطوف علیه ذکر کوی. **صحیح اصلی**: اول دفع داعتراض ، دویم هم دفع داعتراض ، دریم دفع داعتراض : اول غرض دفع داعتراض: قاعده : یو حرف صحیح دي حرف علت نه وی او بل حرف اصلی دي چی په مقابل د (ف ع ل) کنبی وي نو اعتراض زه دا کوم زه به درته وښایم چی حرف صحیح به وي او مخکنبی به ترینه مده وی او حکم به ئی حذفتا نه وی بلکه صرف حرف صحیح به حذف کیږي لکه سعلاة ؟ **جواب**: مراد دحرف صحیح نه اصلی دي اودلته تاء زائده ده اصلیه نده.

لتبادره الی الذهن: دي سره دفع داعتراض : هلکه دا قیود چی صحیح او اصلی دي دکوم ځای نه راوویستل ؟ : **جواب**: ځکه متبادر دحرف صحیح نه اصلی وي. **وهو اعم**: دي سره هم دفع داعتراض ده، هغه دا چی زه به درته وښایم چی حرف صحیح به ئی په آخر کنبی نه وي بلکه حرف علت به وي او سره ددینه حکم به ئی حذفتا وی لکه مدعُو او مرمیّ کنبی ؟ **جواب**: دا صحیح عام دي که حقیقتاً وي لکه منصور او که حکماً . حکماً دا معنی چی حرف علت وی او ماقبل حرکت دده موافق وی لکه مدعو اومرمی کنبی.

قبله مدة ای الف: اول تعین دمده، دویم دفع داعتراض ، اول خبره تعین دمده، نو هغه ای الف او واو او یاء سره اول غرض وشو. **والمرادبها**: دویم دفع داعتراض ، زه به درته وښایم حرف صحیح به په اخر کنبی وی او قبله مده به هم وی او حذفتا به نه وي

لکه مختار؟ **جواب:** مراد دمده نه مده زائده دي او مختار کښې الف بدل عن الياء راغلی. **وهواى والحال:** اول تعين دضمير کوی چې مافي آخره حرف صحيح ته راجع دي او دويم غرض تعين د واو کوی چې دا حاليه دي **اكثر من اربعة:** اول بيان دمثال ، دويم دليل، دريم دفع داعتراض، اول خبره : منصور عمار مسکين ، دا اول غرض شو دري مثاله ئې ځکه راوړل چې حروف مده دري دي.

لئلا يلزم: دويم خبره : هغه دا چې دليل ذكر كوی. **وانما لم ياخذ هذه القيد:** دريم خبره هغه اعتراض : **اعتراض:** دا قيد داکثر من اربعة به دي اوله قاعده کښې هم لګولی وي ؟ **جواب:** په قلون او ثبون کښې دا قيد ونه لګولو ځکه دلته بقاء دکلمې په حرفينو باندې دوجې دترخيم نه نده که دا زائد تان وی هم نو ثبون او قلون على حرفين دي ځکه واو نون خو جدا کلمه ده . **اى الحرفان الاخيران:** اول بيان دضمير كوی، دويم دليل ذکر کوی داما الاول سره، **ويعلم:** سره دفع داعتراض مخکښې دي ووئيل چې منادي مرخمه به جمله نه وی او اوس وائی وان كان مركبا نو مرکب خو جمله وی؟ **جواب:** دا به مرکب اسنادی او اضافی نه وی بلکه مرکب ناقص به وی.

فيقال: سره تطبيق دمثال دممثل سره کوی، **لنزوله منزلة:** دليل ذكر كوی، **وان كان غير ذلك المذكور:** دفع داعتراض، مخکښې دري قواعد ذکر دي او تا ذلك اسم اشاره دمفرد ولی راوړه؟ **جواب:** دا په اعتبار دمذکور سره. **فيحذف حرف واحد:** دفع داعتراض، دويم دليل ذكر كول دي، **اعتراض:** وانكان في غيره دا شرط دي او حرف واحد دا ورلره جزاء ده او جزاء جمله وی او حرف واحد موصوف صفت دي جزاء دجملې دي؟ **جواب:** دلته دا جزاء واقع ده خو فعل ئې حذف دي چې يحذف حرف واحد دي . **لحصول الفائدة:** سره دويم غرض دليل ذكر كوی. **بجميع اجزائه:** سره معنی دمنادی ثابتی ذکر کوی چې منادي مرخمه دا په حکم دمنادی ثابتی کښې ده ګويا ترخيم پکښې ندي شوي نوقبل الترخيم چې کوم اعراب پري وو نو اوس به هم په هم هغه حال وی لکه يا جارية يا حارث کښې مثلاً. **وقد يجعل:** اول تعين دقد، دويم تعين دمرجع نو قد دپاره دتقليل دي او يجعل کښې ضمير منادی مرخمی ته راجع دي، **كانه لم يحذف:** سره معنی د اسما براسه ذکر کوی چې دا منادی مرخمه به منادی

مستقله وی او اعلال او عدم اعلال او بناء دا په نفس منادي مرخمه کښې کولی شی نو یا حارُ به وائی په یا حارث کښې څکه یا حارُ منادی مستقله شوه نو منادی مفرده معرفه ده مبنی علی الضمة به وي.

وقد استعملوا یعنی العرب: اول تعین دضمیر ئې وکړو، هر کله چې فارغ شو مصنف د تعریف او داحکامو دمنادی نه نو دماتن په نزد مندوب داخل نه وو په منادی کښې او دشارح په نزد داخل وو نو بهر حال دمنادی دبحث نه وروسته ئې راوړو. **یعنی یاء خاصة:** سره دفع داعتراض هغه دا چې اضافت دصیغه شوي دي نداء ته نو که دا اضافت عهدي وی نو فاین المعهود څکه صیغه دنداء خو معهوده نده او که اضافت استغراقی وی نو معنی دا شوه چې عرب صیغې د نداء ټولې استعمالوی په مندوب کښې او حالانکه دا خو دروغ دي. ؟ **جواب:** اضافت عهدي دي او معهود پدي سره یاء ده او معهود یاء څکه ده چې نور حروف دندا نه صحیح کیږي په مندوب کښې **لانه لا یدخل علیه سواها:** دي سره دلیل ذکر کوی چې یاء ولې خاص ده په مندوب کښې

مندوب په لغت او اصطلاح کښې

والمندوب فی اللغة: سره یو غرض معنی لغوی او غرض پکښې دفع اعتراض هغه ده چې دا تعریف لغوی دي او که اصطلاحی دي که لغوی وی نو اصطلاحی څه شو او که اصطلاحی وی نو لغوی څه شو؟ **جواب:** ماتن تعریف اصطلاحی کړي او زه درته لغوی کوم **فالمفتجع علیه:** علیه کښې علی بنائیه دي په معنی دلام اجلیه سره او صله دمتفجع دپاره ندي **وجوداً اوعدماً:** دفع داعتراض ده هغه دا چې متبادر دمتفجع علیه نه عدمی دي لکه یو سړي مړ شی نو دا معدوم شو او چې تفجع دو جه نه دوجود دیوشی نه راشی نو هغه پکښې داخله نه شوه ؟ **جواب:** متفجع علیه عام دي عدمی وی او که وجودي

د تفجع اقسام

فالمتفجع علیه عدماً: دي سره قسمین دتفجع ذکر کوی، **فاحد شاملٌ:** دي سره رد په شارح رضی ذکر کوی هغه وویلی وو چې دا تعریف متفجع علیه عدمی ته یواځي شامل دي او وجودي ته نه؟ **جواب:** وشو چې علیه کښې علی اجلیه دي نو معنی دا شوه

چې تفجع کول دده دوجې نه بيا دا عام دي که موجود وي او که عدم، **واختص المندوب بوا:** تعين ضمير وکړو چې راجع دي مندوب ته دفع اعتراض او اعتراض بناء دي په يوه قاعده هغه دا چې په صله داختصاص او يا اقتصار کښې چې باء راشي دابه داخليږي په مخصوص عليه او مقصور عليه باندي لکه: نخص العبادة باالله او مجازاً دا باء داخليږي په مخصوص يا مقصور باندي لکه: نخص الله بالعبادة نو اوس اعتراض دادي چې اصل په باء کښې دادي چې دا داخليږي په مقصور عليه باندي نو په واختص بوا کښې معنی دا شوه چې مندوب به خاص وی صرف په (وا) پوري او مخکښې ده وويل چې وقد استعملوا صيغة النداء في المندوب نو کلام کښې تعارض راغلو

جواب: يو جواب دخارج نه دي هغه دا چې دلته باء داخله ده په مقصور مجازاً يعنی دا خاص دي په مندوب پوري ، **دويم جواب:** شارح کړي چې اختص په معنی دممتاز سره چې مندوب دا ممتاز دي په (وا) سره دمنادی نه ځکه واو خاص دي په مندوب پوري

ای مثل حکمه: اول دفع اعتراض دويم اجمال ، دريم دفع داعتراض، اول خبره: تا ووئيل چې حکم دمندوب حکم دمنادی دي نو يو شی خو دوو شيانو پوري نه شي متعلق کيدي **جواب:** حکم دمندوب په شان دحکم دمنادی دي **يعنی اذا وقع المندوب:** دويم خبره اجمال ذکر کوی، **ولا يلزم:** سره دريم خبره ذکر کوی چې هغه اعتراض دي، **اعتراض:** حکم دمندوب خو په شان دحکم دمنادی ندي ځکه مندوب نکره نه واقع کيږي او منادی نکره واقع کيږي ؟ **جواب:** مندوب چې کله واقع شی نو حکم به ئې دمنادی وی

ای التباس ذلک اللفظ: سره يوه قاعده ذکر کوی او هغه دا چې ته کله زيادت دالف وکړي او خوف دا التباس وی دغير سره نو دغه الف به په داسي حرف مده چې مجانس دحرکت د اخر دمندوب وی بدل کړي **اذا الميم اصله الضم:** سره دفع اعتراض هغه دا چې تا ووئيل چې الف به په موافق دحرکت اخر سره په مده باندي بدل کړي په وا غلاماه کښې خو آخرنی ميم ساکن دي او تا الف په واو سره بدل کړي واغلامکموه **جواب:** اصل کښې ميم مضموم وو

وجاز ذالك الهاء: سره ماتن دفع داعتراض کوی هغه دا چی تا ووئيل چی په آخر کښی به مجانست حرف راوړی نو هاء دکوم ځائی نه شوه دا خو مجانسه نده؟ **جواب**: هاء به په حالت دوقف کښی راوړي دپاره دبیان دحروف مده **من قسم المندوب الخ**... دفع داعتراض : تا وائی چی ولا يندب الا المعروف . زه به درته وښايم چی مجهول کښی به شوي وي لکه . واحسرتاه ؟ **جواب**: مراد دندبی نه په معدوم کښی ده او چی وجودي وی مندوب نو په معروف او مجهول دواړو سره ندبه کولی شی .

الذی اشتهر المندوب: سره معنی دمعروف ذکر کوی

یوه اهمه قاعده

وامتنع الالف: اول قاعده کليه، دويم فرق ، دريم دليل دفرق، اول خبره : قاعده کليه دا ده چی کله زيادت دالف په موصوف صفت کښی کيږي نو په موصوف پوري به الحاق دالف کيږي او په مضاف مضاف اليه کښی به دمضاف اليه پوري، **لان اتصاله بالصفة**: سره دويم خبره چی هغه فرق ذکر کول دي . **لا نه جزء به**: دريم خبره چی دليل دفرق ذکر کوی هغه داسي چی مضاف اليه راوړل شی لپاره د اتمام دمضاف ن مضاف اليه کا لجزء دمضاف نه شو او صفت دا راوړلی شی دپاره دتوضيح اويا تخصيص .

خلافاً ليونس فا نه: سره دليلين ديونس ذکر کوی، اول دليل عقلي دي هغه دا چی صفت موصوف اګرچه لفظاً اتصال ئی کمزوري دي ليکن معنوی اتصال ئی اشد دي دمضاف او مضاف اليه ن ځکه په خارج کښی مصداق دصفت او موصوف يو دي او دمضاف او مضاف اليه جدا دي. وحکی يونس سره دويم دليل نقلی ذکر کوی چی يو شاعر داسي ويلی دي چی :

واجمجمتی الشاميتيناه:

دلته ده الف په صفت کښی زيات کړي خو دده ددليلينو نه مونږ جواب کوو ، د اول دليل نه جواب دادي چی دصفت او موصوف په مابين کښی معنی اتصال شته خو نحاة بحث کوی دمعنی نه خو سره دلحاظ دلفظ نه او د دويم دليل نه جواب دادي چی دا شاذ دي. **ويجوز حذف حرف النداء**: لقيام قرينة سره شارح دليل ته اشاره وکړه ، **اذا كان مقارناً**: سره متعلق دمع ذکر کوی **ويعنی به ماکان لکرة**: دي سره دفع

داعتراض، رجل اسم جنس دي وګرځولو او بيا حين النداء ترينه حرف نداء حذف کړه نو حذف خو راغلی. ؟ **جواب:** مونږه هغه جنس يادو چې نکره دي او دا خو علم دمعارفو څخه دي. **لان نداءه:** دي سره دليل ذکر کوی چې حذف دحرف ندء داسم جنس نه ولی ندي جائز ، **اي ولا مع اسم الاشارة** : اول قاعده دعطف ، دويم دليل. اوله خبره : دا عطف دي په مع اسم الجنس باندي.

لانه کاسم الجنس: دي سره دليل ذکر کوی چې اسم اشاره داسم جنس په شان ده په ابهام کښې **والمستغاث والمندوب:** اول دليل بيانول، دويم دفع اعتراض ، **لان المطلوب:** سره دايل ذکر کوی. **سواء کان مع بدل عن:** اعتراض : زه به درته وښايم چې علم به وی او حذف د نداء به ترينه نه راځی اوکه راځی نو ميم مشدده ئی په عوض کښې راوړل شو نو اللهم شو او وجود دعوض دا داسي وی لکه وجود دمعوض؟ **جواب:** حذف دندابه ترينه راغلی وی برابره خبره ده که بدل اوعوض ترينه راغلی وي او که نه وی راغلی ، لکه اللهم او چې نه وی راغلی لکه يوسف ، خودا مذهب په لفظ ديا الله کښې دبصريانو دي خودي باندي اعتراض دادي چې د عوض او معوض په مابين کښې به جمع راغلی وي لکه لما صليت او سلمت يا اللهم يا اللهم؟ **جواب:** دادي چې دا شاذ دي.

او کوفيان وائی چې يا الله په اصل کښې الله امنا بخير. خو دا مذهب ضعيف دي ځکه الله ﷻ په قرآن کريم کښې دقريشو يوه بده دعاء نقل کړيده چې اللهم ان کان هذا هو الحق من عندك فامطر علينا حجارة. نو دا اللهم معنی د دوي په نزد داشوه چې يا الله امنا بخير، او وروسته قريش وائی چې فاطر علينا الخ. نو دا خو څه خير ندي، **ولفظة ایّ اذا وصف:** سره شارح قاعده کليه ذکر کوی چې کله لفظ دایّ موصوف وی په ذی اللام سره نو حذف دحرف ندا جائز دي لکه ايها الرجل . اويا موصوف وی په موصوف باللام سره لکه ايهذا الرجل. **فلا يجوز الحذف:** اول خلاصه ، دويم تتميم دمافات ذکر کوي، اول خبره : فلا يجوز سره خلاصه ذکر کوی **والمضاف:** سره شارح تتميم دمافات ذکر کوی.

وشذ فی اصبح ليل: سره ماتن دفع داعتراض کوی هغه دا چې تا وويل چې حذف دنداء دا ندي جائز داسم جنس نه، زه به درته وښايم چې حذف دحرف نداء به راغلی وي

لکه اصبح لیل، لیل اسم جنس دي ؟ **جواب**: دا شاذ دي. **ای صر صبحا یا لیل**: معنی دمتن ذکر کوی، دویم تصریح بالاعتراض ، دریم شان ورود **ای صرصبحاً**: دي سره معنی دمتن ، **حذف حرف النداء**: دي سره تصریح بالاعتراض ، **قالته**: دریم خبره شان ورود ددي قصي ، **وافتد مخنوق**: دي سره هغه اعتراض دي کوم چي په اصبح لیل کښي وو، **ای یا مخنوق**: دي سره تطبیق دمثال دممثل سره کوی، **قاله**: دي سره شان ورود دي متل ذکر کوی.

وقد یحذف المنادی: دي سره احتمالین ذکر کوی، دویم تطبیق دمثال کوی، **بتخفیف**: دي سره احتمالین ذکر کوی، **فان ان**: دي سره تطبیق دمثال کوی دممثل سره **الثالث من تلک المواضع**: دي سره بیان دثالث کوی دهغه مواضعو نه چیرته چي حذف دعامل دمفعول به واجب وي قیاساً **ای مفعول به**: دفع اعتراض، ما نافیه وائی او که ما مصدریه وائی که ما نافیه وائی نو عکس دمطلوب راځی او که ما مصدریه وائی نو اضمر به اضمار شی صفت دمتکلم به شی او مونږ خو بحث کوو دالفاظو نه ؟

جواب: (ما) موصوفه ده او عبارت دمفعول به نه **الشریطة والشرط واحد**: اول دفع داعتراض، دویم تعین داضافت، دریم هم دفع داعتراض، څلورم وجه دحذف اول غرض شریط دا مصدر دي او دا مصدر کله مبنی للفاعل وی او کله مبنی للمفعول وی که مبنی للفاعل شی نو معنی به ئی شارط شی نو دا خو صفت دمتکلم شو او مونږ بحث دالفاظو کوو او که مبنی للمفعول شی نو مشروط به شی مخکي علی شریط التفسیر داشرط وو دپاره دحذف دعامل ناصبه اوس به شروط وګرځی ؟ **جواب**: دا شریط په معنی مصدري سره دي **واضافتها الی التفسیر**: اضافت تفسیر ته دشریطة دا بیانی دي اضافت بیانی دیته وائی چي په مضاف او مضاف الیه کښي نسبت دعموم خصوص من وجه وي،

د استعلاء اقسام

بناء علی شرط: دفع اعتراض ، علی راځی دپاره داستعلاء او استعلاء په دوه قسمه ده حقیقی لکه زید علی السطح او حکمی چي دقرب او دجوار دوجي نه وی لکه

مررت بزيد. او دلته استعلاء نه حقيقي ده او نه حكمي ؟ **جواب:** دلته على داستعلاء دپاره نده بلكه دا بنائى دي مطلب دا چې حذف دعامل ناصبه دما اضمر عامله واجب دي دوجې دبناء نه په شرط دتفسير سره.

مفسر اقسام

وانما وجب حذفه: دي سره څلورم وجه دحذف دعامل څكه چې جمع به راشي په مابين دمفسَّر او د مفسِر كښې او دا نده جائز. **اعتراض:** زه به درته وښايم چې جمع به راغلي وى په مفسَّر او مفسِر كښې لكه اني رايت احد عشر كښې رايت مفسَّر دي او وروستو رايتهم لى سجدين ئى مفسِر دي او دواړه ذكر دي ؟ **جواب:** جمله مفسِره په دوه قسمه ده يو دا چې بعد دا تمام دمفسَّر نه راغلي وى هلته جمع نده جائز او دويم دا چې دپاره دا تمام دمفسَّر راوړل شوي وي نو دلته جمع بين المفسَّر والمفسِر جائز ده او تا چې كوم مثال راوړو دا دويم قسم دي

وهو: سره تعريف دما اضمر عامله ذكر كوى. **احترزبه:** سره فائده ذكر كوى چې بعده فعل او شبهه سره احتراز راغى دزيدٌ ابوك نه، څكه ابوك نه فعل او نه شبه فعل دي **ولا يريد به:** دي سره دويم غرض اعتراض، **اعتراض:** متبادر دبعديت نه اتصال دي او زه به درته وښايم چې فعل شبه فعل به متصل نه وي ددغه اسم سره او حكم به ئى دا وى لكه زيداً عمرو ضربه زيداً عمرو ضاربه.؟ **جواب:** مراد دبعديت نه اتصال ندي بلكه مراد دادي چې دا فعل به جزء وى دكلام نه او دلته جزء دي دكلام نه **عنه اى عن العمل:** سره معنى ذكر كوى چې مشتغل به وى دعمل كولو نه په دغه اسم كښې.

بضميره اى بالعمل: سره معنى دبضميره ذكر كوى **اى متعلق ذلك الاسم:** اول بيان داحتمالينو په ضمير كښې كوى چې دا راجع دي متعلق ددغه اسم ته او يا راجع دي متعلق دضمير ته **حاصله:** دويم غرض دفع داعتراض **اعتراض:** د اشتغال په صله باء راځي او تا عن راوړلي دي دا ولي ؟ **جواب:** اشتغال متضمن دي معنى دفارغ لره او دفارغ په صله كښې عن راځي نو دلته ئى څكه عن راوړي په صله داشتغال كښې دبهر نه پدي اعتراض، فارغ به دي وونيلي وي ؟ **جواب:** دا طريقه دبلاغت ده چې فعل يو راوړي او صله ورته دبل فعل راوړي نو فائده پكښې دا وى چې دواړه معانى اخستى


شی. دویم جواب دادي چې مشتغل دلته په معنی دمعرض سره دي.

لا بسبب آخر: دریم خبره دفع اعتراض: **اعتراض:** زيدٌ ضربته کښې زيد اسم نه پس ددینه فعل راغلی او مشتغل دي په ضمیر ددغه اسم کښې او سره ددینه حذف دعامل ئې واجب ندي؟ **جواب:** دا فعل به مشتغل وی ددغه اسم نه صرف دوجې دعمل نه په ضمیر ددغه اسم کښې اویا ئې په متعلق ددغه اسم کښې او تا چې کوم مثال راوړي، دي کښې فعل معرض دي داسم نه خود سبب آخر دوجې نه چې هغه ابتدائیت عامل دي پدغه اسم کښې. **لو سلط بمجرد رفع:** سره معنی او طریقه دتسلیط ذکر کوی. **ای احد الامرین:** سره دفع اعتراض، مخکښې امرین ذکر دي فعل، شبه فعل او تا ضمیر هو مفرد راوړي؟ **جواب:** احد الامرین چې مسلط نو هرواحد ته راجع دي. **ای ما يناسبه بالترادف او باللزوم:** سره قسمین د مناسب ذکر کوی.

ای لنصب احد هذين الامرين: بیان دضمایرو کوی چې نصب کښې ضمیر احد الامرین ته راجع دي،او (ۀ) اسم ته راجع دي **فبقيد الاشتغال:** دي سره فوائد دقیودو ذکر کوی. قید داشتغال سره په ضمیر یا په متعلق کښې ددغه داسم دي سره خارج شو زيداً ضربت، او قید دفراغ عن العمل فیه سره زيد ضربته ووتل ځکه مانع دعمل دضربته په زيدٌ کښې هغه يواځي اشتغال په ضمیر ددغه اسم کښې نه دي بلکه عامل معنوی هم مانع دي او په قید نصب بالمفعولية سره خبر د کان ووتلو لکه زيداً کنت اياه ځکه دا منصوب وی خو بناء برخبریت دپاره د کان.

وهٰهُنَا صور اربع: سره دفع اعتراض: هغه دا چې دتوضیح دممثل دپاره مثال واحده کافی وو او تا څلور امثله راوړي دي؟ **جواب:** ممثلات دا څلور دي اول چې مشغول وی فعل په ضمیر ددغه اسم کښې خو بعینه دغه فعل هم مقدر ګرځولی شی لکه زيداً ضربته دویم دا چې فعل مشتغل وی په ضمیر داسم کښې خو مناسب بالترادف ددغه فعل مقدر وګرځوی لکه: جاوزت . زيداً مررت به... نو جاوزت مناسب مترداف دمررت دي. دریم دا چې فعل مشتغل بالضمیر وی او تقدیر دمناسب باللزوم دفعل کولی شی لکه: لابست زيداً حبست عليه. څلورم دا چې فعل مشتغل وي په متعلق کښې سره دتقدیر دمناسب باللزوم دفعل نه. لکه اهنت زيداً ضربت غلامَه.

دمزید وضاحت لپاره دفعل او شبه فعل نقشه په راتلونکی صفحه کښی وګوره!



وقس علی الفعل شبه الفعل وابدل کلمة (ضرب) ب (الضارب)

والاحسن فی ترتیبها: څلورم غرض دفع داعتراض: اول به دي دفعل دري مثالونه په یو ځاي راوړي وي چی فعل کله مشتغل وی په ضمیر ددغه اسم کښی او بیا دي څلورم مثال داشتغال د فعل په متعلق کښی راوړي وي؟ **جواب**: دا زیداً ضربا غلامه او زیداً حبست علیه دا مشترك وو په باللزوم کښی اګرچه فرق ئی په اشتغال بالضمیر او بالمتعلق کښی شته نو دي وجی نه ئی په مثالونو کښی دترتیب لحاظ ونه ساتلو.

ثم ان الاسم الواقع فی مظان الاضمار: دي عبارت سره غرض توطیه او تمهید دمتن آتی دپاره ذکر کوی او غرض پکښی دفع اعتراض. هغه دا چی دماتن په عبارت کښی تضاد دي مخکښی ئی ووئیلی وو چی الثالث ما اضمر عامله الخ.. ینصب او اوس وائی چی یختار الرفع. **جواب**: یختار الرفع داد هغه اسم چی ماتن مخکښی ذکر

کړي وو حکم نه دي بلکه دا دهغه اسم کښې چې ګمان د ماأضمر عامله على شريطة التفسير پرې کيږي . نو دغه اسم چې په مظان دما اضمر عامله کښې واقع وي نو دي کښې به رفع او نصب يا غوره وي او يا واجب نو څلور صورته داشو او يا به پکښې دواړه امرين مساوي وي

ويختار الرفع: سره اول ځاى ذکر کوى **في الاسم المذكور:** سره غرض دفع اعتراض ، زمونږه خبره شروع وه په مفعول به کښې چې دمنصوباتو نه دي او ته مرفوعاتو ته لاړې **اى بكونه مبتدا:** اول دفع اعتراض. دويم قرينه دصحت درفع اوله خبره **اعتراض:** ته وائى مختاره ده رفع بالابتداء نو ابتداء خو صفت دمتکلم دي او مونږ بحث دالفاظو نه کوو نو دا خو صفت دپاره دمفعول به نه صحيح کيږي ؟ **جواب:** ابتداء په معنى دمبتدا سره نو اوس صفت دمفعول به دپاره صحيح شو. **اى قرينة ترجح خلاف الرفع:** اول تعين دضمير ، دويم بيان دخلاف ، دريم تتميم، څلورم مثال، اوله خبره. ضمير راجع دي خلاف درفع ته، دويم يعنى النصب سره بيان دخلاف کوى چې درفع خلاف هغه نصب دي

لان قرينتى الصحة: دريمه خبره : تتميم، قرينة مصححة درفع هم شته او دنصب هم، درفع دصحت قرينه خو مخکښې مونږ ذکر کړه او دنصب دصحت قرينه هغه وجود دهغه فعل دي چې صلاحيت دتفسير لري دهغه فعل محذوفه نو قرينه مرجحه درفع هغه د امن دي دحذف نه. **او عند وجود قرينة:** او رفع به مختاره وي په وخت دوجود دقرينه کښې چې اقوى وي دقرينې مرجحې دنصب نه. **اى بشرط:** اول معنى دمتن ، دويم توضيح بالمثال ، دريم تطبيق ، څلورم فائده . اول غرض : يعنى دا اما به داخل وي په دغه اسم خو دغه فعل به طلب نه وي يعنى خبر به وي انشاء به نه وي **لقيت القوم واما زيد فاكرمته:** دويم توضيح بالمثال ذکر کوى، **فالعطف على الفعلية:** دريم غرض تطبيق دمثال دممثل سره کوى که چيرته دا اما زيد فاکرمته جمله فعليه شي او عطف شي په مخکښې جملې فعليه باندې نو دا قرينه دنصب ده او کلمه د اما دا قرينه درفع ده ځکه اما غالباً داخليږي په مبتدا باندي

وانما قال مع غير الطلب: څلورم غرض فائده: که چيرته دغه فعل مشتغل دا

دطلب دپاره وی لکه اما زیداً فاضربه نو دلته بیا اختیار دنصب دي ځکه رفع تقاضا کوی چی دا وقوع دطلب به خبر وی او چی کله دغه فعل دپاره دطلب وی نو خبر خودا نشی واقع کیدي ځکه طلب خو د انشائیاتو نه وی او دا طلب دپاره چی دغه فعل وی دا خبر نه واقع کیږي مګر په تاویل سره لکه اما زید فمقول فی حقه اضربه **ومثل اما مع غیر الطلب:** سره اشاره کوی قاعدي دعطف ته چی واذا دا عطف دي په اما باندي،

الواقعة علی الاسم المذکور: دي سره دفع اعتراض: زمونږه خبره شروع وه په مفعول به کښی او داد منصوباتو نه دي او ته لاړي ظروفو ته ؟ **جواب:** دغه ظرف به واقع وی په دغه اسم مذکور کښی. **فی کونها من اقوی القرائن:** اول وجه دشبه بیانول، دویم مثال، دریم تطبیق دمثال، څلورم دفع داعتراض، اول غرض : اذا مفاجاتی دا مشابه دي د اما سره ځکه دا هم اقوی قرینه ده. **مثل خرجت فاذا زید یضربه عمرو:** دویم غرض بیان دمثال،

فان المختار فیه: تطبیق دمثال کوی دممثل سره هغه داسي چی په زید کښی مختاره رفع ده ځکه اذا مفاجاتی غالباً په جمله اسمیه داخلیږي **وما وقع فی بحث الظروف:** څلورم دفع داعتراض، ستا په کلام کښی تضاد راغی دلته دي وویل چی اذا مفاجاتی نه وروسته غالباً جمله اسمیه راځی او په ظروف کښی دي ووئیلی وو چی د اذا مفاجاتی سره لازم جمله اسمیه ده. ؟ **جواب:** مراد دلزوم نه هغه وقوع دجمله اسمیه ده پس د اذا مفاجاتی نه غالباً.

ویختار النصب بالعطف فی الاسم المذکور: دي سره دفع د اعتراض هغه دا چی زمونږه خبره شروع وه په مفعول به کښی او ته لاړي معطوفاتو ته ؟ **جواب:** دا عطف به واقع وی په اسم مذکور کښی. **ای بسبب جملة هو فیها:** اول تعین دباء کوی چی دا سببیه ده، دویم تعین دالف لام کوي په بالعطف کښی چی دا عوضی دي، عوض دي دمضاف الیه نه تقدیر داسي چی عطف الجملة **للتناسب ای لرعایة الخ...** اشاره کوی چی لام اجلیه دي په للتناسب کښی، **یعنی ما ولا وان:** اول تعین دحرف نفی کوی چی ما ولااو ان دي، **اذهی عاملة:** دویم غرض دلیل ذکر کوی چی لم ، لما او لن دا ددي جملی نه ندي ځکه دا داخلیږي په فعل مضارع او بل دا چی د دوي معمول نشی مقدر کیدي ځکه دوي

ضعیف العمل دي

نحو مازیدا ضربته: دریم غرض دي عبارت سره بیان د امثله کوی **وبعد حرف الاستفهام**: اول مثال ذکر کول دي، دویم فائده او غرض پکښی دفع داعتراض، دریم دفع داعتراض، **نحو زیدا ضربته**: دي سره اول غرض وشو **وانما قال حرف الاستفهام**: دویم غرض فائده : او دفع داعتراض پکښی دا ده چی زه به درته وښایم چی پس داستفهام نه به راغلی وی او اختیار دنصب به پکښی نه وی لکه من اکرمته دلته (من) محلاً مرفوع دي بنابر ابتدائیت **ولم یقل همزة الاستفهام**: دریم دفع داعتراض، هغه دا چی داسي به دي ووئیلی وی چی بعد همزة الاستفهام نو اعتراض نه به هم خلاص شوي وي

جواب: همزة الاستفهام ئی ونه وویل چی هل زیدا ضربته ته هم شامل شی. ځکه داسي ووئیل هم جائز دي اګرچه نحاة دي لره بدګڼړي ځکه چی دا کلمه د هل تقاضا دلفظ دفعل کوی چی ما نه به وروسته خامخا فعل موجود وی ځکه دا په معنی دقد سره دي نو دا اکتفاء نه کوی په تقدیر دفعل **وبعد اذا الشرطیة ای الدالة**: اول غرض معنی د اذا شرطیة ذکر کوی چی دا دلالت کوی په شرط او جزاء فی الزمان باندي.

نحو اذا عبدالله تلقه فاکرمه: دویم بیان دمثال ئی وکړو، **وبعد حیث الدالة**: اول معنی دحیث ذکر کوی چی دا هغه حیث چی دلالت کوی په شرط اوجزاء خو په مکان کښی یعنی حیث مکاني وی او دویم غرض بیان دمثال. حیث زیداً تجده فاکرمه. **وفی ماقبل الامر الخ**.. اول تعین د (ما) کوی دویم مثال. دریم توطیه او تمهید او غرض پکښی تعین د اذ دي

یعنی موضع: ما عبارت دي دموضع نه چی په موضع دوقوع داسم مذکوره مخکښی دامر او نهی نه. **مثل زیداً اضربه وزیداً لا تضربه**: دي کښی بیان د امثله ؤ کوی **وانما اختیر**: دي سره توطیه اوتمهید ذکر کوی او غرض پکښی تعین د اذ، دي هغه دا چی اذ تعلیلی دي په وروسته متن کښی او اذ تعلیلی مدعی غواړي نو دا توطیه ئی مدعی شوه. **وکذالک یختار النصب**: شارح اشاره وکړه چی وعند خوف دا جمله عطف ده په بالعطف باندي نو دیختار النصب لاندي راغله. **ای التباس الخ**.. معنی دلبس ذکرکوی، دویم دفع داعتراض،اول خبره دادي چی لبس په معنی دالتباس سره

ده، دويم دفع اعتراض ده هغه دا چې تا دا مثال ذكر كړو انا كل شئ خلقنه بقدر ، دلته خو التباس نشته ځکه که منصوب دي کل شئ ووئیلو نو مابعد خلقنه بقدر به ورلره مفسر شي او که کل شئ مرفوع ووائي نو خلقنه به ورلره یا خبر شي او بل خبر به ورلره بقدر شي او یا کل شئ مبتدا او خلقنه ورلره صفت او بقدر به ورلره خبر شي ؟ **جواب:** دلته التباس دوصف او دمفسر او دوصف دصفت نه ندي راغلي بلکه دوجې دذات دمفسر او دوصف الصفة نه راغلي .

فلا یعلم انه خبر: دي سره تصريح په همدغه اعتراض کوي .

افعال د بنده په څو قسمه دي

بنصب كلّ: سره تطبيق دمثال کوي هغه دا چې که خلقنه دا خبر کړي او کل شئ مرفوع ووائي بناء بر ابتدايت نو معني کښې فرق نه راځي خو که خلقنه صفت شي دپاره دشئ نو پدي صورت کښې بيا معنى غلطيږي ځکه مخکښې معنى دا وه چې (هر شی لره الله ﷻ په اندازه سره پیدا کړي) او چې خلقنه صفت شي نو معنى به داسي شي چې (کوم شی الله ﷻ پیدا کړي هغه په اندازه دي) نو دي نه دا وهم پیدا شو چې بعض اشياء داسي موجود دي چې هغه مخلوق د الله ﷻ نه دي نو دي سره مذهب دمعتزله ثابت شو هغه داسي چې افعال دبنده په دري قسمه دي. اول طبعي ، دويم اضطراري، دريم اختياري ، اولنى دوه قسمه دا په اختيار دالله ﷻ کښې وي، او په دريم قسم کښې چې اختياري دي اختلاف دي.

اول اشاعره وائي چې انسان دخپلو افعالو اختياريو کاسب دي نه خالق،

دويم معتزله وائي چې هم خالق دي او هم کاسب دي .

دريم جبريه وائي چې نه كاسب دي او نه خالق بلکه يو جماد دي، خو د اشاعره مذهب بين الافراط والتفريط دي ځکه قرآن کريم کښې کله الله ﷻ ددغه نسبت خانته کوي لکه : يضل به من يشاء ويهدى الخ . وما تشاءون الاان يشاء الله الخ . او کله ئی نسبت انسان ته کوی لکه: جزاءً بما كانوا يعملون

ويستوي الامران: اول تعين دامرين کوي، دويم معنی داستوی ذکر کوی **الرفع والنصب:** دي سره معنى د استوي ذکر کوي، رفع او نصب خو برابر ندي ځکه رفع

ځانته شي دي او نصب ځانته شي دي نو دي وائي چې استوی دا معنی چې متکلم لره اختیار وی درفع او نصب په وویلو کښې. **فللمتکلم:** اول دفع داعتراض، دويم قاعده کلیه: دریم تطبیق دقاعده کلیه، څلورم اعتراض، پنځم جواب شپږم اعتراض ،اووم جواب: اول غرض زه دا نه منم چې عمرواً اکرمته عطف دي په زید قام باندي ځکه قام کښې ضمیر شته چې راجع دي زید ته او عمرواً اکرمته کښې ضمیر نشته چې راجع شي زید ته؟ **جواب:** د زید ضمیر په عمرواً اکرمته کښې محذوف دي چې عنده دي او یا فی داره دي تقدیر داسي شو چې زید قام وعمرواً اکرمته عنده.

ای یستوی الامران فیما: دي سره شارح قاعده کلیه ذکر کوی چې استوی د امرینو به په هغه ځائ کښې چې عطف دهغه جمله دا اسم مذکور پکښې راغلی وی په ذات د داسي یو جملي چې دوه جهته ولری چې جمله اسمیه وی خو خبر پکښې فعلیه جمله واقع شوي وي نو په جمله معطوف کښې رفع صحیح ده بنابر ابتدا بل دا چې نصب پکښې جائز دي چې عطف شي صرف په خبر دمخکښې. جملي باندي خو نصب به داسم مذکور بنا په تقدیر دفعل سره شي. **والوجهان مستویان:** دریم تطبیق دقاعدي کلیه کوی دمثال سره. **فان قلت:** څلورم غرض اعتراض، ته وائی چې په زید قام وعمرواً اکرمته کښې امرین متساوی دي، امرین خو متساوی ندي ځکه قرینه مرجحه درفع شته چې هغه سلامتیا ده دحذف نه.

قلنا هی: پنځمه خبره جواب: رفع دترجیح دپاره دا قرینه شته نو دنصب دترجیح دپاره قرینه هغه قرب دمعطوف علیه دي چې قام دا جمله فعلیه ده دا قرینه ده دجملي اسمیه نه. **فان قلت:** شپږمه خبره اعتراض: جمله اسمیه او فعلیه دواړو کښې قرب دي نو قرب دفعلیه دا معارض نه ګرځی دپاره دقریني مرجحه درفع، **قلنا:** اوومه خبره دا چې اسمیه او فعلیه دواړه قریبی دي دا په اعتبار دمنتهی سره او زمونږ مراد دقرب دي په اعتبار دمبداء سره، او په اعتبار دمبداء سره فعلیه قریبه ده داسمیه نه

ویجب النصب بعد حرف الشرط والتحضیض ای نصب الاسم المذکور: اول دفع اعتراض هغه دا چې زمونږ خبره شروع وه په مفعول به کښې او ته لاړي مطلق نصب ته؟ **جواب:** دا منصوب به واقع وی په اسم مذکور کښې. **والمراد به ههنا:** اول تعین دحرف

شرط، دويم دفع اعتراض، دريم تعين دمعطوف عليه، اول غرض، حروف شرط نه دلته (انْ او لَوْ) مراد دي. **فان اما**: دويم ستا په كلام كښې تضاد دي مخكښې دي ووئيلى ووچې اما نه نه وروسته دغه اسم مذكور راشي مع غير الطلب نو يختار فيه الرفع او دلته وائي چې حرف شرط به وروسته ددغه اسم راشي نو يجب النصب.؟ **جواب**: دي وائي چې دلته اما ندي مراد اګرچه دحروف شرط نه مخكښې دي ځكه دده حكم مخكښې تير شوي دي

وكذا يجب نصبه: دريمه خبره تعين دمعطوف عليه كوى چې والتحضيض عطف دي په بعد حرف الشرط نو د ويجب النصب لاندي راغلو **وهوهلا والا ولولا ولوما**: اول تعين دحروف تحضيض كوى، دويم وجه دوجوب دنصب اول غرض خو وشو چې هلا، الا، لولا، لوما دي دا حروف تحضيض دي. **وانما وجب النصب**: دويم وجه دوجوب دنصب داده چې دا دواړه قسمه حروف دا نه داخليږي مګر په فعل اوس چې په دغه اسم داخل شوي وي نو فعل به ورته مقدر راوباسو لكه د اول مثال دي ان زيداً ضربته ضربك، او د دويم مثال دي الازيداً ضربته.

وليس مثل ازيدٌ ذهب به منه: اول تعين دضمير، دويم دفع داعتراض، دريم غرض دماتن، څلورم اعتراض، پنځم جواب: شپږم توطيه د متن آتى ته. **اى من باب الاضمار**: دي سره تعين دضمير ئى وكړو، دويم غرض دفع داعتراض، زمونږ كار دما اضمر عامله على شريطة الفسير سره دي هغه ذكر كړه نور به ترينه پخپله خارج شى ته څه شروع ئى چې دا ندي او دا ندي دما اضمر عامله نه ؟ **جواب**: پدي تركيب باندي بعضو خلقو دا ګمان كړي چې دا دما اضمر عامله څخه دي نو دهغى دفع وكړه

وان صدق: دريم خبره: دي سره شارح غرض دماتن ذكر كوى چې دفع اعتراض ده هغه دا چې پدي تركيب كښې زيد اسم دي بعد حرف الاستفهام دي، دي ن بعد فعل دي مشتغل دي بضمير الاسم پكار داده چې منصوب شى؟ **جواب**: دا ما اضمر عامله به منصوب دي خو شرط پكښې بل هم شته چې بحيث لو سلط عليه هو او مناسبه لنصبه او دلته كه عين فعل چې ذهب يا مناسب ددي چې اذهب دئ مسلط كړي نصب نه وركوى.

فان قلت: څلورم غرض اعتراض: هغه دا چې مناسب د ذهب خو يواځي اذهب

ندي بلکه یلابس او یا اذهب پري مسلط کړه چې نصب ورکړي لکه زيد یلابسه الذهب، یا زیدا یلابسه احد بالذهاب او اذهبه احدٌ . **قلنا**: پنځم غرض مخکښې موږ ووئیلی وو چې تسلیط دمناسب به کوی خو چې مسند الیه دفعل او مناسب دفعل به یو وي او ستا په مثال کښې مسند الیه دا احدٌ دي او زموږ مثال کښې مسند الیه دا زید دي ؟ **واذا کان الامر کذالک**: اول غرض تعین دالف لام ، دویم دفع داعتراض دریم حاصل دمعنی ، اول غرض : الف لام عوضي دي عوض دي دمضاف الیه نه چې رفع زید دي، دویم غرض ماتنه ا الرفع جزئي دي او جزئي په علومو کښې معتبر نه وی که الرفع مبتدا وی نو خبر ئی څه شو او که خبر وی نو مبتدا ئی څه شوه . ؟ **جواب**: الرفع مبتدا ده او خبر ئی محذوف دي چې واجب دي.

ونصبه غیر جائز: دي سره حاصل دمعنی ذکر کوی. **وکذا ای مثل**: سره تعین دمشارالیه کوی چې ازید ذهب به دي، **ای فی صحائف اعمالهم**: دي سره معنی دصحائف او غرض پکښې دفع اعتراض، دویم وجه دشبه، دریم دلیل، څلورم ترکیب. اوله خبره اعتراض: مراد زبر نه لوح محفوظ دي نوهر شی چې دوي کوی نو دا خو په لوح محفوظ کښې ندي. ؟ **جواب**: معنی دزبر هغه صحیفی د اعمالو د دوي دي.

فهو لیس من باب الاضمار: وجه دشبه داده چې دا هم داضمار علي شریطة التفسیر نه ندي، **لانه لوجعل**: دلیل ئی دادي که چیرته دباب داضمار علی شریطة الفسیر شی نو تقدیر به داسي شی چې فعلوا کل شیءٍ فی الزبر، که چیرته فی الزبر متعلق شی دفعلوا پوري نو معنی فاسد یږي ځکه چې زبر دا خو محل د دوي دافعالو ندي بلکه کرام الکاتبین پکښې د دوي اعمال لیکي او که فی الزبر صفت شی دپاره دشیءٍ نو معنی مقصوده فوت کیږي معنی مقصوده داده چې هر هغه شی چې دوي کوی دا مکتوب فی الزبر دي او غیر مقصوده به داسي شی چې کوم شی په صحائف داعمالو د دوي کښې دي دا مفعول د دوي دي نو نتیجه دا شوه چې دا دباب داضمار نه ندي.

فالرفع لازم: اول ترکیب کل شیءٍ مبتدا ، او فعلوا صفت دشیءٍ او فی الزبر جار مجرور دا محلاً مرفوع خبر دمبتدا شو. **واعلم**: دي سره غرض دشارح دماتن غرض ذکر کول دي چې هغه دفع داعتراض ده هغه دا چې هغه اسم مذکور چې مشتغل فعل دده نه

په ضمير يا په متعلق دده کښې خو که دا فعل امر يا نهي وو نو بيا مختاره پديکښې نصب دي نو پدي قول د الله ﷻ کښې مختاره هغه نصب وو درفع سره ددينه چې قراؤ اتفاق په رفع سره کړيدي نو ماتن دغه اعتراض دفع کوی او دغه آيت ددغه قاعدي نه راوباسي دپاره ددي چې اتفاق دقراؤ په غير مختار باندي را نشي .

اعتراض: دلته دسره اعتراض نشته ځکه مونږه ويلي چې فعل به مشتغل وی په ضمير ددغه اسم کښې او په فاجلدوا کښې ضمير د اسم نشته دي؟ **جواب**: ضمير دلته محذوف دي چې فاجلدواهما . **فيه مرتبطة**: اول غرض دشارح دفع داعتراض ده هغه دا چې (فا) خو يا تفصيليه ده يا عاطفه يا زائده ده مونږه خو شرطيه نده ليدلی ؟ **جواب**: فاء دلته په معنی دشرط سره ده يعنی جزائيه ده. **لکون الالف واللام**: سره اتمام ددليل کوی چې په الزانية والزانی کښې الف لام موصول دي اواسم فاعل ورلره صله ده مبتدا شوه او متضمن دي معنی دشرط لره او فاء جزائيه او فاجلدوا الخ .. ئی خبر دي.

ومثل هذه الفاء: په مثل ددغه فاء سره ئی وويل او داسي ئی ونه وويل چې ومثل مابعد الفاء ځکه مابعد دفاء کله کله عمل کوی په ماقبل دفاء کښې چې کله فاء زائده وی لکه اذا جاء نصر الله الخ.. فسبح کښې فاء زائده ده نو سبح دا په منزله دشرط او اذا جاء الخ. ورلره جزاء ده. دويم صورت چې فاء دخپل ځائ نه بی ځايه شوي بل ځاي ته دپاره ديو غرض لکه وربك فكبر اصل کښې فکبر وربك. وو او لکه واما اليتيم فلا تقهر اصل کښې فلا تقهر اليتيم وو

اذا الزانية مبتدا: تمام د دليل کوی دسيبويه صاحب . **وقيل زائدة او للتفسير**: دويمه خبره قول اخر ذکر کوی چې فاء پدي آيت کښې زائده ده خو دا مذهب ضعيف دي ځکه لږ مخکښې مونږ ووئيل چې فاء زائده وی نو دا ممتنع التسليط نده بلکه مابعد ئی په ماقبل کښې عمل کولی شي، او دا فاء تفسيريه هم صحيح کيږي خو دا په قيل سره شارح ذکر کړو ځکه خلاف متبادر ده. **والا ای وان لم تكن**: سره معنی د الاذکر کوی. **الرابع التحذير**: تحذير مصدر په معنی د اسم مفعول سره بيان درابع کوی. **من تلك**: اعتراض په متن: **اعتراض**: هلکه ! تحذير دا خو عرض دي او مونږه بحث دالفاظو څخه کوو.؟ **جواب**: ذکر د تحذير او مراد ترينه موضع التحذير دي .

وانما وجب: دي سره وجه دوجوب دحذف دفعل ذكر كوى. **وهوفى اللغة**: دي سره تعريف لغوى دتحذير ذكر كوى. **اى اسم عمل فيه**: غرض دشارح دفع داعتراض ده هغه دا چې ته وائې چې دا تحذير به معمول وى په تقدير د اتق سره نو معمول خو صفت دي او مونږ بحث دالفاظو څخه كوو؟ **جواب**: اى اسم چې دا تحذير دا هغه اسم دي نو دا صفت دلفظ شو. **اى حذرذلك**: د ي سره شارح احتمالين دنصب ذكر كوى دتحذير **على صيغة المجهول**: اول تعين دمعطوف عليه او غرض پكښې دفع اعتراض، دويم اعتراض، دريم جواب : څلورم دفع داعتراض، اول غرض دفع داعتراض هغه دا چې ذكر دمحذر منه عطف دي په تقدير اتق تحذيراً باندي نو عطف دجملې راځې په مفرد باندي او دا ندي صحيح ؟ **جواب**: دا عطف دي په حذر او يا ذكر مقدر باندي نو عطف دجملې راغلو په جملې باندي وهذا صحيح جداً :

فان قلت: بيان داعتراض ، په معطوف كښې ضمير راجع وو معمول ته نو معطوف عليه كښې هم عائد پكار دي؟ **قلنا سره جواب**: عائد په دوه قسمه دي اول عائد چې ضمير وى ، دويم عائد چې هغه وضع دمظهر ده په ځائ دمضمر چې مظهر دلته ذكر مكرراً دي. **الا انه**: دفع داعتراض هغه دا چې وضع دمظهر په ځائ دمضمر كيږي چې عظيم كار يا نكته وى لكه الحاقة ما الحاقة كښې، ؟ **جواب**: دلته اشاره ده دي خبري ته چې كوم شى مكرر ذكر شو نو دا محذر منه دي محذر ندي. **مثل اياك**: اول تعين دممثل له كوى چې دا دواړه مثالين د اولى نوع دي، دويم تقدير دعبارت ذكر كوى په بَعِّدْ نفسك سره.

دريم دفع داعتراض كوى په وعلى التقدرين سره هغه دا چې تا ووئيل چې بتقدير اتق تحذيراً مما بعده ، نو بعد نفسك كښې خو من الاسد دا محذر منه شو او په بعد الاسد من نفسك كښې خو محذر منه من نفسك شو نو تعارض راغلو؟ **جواب**: مراد په تبعيد سره هغه تحذير دنفس دي د اسد او دحذف نه، نه تحذير د اسد و دحذف دنفس نه نو محذر منه په دواړو صورتينو كښې اسد او حذف شو او ثانى اسد دپاره دمبالغې راوړلى شوي.

مثال لثانى نوعية: اول تعين دممثل له كوى چې هغه دويمه نوع ده، دويم تقدير

ذکر کوی چی اتق الطریق الطریق ، دریم رد په ماتن، څلورم اعتراض، پنځم جواب. **ولا یخفیٰ**: سره رد په ماتن او هغه دا چی تقدیر د اتق په اوله نوعه صحیح ندي ځکه داسي څوك نه وائی چی اتقیت زیداً من الاسد بلکه بَعّدْ او نچ به دي وونیلی وي او په مثال دنوع ثانی کښ بعد نه وو پکار ځکه تبعید خو په طریق کښی راځی بلکه اتق پکار وو ؟ **جواب**: دلته حصر مقصود ندي په اتق کښی بلکه دا اتق ئی په طور دمثال راوړو.

فان قلت: څلورم غرض اعتراض: لفظ د اسد په ایاك والاسد کښی خارج دي دواړونوعینو څخه، ددویمی نوعی نه خو ځکه خارج دي چی مکرر ندي، او د اولی‌نوعی نه ځکه خارج دي چی اوله نوع کښی دا وو چی تحذیر مما بعده نومابعد کښی خو څه نشته چی اسد ترینه ویرولی شی؟ **په اجیب سره جواب**: دا تابع دتحذیر دي او د توابعو بحث وروسته را راوان دي، او دویم جواب شارح کړي چی ایاك والاسد نه مخکښی بعد نفسك محذر شته او محذر منه ئی والاسد دي.

بیان د مفعول فیه

المفعول فیه دا مبتدا ده او منها یا منه ئی‌خبر دي او منها مبتدا او المفعول فیه ورلره خبر دي، المفعول اسم مفعول او فیه ورلره نائب فاعل د ي فیه کښی ضمیر راجع دي ال ته او دا علم دي دپاره د الذی فُعِلَ ؟ **جواب**: مراد دفعل نه فعل لغوی دي چی حدث دي نه اصطلاحی. **تضمناً فی ضمن الفعل**: اول دفع داعتراض: دویم فوائد دقیودو، دریم اعتراض، څلورم جواب: ,پنځم اعتراض، شپږم جواب اول غرض دفع اعتراض: تا ووئیل چی مراد دفعل نه لغوی فعل دي چی هغه حدث دي نو په صمت یوم الجمعة کی خو مخکښی فعل اصطلاحی دي نه معنوی ؟ **جواب**: مذکور عام دي صراحتاً وی او که ضمناً دلته حدثی فعل ضمناً ذکر دي او ضمناً عام دي لفظاً وی او که تقدیراً او بیا فعل وی او که شبه فعل او که مطابقة وی خو چی کله عامل مصدر وی لکه صومی یوم الجمعة. **اعتراض**: تا مذکور عام کړو ضمناً او که مطابقةً وی نو التزاماً دی ولی ذکر نه کړو؟ **جواب**: مراد د تضمناً نه غیر صریحي دي او دمطابقةً نه صریحی دي نو په تضمناً کښی دي التزامی هم شامل شو ځکه دا هم غیر صریحی دي.

فقوله ما فعل فیهٔ: دي سره فوائده دقیوداتو ذکر کوی. **لکن بقی مثل شهدت**:

اعتراض: تعريف دمفعول فيه كښې دي يوم الجمعة داخل شو ځكه يوم الجمعة دا زمان دي او فعل هم مذكور دي چې شهدت دي پكار داده چې مفعول فيه ورته ووئيلى شي او سره ددينه چې كتابونو ليكلي چې دا مفعول به ده ؟ **فلواعتبر فى التعريف سره جواب:** دلته يو قيد معتبر دي چې من حيث انه فعل فيه فعل او شهدت يوم الجمعة كښې يوم الجمعة دا مفعول ندي ددي حيثيت نه چې فعل پدي كښې شوي بلكه فعل پده واقع دي نو دا مفعول به شوه او مفعول فيه نه شوو.

ولا يخفى: اعتراض: قيد دحيثيت چې معتبر وو نو مذكور ته ضرورت نه وو پكار وه چې داسې دي ووئيلى وي چې المفعول فيه ما فعل فيه فعل من حيث انه فعل فيه فعلٌ ؟ **الا لزيادة سره جواب:** دا دپاره دزيادت وضاحت دمعرف.

اقسام د مفعول فيه

بيان لما الموصلة: اول تعين د (ما) كوى، دويم قسمين دمفعول فيه، دريم اختلاف، ځلورم دفع داعتراض، اول غرض: ما موصوله ده او يا موصوفه ده عبارت دظرف زمان يا مكان ده، **اشارة الى قسمى:** دي سره قسمين دمفعول فيه ذكر كوى چې مفعول فيه دا يو په تقدير دفى سره دي او بل هغه چې فى پكښې لفظاً وى. **ما يظهر فيه فى:** دريم غرض بيان داختلاف چې، دجمهورو په نزد فى پكښې مقدره وى هغه مفعول فيه دي او چې مفعول فيه كښې فى لفظاً وى نو ددوي په نزد هغه جار مجرور دي او مفعول به دي. دويم مذهب دماتن دي، دي وائى چې فى كه لفظاً وى او كه مقدر وي نو دا مفعول فيه ده صرف فرق پكښې دومره دي چې فى پكښې لفظاً وى نو هغه مفعول فيه به مجرور وي.

وخالفهم: دفع داعتراض هغه دا چې دجمهورو دمذهب اوتعريف نه دي ولى مخالفت كړي هغوى داسي ووئيلى دي چې المفعول فيه ما فعل فيه فعل بتقدير (فى) **جواب:** ده مخالفت كړي دجمهورو نه او مجرور ئى هم مفعول فيه ګرځولى خو د مفعول فيه دنصب دپاره ئى شرط هغه تقدير د (فى) ګرځولى.

مبهماً كان الزمان: سره معنى دكلها ذكر كوى، **تقبل ذالك:** اول تعين دمشار اليه كوى، دويم دليل، دريم توضيح بالمثال، اى تقدير فى سره اول غرض

وشولان المبهم سره دویم غرض ذکر کوی چی دلیل دي خکه چی ظرف زمان مبهم دا جزء وی دمفهوم دفعل نه نو صحیح دي نصب ددي بغیر د واسطی دحرف نه لکه دمفعول مطلق پشان ضربت ضرباً . او ظرف زمان محدود دا محمول دي په ظرف زمان مبهم باندي دوجی د اشتراك ددي دواړو نه په زمانه کښی. نحو صمت دهراً وافطرت الیوم دا توضیح بالمثال دي.

ای تقدیر فی: پدي عبارت کښی هم هغه دري اغراض ذکر کوی، **اذ لم یکن**: دي سره دلیل ذکر کوی، **وهی امام وخلف**: دي سره بیان دجهات سته ؤ کوی چی هغه امام، خلف، فوق، تحت ، شمال، او یمین دي، دویم توضیح بالمثال کوی د امام زیدٌ سره، ولما لم یتناول سره دریم غرض دفع اعتراض هغه دا چی بناء د متونو په اختصار سره وی نو عند او لدی ته څه ضرورت وو څکه دا داخل وو په جهات سته ؤ کښی ؟ **جواب**: دا جهات سته شامل نه وو عند او لدی لره نو څکه مو ذکر کړل **ای لابهام عند ولدی**: اول وجه شبه ذکر کول دي، دویم تعدد دنسخو ، دریم توطیه او تمهید. اول غرض: عند او لدی مشابه دي دجهات سته وو سره په ابهام کښی وفی بعض النسخ غرض په بعضی نسخو کښی لابهامها دي نو ضمیر راجع دي عند ته او لدي پري عطف دي. وکذا حمل علیه دریم غرض: ولفظ مکان عطف دي په عند او لدی باندي نو هغه دحمل علیه لاندي وو دا به هم وی.

علی الاصح: اول تعین دموصوف، دویم اختلاف ذکر کوی، دریم رد په ماتن، څلورم تائید د رد ، پنځم قول اخر، شپږم تائید دقول اخر. **علی المذهب**: دي سره اول غرض چی المذاهب موصوف او الاصح صفت دي. **فانه ذهب**: دویم اختلاف، بعض نحاة وائی چی دخلت الدار کښی الدار مفعول به دي او اصح مذهب یعنی دماتن دي چی دا مفعول فیه دي. **وهذا محل تامل**: دریم خبره : رد په ماتن او هغه دا چی زه دا نه منم چی الدار دا مفعول فیه دي خکه مفعول فیه راځی پس د اتمام دفعل نه لکه ضربت زیداً فی المسجد او دلته دخلت فعل بغیر د الدار نه ، نه تمامیږي.

یوه اهمه قاعده

ومما یؤیده ذلك: څلورم خبره : تائید دخپل رد کوی او دا تائید بناء دي په یوه

قاعده باندي او هغه دا چې مفعول فيه کښې يو فعل وی او دهغه نسبت شوي وي يو مکان خاص ته لکه ضربت زيداً فی الدار نو دا هم صحيح کيږي چې نسبت ددغه فعل يو داسي مکان ته وکړي چې دغه مکان ته هم شامل وی او غير ته هم لکه ضربت زيداً فی البلد ، او فعل ددخول چې هغه داسي ندي ځکه يو سړي که داخل فی البلد وی او ووائی چې دخلت الدار نو نسبت ددخول مکان خاص ته شوي نو او س داسي نشی وويلی چې دخلت البلد ځکه دا سړی په وخت دويلو کښې خو داخل دي، نو بناء پدي قاعدي سره چې دخلت الدار کښی نه جاري کيږي نو الدار مفعول به دي نه فيه .

وقيل معناه: پنځمه خبره : قول آخر دادي چې مراد داصح نه استعمال اصح دي نوديکښې اشاره ده چې دخل سره دفی نه دا هم صحيح دي خو اصح دا بغير دفی نه دي **ونقل عن سيبويه:** شپږم خبره : سره تائيد او هغه دا چې سيبويه وائی چې استعمال د دخلت سره دفی نه شاذ دي **وينصب:** اول تعين دضمير کوی، او دويم بيان دقسمين دعامل مضمر کوی اول غرض ضمير راجع دي مفعول فيه ته، **بلا شريطة التفسير:** دويم غرض عامل مقدره چې نصب ورکوی مفعول فيه دا به يا بغير دشرط دتفسير نه وی په مابعد کښی لکه يوم الجمعة ووائی ، او دويم چې سره دشرط دتفسير نه وی په مابعد کښی لکه يوم الجمعة صمت فيه نو دلته ديوم الجمعة عامل مقدر دي ځکه وروسته ئې تفسير په صمت فيه سره شوي دي.

د مفعول له بيان

دلته هم هغه اعراب دي کوم چې په مفعول فيه کښې وو. **ای لقصد تحصيله اوبسبب وجوده:** اول دفع داعتراض ، دويم فائده دقيد ، اول خبره : **اعتراض:** خو اعتراض نه مخکښې يو تمهيد او هغه دا چې مفعول له په دوه قسمه دي اول هغه چې فعل دده دپاره شوي وی لکه ضربت زيداً تاديباً پدي قسم کښې به وجود دفعل مقدم وی په وجود دمفعول له باندي ځکه اول به ضرب راځی او بيا به ادب راځی، دويم هغه چې فعل په سبب دده سره راغلی وی لکه قعدت من الحرب جبناً دلته به وجود دفعل باندي وجود دمفعول له مقدم وی ځکه اول به جبن راځی او بيا به قعود راځی . اوس اعتراض : تعريف دمفعول له دي اول قسم ته شامل شو فقط، ؟**جواب:** دا فعل عام دي

دده دتحصیل دپاره شوي وي او که دده وجود نه فعل راغلی وي.

وخرج به سائر الخ... دي سره فائده ذکر کوی دقید د لاجله . **ای حدث**: دفع داعتراض، او هغه دا چی تا ووئیل چی مفعول له دا هغه دي چی فعل دده دوجی نه شوي وي نو فعل کښی خو یو نسبت او زمان هم دي نو نسبت او زمان خو دچا دوجی نه ، نه کیږي ؟ **جواب**: مراد دفعل نه لغوی فعل دي چی هغه حدث دي **مذکور**: دفع داعتراض ، دویم فائده دقید ، دریم اعتراض، څلورم جواب : پنځم اعتراض ، شپږم جواب ، اووم اعتراض ، اتم جواب :

ای ملفوظا حقیقة اوحکماً: دفع داعتراض : تا ووئیل چی فعل به مذکور وی زه به درته وښایم چی مفعول له به وی او فعل به نه وی مذکور لکه تادیباً په جواب دسوال دهغه چا کښی چی ووائی لم ضربت زیداً ؟ **جواب**: ملفوظ او مذکور عام دي حقیقتاً وی لکه ضربت زیداً تادیباً او که حکماً وی او په جواب دسوال کښی فعل حکماً ذکر دي ځکه مذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب .

فقوله مذکور: سره دویمه خبره ذکر کوی چی فائده ده، مذکور سره دا ترکیب خارج شو چی اعجبنی التادیب ځکه التادیب سره فعل چی ضرب دي نه حقیقتاً شته او نه حکماً لهذا دا به دلته فاعل دپاره دا عجب وی. **فان قلت**: دریم خبره: اعتراض : د اعجبني التادیب نه به څرنګه احتراز راشی ځکه هغه فعل چی دمفعول له دپاره شوي هغه ذکر دي په یوه جمله کښی لکه ضربت زیداً پشان . **قلنا سره جواب**: مراد دمذکور نه عامل مذکور معه دي او دلته خو د التادیب سره فعل او عامل ددي نشته،

فان قلت: د التادیب سره هم فعل مذکور دي مخکښی لکه دضربته تادیباً په شان . **قلنا سره جواب**: مراد دمذکور دادي چی دمفعول له سره به په هغه ترکیب کښی وي چی مفعول له پکښی وی او دلته خو ورسره نشته . **ویرد حینئذ**: اوومه خبره اعتراض : دلته هم د التادیب سره فعل ذکر دي په ترکیب کښی تقدیر داسي دي چی اعجبنی التادیب الذی ضربت لاجله . **اللهم**: اتم جواب : مراد ذکر معه نه دادي چی دغه فعل به پدغه مفعول له کښی عمل کړي وی او دلته ئی عمل ندي کړي، نو شارح ضمناً دري څلور قیودات ذکر کړل .

مثال لما فعل لقصد: اول تعین دممثل له او غرض پکښی دفع اعتراض او هغه دا چی دتوضیح دممثل لپاره مثال واحده کافی ده تا ولی دوه مثاله راوړل؟ **جواب**: ممثل دوه وو **وقعدت عن الحرب جبناً**: تعین دممثل له کوی، دویم توطیه او تمهید، اول غرض داد هغه مفعول له مثال دي چی دهغه دوجود دوجی دغه فعل کړي شوي وي **والقائل**: دي سره توطیه او غرض پکښی دفع اعتراض ده هغه دا چی قائل هغه جمهور دي او ته وائی چی والقائل یخالف نو نسبت دخلاف جمهورو ته دا سؤ ادب دي؟ **جواب**: دا صیغه دمجهول ده معني دا چي دجمهورو خلاف کړي شوي دي او دا خلاف زجاج کړي دي.

من غیر لفظ فعله: اول دفع داعتراض، دویم تاویل دزجاج، دریم رد په زجاج، اول غرض: ته وائی چی تادیباً او جنباً دا مفاعیل مطلقه دي نو مفعول مطلق خو هغه دي چی فعل مشتمل وي پده باندي دقبیلی داشتمال دکل نه په جزء باندي او دلته خو ضربت مشتمل دي په ضربا نه تادیباً او قعدت مشتمل دي په قعوداً نه په جنباً باندي؟ **جواب**: مفعول مطلق محلی په دوه قسمه دي، اول من لفظ الفعل، دویم من غیرلفظه او دلته دا مفاعیل مطلقه دي خو من غیر لفظ الافعال.

فالمعنی عنده: دویم زجاج پدي ترکیبونو کښی تاویل کوی چی ضربته تادیباً په اصل کښی ادبته بالضرب تادیباً وو او قعدت عن الحرب جبناً دا په اصل کښی داسي وو جبنت فی القعود عن الحرب جبناً وو،

ورد قول الزجاج: دي سره رد په زجاج، او هغه دا چی تا چی مفعول له کښی تاویل وکړو او مفعول مطلق دي ترینه جوړ کړو خود صحت دیو نوع دپاره تاویل په بل نوع سره دا شی دخپل حقیقت نه نه اوباسی لهذا مفعول له هماغه شان باقی دي لکه د حال نه چی تاویل په ظرف سره وکړي لکه جاءنی زید راکباً په ځائی جاءنی زید وقت الرکوب ووائی سره ددینه چی حال دخپل حقیقت نه نۀ اوباسي هماغه شان حال دي.

وشرط نصبه: دفع اعتراض، دویم تعین دضمیر، دریم توضیح بالمثال، څلورم دفع اعتراض، اول: اعتراض: شرط دپاره دنصب دادي نو دنصب خو یو صفت دي دا پیدا کیږي په عامل سره نو چی عامل ناصبه راشي نو نصب به هم راځي نو شرط خو دنصب دپاره نشته؟ **جواب**: ذکر د لازم مراد ترینه ملزوم چی مفعول له دي چی دنصب

دمفعول له دپاره شرط دا دي

وشرط انتصاب المفعول له: دي سره تعين دضمير کوي **فالسمن والاکرام**: دي سره توضيح بالمثال کوي **وهذا ایضاً**: دفع داعتراض او هغه دا چي نورو خو تعريف داسي کړي دي چي المفعول له ما فعل لاجله فعل مذکور بتقدير اللام او تا دهغه نه مخالفت وکړو ؟ **جواب**: هغوی تقدير دلام شرط دپاره دوجود دمفعول له ګرځولی وو او ماشرط دپاره دانتصاب دمفعول له ګرځولی دي پشان دمفعول فيه **تقدير اللام**: دليل دتقدير دلام. دويم دفع داعتراض، دريم توطيه او غرض پکښي دفع اعتراض، اول غرض که تقدير دلام ونه شي او لام ظاهر شي نو بيا به دغه مفعول له مجرور وی لکه ضربت زيداً للتاديب

وخص اللام بالذکر: دفع داعتراض : **اعتراض**: لکه څرنګه لام تعليلي راځی نو دغه رنګه باء في او من هم تعليلي راځی لام دي ولی خاص کړو؟ **جواب**: لام ده څکه خاص کړو چي غالباً په تعليلاتو دافعالو کښي لام استعماليږي سره ددينه چي باء ، في. او من هم د دواخلو دمفعول له څخه دي

ولما کان تقدير اللام: توطيه : غرض پکښي دفع اعتراض : او هغه دا چي ملاصاحب : بناء دمتونو په اختصار سره وی داسي به دي وويلی وو چي وانما يجوز او ضميربه دي پکښي تقدير اللام ته راجع کړي وی نو حذفها ته به ضرورت نه وو ؟ **جواب**: يو تقدير دي او دا ديته وائی چي يو شي په نيت کښي مراد وی او په لفظ کښي نه وی او بل اصل دي او اصل ديته وائی چي يو شي په لفظ او نيت دواړو کښي مراد وی که مونږ يجوز کښي ضمير راجع کړي وی تقدير اللام ته نو د اصل يو نوع ته چي نيت دي دا شامل شوي وی او بلی نوع ته چي لفظ دي نه به وی شامل نو ضمير ديجوز ئی تقدير دلام ته راجع نه کړو نو حذف او ذکر دواړو دلام جائز دي .

واحترازعما اذا کان عيناً: فائده ذکر کوی ماتن وفرمائيل چي حذف دلام جائز دي چي کله مفعول له دا فعل وی که عين وی نو لام به ملفوظ وی لکه جئتك للسمن . **ای اتحد فاعله**: معنی دمتن . دويم فائده، اول خبره معنی دمتن داده چي فاعل دمفعول له او فاعل دعامل دمفعول له دا به يو وی که يو نه وو نو لام به بيا هم ملفوظ وی لکه

جنئتك مجينك ایاى دلته فاعل دجنئتك هغه ضمير د (تَ) دي او په لمجيئك كښى فاعل مخاطب دي، دي سره فائده كوم چې دويم غرض وو هم وشو. **بان يتحد زمان وجودهما:** معنى دمتن، دويم توضيح بالمثال ، دريم دفع داعتراض، څلورم، توضيح بالمثال، پنځم فائده، شپږم وجه د اشتراط، اول غرض : معنى د اقتران داده چې زمانه دفعل او دمفعول له به يوه وى.

او يكون زمان: دفع اعتراض: په قعدت عن الحرب جبناً كښى جبن مخكښى راغلى دفعل دزمانى او سره ددينه لام پكښى مقدر دي. ؟ **جواب:** د اتحاد زمانى يوه معنى داده چې زمانه دفعل دا بعض يعنى جزء وى دزمانى دمفعول له نه لكه قعدت عن الحرب جبناً كښى زمانه دقعود دا جزء دي دزمانى دجبن نه او يادا چې زمانه دمفعول له دا جزء وى دزمانى دفعل نه لكه شهدت الحرب ايقاعاً للصلح بين الفريقين. دلته زمانه دايقاع دصلح دا جزء دي دفعل نه چې شهود دحرب دي او دي سره څلورم غرض توضيح بالمثال هم وشوو.

واحترزبذالك: دي سره فائده ذكر كوى. **وانما اشترط:** وجه د اشتراط دا شروط ورلره شرط كړي څكه مفعول له پدي شرائطو سره مشابه دمصدر ګرځى نو تعلق به دفعل سره بلا واسطه راشى لكه تعلق دمصدر يعنى مطلق مفعول چې راغلى دفعل سره.

د مفعول معه بيان

اول معنى لغوى، دويم تركيب ، دريم دفع اعتراض ، څلورم قول اخر . **اى الذى فعل لمصحابته:** دي سره اول غرض معنى دمفعول له وشوه، **فقوله معه:** دي سره دويم غرض تركيب . الف لام په معنى د الذى سره او مفعول په معنى دفعل مجهول سره او معه دا نائب فاعل دي اسناد دفعل ورته شوي لكه څرنګه چې په مفعول به، فيه او له كښى وو . خو پدي تركيب باندي اعتراض واردېږي چې دا تركيب خو په مفعول به، له او فيه كښى هم وو هلته دي ولى نه كولو. ؟ **جواب:** هلته خو به، له، او فيه، ضماير وو او ضماير خو مبنى وى نو هغه مرفوع وو محلاً او دلته معه مضاف مضاف اليه نو دا نائب فاعل واقع شوي دي نو پدي اعتراض واردشو چې نائب فاعل خو مرفوع وى او معه كښى خو مضاف منصوب دي نو دجواب وكړو چې

واعتذر عن نصبه: دفع داعتراض، چې بعضې نحاتو دا جائز کړي چې کله اسناد دفعل يو لازم النصب شي ته وشي نو هغه به په هم هغه حال منصوب پرېږدي لکه قرآن کريم کښې هم راغلې چې لقد انقطع بينكم دلته دتقطيع نسبت بين ته شوي او دا لازم النصب دي نو هغه شانته اوس هم منصوب دي ، او بعض حواشي دا وائي چې دا توجيه شريفه ده ځکه يو خو د قرآن کريم سره موافقه ده او بل دا چې حذف پکښې نشته دي.
وقيل الوجه: سره څلورم غرض: بعضو ووئيلي دي چې داسي ترکيب به نسبت دفعل دمصدرُ ددغه فعل ته کيږي او ځان دپاره هغه شعر دليل راوړي نو المفعول کښې به نسبت مصدر د المفعول ته وشي چې فعل دي دا به نايب فاعل شي ځکه معه دا ظرف دي او ظرف قايمقام دفاعل نشي جوړيدي. **هو مذكور بعد الواو**: تعريف دمفعول له ذکر کوی په احتراز سره فائده دقيد دمذکور بعد الواو ذکر کوی.

لمصاحبة معمول فعل اللام متعلق: معنی يا تشريح دمتن ، دويم قسمين دمعمول ، دريم توطيه او تمهيد متن ته، په سواء کان ذلك المعمول فاعلاً سره قسمين دمعمول ذکر کوی او وروسته وسواء ذلك الفعل سره توطيه او تمهيد ذکر کوی متن ته.
لفظا اى لفظيا: دفع داعتراض، لفظا خبر دي دمخکښې کان دپاره نو حمل په اسم د کان چې ذالك الفعل دي نه صحيح کيږي ځکه بيا حمل وصف راځې په ذات مع الوصف باندي. ؟ **جواب**: مراد دلفظا نه لفظياً دي او دا هم ذات مع الوصف دي نو حمل هم صحيح شو.

او معنى اي معنوياً: اول دفع داعتراض، دويم مثال، دريم تطبيق دمثال دممثل سره ، څلورم تتميم دمافات دماتن رحمه الله ، پنځم دفع داعتراض، شپږم اختلاف ، اول غرض دفع داعتراض : ده په معنوي سره کومه چې مخکښې په لفظيا سره تير شو ، دويم مثال مالك وزيداً دريم په اى ماتصنع وزيداً سره تطبيق. دمثال کوی دممثل سره. څلورم والمراد بصاحبة سره تتميم دمافات دماتن کوی فلا ينتقض بالمذکور بعد الواو سره دفع اعتراض، غرض ته وائي چې مفعول معه ديته وائي چې مذکور بعد الواو، وى نو جاء ني زيد وعمروا ته دي هم مفعول معه ووئيلي شي پس دواو نه هم دي او مصاحب هم دي؟ **جواب**: مراد دمشارکت نه مشارکت في الزمان او في المکان دي، او دلته خو

مشارکت په اصل فعل کښې دي چې هغه مجیئت دي او مشارکت في الزمان یا في المکان نشته دي.

د مفعول معه په عامل کښې اختلاف

واعلم: شېږم اشاره کوی اختلاف ته، دجمهورو مذهب دادي چې عامل په مفعول معه کښې یا فعل دي او یا معنی دفعل ده په واسطه د واو سره چې دا واو به په معنی دمع سره وی ، دویم مذهب عبد القاهر دي دي وائی چې عامل په مفعول معه کښې هغه واو دي ، دریم مذهب داخفش دي ، دي وائی چې عامل په مفعول معه کښې هغه واو دي چې په معنی د(مع) سره وی او هسې څانته واو عامل ندي.

فان کان ای وجد: په وجد قید لګولو سره شارح اشاره وکړه چې دا کان تامه دي خبر نه غواړي او اسم ورلره الفعل دي. **الفعل ای ما یدل علی الحدث**: دفع داعتراض، زه به درته وښایم فعل به نه وی او دا وجهین به پکښې جائز وي لکه اسم فاعل : ؟ **جواب**: مراد دفعل نه لغوی او دا بیا عام دي اسم فاعل وی او که اسم مفعول ، صفت مشبه دي ټولو ته شامل دي. **لفظا وجازای لم یجب**: دفع داعتراض، زه به درته وښایم عطف به جائز وی او وجهین به پکښې نه وی جائز لکه جاءنی زید وعمروٌ دلته فعل هم شته او عطف هم جائز دي؟ **جواب**: د جاز انه نه مراد امکان خاص دي چې نه عطف وجود ضروري دي او نه ئې عدم ضروري دي او پدي مثال کښې خو عطف ضروري دي نو ځکه وجهین پکښې نشته دي.

العطف ولم یمتنع: فلا ینتقض سره فائده ذکر کوی چې په ضربت زیداً وعمروا کښې وجهین نشته ځکه پدیکښې عطف واجب دي. **فالوجهان**: بیان دوجهین کوی چې عطف او نصب دي ، دویم اعراب دفالوجهان چې فالوجهان مبتدا ده او جائزان ورلره خبر دي. **والا**: سره معنی دمتن ذکر کوی چې که عطف جائز نه وو نو تعین النصب مثل جئت وزیدا فان العطف فیه سره دلیل ذکر کوی. **وان کان الفعل معنی**: ای امراً معنویاً سره دفع داعتراض ده کومه چې نزدي تیره شوي ده، دویم معنی دفعل معنوی کوی چې مستنبطاً من اللفظ ، وجاز ای لم یمتنع دلته دا ذکر کوی چې جواز په معنی د امکان عام سره دي. حیث لا یحمل سره دلیل ذکر کوی.

فا نه امتنع العطف: دليل ذكر كوي، دويم توطيه او تمهيد ذكر كوي په انما حكمنا سره، ومما يماثله سره شارح تشريح دمتن كوي.

د حال بيان

شارح رحمه الله ربط ذكر كوي دماقبل سره، البته حال ئى مقدم كړو په مستثنى او تميز باندي، په مستثنى ئى ځكه مقدم كړو چې په مستثنى كښى نصب په واسطه د الا سره دي او حال بغير دواسطى نه منصوب وى، او په تميز ئى ځكه مقدم كړو چې تميز سره نصب لازم ندي او دحال سره نصب لازم دي نو دي وجى نه چې مناسبت ئى منصوباتو سره زيات دي نو مقدم يي كړو. **وهو** دي عبارت سره تعريف دحال ذكركوي مايبين هيئة الفاعل او المفعول به اعتراض: حال به وي نه به هيئة دفاعل بيانوى او نه دمفعول لكه ضربت زيداً قائماً ابوه. **جواب:** الحال مايبين هيئة الفاعل او المفعول به او متعلقاتها ديته حال وائى.

اى من حيث هو فاعل: اول بيان ديو قيد، دويم فوائد دقيودو دريم دفع اعتراض، اول خبره: بيان ديو قيد اويادفع اعتراض: حال خو بيان دهيئت دفاعل يا مفعول حقيقى بيانوى او مراد زمونږ فاعل يا مفعول نحوي دي ددي حال خو نه بيانوى.؟ **جواب:** حال هيئت دفاعل يا دمفعول بيانوى ددي حيثيت نه چې دا په تركيب كښى فاعل يا مفعول واقع شوي دي. **فبذكر الهيئة:** دي سره فوائد دقيودو ذكر كوى. **وهذا الترديد:** دفع داعتراض: تاوويل چې الحال ما يبين هيئة الفاعل او المفعول به او راځى دپاره داحد الامرين نو معنى دا چې حال به يا صرف هيئت دفاعل او ياد مفعول بيانوى، زه به درته وښايم چې هيئة دفاعل او مفعول دواړو به بيانوى لكه ضرب زيداً عمرواً راكبين ؟ **جواب:** دلته او دپاره دمانعة الخلو دي يعنى حال به ددي دواړو نه خالى نه وى او جمع ئى راتلى شي.

لفظا اى سواء: اعراب دلفظا دويم دفع داعتراض، دريم معنى دلفظا ،څلورم تعميم، اول خبره: لفظاً دا منصوب دي ځكه خبر دي دپاره د كان محذوفه اى سواء كان المفعول والفاعل الذى وقع حالاً عنه لفظاً : **اى لفظياً:** دفع داعتراض دا هغه مشهور اعتراض دي.

بان تكون: دريم خبره : معنى دلفظا ذكر كوى سواء كان ملفوظين او حقيقتاً او حكماً دا څلور غرض تعميم ذكر كوى، **اومعنى**: اى معنوياً دفع داعتراض مشهوره: معنى دمعنوياً ، دريم تتميم څلورم تعدد دنسخو، بان تكون سره دويم غرض معنى دمعنويا ذكر كوى، والمراد سره غرض تتميم دمافات دماتن ذكر كوى.

ولوقرئ: څلورم خبره : تعدددنسخو ذكر كوى. مثل ضربت زيداً قائماً مثال اللفظى المفلوظ حقيقة، اول تعين دممثل له او پدي سره به دفع داعتراض چى يو مثال كافي وو هم اوشى چى ممثلات كثير دي، ممثلات ئى ځكه دري راوړل چى عامل دفعل به يا لفظى وى يا به معنوى بيا لفظى به يا ملفوظ حقيقتاً وى او يا حكماً نو دوه دا شو او دريم مثال دفعل معنوى راوړي.

ولاشك: دفع داعتراض ، پـه اشير او انبـه خـو مـونږ تلفظ وكړو نو دا خو دملفوظ مثال شو نو دمعنوى جواب شته دي. **وعاملها**: دا تصريح كوى ماتن رحمه الله په ما علم التزاماً باندي ځكه مخكښى خو معلومه شوه چى عامل دحال فعل دي الخ. **اما الفعل**: دفع توهم : متوهم بـه دا تـوهم كولـو چى عاملهـا الفعـل او شبهه او معناه پديكښى به دا او په معنى د واو سره وي نو شارح دفع دتوهم وكړه چى دلته او پخپله معنى چى اما ترديد سره دي نه پـه معنى د واو سره . **المفلوظ اوالمقدر**: اول تعميم ، دويم مثال ، اول تعميم ذا چى دا عامل دحال چى فعل دي عام دي ملفوظ وى او كه مقدر وى. دويم مثال ضربت زيداً قائماً وزيد فى الدار قائماً يو مثال دفعل ملفوظ دي او بل مثال دفعل مقدر دي ځو چى كله د فى الدار جار مجرور دپاره متعلق فعل مقدر را اوباسى بناء برمذهب بصريان .

اوشبهه: اول معنى دشبه، دويم توضيح بالمثال . **اومعناه**: اول معنى دمعنى، دويم توضيح بالمثال . **وشرطها اى شرط الحال ان تكون نكرة**: بله مسئله ذكر كوى چى حال بـه نكره وى او ذوالحال بـه معرفـه وى غالبـاً لان النكرة سره دليلين ذكر كوى ښكاري يو دليل خو فى الحقيقة دليلين دي. **وان يكون صاحبها معرفة**: شارح (وان يكون) راوويستلو اشاره ئى وكړه قاعدي دعطف ته چى صاحبها معرفه دا عطف دي په نكرة باندي نو د (ان) تكون لاندي شو لانه محكوم عليه سره دليل ذكر كوى.

غالباً: اول معنی دغالباً ذکر کوی، دویم دلیل، دریم دفع داعتراض، څلورم رد په بعضو خلقو، اول خبره: ای لیس اشتراطها سره معنی دغالباً ذکر کوی. دویم، وبیان ذلك سره دلیل ذکر کوی، بان جَعَلْتَ امرا سره بل ترکیب ته اشاره کوی چی دا حال شی دضمیر مستتر دحکم نه نو د ا بیا دمانحن فیه نه ندي **اوبعدالا**: اعتراض من الخارج: پدي مثال باندي چی مثال دي مطابق نشو دممثل سره چی ما جاءنی رجل الاراکباً د (او بعد الا) عطف دي په (او مغنیة غناء المعرفة) باندي پدي کښې ذوالحال ته ضمیر راجع دي نو معنی دا شوه چی ذوالحال به پس د الانه وی او په مثال کښې د الانه مقدم دي **جواب**: یو جواب دادي چی دا او بعد الاعطف ندي په او مغنیة الخ.. باندي معنی دلته داده چی دا حال به وروسته د الانه وی او پدي مثال کښې دي داسي **دویم جواب**: دادي چی دا دکاتلب غلطی ده اصل کښې داسي دي چی او قبل الایعنی یا به ذوالحال مخکښې وی د الانه او دلته مخکښې دي.

دریم جواب: دادي چی بعد دظروفو څخه دي او مبنی دي په ضمی سره مضاف الیه ددي حذف دي معنوی دي نو تقدیر دعبارت داسي دي چی بعده الا پس ددغه ذوالحال نه به الاوی او دلته هم دي.

فقوله غالباً: دا غالباً قید د ذوالحال دمعرفه والی دپاره ندي بلکه دا قید دپاره د اشتراط دي یعنی دا معرفه والی شرط ئی غالباً دي **ویحتاج**: رد په بعضو خلکو کوی بعضو خلقو ددي اعتراض نه جواب کړیدي چی وشرطها ان تکون نکرة دا بس خلاصه شوه او داصاحبها معرفه ددي دشرط سره څه اړیکه نه لري بلکه دا خاتته جمله ده نو دي یحتاج سره پري رد کوی چی وصاحبها معرفه ده عطف دي په نکره باندي او لاندي دي دشرط نه. **وارسلها العراك**: غرض دماتن پدي سره دفع اعتراض ده هغه دا چی تاووئیل چی شرط دپاره دحال دادي چی دا به نکره وی نو دلته خو العراك حال دي معرفه دي نکره نده نو ماتن جواب کوی چی متاؤل دا مفعول مطلق دي.اول تتمیم دشعر، دویم تعین دشاعر، دریم غرض دشاعر، څلورم دفع اعتراض، پنځم معنی ددې شعر، شپږم دفع داعتراض.

اول غرض: ویزودهاسره ذکر کوی، دویم دا شعر دلبید دي ، دریم ویصف حمار

الوحش . **ای ارسلها**: وکان المراد بالارسال سره دفع داعتراض هغه دا چی ارسال صفت دذوي العقول دي او حمار وحشي خو عقل نه لري ؟ **جواب**: ذکر د ارسال او مرادترینه تخلي ده، ای ارسلها سره پنځم غرض معنی دشعر . **ولعل المراد ههنا**: دفع داعتراض ، تاخو والد خال ووئیلو دا خو صفت د اوښانو دي او دلته دي د (اتان) یعنی خرو دپاره صفت وګرځولو . ؟ **جواب**: په تقدیر دمثل سره یعنی دلته مرادنفس مداخلت دي دبعضو په بعضو باندي نتوتل دي دبعضو په بعضو کښی .

فلا یرد نقضاً علی قاعدة اشتراط کونها نکرة: پدي سره بیان غرض دماتن ، دویم بیان دتاویلینو، دریم نظیر ، **فلا یرد**: غرض دماتن دفع داعتراض ده هغه دا چی تا ووئیل چی شرط دپاره دحال دادي چی دا به نکره وی نو دلته خو معرفه ده؟ **جواب**: متاؤل بالنکرة . وتاویلها علي وجهین : ذکر دتاویلینو کوی او کما ان حسن الوجه سره بیان دنظیر کوی کوم چی دریم غرض وو

فان کان صاحبها ای صاحب الحال نکرة محضة: دي سره بله قاعده ذکر کوی هغه دا چی کله ذوالحال نکره وی نو تقدیم دحال واجب دي په ذوالحال باندي لکه کله چی مبتدا نکره وی نو تقدیم دخبر پري واجب دي دپاره ددي چی نکارت دمبتدا رانه شی لکه رجل فی الدار رجل شو دغه شان په ذوالحال کښی هم، ځکه که حال مقدم نه کړي نو التباس ئی راځی دصفت او موصوف سره په حالت نصبی او په حالت جري کښی اګرچه التباس دصفت او موصوف سره نه راځی ځکه حال منصوب وی او صفت او موصوف مرفوع ومجرور هم راتلی شی خو تقدیم دحال واجب دي طردا للباب،

محضة: اول دفع داعتراض، دویم هم دفع داعتراض، اول خبره: زه به درته وښایم ذوالحال به نکره وی او تقدیم دحال به پري نه راغلی لکه جاءنی رجل من بنی تمیم فارساً . ؟ **جواب**: مراد دنکري نه نکره محضة ده چی شائبه دتخصیص پکښی نه وی،او دلته خوئی تخصیص په من بنی تمیم سره راغلی دي:**ولم تکن الحال مشترکة بینها**: دویمه خبره : دفع داعتراض، هلکه زه به درته وښایم چی ذوالحال به نکره وی او شبه دتخصیص به هم پکښی نه وی او تقدیم دحال به بیا هم پري نه وی راغلی لکه جاءنی رجل وزیدٌ راکبین ؟ **جواب**: دلته یو بل قید هم شته چی کله ذوالحال نکره وی نو

تقديمي دحال پري واجب دي خو دا حال به مشترك نه وي په مخكښې ذوالحال نكري اومعرفي كښې او دلته مشترك دي دا حال په ذوالحال نكري كښې چې رجل دي او ذوالحال معرفي كښې چي زيد دي نو لهذا تقديم دحال واجب نشو،

وجب تقديهما : اول غرض دضمائرو، دويم دليلين ذكر كوي اول غرض : اول دليل د ليختص النكرة سره او دوهم دليل دلئلا يلتبس بالصفة سره ذكر كوي ،

لا تتقدم: اول تعين دضمير كوي چې راجع دي حال ته دفع داعتراض، هغه دا چې زه به درته وښايم چې حال به مقدم وي په عامل معنوي لكه زيد قائماً كعمرو قاعده داده دلته قائمامقام حال دكاف نه چې دا په معنى دشبهت سره دي نو دا عامل معنوي دي او قائماً حال پري مقدم دي؟ **جواب**: ماعدا ددي تركيب كښې به حال نشي مقدم كيدي په عامل معنوي باندي او دلته ځكه مقدم كيديشي چې بيا به پته نه لږېږي چې مشبه به كوم يو دي او مشبه كوم يو دي.

د عامل معنوي تعريف

قد عرفت فيما قبل الخ.. اول غرض : تعريف دعاملِ معنوي، دويم توطيه او تمهيد اول غرض، تعريف دعامل معنوي تا مخكښې وپيژندلو

وان ما هو مقدر: دي سره توطيه او تمهيد ذكر كوي چې هر هغه فعل يا اسم فاعل چې مقدر وي په اسم ظرف كښې يا په جار مجرور كښې دا خارج دي دعامل معنوي نه او داخل دي په عامل لفظي كښې چې فعل يا شبه فعل دي. **بخلاف الظرف**: اول غرض معنيين دبخلاف الظرف: دويم اختلاف، دريم توضيح بالمثال، څلورم قول اخر. اول غرض يوه معنى دا چې حال په عامل معنوي نشي مقدم كيدي مګر چې كله عامل ظروف وي او دويمه معنى داده چې حال كښې اګرچه دظرفيت معنى پرته ده خو سره ددينه ئي په عامل معنوي نشي مقدم كولى **فان فيه خلافاً**: دي سره بيان اختلاف كوي سيبويه وائي چې حال بالكل نشي مقدم كولى اګركه ظرف وي دغه عامل ، ځكه ظروف ضعيف العمل دي، او اخفش وائي چې حال مقدم كولى په عامل چې كله ظرف وي خو چې حال مقدم نه وي په مبتدا لكه زيد قائماً في الدار دا صحيح دي خو كه حال په مبتدا مقدم وو نو دا تقديم ندي جائز لكه قائماً زيد في الدار ، دي سره دريم غرض

توضیح بالمثال هم وشو.

هذا اذا لم یکن الظرف: دي سره څلورم غرض قول اخر د اوجه هله جائز ده چی کله ظرف داخل نه وی په عامل معنوی کښی او که چیرته داخل وی په عامل معنوی کښی لکه څرنګه چی ظاهر ده کلام ددوي نه هغه دا چی داظرف داخل دي په عامل معنوی کښی که داخل نه وی نو بیا استثناء ترینه نه صحیح کیده، نو دا دویم احتمال دي. **سواء کان مجرورا بالاضافة:** اول قسمین ذکر کوی، دویم دلیل ، دریم اختلاف، څلورم، توطیه او تمهید، اول غرض قسمین، دا ذوالحال به یا مجرور وی په اضافت سره او یا به مجرور وی په حرف جر سره، وذالك دي سره دلیل ذکر کوی هغه دا چی کله ذوالحال مجرور بالاضافة وی نو حال پري نشی مقدم کولی څکه تابع او فرع د ذوالحال وی او مضاف الیه دا نشی مقدم کیدلی په مضاف باندي نو تابع د ذوالحال نشی مقدم کیدلی په حال چی مضاف دي، او که چیرته مجرور د ذوالحال په حرف جر سره وی نو پدیکی اختلاف دي، ففیه خلاف ، دریم خبره: اکثر بصریان وائی چی تقدیم دحال په هغه ذوالحال چی مجرور په حرف جر سره وي ندي جائز او دلیل ئی هم هغه د اضافت دلیل دي او دا مذهب دماتن دي نه دشارح،

ونقل عن بعضهم: اول بیان دقول، دویم دلیل دقول والا ، دریم وجه دفرق، څلورم جواب : پنځم دفع داعتراض، شپږم نور جوابات، اووم دفع اعتراض، اتم رد ،اول غرض بعضو ووئیلی چی تقدیم په دغه مذکور ذوالحال باندي دحال جائز دي، **استدلالاً:** دلیل ئی دادي چی الله ﷻ فرمائی چی ﴿ وما ارسلناك الا كافة للناس ﴾ الناس مجرور بحرف الجر دی او کاف ئی حال پري واحد الفرق. دي سره فرق ذکر کوی په مابین دمجرور بحرف الجر اوپه مابین د ذوالحال چی مجرور وی په اضافت سره، **واجاب:** دي سره جواب کوی د استدلال دبعضو نه چی کافة دا حال دي دکاف نه ، نه دللناس څخه. **والتاء للمبالغة:** دفع داعتراض هغه دا چی کافة خو مذکر دي او حال چی کافة دي مؤنث دي نو مطابقت مابین د ذوالحال او دحال کښی د رانغلو. ؟ **جواب:** دلته تاء دپاره دمبالغی ده نه دپاره دتانیث او کاف په معنی دمنع کونکی سره خودا مذهب ضعیف دي څکه نبی ﷺ خو یواځی منع کوونکی نه وو بلکه آمرهم وو.

وبعضهم بجعلها: نور جوابات ، بعضو ویلی چی کافة دا صفت دي دپاره دموصوف محذوفه چی رسالة کافة دي، او بعضو وویلی چی دا مفعول مطلق دي دفعل دمقدره دپاره چی تکف کافة دي کالکاذبة، اووم غرض : دفع داعتراض هغه دا چی هلکه کافة خو اسم فاعل دي او مفعول مطلق خو مصدر وی . ؟ **جواب:** دا مصدر دي پشان دکاذبة او عافية ، والکل تکلف ، اتم غرض شارح رد کوی چی داټول تکلفات دي بلکه اصحه خبره داده چی تقدیم دحال په ذوالحال مجروره بحرف الجر سره راتلی شی، **وکل مادل علی هیؤة ای علی صفة:** اول غرض بیان دمعنی دهیئت چی هیئت په معنی دصفت سره دي.

من غیر ان یؤول الجامد بالمشتق: اول دفع داعتراض ، دویم دلیل، دریم بیان دغرض ماتن، اول غرض دفع د اعتراض هلکه مسائل دفن دا نظري دي او دا خبره خو بدیهی ده چی هرشی چی مشتق وی ا و که جامد حال واقع کیږي که جامدوو خو مشتق ته به مؤول کیږي . ؟ **جواب:** مونږه وایو چی بغیر ددینه چی په جامد کښی تاویل الی المشتق وشی حال واقع کیداي شی ، لان المقصود. دویم غرض دي سره دلیل ذکر کوی چی مقصود په حال سره بیان دهیئت وی او دا په جامد سره هم حاصلیږي .

وهذا رد: غرض دماتن رد کول دي په جمهورو ځکه چی هغوی دحال واقع کیدلو دپاره شرط اشتقاق ګرځولی او تکلف کوی په تاویل دجوامدو کښی مشتق ته، **وهو مابقی فیه حموضة اغراض:** دي سره بسر خرماؤ ذکر کوی، **وهو ما فیه حلاوة:** معنی درطب ذکر کوی چی هغه کجوره چی په هغی کښی خوږ والی وی، دویم تطبیق ، دریم تاویل دجمهورو، څلورم عامل په رطب کښی **فهما مع کونهما:** دي سره تطبیق دمثال دممثل له سره کوی، **ولا حاجة:** دي سره تاویل دجمهورو ذکر کوی، **والعامل فی رطب:** عامل په رطباً کښی بالاتفاق اطیب دي او په بسراً کښی عامل په نزد دمحققینو هم دا اطیب دي.

وتقدم بسرا علی اسم التفضیل: اول غرض دفع داعتراض ده، دویم هم دفع داعتراض ده، دریم هم دفع داعتراض ده، څلورم قول آخر، پنځم دوه ردونه په دغه قول، اول غرض دفع داعتراض، هلکه ! اطیب اسم تفضیل دي او اسم تفضیل ضعیف العمل

دي په مقدم کښې عمل نشی کولی پکار ده چی بسرا دي وروسته ذکر کړي وي؟ **جواب:** چی کله یو شی پوري دوه حاله متعلق شی په مختلفو اعتباراتو سره نو مناسب ده چی هر یو دخپل ذو الحال سره نزدي وي نو بسرا دا حال دي دهذا نه نو هذا سره نزدي دي، **وهذه الحيثية:** اعتراض: هلکه! دا بسراً دا متعلق او حال د هذا وګرځیدو ددي حیثیت نه چی دا مفضل دي اودا مفضلیت ئی داطیب نه معلومیږي چی کوم ضمیر په اطیب کښې دي نو بسراً به دي د اطیب نه وروسته ذکر کړي وی داسي چی هذا اطیب بسراً منه رطباً ؟

جواب: دا بسرا اګرچه مفضل دي په اعتبار د اطیب سره خو دلته یو هذا اسم ظاهر دي او بل په اطیب کښې اسم ضمیر دي او مضمر په نسبت سره مظهر ته کالعدم وی نو الحاق او تعلق دحال دمظهر سره اولی دي دمضمر نه. **قال الرضی:** دفع اعتراض: هغه دا چی هر کله رطباً دا حال شو د ضمیرد اطیب نه، نو منه ته څه ضرورت وو؟ **جواب:** دا اګرچه مفضل او مفضل علیه دواړه دي خو لیکن کله چی مستکن شو نو دا کالعدم شو نو مونږه منه ضمیر راوړو، **وذهب بعضهم:** قول اخر بعضی وائی چی عامل په بسراً کښې هغه اسم اشاره ده یعنی په معنی د اشیر الیه سره.

وهذا ليس بصحيح: دي سره دوه ردونه ذکر کوی یو دا چی مشار الیه دا تمر یابسر وی خو دا رد ضعیف دي ځکه که مشار الیه تمر یا بسر وی نو بیا دهغه خو به بل نوم وي، دویم رد دادي چی اسم اشاره ځکه عامل نشی ګرځیدلی چی دا کیدلی شی چی داسم اشاره په ځاي یو داسي اسم واقع شی چی هغه عامل نشی ګرځیدلی لکه تمرة نخلی بسرا اطیب منه رطباً دلته تمرة نخلی مضاف الیه دي او دا عامل نشی ګرځیدی او دا رد صحیح دي

وقد تكون: تعین دضمیر کوی چی ضمیر راجع دي حال ته، **لدلالتها على الهيئت:** دي سره دلیل ذکر کوی **ولكن يجب:** دي سره توطیه او تمهید ذکر کوی چی دغه جمله به حالیه خبریه وي، **محتملة للصدق والكذب:** اول تعریف دخبریه، دویم دلیل، دریم توطیه. اول غرض، جمله خبریه دا هغه ده چی احتمال دصدق او کذب لري، لان الحال بمنزلة الخبر، دویم دي سره دلیل هغه دا چی حال دا په منزله دخبر وي د

ذو الحال نه او په حال سره حکم کيږيُ په ذو الحال او حکم دا په خبريه سره کيږي نه په انشائيه سره.

ولما كانت الجملة: دي سره توطيه هغه دا چې جمله دا مستقله وی نو چې کله حال واقع شي نو رابُط پکار دی چې حال د ذوالحال سره وتړي نو هغه رابط به واو اويا ضمير وي، **اى الجملة الاسمية:** دفع اعتراض ده هغه دا چې خروج عن البحث راغلو ځکه زمونږه خبره شروع وه په حال کښې او ته لاړي جملی اسميي ته؟ **جواب:** مراد دجمله اسميه نه هغه ده چې حاليه وی، **ولقوة الاسمية:** دي سره دليل ذکر کوی چې رابط دجملی اسمي به واو او ضمير دواړه ولی وي او دويم غرض توضيح بالمثال کوی. دريم دفع داعتراض ، اول غرض واو يواځې ځکه راوړي شي چې دا په الامر کښې دلالت کوی په ربط باندي، **مثل قوله:** دي سره توضيح بالمثال ذکر کوی، **وهذا:** دي سره دفع اعتراض کوی هغه دا چې زه به درته وښايم چې جمله اسميه به وي او نه به په کښې واو وی او نه ضمير لکه هو الحق لا شك فيه . ؟

جواب: مراد دحال نه هغه حال منتقله دي او دا خو حال مؤ کده دي. **وبالضمير وحده على ضعف:** اول دليل ذکر کول دي، او دويم غرض توضيح بالمثال کوی، **والمضارع المثبت:** يو غرض دليل ذکر کوی دويم غرض توضيح بالمثال، **وماسواهما:** يوغرض تعين دهما کوی چې يو جمله اسميه ده او بل مضارع مشتبه ده او دويم غرض تعين د ماسوی کوی چې هغه مضارع منفی ماضی مثبته او منفی ده **اوباحدهما وحده من غير ضعف:** اول غرض فرق ذکر کوی، دويم توضيح بالمثال ، **المقربة:** اول معنی دقد ذکر کوی چې دقد معنی داده چې زمانه دماضی حال ته نزدي کوی په اعتبار دوضع سره، **اووقوعه عليه تجوزا:** دفع داعتراض : هغه دا چې قد خو زمانه دماضی را نزدي کوی حال حقيقی ته نه حال نحوی ته او خبره خو زمونږ په حال نحوی کښې ده؟

جواب: دا مجازاً داسي دي لکه زمانه دماضی چې حال نحوی ته رانزدي کوی.

وهذا بخلاف: دي سره اختلاف ذکر کوی چې کوفيان نه قد ظاهراً او نه مقدراً ثابتوی **سواء كانت ظاهرة:** دي سره اشاره کوی چې ظاهرة دا منصوب دي ځکه چې دا خبر دي دپاره د کان ، **نحو قوله تعالى:** يو غرض توضيح بالمثال ، دويم اختلاف ،

دريم دفع اعتراض. اول غرض مثال دقد مقدره لکه (حصرت صدورهم) په کښې قد حصرت صدورهم حصرت صدورهم دا صفت دي دمحذوفه دپاره چې قوماً دي او مبرد رحمه الله وائی چې حصرت صدورهم دا جمله دعائيه ده او لا محل لها من الاعراب اصل کښې داسي دي چې اوجاؤکم للقتال حصرت صدورهم. **وانما لم يشترط**: دي سره دفع اعتراض ده هغه دا چې قد په ماضی مثبت کښې وائی او ماضی منفی څه ګناه کړي ده؟ **جواب**: ماضی منفی کښې استمرار دي بغير دمانع نه نو د ذوالحال سره نژدي وي.

ويجب حذف العامل: دفع داعتراض. هغه دا چې زمونږ بحث شروع وو په حال کښې او ته لاړې عامل ته؟ **جواب**: مراد دعامل نه عامل دحال دي. **اى الشارع فى السفر**: دفع اعتراض. هغه دا چې مسافر خو هغه ته وائی چې لاړشی دکور نه نو بيا زرته څرنګه وايي چې راشدا مهدياً ،دريم تتميم دمافات دماتن کوی. دلته راشدا مهديا کښې (سر) حذف دي په قرينه دحال مخاطب سره **وقوله مهديا**: سره اعراب دمهديا ذکر کوی دا يا صفت دي دپاره د راشدا او يا حال د(من) نه يعنی دويم حال دي.

او مقالية: دي سره دريم غرض تتميم دمافات دماتن کوی چې يا به دا حذف دعامل دوجی دقرينی مقاليه نه راغلی دي لکه ته په جواب کښې ورته راکباً ووائی مثلاً تا نه څوك سوال وکړي چې کيف جئت اوجواب کښې ورته ته راکباً ووائی نو دلته قرينه مقاليه شته دي چې مذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب وي. **ويجب فى بعض الاحوال المؤكدة**: شارح قيد دبعض الاحوال ولګولو خکه دهر حال مؤکده عامل وجوبا نه حذف کيږي بلکه دهغه حال مؤکده عامل وجوبا حذف کيږي چې دا حال مؤکده وی جملی اسمي لره، نه دجملی فعليه لره.

تعريف د حال مؤكد

وهى اى الحال: تعريف دحال مؤکده، دويم فايده دقيد دمطلقاً په فائده دموکده اول غرض تعريف دحال موکده دادي چې دا د ذوالحال سره موجود وي غالباً ترڅو چې ذوالحال موجود وي مطلقاً سره دفع دتوهم وشوه هغه دا چې متوهم به ويل چې داتعريف به دهغه حال موکده وی چې عامل يی حذف کيږي نو ده جواب وکړو چې دا دمطلق حال موکده تعريف دي. **بخلاف المنتقلة**: دي سره دريم غرض ذکر کوی چې دحال منتقلة

عامل به نه حذف کيږي ځکه چی حال منتقلة دا قيد وی دپاره د ذوالحال نو چی عامل حذف کړي يعنی مقيد نوقيد به دچا دپاره راوړي **بفتح الهمزة اوضمها:** يو غرض معنيين ذکر کوی داحقه : **قول آخر:** اول غرض عطوفا دا حال دي او عامل ئی احقه دي او ددي دوه معناګانی دي اول دا چی ماد زيد دپلار دپاره عطوفت ثابت کړو ، دويم معنی يي داده چی زه وګرځيدم په يقين سره چی دا د زيد پلار دي او عطوف دي ،

وقال صاحب المفتاح: دي سره فائده دقيد دمضمون دجملی ذکر کوی که چيرته حال وو دبعض نه نو بيا حذف دعامل ندي واجب لکه (انا ارسلناك للناس رسولا) دلته رسولاً حال دي صرف دکاف نه. **احترزبها:** فائده دقيد . دويم توضيح بالمثال ، دريم داعتراض اول غرض جمله اسميه سره احتراز راغی دجمله فعليه نه ځکه دډي عامل نه حذف کيږي وجوباً **قال صاحب الكشاف:** دي سره توضيح بالمثال کوی. **ولابدههنا:** دي سره دريم غرض دفع اعتراض ده هغه دا چی زه به درته وښايم حال مؤکده به وی او عامل به حذف نه وی لکه (الله شاهد قائما بالقسط) ؟ **جواب:** دا جمله اسميه به داسي اسمين ځخه جوړه وی چی صالح دپاره دعمل به نه وی په حال کښی که صالح وی نو بيا هو عامل مذکوره شو نو ځرنګه به يی حذف واجب شی او ستا په مثال کښی اسمين صالح للعمل دي

بيان دِ تميز

تميز دا مبتدا مقدمه ده او خبر ئی محذوف دي چی من المنصوبات التميز يا عکس ددي چی دا خبر شی نو تقدير به داسي شی چی هذا بيان التميز ، تميز دا مصدر دي که مبنی للفاعل شی نو معنی به ئی راشی چی داسي شی چی دا مميز دي مراد دمتکلم لره دغير مراد نه او که دا مبنی للمفعول شی نو معنی به داسي شی چی دا جنس مميز دي د نورو اجناسو نه، **ما اى الاسم الذى:** تعين د (ما) کوی چی مراد دما نه اسم دي او غرض پکښی دفع اعتراض هغه دا چی زه به درته وښايم چی رفع دابهام به ئی کړي وی او ځوك به ورته تميز نه وائی لکه فعلت قتلت دلته رفع دابهام کړي ده دفعلت نه ؟ **جواب:** مراد دما اسم دي ای قتلت خو فعل دي **واحترزبه:** دي سره فائده دفع ذکر کوی چی پدي سره احتراز راغی دبدل نه ځکه بدل او مبدل منه کښی بدل

مقصود وی ترک دمبهم وی چی مبدل منه دی او اراده دمعین وی چی بدل دي او په ممیز او تمیز کښی دواړه مراد وی خو تمیز رفع دابهام کوی دممیز نه،

ای الثابت الراسخ: بیان دمعنی دمستقر، دویم بیان دیو قید، دریم دفع داعتراض، څلورم فائده داعتراض، پنځم بیان داختلاف، شپږم تتمیم دمافات، اول غرض: مستقر په معنی دثابت په معنی موضوع له کښی من حیث انه موضوع له دي سره دویم غرض بیان دقید، فان المستقر ، دي سره هلکه ماتن خو قید دمستقر عام وئیلی وو او تا ولی قید ورسره دمن انه موضوع له ولګولو؟ **جواب**: ابهام مستقر دا مطلق ذکر شوي وو او شی چی مطلق ذکر شی صرف ئی کیږي فرد کامل ته او فرد کامل په ابهام مستقر کښی هغه وضعی وي، **واحترز**: فائده دقید دمن حیث انه موضوع له دي سره دفع اعتراض راغله هغه دا چی رایت عینا جاریةً رفع د ابهام راوویستلی دعینا نه او عینا دا وضع دي دپاره دجاریة او سره ددینه چی جاریة ته څوك تمیز نه وائی؟ **جواب**: مونږ وایو چی ابهام به په وضع کښی وي خو ددي حیثیت نه چی وضع به ئی دپاره دابهام شوي وي او دلته وضع کښی ابهام نشته بلکه دلته ابهام دتعدد اوضاعو دوجی نه راغلی دي.

وکذا یقع به الاحتراز عن اوصاف: دي سره اشاره کوی اختلا ف ته چی په انه موضوع له سره احتراز راغی دهغه اوصافو دمبهم نه لکه هذا الرجل دلته الرجل ته تمیز نشی ویلی ځکه دلته ابهام هذا کښی نشته دي او پدي کښی دوه مذهبه دي، اول مذهب دعلامه تفتازانی رحمه الله دي او دویم جمهورو مذهب دي، علامه تفتازانی رحمه الله وائی چی دهذا وضع شوي دپاره دمفهوم کلی خو په شرط داستعمال ددي هذا سره په جزئیاتو کښی او مفهوم کلی دهذا هغه هر واحد مشهد بالبصر مذکر کوی. دویم مذهب جمهور وانی چی دهذا وضع دهر جزئي جزئي دپاره شوي خو په واسطه دمراعات مفهو کلی سره نو بناء په دواړو مذهبو سره ابهام په هذا کښی نشته دي بلکه ابهام دوجی دتعدد اوضاعو او دوجی دتعدد داستعمال نه راغلی دي.

وکذا یقع : دي سره شپږم غرض تتمیم دمافات دماتن کوی چی په انه موضوع له سره احتراز راغی دعطف بیان نه ځکه عطف بیان کښی ابهام په ذات کښی نه وي

بلکه ابهام دوجی دعدم شهرت نه راغلی وي لکه ابو حفص عمر . **عن ذات**: فائده دقید:دویم فرق په مابین دحال او صفت دتمیز سره : اول غرض : ددي قید چی دذات نه به رفع دابهام کوی دي سره احتراز راغی دحال او صفت نه ځکه دوي دواړه رفع دابهام کوی خو دصفت نه،

وتحقيق ذلک: فرق په مابین دحال او دصفت کښی دادي چی مثلاً رطل دا واضع وضع کړي دپاره دیو معنی معیني چی هغه نصف مَنْ دي نو دغه رطل دانصف من جدا کړي داقل دنصف نه چی ربع ده او د اکثر دنصف من نه چی هغه یو من یا دوه منه دي اوس په دغه نصف نصف من کښی ابهام نشته مګر په جنس کښی ئی ابهام دي چی دانصف من دعسلو دي او که د سرکی دي او که دبل شی دي، او په دي رطل کښ دوصف په اعتبار سره هم ابهام شته ځکه په حسب دوضع سره ددي وصف ندي معلوم چی دا وصف بغدادي دي او که مدنی دي، اوس که ستاااراده رفع دابهام وصفی وي نو وروسته ددغه رطل نه به صفت یا حال راوړي چی رطل بغدادي دي او که اراده ستا رفع دابهام وی دجنس درطل نه نو داسي به وائی چی رطل زیتا یعنی تمیز به راوړي نو زیتا دا رفع دهغه ابهام کوی چی هغه مستقر دي په ذات او جنس درطل کښی.

صفتان للذات: اول اعراب بیانول ، دویم غرض دماتن، دریم توضیح بالمثال : اول غرض : دامذکوره او مقدرة صفتین دي دذات دپاره نو هغه مجرور وو دوي به هم مجرور وي،

تقسيم د ذات مقدره او مذکوره

اشارة الى تقسيم الذات : غرض دماتن تقسیم دذات کوی مذکوره او مقدرة ته چی رفع ئی راوستی وي دذات مذکوره نه لکه رطل زیتا او چی د ذات مقدره نه ئی رفع د ابهام راوستی وی لکه طاب زید نفسا دا په اصل کښی داسي دي چی طاب شئ منصوب الی زید نفسا دلته نفسا رفع ابهام راوستی د شئی مقدره نه او دي کښی دریم غرض توضیح بالمثال هم وشو،

فا الاول: اول تعین دموصوف ، دویم بیان د اول، دریم دجار مجرور متعلق ، اول غرض : الاول دا صفت دي او القسم ئی موصوف دي، **وهو ما يرفع**: اول هغه چی رفع

دابهام کوی دذات مذکوره نه، یرفع دعن مفرد متعلق یرفع دي، **مقدرا صفة**: اعراب دمقدار چی داصفت دي دپاره دمفرد ، او دویم غرض معنی دمقدار ذکر کوی چی مقدار وائی هغه شي ته چی په ده سره بل شی پیژندل کیږي.

ای فی غالب المواد: معنی دغالباً : دویم توطیه او تمهید، اول غرض: معنی دغالباً داده چی رفع دابهام مطلقا که د ذات مذکوره نه وی او که د ذات مقدره نه دا متحقق کیږي په ضمن ددغه خاص رفع کښی چی دذات مذکوره نه وی. **والمقدار**: دویم خبره ، توطیه او تمهید: توطیه چی دامقدار به یا په ضمن دعدد کښی الخ. موجودیږي **اما متحقق فی ضمن عدد**: شارح قید دمتحقق راویستلو چی فی عدد دا متعلق دي په محقق پوري ، او قید دضمن ئی راویستلو دپاره د دفع دتوهم چی متوهم به دا ووئیلی چی په عدد کښی خو ابهام نشته نو ده دغه وهم دفع کړو چی په ضمن دعدد کښی به وي **ای غیر العدد کالوزن**: یو غرض تعین دضمیر کوی چی ضمیر غیر عدد ته راجع دي او دویم غرض تعین دغیر کوی چی هغه وزن دي

والمراد بالمقادیر: دفع داعتراض، دویم دفع اعتراض، دریم وجه دنصب دتمیز، څلورم دفع داعتراض، اول غرض: تا چی څومره مثالونه ذکر کړي دا یو هم مطابق دممثل سره ندي ځکه تاویل چی رفع به یا دعدد نه او یاد کیل نه او یا د وزن وغیره نه کوی نو ابهام خو په عدد او وزن او کیل کښی نشته دي؟ **جواب**: ذکر دعدد او مراد ترینه معدود یعنی مقدار، نه مراد مقدرات دی . **وانما اقتصر المصنف** رحمة الله عليه: هلکه ! ماتنه تا خود بعضو مثالونه ندي راوړي لکه د ذراع او بعضو مثالونه دي مکرر راوړي دي لکه وزن ؟ **جواب**: مراد زمونږه هغه بیان دامثله ندي بلکه مراد زمونږ هغه بیان داتمام داسم دي چی اسم تمامیږي په تنوین سره لکه رطل زیتاً او په الف نون سره لکه په منوان بدرهم او په اضافت سره لکه علی التمرة مثلها زبداً .

ومعنی تمام الاسم: وجه دنصب دتمیز مراد په تمام والی داسم سره دادي چی دا اسم به په داسي حال وی چی اضافت به ئی بل شی ته ممکن نه وی او اسم دا مستحیل الاضافة ګرځی په تنوین او الف نون او اضافت سره نو دا مشابه وګرځیدو دفعل سره په دغه اشیاءؤ سره لکه څرنګه چی فعل په فاعل تمامیږي نو دغه رنګه دغه اسم تمام شو

نو کلام تام وګرځیدو نو څرنګه چی دفعل او فاعل نه وروسته مفعول منصوب راځی دغه رنګه به وروسته ددغه اسم نه تمیز راځی منصوب او دغه نصب به ورته دغه اسم تام ورکوی.

وهذه الاشياء: دفع داعتراض هغه دا چی لکه څرنګه په دغه اشیاء ؤ سره اسم تامیږي او بیا ئی اضافت نه کیږي نو په الف لام سره هم اسم تامیږي او بیا ئی اضافت نه کیږي نو دغه مدخول اللام اسم نه دي وروسته اسم منصوب شی او تمیز دي شی؟ **جواب**: په الف لام سره اګرچی دغه اسم تام ګرځی اضافت ئی نه کیږي خو دغه نور اشیاء په آخر کښی راځی او قایم مقام دفاعل دي او الف لام په اول کښی راځی نو قایم مقام دفاعل نشی ګرځیدلی. **فيرد**: تعین دضمیر، دویم دفع دتوهم، اول غرض ضمیر راجع دي تمیز ته، **وان كان**: دي سره متوهم به دا توهم کولو چی دي مسئله ته چی فیرد به وي، ضرورت نشته ځکه تمیز هسي هم مطابق دممیز راځی نو ده ددغه توهم دفع وکړه چی تمیز کله جنس وی نو مفرد به ئی راوړي اګرکه ممیز تثنیه او جمع وی.

وهو ما يشابه اجزاءه: اول تعریف دجنس، دویم دلیل، دریم توضیح بالمثال، اول غرض: چی اجزاء ئی سره مشابه وی اوپه قلیل او کثیر دواړو باندي واقع کیږي. **فلا حاجة**: دي سره دویم خبره دلیل ذکر کول دي **كالماء**: توضیح بالمثال کوی، **اى مافوق الواحد**: اول دفع داعتراض، دویم دلیل، دریم اعتراض، څلورم جواب: اول غرض: هلکه! انواع جمع ده او کم از کم افراد دجمع دري دي نو معنی دا چی دري نو عی دي مراد وی بیا دغه جنس تثنیه او جمع کوی جواب مراد دانواع نه مافوق الواحد ده. **لانه لا يدل**: دویم خبره دلیل دادي چی جنس مفرد بیا په انواعو دلالت نه کوی نو خامخا به ئی تثنیه او جمع کوی، **قيل**: اعتراض هلکه! تا ووئیل چی تمیز کله جنس وی نو دا به مفرد وی مګر که قصد وی ستا دانواعو نو بیا به تمیز جمع او تثنیه راوړي نو طاب زیدٌ جلستین دنوع دپاره خو صحیح شو نو چی عدد وی نو بیا خو هم دغه تمیز جمع کولی شی نو دا تخصیص دي په نوع پوري صحیح ندي؟

ويمكن: مراد دانواع نه حصی ددغه جنس دي او حصه بیا برابره ده چی کلیه وی او که شخصیه وی چی کلیه وی دا نوعه او که شخصیه وی نودا عدد شو. **اى يورد**

التميز: اول معنی دیجمع ، دویم دفع داعتراض، اول غرض : معنی دیجمع داده چی تمیز به جمع راوړي یعنی مافوق الواحد به ئی راوړي.او دویم غرض دفع داعتراض داده چی هلکه چی کله مراد تثنیه وی نو بیا به هم تمیز جمع راوړي ؟ **جواب**: مراد په جمع سره مافوق الواحد ده

ای فی غیر الجنس: اول تعین دضمیر، دویم مثال، اول غرض ضمیر راجع دي جنس ته، دویم غرض لکه عندي عدل ثوباً دا جنس ندي که جنس وی نو تثنیه کیدو او جمع کیدو ته ئی څه ضرورت وو. **ثم ان کان**: یو غرض تعین دضمیر کوی چی دا راجع دي مفرد مقدارته او دویم غرض خبر دکان ئی وښودلو چی تامه دي او کان ناقصه ده.

او المعنی ان وجد: دي سره دویمه معنی ذکر کوی پدي معنی سره بیا کان تامه دي څکه ده ترینه تعبیر په وجد سره کړیدي. **لحصول الغرض**: دي سره دلیل وائی چی دي اضافت سره تخفیف هم راځی او غرض هم حاصلیږي چی رفع دابهام ده لکه رطل زیت کښی تنوین او په منوا سمن کښی نون ساقط کړي او دي سره دریم غرض هم وشو .

والا: معنی د الاذکر کوی، **فلا**: معنی د لاچی اضافت ندي جائز دویم غرض دلیل، **مثال اما فی الاضافة**: دلیل دادي چی اضافت دمضاف ندي جایز او په نون دجمع سره چی یو اسم تام وی نو دهغه اضافت غیر ممیز ته جائز دي لکه عشریك او عشري رمضان نو که اضافت ئی ممیز ته وشی نو التباس راځی دغه ممیز نو لهذا غیر ممیز ته هم اضافت نشي کولی طردا للباب ، لکه په وخت داضافتْ دعشرین رمضان اوس دا معلومات نه کیږي چی دلته مراد شلم درمضان دي او که شل رمضان دي.

عطف علی قوله: تعین دمعطوف علیه، دویم متعلق دعن غیر مقدار، دریم بیان دغیر مقدار، اول غرض : عن غیر مقدار عطف دي په عن مفرد مقدار باندي، **یرفعه**: دي سره ئی متعلق دعن غیر مقدار ذکر کړو چی هغه یرفع دي، **ای ما لیس**: غیر مقدار هغه دي چی نه عدد وی نه وزن وی نه کیل او نه ذراع او نه مقیاس وی ، **فان الخاتم**: تطبیق دمثال کوی دممثل سره، **ای خفض التمیز**: دي سره دوه دلائل ذکر کوی اول دا چی حصول دغرض چی رفع دابهام ده سره دخفة نه راځی ، او دا چی دا غیر مقدار طلب دتمیز ډیر نه کوی څکه اصل په مبهماتو کښی هغه مقادیر دي نو په مقدار

طلب دتميز ډير نه کوی ځکه اصل په مبهماتو کښې هغه مقادير دي نو په مقدار کښې تميز والی ډير دي دغير مقدار نه نو نصب به هم پکښې ډير وی.

اى القسم الثانى: تعين دموصوف، دويم بيان دثانى، دريم متعلق دعن نسبته، اول غرض: الثانى صفت دي او القسم ئى موصوف دئ، او دريم غرض ثانى قسم دا هغه دي چې رفع دابهام کوی د ذات مقدره نه، او دريم غرض دعن نسبته متعلق هغه يرفع دي، **كان الظاهر:** دفع داعتراض، هلکه! ملا صاحب تا قسم ثانى دا مقابل دقسم اول چې رفع دابهام وه د ذات مذکوره نه وه ګرځولى دي نو هلته دي ذات مذکوره ووئيلی نو دلته به دي هم ويلی وي چې عن ذات مقدرة فى نسبة الخ.. نو تقابل به صحيح شوي وي؟ **جواب:** ابهام په نسبت کښې دا مستلزم دي ابهام لره د ذات مقدره نه او دلته تقابل د اول قسم سره په ذات کښې ندي بلکه په نسبت کښې دي په قسم اول کښې به رفع دابهام راولی د ذات نه او په قسم ثانى کښې به رفع دابهام راولى دنسبت نه، **اى نسبة كائنة:** دي سره متعلق دعن نسبة ذکر کوی.

او ماضاهاها: معنى دمتن، دويم تعين دمعطوف عليه، دريم مصداق دماضاهاها. اول غرض: معنى دماضاهاها ما شابهها ده، **عطف على جملة:** دي سره تعين دمعطوف عليه ئى وکړو، **وهو اسم الفاعل:** دريم مصداق دماضاهاها اسم فاعل اسم مفعول صفت مشبه اسم تفضيل وغيره دي، **مثال للجملة:** تعين دممثل له کوی چې طاب زيدٌ نفساً دا مثال دجملې دي او غرض پکښې دفع داعتراض ده هغه دا چې توضيح دممثل دپاره مثال واحده کافي وي؟ **جواب:** ممثلات ډيروو نو مثالونه ئى هم ډير راوړل.

مثال لما يشبه الجملة: تعين دممثل، دويم فرق، دريم دفع دتوهم څلورم توطيه او تمهيد دمتن آتى دپاره، اول غرض: زيد طيب اباً دا مثال دشبه جمله دي، دويم غرض فرق دمثال دشبه جمله دمثال دجمله سره دادي چې دا احتمال لري چې تميز شي دپاره دمنتصب عنه پوري. **وحيث لا فرق:** دي سره دفع دتوهم هغه دا چې متوهم ته دا وهم ندي پکار چې جمله کښې تميز دا خاص وی په منتصب عنه پوري او په شبه جمله کښې احتمال د دواړو لري.

فهذان المثالان: خلورمه خبره : ګویا دا مخکښې دوه مثالونه په قوة دڅلورو مثالونو کښې شول، جمله طاب زید نفسا طاب زیدٌ اباً اول دمنتصب عنه دپاره. او دویم چې احتمال د دواړو لري، دویم شبه جمله ،زید طیب نفسا زید طیب اباً **عطف علی نفسا:** تعین دمعطوف علیه، دویم دفع دتوهم ، دریم فرق ، اول غرض دا ابوه او علما او داراً عطف دي په نفساً باندي، غیر مختص ، دویم غرض متوهم به دا ووئیل چې دا متن خاص په شبه جمله پورې نو دۀ رد دتوهم وکړو چې دا جمله او دشبه جملې دواړو سره لږیږي ګویا د هریوي پنځه مثالونه شو.

فا لنفس مثلاً: فرق ذکر کوی بین الامثلة : **وترکه:** دفع داعتراض، هلکه! نفساً خو تمیز دي دا دی ولی پریښودو ؟ : **جواب:** ځکه دا اظهر التمیزات دي خفاء پکښې نشته دي. **اشارة الی ان التمیز:** دفع اعتراض، دویم اختلاف، دریم معنی دمتن، اول غرض ،اعتراض هلکه ! لله دره فارساً دا مثال دي دلته ولې راوړو؟ **جواب:** دیکښې اشاره ده دیته چې تمیز کله کله صفت مشتقه هم راځی اعتراض من الخارج هلکه ! دا خو دمخکښې نه معلومه وه چې او ماضاهاها ؟ **جواب:** اکثر جوامد استعمالیږي او اقل مشتقی استعمالیږي نو دقلت استعمال دوجې نه به دا توهم کیده چې کیداي شی مشتقی نه استعمالیږي.

وایضاً: دي سره بیان د اختلاف هغه دا چې صاحب دمفصل دا مثال دپاره دتمیز دمفرد راوړي چې ضمیر د (دره) مفرد مبهم شی او فارساً ورلره تمیز وګرځوی نو دۀ اشاره وکړه چې دا مثال صلاحیت لري چې مثال دپاره دتمیز دنسبت نه وګرځوی نو ضمیر د (دره) به معلوم شی او ابهام به په نسبت د در کښې شی دغه ضمیر ته او فارساً به ورسره تمیز شی. **والدرفی الاصل:** د ي سره معنی دلله دره فارساً ذکر کوی. **ثم ان کان:** بیان دضمیر ، دویم دفع اعتراض، اول غرض : ضمیر راجع دي تمیز ته، دویم غرض دفع اعتراض هغه دا چې زه به درته وښایم تمیز به صحیح وی او اسم به وی او د منتصب عنه نه تمیز صحیح کیږي نه دمتعلق نه. **والمراد بجعله:** معنی دجعل ذکر کوی دجعل یوه معنی صیرورت او نقل دي لکه جعلت الطین حجر. اً اوبل په معنی داطلاق سره لکه دلته . نو دلته په معنی داطلاق سره دي.

اى للمنتصب عنه: بيان دضمير ، دويم معنى دجاز ، اول غرض دله ضمير راجع دي منتصب عنه ته دويم غرض معنى دجاز داده چې شي رفع كوونكى ابهام لره دده نه، **بان يكون**: معنى دمتن، دويم توضيح بالمثال، اول غرض دا تميز به رفع دابهام كوى دمتعلق منتصب عنه په حسب دقرائنو سره ، او دويم غرض لكه طاب زيدٌ اباً . **والا**: معنى د الاذكر كوى چې كه چيرته تميز دا خاص نه وو په منتصب عنه پوري نو دا به بيا خاص دمتعلق دمنتصب عنه دپاره تميز وي. **نحوطاب**: مثال لكه طاب زيد ابوه وعلما وداراً او دويم غرض تطبيق دمثال دممثل سره ذكر كوى دفان هذه الاسماء سره، **اى فيما جاز**: معنى دفيهما چې مطابق به وي تميز په هغه صورت كښې چې تميز وى دمنتصب عنه دپاره برابره خبره ده چې نص وى په منتصب عنه پوري يا د دواړو احتمال لري يا خاص وى په متعلق دمنتصب عنه پوري .

ما قصد: بيان دماقصد ، دويم توضيح بالمثال. دريم دليل د راوړلو دمتن : اول غرض : ما قصد هغه عبارت د وحدت دتميز نه او تثنيه والى او جمع والى نه، دويم غرض لكه طاب زيد اباً وطاب الزيدان ابوين، الخ . دريم غرض دليل ئى دادي چې دصيغه دمفرد اطلاق په تثنيه او جمع نه كيږي نو ځكه به تثنيه او جمع راوړي، تميز. **يقع علي القليل والكثير**: معنى دجنس ، دويم دليل، دريم توضيح بالمثال، اول غرض جنس هغه ته وائى چې په قليل او كثير باندي ئى اطلاق كيږي ، دويم غرض دليل ئى دادي چې تميز كله جنس وى نو مفرد به ئى ځكه راوړي چې په قليل او كثير ئى اطلاق كيږي ، دريم غرض مثال لكه طاب زيد علما وطاب الزيدان علما الخ. **من حيث امتيازاتها النوعية**: اول معنى دنوع، دويم توضيح بالمثال، دريم دليل، اول غرض : نوع ديته وائى چې جنس مقيد وى په يو ذاتي سره لكه حيوان ناطق، دويم غرض لكه طاب الزيدان علمين وطاب الزيدون علوماً ، دريم غرض دليل ځكه صيغه دمفرد دا مقيد ددغه معنى نده.

مشتقة اومؤولة: قسمين دصفت چې صفت يو مشتقه دي اوبل مؤول ، **اى لما انتصب عنه**: اول بيان دضمير، دويم دليل، دريم بيان دمثال، اول غرض : لكه كښې ضمير راجع دي منتصب عنه ته، دويم غرض دليل دادي چې صفت موصوف غواړى او

Scanned with CamScanner

اولى هغه موصوف مذكوره ده لكه طاب زيد ولدا دا صفت دي پكار دي چى دا صفت شى دپاره دزيد نه د اب مقدره دپاره، او دي سره توضيح بالمثال هم وشوه، **وطبقه**: اول تحقيق لغوى، دريم معنى، دريم مصداق دمطابقت، څلورم دليل، اول غرض: واو په معنى دمع سره دي او طبق په معنى دمصدر سره، دويم غرض معنى دا چى وى به صفت مطابق دمميز سره او مميز مطابق دصفت سره، دريم غرض مراد دمطابقت نه هغه اتحاد دي په افراد تثنيه او جمع او تانيث او تذكير كښى، څلورم غرض دليل صفت به دمميز سره څكه مطابق وى چى په صفت كښى ضمير وى چى راجع وى مميز ته،

واحتملت: اول بيان دضمير كوى چى راجع دي صفت مذكوره ته، **لاستقامة**: اول بيان د دليل، دويم توضيح بالمثال، دريم بيان دما هو الراجح، څلورم بل دليل، اول غرض: احتمال دحال څكه لرى چى حال هم صحيح كيږي لكه طاب زيد فارساً اى حال كونه فارساً دي سره توضيح بالمثال هم وشوه، لكن زيادة من دي سره بيان دما هو الراجح كوى هغه داسي چى من اكثر په دي صفت كښې زياتى كيږي او من دا په تميز كښى ډير زياتيږي نه په حال كښى، **وايضاً**: او همدارنګه دي سره مدحه كوى په فروسيت نه بيان دحال دفروسيت څكه حال دفروسيت ئى كله بغير دصفاتو نه بيانوى، **اذا كان اسما تاما**: اول دفع داعتراض، دويم توضيح بالمثال، دريم دليل، اول غرض: هلكه! بنا دمتونو په اختصار سره دي داسي به دي ويلى وي چى ولا يتقدم على عامله والاصح ته وروسته څه ضرورت وو. ؟ **جواب**: د اسم په عدم تقديم كښى اتفاق دي او په فعل كښى اختلاف دي چى مقدم كوى به ئى او كه نه، نو دۀ رد وكړو چى فعل هم نشى مقدم كيدائ، دويم غرض داسي نشى ووئيلى چى عندى درهما عشرون.

لان عامله: څكه په دغه وخت كښى عامل دا جامد وي او ضعيف العمل وى دفعل سره ئى هم مشابهت ضعيف دي **والاصح**: تعين دالف لام كوى چى دا عوض دي مضاف اليه نه، **على ماهو عامل فيه**: سره دفع دتوهم هغه دا چى په مطلق فعل ئى تقديم منع ندي بلكه فعل چى په ده كښى عامل وى، **الصريح وغير الصريح**: اول تعميم، دويم دليل، دريم توضيح بالمثال، څلورم دفع اعتراض اول غرض: فعل عام دي صريح وى او كه غير صريح، دويم غرض توضيح بالمثال دفجرنا الارض عيوناً، سره ذكر كوى،

وههنا بحث: خلاصه د (رد) داده چې تاوویل د لازمي نه به متعدي او دمتعدي نه به لازمي جوړ کړي دیته هیڅ ضرورت نشته ځکه فاعل عام دي حقیقتاً وی او که حکماً او دلته ماء دا حکماً فاعل دي ځکه هر کله چې متکلم قصد داسناد وکړو بعض متعلقاتو د اناء ته اګر که په طریقې دمجاز سره وی نو دغه اسناد کښې ابهام واقع شو نو خافي به رفع دابهام دغه ماءً کوی نو په معنی ددي قول کښې شو چې امتلاء الماء اناءً نو دا ماءً معنی فاعل دي.

وذالك بعینه: دفع اعتراض هغه دا چې ته وائې چې په حقیقت کښې تمیز یا فاعل وی او یا مفعول نو ربح زید تجارةً کښې خو تجارة یو هم ندي؟ **جواب**: فاعل عام دي حقیقتاً وی او که حکماً وی او دمخکښې رد نه جواب دادي چې ستا خبره صحیح ده خو مراد زمونږ دفاعل حقیقي نه دي او دا هله جوړیږي چې لازمي نه متعدي جوړ کړي **خلافا للمازني**: مذهب د دوي، دویم خبره دلیل. دریم دلیل اخر، څلورم جواب، پنځم رد، اول غرض: دوي وائي چې تمیز په خپل عامل صریحي باندي مقدم کولی شي او اسم فاعل او اسم مفعول باندي، اول دلیل ځکه عامل دا قوی دي په عمل کښې تقدیم دتمیز پري جایز دي، او دویم دلیل شعر دي:

اتهجر سلمی بالفراق حبیبها. وما کاد نفساً بالفراق تطیب.

دلته نفساً دا تمیزدي دتطیب دفعل دضمیر نه او مقدم شوي دي پري **واما علی تقدیر**: څلورم خبره جواب: خلاصه دجواب داده چې یطیب فعل مذکر دي او دکاد ضمیر راجع دي حبیب ته او نفساً رفع ابهام کړي دنسبت کاد حبیب ته نو دا دعامل نه وروسته دي.
وما قیل: دي سره پنځم غرض ذکر کوی چې هغه رد په بعضو باندي بعضو وویلي وو چې تطیب همداسي مؤنث دي او ضمیر راجع دي حبیب ته خو په اعتبار دنفس سره نو معنی دا شوه چې وماکادت نفس الحبیب تطیب شارح پري رد وکړو چې دا تکلف دي او هسي ضد دي.

د مستثنی بیان

اول غرض دفع داعتراض ده، دویم غرض اعراب بیانول دي، دریم دفع اعتراض، اول غرض اعتراض په دوو طریقو سره دي . اوله طریقه داعتراض، هلکه!

2 اول تعریف پکار وو او تا تقسیم مخکښې کړو؟ **جواب:** مستثنی من وجه معلومه ده هغه دا چې ما يطلق عليه لفظ المستثنى عند النحاة نو ځکه مو تقسیم وکړو، دویمه طریقه داعتراض داده چې استثناء په لغت کښې مخرج ته وائی نو تقسیم خو ئې متصل ته الی نفسه راغلو ځکه دا خو پکښې داخله نه وی؟ **جواب:** مراد دمستثنی نه ما يطلق علي لفظ المستثنى عند النحاة دي نه په معنی دمخرج سره،

د مستثنی اقسام

علی قسمین: دې سره اعراب ذکر کوی چې المستثنى مبتدا او علی قسمین ئې خبر یا مبتدا منه ده او المستثنى ئې خبر دې او یا عکس ددې اویا مستثنی خبر دې په اعتبار دمضاف محذوفه سره چې هذا بحث المستثنى ، **ولما كان معلومیته:** دریم غرض دفع داعتراض هغه دا چې هلکه! چې ما يطلق عليه لفظ المستثنى سره تعریف وو خو ذکر کړې به دې وی؟ **جواب:** ما يطلق عليه لفظ المستثنى سره تعریف من وجه راتلو او تعریف من وجه دتقسیم نه هم معلومیدو نو که مونږ ذکر کړې وی نو بیا به تکرار لازم کیدو او تعریف حقیقی دمستثنی نه کیده،ځکه دمتصل او دمنقطع ځانته ځانته احکام دي

ای الاسم الذی اخرج: تعین دالف لام کوی دالمخرج واحترز به سره فائده ذکر کوی دالمخرج دقید ، **عن حکم شئی متعدد:** تعین دموصوف ئې وکړو شارح چې متعدد صفت دي او حکم شئی دا ورلره موصوف دي. **جزئیاته:** سره قسمین دمتعدد او غرض پکښې دفع داعتراض جزئیات، اجزاء اعتراض هلکه! تا دمتصل تعریف وکړو چې مخرج وی دمتعدد نه زه به درته وښایم استثناء متصله به وی او مخرج به دمتعدد نه نه وی لکه اشتریت العبد الانصفه عبد خو متعدد ندي ؟ **جواب:** متعدد عام دي که متعدد وی په اعتبار داجزاء سره لکه اشتریت العبد الانصفه او که په اعتبار دجزئیاتو سره وی لکه جاءنی القوم الازیدا .

سواء کان: یو غرض وجه دنصب دلفظاً :دویم دفع داعتراض، دریم مثال . اول غرض لفظاً دا منصوب دي ځکه دا خبر دي دپاره د کان، دویم غرض : هلکه! دا صرف مصدر دي حمل ئې په اسم د کان نه صحیح کیږي ځکه اسم د کان ذات مع الوصف وی؟

جواب: لفظاً نه مراد ملفوظاً دي او ملفوظا صيغه داسم مفعول ده ذات مع الوصف دي. دريم غرض مثال ذکه جاءني القوم الازيداً **او تقديراً اى مقدرا:** يو غرض هغه اعتراض چې کوم په لفظ وارد شوي او جواب هم حاصل دا چې تقديراً خو مصدر دي صرف وصف دي لهذا حمل دوصف راځي په ذات او دا جائز ندي ځکه چې دا مستلزم ګرځي اجتماع دنقيضينو لره ځکه حمل معنى ده اتحاد المتغايرين ذهنا فى الخارج او پيښه داده چې خارج کښې مونږ دا فرض کړي وي چې دا ذات جدا شئى دي او دا وصف جدا شئى دي او اوس ئې مونږ يو شئى ګرځوو نو دا اجتماع دنقيضينو ده او اجتماع دنقيضينو په حقيقت کښې ارتفاع دنقيضينو ده او دا محاله ده بس دى وجې نه شارح دتقديراً معنى په مقدراً سره وکړه پس حمل د ذات مع الوصف په ذات راغلى او دا جائز دي. دويم نمبر توضيح بالمثال : **بالا:** سره دفع داعتراض هلکه زه به درته وښايم مخرج به وى متعدد لفظا نه پس د الانه به وى او څوك به ورته مستثنى نه وائى لکه (لا اله الاالله) **جواب:** مراد د الانه غير صفتى دي او دلته خو صفتى دي په معنى دغير سره دي. **واحترزبه** سره فايده ذکر کوى دويم رد کوى : اول غرض غير مخرج سره احتراز راغى دمتصل دجزئياتو نه ځکه هغه مخرج وى دمتعدد نه.

فالمستثنى: دا رد کوى په بعضو باندي بعضى وائى چې مستثنى متصله دا هغه ده چې دجنس دماقبل نه وى او منقطع چې دجنس دماقبل نه ، نه وى شارح وائى چې متصله هغه ده چې ستا په ذهن کښې داخله وى په ماقبل د الاکښې برابره خبره ده چې دجنس دماقبل نه وى او که نه او منقطعه هغه ددي عکس دي. **وهواى المستثنى مطلقا:** دفع اعتراض. دويم هم دفع اعتراض : اول غرض هلکه ! هو ضمير ته وائى چې مستثنى مطلقي ته راجع دي نو داخو مخکښې نده ذکر؟ **جواب:** مستثنى مطلقه خو من وجه معلومه ده چې مايطلق عليه الخ ... او من وجه دتقسيم نه معلومه ده. **ولهذالم يعرفه:** دويم اعتراض : هلکه ! چې معلومه وه عند النحاة نو تعريف به دي همدا ذکر کړي وى؟ **جواب:** دپاره دقصد داختصار مو ذکر نه کړه

اذا كان واقعاً: دي سره ئې خبر د کان وښوده چې واقعاً دي **لابعد غير:** دي سره فائده دبعد الا ذکر کوى **قيدبه:** دي سره فائده غير الصفة ذکر کوى او غرض پکښې دفع

داعتراض ده هلکه : مخکښې دي هم ووئيلی وو چې غير الصفة دلته ئې ويلو ته څه ضرورت نه وو ؟ **جواب**: دا دپاره دزيات وضاحت ، **فی کلام موجب**: اول تعريف دکلام موجب ، دويم توضيح بالمثال، دريم فائده، څلورم رد په شارح هندي، پنځم عامل په مستثنی کښې ، شپږم وجه دنصب : اول غرض: چې نفي نهی استفهام نه وی دا کلام موجب دي دويم غرض لکه جاءنی القوم الازيد ، دويم غرض واحترز به سره چې کلام غير موجب واجب النصب ندي،

ولا حاجة: څلورم : رد په شارح هندي، دلته يو اعتراض وارد شوي دي هغه دا چې زه به درته وښايم چې کلام به موجب وی او پس د الانه به وي او صفتی به هم نه وی او منصوب به بناء بر استثناء نه وی بلکه بناء برظرفيت به وي لکه قرات الی يوم کذا نو شارح هندي ترينه جواب دا کړي چې دا به په کلام تام کښې وي او قرات الی يوم کذا خو کلام تام ندي ، نو شارح رد پري وکړو چې مراد زمونږ مطلق منصوب دي چې پس د الا نه وی برابره خبره ده چې د الادوجه نه منصوب او که دظرفيت دوجه نه، خو دومره ده چې دشارح هندي جواب سره به قري الايوم کذا ووځی ځکه دلته پس د الاپه کلام موجب کښې دي خو منصوب ندي بلکه مرفوع دي نو دا کلام تام ندي.

بيان د عامل د مستثنی

والعامل: عامل په مستثنی کښې هغه فعل مقدم دي يا معنی دفعل ده په واسطه د الاسره په نزد دبصريانو **وقد جاء بعد اتمام الفعل**: وجه دنصب ئې داده چې مستثنی پس دتماميدو دفعل نه راځی لکه دمفعول پشان نو مفعول منصوب وي دا به هم منصوب وی **او مقدماً**: تعين دمعطوف عليه کوی **سواء**: تعميم، دويم توضيح بالمثال ، دريم دليل ذکر کول دي. اول غرض : دا مقدمه مستثنی برابره خبره ده چې په کلام موجب کښې وي لکه چې جاءنی القوم الازيد او که په کلام غير موجب کښې وي لکه ما جاءنی القوم الازيد

لامتناع: سره ذکر کوی چې دغه مستثنی مقدمه که منصوب نشی او مرفوع شی نو بيا به بدل شی او بدل خو په مبدل منه نه شی مقدم کيدی نو دا به ضرور مستثنی وي نو منصوب به وي **او منقطعاً**: تعين دمعطوف عليه : دويم توضيح

بالمثال ، **فی الاکثر:** تعین دالف لام دویم اختلاف ، دریم توضیح بالمثال ، اول غرض : الف لام دا عوض دي مضاف الیه نه، **فان اکثرهم:** دویم غرض اختلاف، حجازین وائی چی مستثنی منقطع مطلقا منصوب ده ځکه دوي وائی چی دبدل الغلط تصور پدیکښی بالکل نه کیږي ځکه چی بدل الغلط په طریقي دسهوی سره صادریږي او مستثنی منقطعه په دوه قسمه ده یو هغه چی دومخکښی اسم حذف ترینه صحیح کیږي لکه جاءنی القوم الاحماراً دي کښی دوي وائی چی بدل دلته جایز دي نو داسي به وائی چی جاءنی القوم الاحمار او دویم هغه چی دمخکښی اسم حذف جایز نه وي لکه دا قول د الله جلاله چی (لاعاصم الیوم من امر الله الامن رحم) نو دلته من رحم دا مرحوم معصوم ته وائی نو دا په عاصم کښی نه دي داخل، او ددي سره توضیح بالمثال هم وشوه.

یوه اهمه قاعده

اوکان بعد خلا وعدا: تعین دمعطوف علیه، دویم معنی لغوی دخلا او عدا، دریم توضیح بالمثال، څلورم قاعده کلیه . پنځم ، ترکیب ، شپږم دفع داعتراض ، اول غرض : بعد خلا او عدا عطف دي په او کان باندي نو دمنصوب لاندي راغلو، من عدا یعدو ، دي سره دویم غرض معنی لغوی ذکر کوی جاءنی القوم عدا زید ، دریم غرض توضیح بالمثال کوی، وهو فی الاصل لازم، څلورم قاعده داده چی خلا په اصل کښی لازمی دي متعدي کیږي مفعول ته په واسطه د من سره لکه خلت الدیار من لانیس او کله کله خلا متضمن وی معنی دجاوز لره نودجاوز په صله کښی من نه راځی متعدی بنفسه دي نو د خلا په صله کښی به هم من نه راځی متعدي به وی بنفسه ، او یا دغه من حذف کیږي او مابعدد من وصل کیږي دفعل سره نو بیا هم متعدي بنفسه ګرځی او ددي مثال په قرآن کریم هم شته لکه (واختار موسی قومه) اصل کښی من قومه وو.

وفاعلهما ضمیر راجع: پنځم غرض ترکیب هلکه: خلا وعدا کښی ضمائر چاته راجع دي ؟ **جواب:** ضمائر یا راجع دي مصدر دفعل مقدم ته تقدیر داسي دي چی جاءنی القوم خلا او عدا مجئهم زیدا ، او یا ضمایر راجع دي اسم فاعل ددغه فعل ته نو تقدیر داسي دي چی جاءنی القوم خلا او عدا الجائی منهم زیدا . او یا ضمیر راجع دي بعض مطلق دمستثنی منه ته نو تقدیر به داسي شی چی جاءنی القوم خلا اوعدا بعض منهم

زیدا **ولم یظهر معهما قد**: دفع اعتراض هغه دا چی خلا او عدا ماضی ده او حال واقع شوي پکار ده چی قد پکښی ذکر شی؟ **جواب**: دپاره ددي چی مشابهت ددوي د الاسره راشی، **فی الاکثر**: تعین دالف لام، دویم دلیل، دریم قول آخر، څلورم تایید ددي قول، اول غرض: الف لام دا عوض دی مضاف الیه نه چی تقدیر ئی داسي کیږي فی اکثر الاستعمالات. او دویم غرض دا چی دا دواړه افعال ماضیه دي نو ضمایر پکښی فاعل او مابعد لره مفعول شو، دریم غرض وو قد اجیز الجر بهما: سره ذکر کوی ځکه دا حروف جاره دي اومابعد به ترینه مجرور وي، او څلورم غرض ضیرفی وایی چی په جواز دجر کښی هیڅ خلاف نشته

او بعد ما خلا او ماعدا: تعین دمعطوف علیه. دویم دلیل، اول غرض: دا هم عطف دي په اذا کان باندي نو دمنصوب لاندي راغلو. **لان ما فیهما مصدریة**: ځکه چی ما پدي کښی مصدریه دي او دا مختص دي په افعالو کښی لکه جاءنی القوم ماخلا زیداً. **وعن الاخفش**: دي سره قول آخر ذکر کوی اخفش وایی چی دا ما زائده ده او خلا او عدا حروف جاره دي او مابعد به ترینه مجرور وی، **ولعل هذا لم یثبت**: دفع داعتراض هغه دا چی دخلا اوعدا سره دفی الاکثر قید ولږولو او دما خلا او ماعدا سره مو ونه لګولو ددي لپاره څه وجه ده؟ **جواب**: یو جواب دادي چی مصنف ته معلومه نه وه او بل جواب دادی چی مصنف ورته اعتبار نه دي ورکړي.

نحوسیجئ: اول بیان دمثال، دویم دلیل، دریم بیان یوي قاعدي، اول غرض: مثال لکه سیجئی اهلك لا یکون بشراً دویم غرض دلیل او لایکون څخه مابعد به منصوب وی ځکه چی دا افعال ناقصه دي او ضمایر به پکښی اسماء د دوي شی او مابعد به ترینه خبر شی او خبر ددوي خو منصوب وي. **واعلم**: قاعده داده چی لیس او لا یکون نه مستعملیږي مگر په مستثنی متصله غیر مفرغ کښی او بل دا چی تصرف به پکښی نه کیږي یعنی تثنیه او جمع کیږي به نه

حال من الضمیر المجرور: اعراب دفیما بعد الا ذکر کوی، دویم فائده دقید اول غرض: فیما بعد الا دا حال دضمیر دفیه نه، دویم غرض دي فیما بعد الاسره احتراز راغی دهغه مستثنی نه چی پس دنورو ادواتو داستثناء نه وی چی خلا او عدا دي

وقدذكر: شارح قيد د ذوالحال رايستلو دي سره اشاره کوی چې واو حاليه دي. **احتراز عما**: فائده دقيد، دويم دليل، دريم تعدد دنسخو، څلورم دفع اعتراض، اول غرض: فائده داده که مستثنی منه مذکوره نه وه نو بيا به ئې اعراب علی حسب العوامل وی. دويم غرض هم دفانه سره وشو. دريم غرض، بعضو نسخو کښې قد ذکر بغير د واو نه ذکر کړي نو پدي وخت کښې به دا صفت شي دپاره دکلام غير موجب تقدير به داسي شي چې فی کلام غير موجب قد ذکر المستثنی منه.

ولم يشترط: دفع اعتراض، **اعتراض**: دادي چې مستثنی پس د الانه وی او کلام موجب نه وی نو اختيار دبدليت دي نو که مستثنی منقطعه وی نو هم اختيار دبدليت نشته نو دا قيد به دي لړولی وی چې ان لايکون منقطعاً؟ **جواب**: د استثناء منقطعه بيان او دمقدم علی المستثنی منه بيان مخکښې شوي دي.

ونحوما مررت باحد الا زيد: اول خبره دا چې دي سره مزيد امثله بيانوی لپاره دزيادت وضاحت. دويم دليل، اول غرض: پدي مثال کښې زيد مجرور ويلی شی بناء بر بدليت او منصوب ويلی شی بناء بر استثنائيت. **وانما اختاروالبدل**: دليل ذکر کوی، دلته پدي صورتونو کښې بدل ځکه غوره دي چې دبدل اعراب اصالة او بغير دواسطې نه دي او استثناء جائز ده غوره نده ځکه چې اعراب دمستثنی د وجه دمشابهت دمفعول نه ده او په واسطې د الاسره ده. **ويعرب**: تعين دضمير کوی چې راجع دي مستثنی ته. **ای ما يقتضيه**: معنی دحسب ذکر کوی چې څرنګه عامل تقاضا کوی.

مستثنی مفرغه څه ته وائی

ويختص ذالک: ددي مستثنی اسم، دويم دفع داعتراض، اول غرض: دي مستثنی ته مفرغه وائی، دويم غرض هلکه مفرغ صيغه داسم مفعول ده په معنی دفارغ شده سره نو فارغ شده خو عامل وی نه مستثنی؟ **جواب**: ذکر دمفرغ مراد ترينه مفرغ له چې مستثنی ده **وهو**: يو غرض دا چې واو حاليه دی اوفی غير موجب متعلق دي د واقع پوري: **اذ يصح**: دي سره دليل ديفيد دپاره ذکر کوی. **بان يکون الحکم**: دي سره معنی ديستقيم ذکر کوی، دويم توضيح بالمثال، اول غرض استقامت دمعنی يا په طريقی دعموم سره صحيح کيږي لکه کل حيوان يحرک فکه الاسفل عند المضغ

الاالتمساح ، او یا به دا استقامت او صحت دمعنی په طریقی دبعضیت سره وی لکه قرات الا یوم کذا او دي سره توضیح بالمثال چی کوم دویم غرض وو هم وشو.

ولقائل: اول اعتراض : دویم هم اعتراض : دریم دهغی جواب : اول غرض هلکه ! که مستثنی منه عامه کړي نو په کلام موجب کښی په بعضی صورتونو کښی معنی نه صحیح کیږي لکه ضربنی الا زید" همدا رنګه په کلام غیر موجب کښی په بعضی صورتونو کښی هم معنی نه صحیح کیږي لکه ما مات الا زید نو پکار ده چی په کلام غیر موجب کښی دي هم استقامت دمعنی قید لړولی وی؟ دویم غرض اعتراض هلکه ! لکه څرنګه چی په قرات الا یوما کذا کښی استقامت دمعنی کیده دارنګی په ضربنی الا زید کښی دضرب نسبت یو خاص جماعت ته وکړه نو معنی به صحیح شی؟

جواب: مونږ غالب ته کتلی دي غالب په کلام غیر موجب کښی استقامت دمعنی دي نو ځکه مو قید د الا یستقیم المعنی ونه لړولو او غالب په کلام موجب کښی هغه دادي چی استقامت دمعنی نه وی نو ځکه مو قید د الاان یستقیم المعنی ولړولو او بل دا چی قرات الا یوم کذا دا پشان دضربنی الا زید ندي ځکه چی په اولنی مثال کښی قرینه داله شته په بعض معین دمستثنی منه باندي چی دمستثنی دخول پکښی یقینی دي او په ضربنی الا زید کښی قرینه داله نشته؛

ومن ثم: دي نه وروسته تعین دمشار الیه کوی. **اذ معنی ما زال:** معنی دمازال. دویم تطبیق دمثال دممثل سره، دریم رد په شارح رضی. اول غرض : معنی دمازال ثبت ده ځکه نفی چی په نفی داخله شی اثبات پیدا کوی. دویم غرض **فیکون المعنی:** معنی دا شوه چی زید په ټولو صفاتو متصف دي مګر په علم سره نه. **ولا یخفی:** دي سره رد ذکر کوی په شارح رضی. دهٔ ویلی دي چی دا ترکیب صحیح دي ځکه زید دمتصف شی په داسي صفاتو چی په خپل مینځ کښی سره متضاد نه وی سواء دعلم نه، او یادا چی دا مبالغه ویل شوي لکه یو سړي وائی چی ممکنه ده چی ده کښی ټول صفات وی سوي دعلم نه. نو شارح پري رد وکړو چی د داسي تاویلاتو رجع بیا ټولو کلام موجبه وو ته کیږي چی معنی دي صحیح شی.

واذا تعذر البدل علی اللفظ: من حیث جملة سره شارح اشاره وکړه چی علی اللفظ

دا متعلق په جمله پوري او په اللفظ کښي الف لام عوض دي مضاف اليه نه چې مستثنى منه ده، ماتن وائې چې کله دبدل په لفظ دمستثنى منه متعذر وو نو حمل به ئې په موضوع دمستثنى منه کوي ځکه عمل په مختار باندي کول پکار وي څومره چې ممکن وي، شارح ماتن دري مثاله په کتاب کښي ذکر کړل څه خاص خبره پکښي نشته. **اى لا يعتد به:** اول معنى د لا يعباء، دويم تطبيق، دريم تعدد نسخو. څلورم دفع اعتراض، پنځم جواب، شپږم توطيه او تمهدي متن اتى ته، اول غرض: معنى دلا يعباء لا يعتبر ده چې معتبر ندي. **فشئٌ مرفوع:** دي سره تطبيق دمثال دممثل سره کوي، **وقوله لا يعباء به:** دي سره تعدد دنسخو ذکر کوي چې په بعضو نسخو کښي لا يعباء به نشته اوپه کومو کښي چې شته نو دا صفت دپاره دشئٌ دي کوم چې مستثنى واقع شوي دي،

قيل: هلکه؛ بناء دمتونو په اختصار سره وى دا به دي نه ذکر کولى؟ **جواب:** دپاره ددي چې لازم نشي استثناء دشي دخپل نفس نه. **خلاصه:** دجواب داده چې دلته که يعباء به را نه وړي نو هم استثناء دشى دخپل نفس نه نه راځى هغه داسي چې مستثنى منه عامه ده که شي وي او که نه وى او مستثنى خاص دي يعنى شئى به وي **وانما تعذر البدل:** سره توطيه او تمهيد ذکر کوى متن اتى ته، **اى بعد ما صار الكلام:** اتمام د دليل کوى، دويم تتميم دمافات دماتن، اول غرض: اتمام د دليل دادي چې (من) دا نه زياتى کيږي مگر په کلام منفى کښي اوس که مونږ دلته بدل حمل کړو په لفظ دمستثنى منه نو نفى به منتقضه شي په الا سره نو کلام به مثبت شي او په کلام مثبت کښي (من) نه زياتيږي او داسي نشي ويلى چې جاءنى مَن زيد،

وفي الصورتين الاخيرتين: دويم تتميم دمافات دماتن کوى هغه دا چې په آخرنيو دوه مثالونو کښي بدل نشي حمل کولى په لفظ دمستثنى منه باندي ځکه فتحه دبدل به دوجې ما ولا نه شي نو تقدير دما او لا به کوى حقيقتاً يا حکماً چې عمل وکړي په بدل کښي **وما ولا، لا تقدران:** قسمين دلا تقدران ذکر کوى چې نه ئې حقيقت او نه ئې حکماً مقدر کولى حقيقةً دا چې تکرار دعامل وى بدل سره او حکماً دا معنى چې اکتفاء وکړي په دخول دعامل په مبدل منه او حکم سرايت وکړي بدل ته نو دا به داسي

عامل وګرځوي او داسي خو عامل نه ګرځي ځکه ما او لا راځي دپاره دنفی او نفی ئی په الا سره منتقضه شویده،

وحیث تعذر: اتمام د دلیل ، دویم اعتراض. دریم جواب ، اول غرض وحیث تعذر سره اتمام د دلیل ذکر کوی کتاب کښی مکمل ذکر دي، **فان دخلت**: اعتراض هلکه! د حد دپاره دوه محله دي یو محل قریب چی هغه نصب دي دکلمه د لا دوجی نه او بل محل بعید دي چی هغه رفع ده بنابر ابتدائیت ، نو تاسو ولی محل بعید معتبر کړي ؟ **جواب**: خلاصه دا چی محل قریب کښی عمل لا کړي دي چی په معنی دنفی سره ده او دغه نفی په وروسته الا سره منتقضه شویده په خلاف دحل بعید ځکه هغی لاځه دخل ندي کړي.

بخلاف لیس زید شیئًا: دي سره دفع اعتراض کوی هغه دا چی دلته کلام غیر موجب دي او سره ددینه بدل حمل دي په لفظ دمستثنی منه باندي؟ **جواب**: دلته نصب دشیاء دنفی دوجی نه ندي راغلی بلکه دوجی دفعلیت دلیس نه راغلی دي او خبر دي دپاره دلیس. **ومن ثم**: سره تفریعات ذکر کوی په مخکښی قاعده باندي، **ومخفض ای مجرور**: دي سره تعریف دغیر مشهور کوی په مشهور سره، **مع کسر السین وضمها**: دي سره قسمین دسوي ذکر کوی **وسواء**: یو غرض قسمین د سوي او دویم غرض لکونه مضاف الیه سره دلیل، **ویعد حاشا**: اول دلیل ، دویم قول اخر، دریم توضیح بالمثال اول غرض ، پس دحاشا نه به ځکه مجرور وی چی دا حرف جر دي په اکثر استعمالانو کښی **واجاز بعضهم**: بعضو نصب جایز کړي وائی چی دا فعل متعدي دي، او ضمیر پکښی فاعل دي او مابعد ئی په منزله دمفعول دي لکه ضرب القوم عمرواً حاشا زید،

واعراب غیر فیه: اول تعین دضمیر، دویم فائده، دریم دفع اعتراض، اول غرض اعراب د (غیر) په استثناء کښی نه په صفت کښی دویم غرض ځکه که غیر صفتی وی نو بیا به ئی اعراب دموصوف مطابق وی، **فکانه لما الخبر به**: دفع داعتراض، هلکه! (غیر) د (الا) پشان شو په (الا) خو اعراب نه جاري کیږي او په غیر جاري کیږي ؟ **جواب**: غیر که مضاف وی او مابعد ترینه مضاف الیه وی نو مضاف الیه کښی خو غیر عمل کړي جرئی ورکړي اوس چی استثناء عمل کوی نو په غیر کښی به اثر جاري کیږي

وغيرٌ اى كلمه: شارح وائي چي مراد لغوى غير ندي بلكه كلمه دغير مراد ده **صفة**: دليل ، غير صفتي څكه دي چي په ذات مبهمه باندي دلالت كوى څكه چي په دي كښي معنى دمغايرت پرته ده اصل په غير كښي دادي چي صفتي واقع شى لكه جاءنى رجل غير زيد خو كله كله حمل كيږي په الاباندي او استعماليږي په استثناء كښي **وذالك الاشتراك**: دليل غير څكه كله د الا په معنى سره استعماليږي چي دا دواړه مشترك دي په مغايرة دمابعد كښي دماقبل خپل نه. **اى واقعة بعد متعدد**: معنى دمتن ، دويم يو قيد ، دريم توضيح بالمثال، څلورم تعميم، اول غرض : **تابعة لجمع** دا معنى چي واقع به وي پس دمتعدد نه. **فوجب ان يكون**: سره دويم غرض ضروري ده چي موصوف دغير به مذكور وى مقدر دريم غرض جاءنى رجالٌ غير زيد. **والمتعدد**: متعدد عام دي لفظاً وى لكه رجال او كه تقديرا وي لكه قوم او بيا تثنيه وى لكه جاءنى رجلان غير زيد ،

منكور: معنى دمتن ، دويم دليل، اول غرض : منكور دا معنى چي معرف باللام به نه وي، دويم غرض دليل ، كه معرف باللام چي شى نو يا به الف لام استغراقى وى نو دي كښي خو ټول افراد مراد وى نو استثناء متصله ترينه جوړيږي او كه الف لام عهدي شى نو كيدايى شى چي معهود پدي سره داسي يو جماعت وى چي هغه كښي زيد نه وى نو استثناء منقطعه به ترينه جوړه شى، **والمحصور نوعان**: قسمين دمصحور، دويم دليل ، دريم توضيح بالمثال ، څلورم توطيه او تمهيد : ,اول غرض : محصور يو هغه جنس مستغرق دي ټولو افرادو لره لكه رجال او يا به بعض ددغه جنس معلوم العدد وىَ لكه (له على عشرة دراهم) **وانما اشترط**: دليل ، كه چيرته محصور وو په يو ددغه دوو قسمينو سره نو بيا خو مابعد د الا په ماقبل د الا كښي داخليږي نو بيا خو مستثنى ترينه جوړيږي او دي سره توضيح بالمثال چي كوم دريم غرض وو هم وشو.

وانما يصار: توطيه او تمهيد ذكر كوى ، **وعند وجودها**: اتمام د دليل، دويم بيان ديو فائدي، دريم دفع اعتراض، اول غرض: صيرورت به كولى شى په وخت دوجود دشرائط مذكوره وو كښي حمل كولو د الانه په غير باندي دوجى دتعدد داستثناء ، **اوانما قلنا**: فائده دقيد دغالباً داده چي تعدد داستثناء په كلام محصوره

کښې هم کله کله راځي لکه جاءني مائة رجل الازيد ، او کله کله تعذر دا استثناء په کلام غير محصور کښې هم نه راځي لکه جاءني رجال الا واحد ، **ولکن کان**: دفع اعتراض : هغه دا چې هر کله دا خبره داسي شوه نودا قاعده خو غلطه شوه نو غالباً قيد دي بيا ولي لړولو ؟ **جواب**: دا خبره چې کومه مونږه وکړه دا نادر او شاذ وه نو ځکه ورته مصنف توجه ونه کړه: **جمع اله**: تطبيق دمثال دممثل سره ، دويم دفع اعتراض، دفع د اعتراض داده چې هلکه ته مثال دغير محصور ذکر کوی او الهة خو محصوري دي؟ **جواب**: الهه جمع داله دي او دا دلالت په عدد محصور نه کوی. **ای لخرجتا**: معنی دلفسدتا : دويم تطبيق دمثال، دريم دليل اخر، اول غرض لفسدتا معنی ده لخرجتا عن الانتظام . **فا الاصفة**: دويم دي سره تطبيق دمثال دممثل سره کوی، **وفى الاية مانع آخر**: دي سره دليل آخر ذکر کوی دپاره ددي چې حمل د الا په استثناء سره نه صحيح کيږي . **وضعف**: تعين دضمير کوی چې ضعيف دي حمل د الا په غير ، **ای فى غير جمع**: اول بيان دضمير ، دويم دليل، دريم اختلاف ، څلورم دليل دوخالف ، پنځم جواب : اول غرض، فى غيره کښې ضمير راجع دي غير دجمع منکور غير محصور ته دويم غرض دليل ئی دادي چې حمل د الا غير ځکه نشي کولی چې استثناء صحيح ده **ومذهب سيبويه**: اختلاف، سيبويه وائی چې سره دصحت داستثناء نه جائز ده چې الاصفتی واقع شي لکه ما اتانی احد الازيد ، الابه صفتی شي معنی به داسي شی چې ماته تول راغلی وو او زيد وو راغلی .

تمسکا بقوله: دليل دمخالف ذکرکوی تشريح په کتاب کښې شته حمل المصنف ذالك، دي سره جواب ذکر کوی چې استاذي دي . **وهو مذهب**: تعين دمذهب، دويم دليل، دريم قول آخر، څلورم دليل د دوي، پنځم قول اخر ، اول غرض : مذهب دسيبويه دي، **فهما عنده**: دا دليل د دوي دي چې دا لازم الظرف دي، **وعند الکوفيين**: قول اخر. کوفيانو دا سواء او سواء دا دظرفيت نه وباسی او تصرف پکښې کوی په حسب دعامل سره **متمسکين**: دا دليل دکوفيانو دي. **وزعم الاخفش**: دا قول اخر دي د اخفش دي ، دي وائی چې کوفيان دا دظرفيت نه ويستلی دي خو منصوب ئی وائی او رفع پکښې مکروه ګڼي.

بیان د خبر اِنّ وَاَخَوَاتها

هو المسند بعد دخولها ای دخول کان الخ.. دفع اعتراض، دويم معنى دبعديت، دريم دفع اعتراض، ځلورم جواب:اول غرض : اعتراض : هغه دا چی ته وائی خبر د کان به مسند وی پس د دخول د کان او داخواتو ددينه ددي مثال خو چیرته نشته دي؟ **جواب:** دلته مراد دا ندي چی خبر د کان به مسند وی خو هله چی کان او اخوات پري ټول داخل شی بلکه مراد دادي چی یا کان پري داخل شی یا یو د اخوات د کان پري داخل شی نو هله به خبر د کان مسند وی.

والمراد: دي سره معنى دبعديت ذکر کوی، **ولا شک:** دريم خبره : دفع اعتراض :هغه دا چی هلکه ! پدي ترکیب کښی چی کان زید یضرب ابوه په یضرب باندي معرف صادقيږي چی مسند دي او معرف دي پري نه صادقيږي ځکه ځانته یضرب ته څوک خبر نه وائی بلکه یضرب ابوه ټولی جملی ته خبر وائی ؟ **جواب:** مونږ چی ویلی وو چی خبر د کان به مسند به وی خو هغه پس د دخول د کان نه او دلته یضرب ابوه مسند وی مخکښی د دخول د کان نه.

ویمکن ان یقال: جواب آخر هغه دا چی مراد دخول د کان نه هغه ایراث داثر دي را پیدا کول داثر دي او کان پدي ټول یضرب ابوه کښی اثر کړي دي نو ځکه دغه ټولی مجموعه دجمله فعلیه ته خبر وائی دپاره د کان ، **وامره امر خبر کان واخواتها:** مراد دامر نه حکم دي : اول تعمیم ، دويم دلیل، دريم توضيح بالمثال. ځلورم تتميم دمافات دماتن کوی، اول غرض : حقيقة او حکماً سره ذکر کوی چی حقیقت کښی معرفه وی او که حکماً معرفه وی : **لاختلاف اسمها وخبرها:**. دويم خبره : دي سره دلیل ذکر کوی،

نحو کان المنطلق: توضيح بالمثال کوی ددي سره. **کذا انتفی الاعراب** ، تتميم دمافات دماتن کوی هغه دا چی کله اعراب منفي وی په اسم او خبر د کان کښی او بله څه قرینه هم نه وی نو تقديم دخبر په اسم د کان جایز ندي لکه کان الفتى هذا . **وقد یحذف عامله:** اول بیان دضمير دعامله ، دويم بیان دفائدي، دريم دلیل ، اول غرض : دعامله ضمیر خبر د کان ته راجع دي، دويم فائده ئی داده چی نه عامل خبر د کان چی پخپله دا خبر کان دی نشی حذف کولی، دريم دلیل. او خاص کان ځکه حذف کولی

شئ لكثرة استعمالها. **اى فى مثال هذه الصورة:** اول قاعده كليه ذكر كوى هغه دا چې مراد دمثل نه دادي چې پس د (ان) نه اسم راشي او بيا ثم او بيا دهغي نه وروسته اسم راشي. اربعة اوجه: دي سره بيان دڅلورو وجوهو كوى. **وقوة هذه الوجوه:** دي سره بيان ديوي فائدي كوى هغه دا چې قوت اوضعف دددي څلورو وجوهو دا په قلت او كثرت دحذف سره دي. **فاصل اما انت:** اول تطبيق دمثال دممثل سره، دويم تعدد دنسخو، دريم دفع اعتراض، اول غرض: فاصل اما انت سره اول غرض ذكر كوى تفصيلاً په كتاب كښې ذكر دي. **وهذا على تقدير:** مذكوره اعلال په تقدير دفتح د (اما) سره وو او كه دا مكسور شي نو بيا په ان كنت كښې لام ته ضرورت نشته دي.

واقتصر المصنف: دفع داعتراض: هغه دا چې هر كله چې پكښې تقدير دكسري وو خو دا به دي هم ذكر كړي وى؟ **جواب:** مصنف په مشهور سره اكتفاء وكړه كوم چې اولنى اصل وو **وبما عرفت من معنى العبديه:** دي سره هم هغه دفع داعتراض ده كومه چې په يضرب ابوه باندي وه، **اى لنفى صفة الجنس:** دفع اعتراض، دويم هم دفع اعتراض، دريم جواب: اول غرض: هلكه ته وائي لالنفى الجنس او مثال دي راوړي لا غلام رجل ظريف فيها دلته خو نفي دصفت راغلى چې ظريف دي نه دجنس؟ **جواب:** مراد دجنس نه صفت دي.

وانما لم يقل اسم: دفع داعتراض هغه دا چې بناء دمتونو په اختصار سره وى داسي به دي ويلى وو چې اسم لا التى لنفى الجنس **جواب:** مونږه داسي ځكه ونه ويل چې مطلق اسم د لا داد منصوباتو نه ندي نه ټول اسماء او نه اكثر بلكه اقل دا منصوب دي. **ولايبعد ان يقال:** دا جواب ثاني دي او يارد دي په جواب او جواب ثاني داسي دي چې اسم د لا به دي ويلى وى اسم د لا منصوب وى مرفوع او مجرور نه وى او رد ذكر كوى چې اسم دلا خو منصوب وى مرفوع خو اسم دلانشى كيدائ چې مرفوع شي ځكه اسم دلانشى كيدلى چې عمل ئى پكښې نه دي كړى.

خرج به: فايده ذكر كوى، دويم دفع داعتراض، اول غرض: په هو المسند اليه بعد دخولها قيد سره ابوه ووتلو په غلام رجل قائم ابوه كښې ځكه چې ځانته ابوه خبر يعنى مسند اليه نه دي بلكه ابوه قائم ټول مسند اليه دي. **وهذا القدر:** دفع

داعتراض :هغه دا چی بناء دمتونو په اختصار سره وی نو تعریف په هو المسند الیه سره تمامیدو ،دي قید نه وروسته قیودو ته څه ضرورت وو؟ **جواب:** المسند الیه سرد دمطلق اسم دلاتعریف تمامیدو لیکن مصنف اراده دمنصوب اسم دلا دپاره تعریف کوی.

ای یلی المسند الیه: بیان دضمیر ، دویم معنی دیلی : اول غرض: نزدي به وي مسند الیه لفظ دلاته، او دویم غرض یلی دیته وائی چی واقع به وی اسم دلا وروسته د لا نه بلا فاصله، **ای بالمضاف**: غرض په کښی ضمیر راجع دي مضاف ته، دویم غرض مشابه دمضاف دا معنی چی داسم تعلق شی په یو داسي شی پوري چی دغه شی سره ددغه اسم معنی تماميږي

هذه احوال مترادفة: تعدد دنسخو اول غرض : لاغلام رجل دا مثال دهغه اسم دي چی یلی هم دي او نکره او مضاف هم دي، دیم غرض بعض نسخو کښی داسي دي چی لاغلام رجل ظریف فیها ، دفیها یوه فائده داده چی خبر جمله او ظرف دواړه واقع کیدلی شی **فان کان**: ضمیر د کان ذکر کوی چی دا راجع دي مسندالیه ته، **فانه لو کان مفرداً معرفة**: بیان دفائدي، دویم معنی دعلی ماینصب به، دریم توضیح بالامثلة ، څلورم وجه دبنا ، پنځم وجه دنصب ،

اول غرض : فانه لو کان مفرداً معرفه سره وشو ، وقوله علي ما ینصب به سره معنی دعلی ما ینصب به ذکر کوی کوم چی دویم غرض دي، په نحو لا رجل الخ. سره دریم غرض توضیح بالامثلة کوی، دلته په تعنی بالمفرد ما لیس بمضاف الخ سره دفع داعتراض هم وشوه هغه دا چی متن کښی دي ویلی وو چی فان کان مفردا او مثال دي دتثنیه او جمع راوړي چی مُسْلِمَیْنِ او مَسْلِمِیْنِ دي؟ **جواب:** دا شو چی مراد په مفرد سره هغه دي چی نه مضاف وی او نه شبه مضاف وی ، وانما بنی سره څلورم غرض وجه دبناء ذکر کوی **فان کان**: بیان دمرجع **ای بین ذالک**: بیان دضمیر. **علی سبیل منع الخلو**: دفع داعتراض دویم بیان دامثله، اول غرض : هلکه ! چی مسند الیه معرفه او مفعول دواړه وی نو بیا به رفع واجب وی او تکرار به واجب وی؟ **جواب:** نه خلوه ئی مانع ده یعنی یو که هم وی نو رفع او تکرار واجب دي وهی ست صور. دي سره دویم غرض بیان دامثله کوی.

الرفع علی الابتدا: دلیل ذکر کوی چی معرفه وی رفع ځکه واجب ده چی لا

پکښې اثر نه دي کړي ځکه لا راځي دپاره دنفي دجنس او معرفه ځکه واجب ده چې لا ضعيف العمل ده سرد فصل نه عمل نشي کولی. **ای وجب تکرير اسمه**: اول تعين دالف لام دويم دفع دتوهم ، دريم دليل ، اول غرض : په التکرير کښې الف لام عوض دي دمضاف اليه نه چې تقدير ی داسي کيږي چې تکرير اسمه. **لکن مطلقا لا بعينه**: دويم دفع دتوهم. متوهم به ويل چې عين اسم به راوړي نو دۀ دفع ددغې وهم وکړه چې نه مطلقا. **اما فی المعرفة**: دي سره دليل دپاره دتکرير ذکر کوی، **ونحو قضية**: اول غرض دفع داعتراض ، هغه دا چې تا وويل چې اسم د لا چې معرفه وی نو واجب الرفع والتکرير نو پدي قضيه کښې چې لا ابا حسن لها اسم د لا معرفۀ دي او نه رفع شته او نه تکرير؟ **جواب**: ماتن وائی چې متاؤل **هذا جواب دخل مقدر**: دي عبارت سره شارح غرض دماتن ذکر کوی

اما بتقدير المثل: بيان دتاويلينو کوی، يو تاويل داسي شوي چې دلته مثل مقدر دي تقدير داسي دي چې لا مثل ابا حسن لها نو مثل خو نکره ده اګرچه اضافت ئې معرفه ته شوي وي خو دوجې دتوغل فی الابهام نه معرفه نه ګرای نو ځکه دلته رفع او تکرير نشته دي. او دويمه طريقه دتاويل داده چې مراد داباحسن نه هغه وصف مشتهر دي چې فيصل دي نو فيصل خو نکرة ده معرفه نده. **ای فيما کررت**: دي سره بيان دمثل کوی چې مراد په مثل سره هر هغه ترکيب دي چې تکرار د لا پکښې راغلی وی په طريقې دعطف سره اووی وروسته دهر لا ته نکره بلا فصلة :

بحسب اللفظ: دي سره دفع اعتراض هغه دا چې په دي ترکيب کښې شپږمه وجه هم شته چې هغه عکس دپنځمی وجې دي؟ **جواب**: په حسب دلفظ سره پکښې پنځه وجې دي او په حسب دتوجيه سره پکښې شپږو جې جوړيږي. **علی ان تکون لا**: دليل ذکر کوی او دويم غرض احتمالين ذکر کوی دعطف مفرد سره، **اما فتح الاول**: سره دليل ذکر کوی او دويم غرض د ان يجوز سره احتمالين ذکر کوی، او دويمه او څلورمه وجه کښې هم دا دوه غرضه دي.

فان عمل لا: دي سره دليل ذکر کوی. **علی ان تکون لا**: دليل ، دويم رد په ماتن، دريم دفع داعتراض. اول غرض دليل ذکر کوی دعلی ان تکون لا لنفی الجنس

سره. **وضعف**: دي سره رد کوی په ماتن چې کومه وجه دضعیف د لا په معنی دلیس ویلی ده دا ضعیفه ده بلکه لا په معنی دلیس سره کثیره راځی او دا هم جائز ده چې لا ملغات العمل وګرځوی او دغه اسم دي مرفوع بناء بر ابتدایت شی.

لان شرط صحة: دفع داعتراض. هلکه دلا دملغات العمل ګرځولو دپاره دوه شرطه دي یو تکرار اوبل توافق داسمین؟ **لا فی الاعراب**: جواب: دي وائی چې شرط ورلره هغه صرف تکرار دي فقط. **ای عمل لا**: اول تعین دعمل دلا، دویم دلیل، اول غرض: عمل د لا هغه تاثیر ددي، دي په مدخول خپل کښی. **اعراباً اوبناءً لان العامل**: دلیل دادي چې په مدخول داستفهام سره عمل نه متغیر کیږي. **مثل الا نزول عندی**: مثال، دویم اختلاف، اول غرض مثال د عرض لکه الانزول عندی، او دویم غرض: اختلاف دسیبویه دا خبره نده ذکر کړي چې حال د لا به پشان دحال د ﻻوی مخکښی دهمزي نه په عرض کښ دویم سیرافی او جزولی او مصنف دا خبره ذکر کړیده، دریم او اندلسبي رد کړي دي، دي وائی چې دا کله عرض شونو دا پشان دحروف افعالو و ګرځیدو په شان د ان او لو او پشان دحروف دتخصیص وګرځیدل نو په دغه وخت کښی نصب واجب دي لکه الازیداً تکرمه. **واما قوله**: دفع اعتراض، دویم جواب اخر، **اول** غرض دفع اعتراض هغه دا چې ته وائی چې اسم د لا به پس د دخول دحرف استفهام نه په خپل حال وی زه به درته وښایم چې منصوب به وي لکه الارجلاً جزاه الله خیراً؟ **جواب**: داد خلیل په نزد لانفی جنس نده چې همزه داستفهام پري داخل شي بلکه دا حرف تحضیض دي براسها وهی عند یونس. دویم جواب آخر یونس وائی چې دا لائی نفی جنس ده په معنی دتمنی سره ده خو تنوین پري دضرورت شعري دوجې راغلی دي.

ونعت المبنی: دي سره ماتن یوه قاعده ذکر کوی هغه دا چې د اسم دلا دپاره چې مبنی وی یو صفت راشي او دا اول صفت وی او مفرد وی او یلی هم وی نو دا مبنی اومعرب دواړه کیدای شی. **لا نعت اسمها العرب**: دي سره فائده دالمبنی ذکر کوی، **والمبنی فی قوله**: دفع داعتراض، هغه دا چې زه به درته وښایم چې داټول شروط به پکښی وی او سره ددینه بناء به ئی نه وی جائز لکه الاماء ماء باردا دلته باردا صرف معرب ویلی شی؟ **جواب**: مراد داسم مبنی نه اسم مبنی اصالة دي او دلته دا دویم اسم

مبنی دي خو باالتبع دي او که دا باردا صفت دپاره داول اسم مبنی کرځوو بيا ئی هم بناء نده جائز ځکه چی يلی پکښی نشته

ومعرب: نه دي وروسته دليل دمعرب دپاره ذکر کوی، **والا**: دي سره معنی دالا ذکر کوی، **ای فحکمه**: دي سره معني د فاالاعراب ذکر کوی، **والعطف علی اسم لا**: اول بيان ديو قيد، دويم فائده دقيد، دريم توضيح بالمثال، **اذا کان**: قيد دادي چی عطف په اسم د لاچی مبنی وی جايز دي چی کله معطوف نکره وی بغير دتکرار د لا نه، **فانه اذا کان**: فايده دقيد داده چی کله معطوف معرفه وی نو بيا وجب الرفع لکه لا غلام لك والفرس دلته والفرس معرفه ده او که لامکرره وی په معطوف کښی نو حکم ئی دلاحول ولاقوة پشان دي او دي سره توضيح بالمثال هم وشو چی کوم دريم غرض دي، **بان يحمل**: دا متعلق دعلی اللفظ دپاره دي، **ای لفظ اسم لا**: دي سره تعين دالف لام کوی په اللفظ کښی چی عوض دي دمضاف اليه نه چی اسم د لا دي.

ويجعل: دا متعلق دي دپاره دعلی المحل جار مجرور دپاره. **ولا يجوز فيه البناء**: دي سره تتميم دمافات دماتن کوی هلکه ! بناء پکښی ولی نده جايز نو شارح وائی چی بناء پکښ ځکه نده جايز چی فصل پکښی راغلی په عاطف سره. **ولم يجعل**: دفع اعتراض هلکه ! واو وکرځوه ؟ **جواب**: واو ځکه نشی کرځولی ځکه چی کله په معطوف منفی کښی لا هم زياتيږي دپاره دتاکيد نو هغه بيا زائده نشی کرځولی **فی قول الشاعر**: تتميم دشعر، دويم دفع داعتراض، اول غرض تتميم، ولااب وابنا مثل مروان وابنه اذ هو بالمجدار تدی وتاز را

وسائر التوابع: دفع اعتراض : هلکه ! تا صرف نعت او معطوف ذکر کړل نه نور توابع دا ولی ؟ **جواب**: نحويانو دي طرف ته توجه نده کړي بلکه دهغوی حکم پشان دتوابعو دي. **ای کل ترکيب**: دي سره قاعده کليه ذکر کوی يعنی ان الاصل، دفع اعتراض هغه دا چی هلکه مخکښی دي وويل چی اسم د لا به دا وی او س وائی چی اسم دلاباندي به احکام داضافت جاري کوی ؟ **جواب**: کويا دا په منزله داستثناء کښی دي دهغی نه،

ای لاسم لا: مرجع دضمير د له ذکر کوی، **ای مشارکه**: يو غرض دادي چی لام په لمشارکته کښی تعليل دي او دا مخکښی دعوه غواړي نو وذالك التشبيه انما هو

سره دعوه شوه او دويم غرض معنی دمشارکت ذکر کوی **ای معنی المضاف**: معنی ذکر کوی چی دغه اسم دلاچی مبنی وی دابه مضاف سره مشارك وي په اصل کښې چی هغه تخصیص دي، **ومن ثم**: تعین دمشاراليه کوی، **لا ابا فيها ای فی الدار**: مرجع دضمير، دویم دلیل ذکر کوی اول غرض: ضمير فيها کښې دار ته راجع دي، دويم غرض دليل، داترکیب ځکه ندي جائز ځکه دلته اختصاص د اب نشته دار پوري نو دمضاف سره شارك نشو اصل معنی کښې چې اختصاص دي نو دمضاف احکام هم پري نه جاري کيږي چی اثبات دالف او حذف دتنوين دي.

وليس بمضاف حقيقة: دا ترکیب چی لا ابا له ولا غلامی له دامضاف حقيقتاً ندي ځکه فساد دمعنی راځی د دوو وجوهو نه، يو دا چی که د لاأباه مضاف شی نو مضاف خو غیر تمام وی نو خبر به غواړي نو تقدیر به داسي شی چی لاأباه موجود ولاغلاميه موجود او حالانکه لا اباً له ولا غلامی له دا کلام تام دي. او دويم طريقه دفساد داسي ده چی مراد ددي ترکیب نه نفی دجنس اب او جنس غلامين ده او که حقيقتاً مضاف شی نو بیا به نفی دوجود داب او دوجود د غلامین شی،

خلافاً لسيبويه: دفع اعتراض، دويم مذهب دسيبويه، دريم رد په ده، اول غرض: هلکه خلاف خو يواځی سيبويه ندي کړي تا ولی دا خاص کړو؟ **جواب**: ځکه دا عمده دي په مخالفت کښې او یا دا چی مراد زمونږ بیان دخلاف دي نه تعین دمخالفينو **فمذهب سيبويه والخليل**: دي سره مذهب دسيبويه ذکر کوی، **وحكم المصنف**: دي سره رد ذکر کوی په مذهب دسيبويه باندي چی دده قول فاسد دي دهغه مخکښې دوو وجوهو په بناء.

ولا يحذف الا مع وجود الخبر: تتميم دمافات ذماتن کوی، دويم دفع اعتراض، اول غرض: تتميم مصنف صرف دا ویلی وو چی اسم د لا به حذف کولی شی دخبر په باره کښې ئی څه نه دي ويلی نو دي وائی چی حذف د لاد اسم به راځی خو سره دوجود دخبر نه که خبر هم حذف شی نو بیا به کلام، کلام پاتی نشي،

وقولهم لا كزيد: دفع اعتراض: هغه دا چی لاكزيد کښې اسم او خبر دواړه محذوف دي؟ **جواب**: دلته کاف په معنی د مثل سره دي نو کزید اسم د لادي او خبر ئی

محذوف دي چې موجودٌ دي په لامثل زيد موجود کښې . او دا هم کيدی شی چې کزيد خبر شی او اسم ئی حذف شی چې احد دي نو تقدير به داسي شی چې لااحد کزيد ای مثل زيد.

وخص الخبريه: دفع اعتراض . دويم بيان داختلاف ، دريم ترجيح ديو قول، اول غرض : هلکه خبر دي ولی خاص کړو دپاره دعمل کولو دما ولا ؟ **جواب**: اسم دلاخو که ما او لاعمل وکړي او که نه هغه مرفوع وی اختلاف په خبر دي نو ځکه مو دا خاص کړو په ذکر سره . **واما بنوتميم**: دي سره بيان داختلاف کوی، **ولغة اهل الحجاز**: دي سره ترجيح ذکر کوی چې لغت داهل حجاز وو دا راجح دي ځکه موافق دي دقرآن سره په قرآن کښې خبر دما دا منصوب دي لکه ما هذا بشراً او ما هن امهاتهم . **نحو ما ان زيد قائم**: توضيح بالمثال . دفع اعتراض، دريم اختلاف ، اول غرض وشو چې ان سره دما نه زياتی شوي وی دهغی مثال دي ما ان زيد قائم : **قيل**: دفع اعتراض ، هلکه ان دادي دما سره ولی خاص کړو چې داد ماسره زياتيږي او دلا سره نه زياتيږي ؟ **جواب**: ان د لا سره نه زياتيږي ځکه عرب داسي نه کوی يا نحاة **وهذا عند البصرين**: اختلاف ، دا مذهب دبصريانو دي چې عمل د لاختموی او هر چې کوفيان دي هغوی وائی دا ان نافيه دي او مؤکد دي دمانفيی دپاره او عمل دما نه ختموی.

بطل العمل: تعين دالف لام ، دويم دليل دپاره دبطلان عمل دما ، اول غرض : العمل کښې الف لام عوض دي دمضاف اليه نه چې ما دي، **اما اذا ازيدت**: دي سره دلا ئل ذکر کوی. **ای بعاطف**: معنی دموجب ، دويم مصداق دموجب ، دريم توضيح بالمثال، اول غرض : معنی دموجب داده چې عطف وکړي شی پداسي عاطف سره چې مفيد د ايجاب وي سره دنفی نه، **وهو بل ولکن**: مصداق دموجب هغه بل او لکن دي ، دريم غرض لکه مازيدٌ قايماً بل مسافر، وما عمرو قائماً لکن قاعدٌ . **فالرفع لکونهما**: دليل ذکر کوی، رفع بيا دمعطوف ضروري ده ځکه دا دواړه په منزله د الاکښې دي په نقض دنفی کښې يعنی څرنګه چې نفی په الاسره ختميږي دار نګه پدي سره هم ختميږي

د بيان د مجرورات

هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان دمنصوباتو نه نو شروع ئی وکړه په مجرورات کښې، المجرورات ياخبر دي مبتداء يی محذوفه ده او يا مبتدا ده او خبر

ئی محذوف دي او يا المجرورات مبتدا ده او ما اشتمل على علم المضاف اليه ئی خبر دي، او مجرورات دا جمع دمجرور ده نه مجرورة او مجرور دا صفت دمذكر غير عاقل دي، او داسي صفت جمع كيږي په الف او تاسره.

اي اسم اشتمل: تعين د ما، دويم فايده داسم، دريم دليل، اول غرض: ما عبارت دي د اسم نه. **ليخرج:** فايده، ما عبارت د اسم څخه دي نو پدي سره خارج شو هغه حرف اخير چی هغه محل داعراب دي لکه په زيدٌ کښی دال ديته مجرور نشی ويل کيدي، **لانها:** دليل، ځکه مجرورات دا داقسامو داسم نه دي، **ای علامة المضاف اليه:** تعين دمعنی دعلم، بيان ديو قيد، دريم مصداق دغلامی، څلورم تعميم. پنځم فايده دهغه قيد، شپږم دفع داعتراض: اول غرض: علم په ډيرو معنو سره راځی خو دلته په معنی دغلامی سره دي، **من حيث هو مضاف اليه:** دي سره دويم غرض ذکر شو چی قيد دي، **يعنی الجر:** دي سره مصداق دغلامی ذکر کوی، چی هغه جر دي، **سواء كان:** دي سره تعميم ذكر كوی چی دا جر عام دي كه دكسري په صورت كښی وي او كه فتحی او كه دياء په صورت كښی وی، **وانما قلنا:** من حيث هو مضاف اليه مونږ ځكه وويل كه پدي حيثيت سره ئی وا نخلی نو د ذات دمضاف اليه دپاره جر دا علامه نه ده لكه تحرك داصابع دا علامه دكاتب ده نه د ذات دكاتب بلكه دوصف دكاتب علامه ده چی كتابت دي.

والمضاف اليه وان كان: دفع داعتراض هلكه بناء دمتونو په اختصار سره وی مخكښی دي ويلی وو چی المجرورات ما اشتمل على الخ.. اوس بيا تعريف دمضاف اليه ته ضرورت نه وو ځكه دا هم مشتمل دي په علم دمضاف اليه چی جر دي، ؟ **جواب:** مونږ دمضاف اليه تعريف نه كولی خو چی دمجرور او دمضاف اليه په مابين كښی ترادف وی او ددوي په مابين كښی ترادف نشته ځكه مجرور عام دي دمضاف او شبه مضاف دواړو نه،

د مضاف اليه په تعريف كښی اختلاف

وهوههنا غير ما هو: اختلاف: مشهورين وائی چی مضاف اليه هغه دي چی حرف جر پكښی تقديراً وي، او سيبويه وائی چی مضاف اليه عام دي حرف جر پكښی

لفظاً وی او که تقدیراً او ماتن دده په مذهب دي،

حقیقتاً اوحکماً: هلکه ! تاوویل چی مضاف الیه دا هر هغه اسم دي نوزه به درته وښایم چی مضاف الیه به وي او فعل به وی لکه یوم ینفع ؟ **جواب**: اسم عام دي حقیقتاً وی لکه غلام زید او که حکماً وی هغه دا چی په تاویل دمصدر سره وی لکه دلته په تاویل د یوم نفع الصادقین سره دي.

اسما کان اوفعلاً: دي سره تعمیم دمانسب الیه ذکر کوی، ای ملفوظا دي سره دع داعتراض مشهوره ده چی حمل نه صحیح کیږي ځکه حمل دصرف راځی په ذات؟ **جواب**: واضحه دي چی لفظ په وملفوظاً سره دي حال کون ذالك المقدر. دي سره اعراب دمراداً ذکر کوی چی دا حال دي دتقدیرا نه. **من حیث العمل**: معنی دمراد ، دویم توضیح بالمثال ، دریم دفع داعتراض، یا فایده دمرادا، اول غرض : دا حرف جر تقدیري به حیثیت دعمل نه به باقی وي اثرددي چی جر دي، لکه غلام زید دلته دحرف جر تقدیري اثر په زید کښی باقی دي او دي سره دویم غرض توضیح بالمثال هم وشو،

بخلاف صمت یوم الجمعة: فایده دمرادا ، داده چی دي ترکیب کښی اګرچی نسبت دقیام یوم الجمعة ته شویدي په حرف جر مقدره سره چی فی دي لیکن دا مراد ندي ولی که مراد وی نو اثر به ئی باقی وی په یوم باندي. **اذ لوکان فعلاً**: سره فائده د اسما قید ذکر کوی، **ای منسلخا عنه**: معنی دمجرد اذ کر کوی، او ماقام مقامه، دي سره تعمیم ذکرکوی، **ای لاجل الاضافة**: تعین دضمیر، دویم دلیل، دریم بیان داعتراض، څلورم جواب ، پنځم اعتراض، شپږم جواب : اول غرض : ضمیر راجع دي اضافت ته، **لان التنوین**: دي سره دلیل وائی چی تنوین یا قایمقام دتنوین دا دلیل دي په اتمام ادهغه شی چی دا پکښی وی اوس نحاة چی وغواړي چی یو کلمه د بلی سره متصله کړي نو دوي اوله اودویمه کلمه تړي دپاره دتخصیص یا تعریف یا تخفیف نو دوي د اولی کلمی نه هغه علامه دتمام والی حذف کړي چی هغه تنوین یا قایمقام دتنوین دي او په جمله ثانیه سره اتمام کړي.

ثم المبتادر: اعتراض دادي چی په نزد دنحاتو دا تعریف داضافت دا شامل ندي اضافت لفظی لره ځکه دنحاتو په نزد په اضافت لفظی کښی حرف جر نه لفظا وی او نه

تقديراً دماتن دمتن نه او دشرح دمتن نه داسي معلوميږي چې دا تقسيم داضافت لفظي او معنوي ته داد هغه اضافت دي چې په تقدير دحرف جر سره وي يعني دده دتقسيم نه معلوميږي چې په اضافت لفظي کښې صرف جر مقدر وي ليکن ماتن نه دا ثابته نده چې په اضافت لفظي کښې تقدير دحرف جر وي. وقد تكلف بعضهم: دي سره جواب کوي بعضو حلکو دا ويلي دي چې اضافت دصفت کله مفعول ته وشي نو هلته تقدير دلام وي دپاره دتقويت دعمل دمضاف لکه ضارب زيد، او همدارنګه چې اضافت دصفت وشي فاعل ته نو هلته تقدير د من وي لکه په حسن الوجه کښې تقدير ئې داسي دي چې زيد حسن من حيث الوجه. **فان قلت**: بيان داعتراض هغه دا چې هلکه مونږ دا ويلي وو چې اضافت لفظي دا تخفيف فايده کوي او اضافت معنوي دا تخصيص نو دلته په حسن الوجه کښې اضافت لفظي دي او تخصيص پکښې راغلي دي؟ **قلنا**: جواب دادي چې حسن الوجه کښې مخکښې داضافت نه تخصيص موجود وو مخکښې داضافت نه حسن دا صفت مشبه وه او وجهه ئې فاعل او تخصيص پکښې وو اوس په اضافت سره پکښې صرف تخفيف راغلي.

د اضافت معنوي تعريف او ده تسميه

وهي اى الاضافة: بيان دضمير کوي چې راجع دي اضافة په تقدير دحرف جر سره. **اى منسوبة الى المعنى**: دي سره وجه تسميه دمعنوي ذکر کوي چې دا معنى په مضاف کښې تعريف او يا تخصيص راولي. **اى منسوبة الى اللفظ**: دي سره وجه تسميه دلفظي ذکر کوي چه ديته اضافت لفظي ځکه وائي چې معنى ته سرايت نه کوي صرف په لفظ کښې تخفيف راولي، **فالمعنوية علامتها**: ماتن تعريف داضافت معنوي کوي اعتراض دادي چې هلکه تا تعريف داضافت معنوي داسي وکړو چې مضاف به غير وي او مضاف به وي معمول خپل ته او حالانکه اضافت معنوي ديته وائي چې غير صفت وي او مضاف وي غير معمول ته، يا اعتراض دادي چې تا داسي تعريف وکړو او حالانکه حقيقي تعريف داضافت معنوي دادي چې دا يو نسبت ديو شي دي بل شي ته په واسطه دحرف جر تقديري سره ؟ **جواب**: دواړو نه دادي چې تعريفات حقيقي هم دادي کوم چې تاسو وکړل او مادا علامه ذکر کړه داضافت معنوي.

فاعلها ومفعولها: مصداق دمعمول ، دویم تعمیم، دریم توضیح ، څلورم فائده، اول غرض: معمول دمضاف هغه فاعل یا مفعول دده دي، **سواء لم یکن**: دي سره تعمیم برابره خبره ده چې دا مضاف صفت نه وی لکه غلام زید ، او یا صفت وی خو مضاف معمول ته نه وی لکه مضارع مصر او کریم البلد دلته دمضارع دپاره مصر او که کریم دپاره دمعمول نه وی بلکه ظرف دي ورلره او دي سره توضیح بالمثال کوی، **واحترزبه**: فایده په دي قید سره چې صفت به وي مضاف به غیرمعمول ته نو پدي سره ترینه ضارب زید او حسن الوجه خارج شو ځکه ضارب صفت دي او خپل مفعول ته ئی اضافت شویدي او حسن صفت دي او خپل فاعل ته ئی اضافت شوي دي نو لهذا دا به اضافت لفظی وي نه معنوی.

ای لا یکون المضاف: معنی دجنس ، دویم توضیح بالمثال ، اول غرض : چې مضاف الیه به جنس نه وی دپاره دمضاف معنی داده چې مضاف به صادق وی یوائې په مضاف باندي نه په غیر دده نه لکه مثال دي غلام زید ، **الصادق علیه**: معنی دجنس دویم توضیح بالمثال ، اول غرض : چې مضاف الیه به جنس وی دپاره دمضاف معنی داده چې مضاف الیه به په مضاف هم صادریږي او په غیر هم خو شارح ورسره یو قید لګولی دي چې دا صفت به په مضاف کښې هم وی مثال ئی دي لکه خاتم فضة پدي صورت کښې به په مابین دمضاف او دمضاف الیه کښې نسبت دعموم او خصوص من وجه وی او دي سره دویم غرض توضیح بالمثال هم وشو.

والحاصل: اول وجه دحصر ، دویم توضیح بالمثال ، دریم دفع داعتراض، څلورم رد ، اول غرض : د والحاصل سره وشو ، او دویم امثله هم ورسره ذکر دي، **واعلم**: دفع داعتراض : هغه دا چې تا وویلی چې مضاف الیه دا خاص وی دمضاف نه دلته به اضافت لامی وی او مثال دي راوړو چې علم الفقه اویوم الاحد ، نو پدي کښې خو تقدیر دلام نه کیږي ؟ **جواب**: دادي چې دا ضروري نده چې تصریح دلام دي پکښې صحیح وی بلکه چې فایده دلام ورکوی چې تخصیص دي دا کافی ده، **ولا یحتاج فیه**: رد په شارح هندی کوی چې هغه ددغه اعتراض ددفع دپاره ډیر تکلفات کړي نو شارح هندي وائی چې دي تکلفاتو ته څه ضرورت نه وو. **وردها اکثر النحاة**: دلیل دقلیل دپاره،

دویم اعتراض، دریم جواب : اول غرض : اضافت په معنی دفی سره څکه قلیل دي چی اکثرو نحاتو دا رد کړی دي په اضافت بمعنی اللام سره .

فان قلت: اعتراض دادي چی لکه څرنګه اضافت په معنی دفی سره داپه معنی داضافت بمعنی اللام سره دي دارنګی اضافت بمعنی من دا هم په معنی دلام سره راتلی شی څکه دمبیّن او مبیَّن په مابین کښی اختصاص وی لکه خاتم فضة نو دقلیل ویل دا خاص کول اضافت په معنی دفی پوري صحیح نه دي ؟ **جواب:** هر کله داضافت قلیل په نو دائی رد کړو اضافت په معنی دلام سره چی اقسام داضافت قلیل شی او هر چی اضافت په معنی دمن سره وو نو دائی کثیر وو نو دا ځانته قسم وګرځوه . **نحو غلام زید:** تعین دممثل له : دویم تطبیق دمثال دممثل له سره. **وخاتم فضة:** تعین دممثل له، دویم تطبیق ، **وضرب الیوم:** تعمیم دممثّل له، دویم تطبیق، **ای اضافة المعنویة:** دي سره بیان دضمیر کوی. **ای تعریف المضاف:** دي سره تعین دتنوین کوی چی عوض دمضاف الیه څخه دي. **ان الهیاة الترکیبة:** دلیل او غرض پکښی رد ، دویم اعتراض، دریم جواب ، څلورم تتمیم دمافات دماتن، اول غرض : تعریف دمضاف څکه راځی په اضافت معنوی سره چی راضع هیات ترکیبي داضافت معنوی وضع کړي دي دپاره دمعلومیت دمضاف او پدي سره ئی رد وکړو په بعضو باندي بعضی وائی چی نسبت دیو مجهول شی معلوم ته وشی نو پدي کښی تعریف راځی نو په مضاف کښی ددي وجی نه تعریف راځی نو ماتن په دوي رد وکړو.

فان قلت: بیان داعتراض: هلکه ! پدي ترکیب کښی چی جاءنی غلام زید به غیر د اشاري نه یو واحد معین ته اضافت معنوی شته او تعریف پکښی ندي راغلی؟ **جواب:** جواب دادي چی دا اضافت معنوی وضع شوي دپاره دتعریف خو کله خلاف دوضع نه مجازا استعمالیږي لکه ددي پشان الف لام هم دي وضع ئی شوي دپاره دتعریف خو کله ئی استعمال خلاف دوضع نه راځی لکه پدي شعر کښی چی (ولقد امر علی اللئیم یسبنی) دلته اللئیم معرف باللام او موصوف دي او یسبنی جمله ئی صفت واقع شوي او جمله من حیث الجمله دا نکره وی نو نکره صفت دمعرفی واقع شوي څکه چی دلته الف لام خلاف دوضع واقع شوي، دلته الف لام عهدي ذهنی دي او دا په قوت

دنکري کښی وي. او ددي اعتراض نه هغه بعض چپ پاتی شوي او جواب ئی ندي کړي.

وليس يجري: دي سره تتميم دمافات دماتن کوی هغه دا چی هلکه زه به درته وښايم چی اضافت معنوی به وی او دنکري اضافت به معرفی ته شوي وي او تعريف به پکښی نه وی راغلی لکه دغير او دمثل؟ **جواب:** داقاعده په غير او مثل کښی نه جاري کيږي ځکه دا دواړه متوغل فی الابهام دي که ددوي اضافت معرفی ته هم وشی نو تعريف پکښی نه راځی مګر چی کله دمضاف اليه دپاره ضد واحد وی لکه عليك بالحرکة غير السکون کښی غير دا معرفه ده ځکه دمضاف اليه داپاره چی سکون دي ضد واحد دي چی هغه حرکت دي او يا دمضاف اليه دپاره مثل مشهور وي يعنی وصف مشهور لکه ته وائی جاءنی مثلك مضاف سره به مشابه وی په يو وصف کښی چی علم يا بل کوم صفت واخلی.

وتفيد الاضافة: دي سره اشاره کوی تعين دمعطوف عليه ته چی تخصيصا دا عطف دي په تعريفا باندي نو دتفيد لاتدي راغلو نحو غلام رجل. دي سره تطبيق دمثال دممثل سره کوی. **وشرطها ای الاضافة المعنوية:** بيان دمرجع دضمير کوی، **فان کان:** طريقة دتنکير، دويم دفع داعتراض، دريم دليل دتجريد، څلورم اعتراض: پنځم جواب: اول غرض ك طريقة دتنکير يوه داده چی که معرف باللام وو نو لام به حذف کړي او که علم وو نو نکره به ئی کړي په داسي شان سره چی دا علم به جنس کړي او دغه به ترينه يو فرد وګرځوی.

وان لم يکن معرفة: دفع اعتراض: هلکه شرط په اضافت معنوی کښی هغه خامخا تجريد دمضاف دي تعريف نه که مضاف معرفه نه وی نو بيا به اضافت معنوی پکښی نه وی؟ **جواب:** يو جواب دادي چی که معرفه نه وی نو تجريد ته يی دسره ضرورت نشته دي. او دويم جواب دادی چی مراد دتجريد نه تجرد اوخلو ده او خلو بيا عامه ده که دمخکښی نه نکره وی او که وروسته اضافت نه. **وانما يجب التجريد:** دليل دتجريد. تجريد ئی ځکه ضروري دي چی که دمضاف اضافت نکري ته وکړي نو طلب د ادنی به راشی چی تخصيص دي سره دوجود د اعلی نه چی تعريف دي او که دمضاف اضافت معرفی ته وکړي نو تحصيل دحاصل به راشی نو د اضافت فائده څه شوه.

فان قيل: بيان داعتراض : هلكه ! لكه څرنګه چې اضافت دمضاف معرفي ته ندي جائز دغه رنګې دمعرفي علم ګرځول دي هم جايز نشي ؟ **جواب**: معرفه چې علم ګرځي نو په هغې کښې تبديل ديو تعريف وی په بل تعريف باندي او په اضافت دمضاف معرف کښې تحصيل دحاصل راځي. **المعرف باللام المضاف**: دي سره بيان دشبه ددغه ترکيب کوی چې هغه معرف باللام چې اضافت ئې خپل معدود ته وشي لکه الخمسة الدراهم او المائة الدينار اما قياسا : دليل دضعف ، دويم دفع داعتراض، اول غرض : قياسا هم دکوفيانو قول ضعيف دي ځکه چې لازميږي تحصيل دحاصل او استعمال شوي شعر ، ثلاث الاثافي والديار بلاقع ،.واما ما جاء في الحديث : دفع داعتراض هغه ذا چې هلکه دکوفيانو نه خو دي جواب وکړو او په حديث کښې چې مضاف معرف استعمال شوي لکه الالف الدينار ، ؟ **جواب**: دا بدل دي اضافت ندي **علامتها**: دي سره هم هغه دفع اعتراض ده کومه چې په اضافت معنوی کښې وه، **ولا تفيد**: تعين دضمير کوی چې راجع دي اضافت لفظي ته او دويم غرض وجه دنصب دتخفيفا ذکر کوی چې دا مفعول مطلق دي دتفيد دپاره په اعتبار دموصوف محذوف سره چې فايده دي، **لا في المعنى**: معنى دمتن ، دويم تتميم دمافات دماتن کوی، اول غرض : چې تخفيف به صرف په لفظ کښې راولی نه په معنى کښې چې بعض معنىٰ ساقطه شی په مقابله دهغی شی چې په لفظ کښې حذف شوي وي بلکه معنى چې قبل الاضافة څرنګه وه هم هغه شان به وی

والتخفيف اللفظي: دي سره تتميم دمافات دماتن ذکر کوی، **ومن ثم**: سره بيان دمشار اليه کوی چې هغه امور ثلاثه دي چې اضافت لفظي تخفيف فايده کوی تعريف نه فايده کوی او نه تخصيص ، **باضافة الصفة**: دي سره تطبيق دمثال دممثل سره کوی، **فلو افاد تعريفاً**: دليل ، دويم دفع داعتراض دريم توطيه او تمهيد دمتن لپاره . اول غرض دليل، اضافت الفظي که تعريف پيدا کولی نو اول ترکيب به جايز نه وو چې مررت برجل حسن الوجه ځکه صفت به معرفه ګرځيدلی وی او دويم ترکيب به جايز شوي وي چې مررت بزيد حسن الوجه ځکه صفت او موصوف به دواړه معرفه وي،

والمراد ان المشار اليه: دفع داعتراض هلکه تا ومن ثم سره دا وويلی چې اضافت

لفظي مفيد دتخفيف دي او دتعريف او دتخصيص ندي نو ددي وجي نه دغه مخکيني ترکيبونو کښي يو جايز اوبل ندي جايز نو دينه دا معلوميږي چي ددي دري واړو امورو به دخل وي په جواز او عدم جواز ددغه ترکيبونو کښي او سره ددينه چي تخصيص لره پکښي بلکل دخل نشته دي؟ **جواب**: مراد ددغه امورو مجموعه مراد ده بيا برابره خبره ده چي دغه دخل دبعض وي او که نه، **ومن ثم جهة**: دي سره توطيه او تمهيد ذکر کوي متن اتي دپاره.

لعدم التخفيف: اول دليل، دويم بيان دمتفرع عليه، دريم بيان داعتراض، څلورم جواب، اول غرض: دليل دالضارب زيد ځکه ندي جايز ځکه تخفيف پکښي ي راغلی او هر چي سقوط دتنوين دي نو هغه دالف لام دوجي راغلی دي، **ولا شک**: تعين دمتفرع عليه، دا تفريع پدي چي په الضارب زيد کښي تخفيف نشته دي پدي ترکيب کښي انتفاء دتعريف لره او انتفاء دتخصيص لره څه دخل نشته دي. **وعلى هذا**: دينه مخکښي دويم غرض باندي اعتراض دي چي هر کله دا تفريع شوه په دي چي دا مفيد تخفيف ندي نو پکار ده چي دائی مخکښي ذکر کړي وی.

لكنه اخره: جواب دائی ځکه وروسته کړه چي ملحقات ددي ډير دي **فانه يجوز**: بيان دمذهب: دالضارب زيد ترکيب جايز دي **اما لانه**: دي سره دليل دده ذکر کوی چي دۀ وهم کړي چي دي ترکيب کښي اول اضافت راغلی او پدي سره سقوط دتنوين راغلی او بيا دخول دلام راغلی، **واجاب المصنف عنه**: مصنف رد کوی په جواب کښي وايي چي دا خبره په اعتبار دظاهر سره صحيح نده ځکه چي لام مقدم دي په اضافت سره. **واما لمّا وقع**: توطيه او تمهيد، دا دويم دليل دفراء دي دي وائی چي دي شعر کښي چي **الوهب المائة الهجان وعبدها**: دلته عبدها دا عطف دي په المائة باندي نو دمعطوف عليه نه چي مخکښي کوم شي وي نو هغه معطوف کښي هم مرادف وی نو معنى داسي شوه چي الواهب عبدها دلته اضافت دمعرف باللام راغلی دي نو دا جايز دي نو الضارب زيد هم جايز شو او دا شعر دبليغ شاعر دي. **فاجاب المصنف**: دي سره جواب کوی مصنف دفراء د دويم دليل نه، يعني **ان هذا القول**: دليل دضعف، دويم بيان داعتراض، دريم جواب څلورم تشريح دشعر، پنځم توطيه او تمهيد، اول دليل،

دا قول ضعیف دي ځکه دي اضافت کښې څه فایده نشته دي ځکه سقوط دتنوین هغه په الف لام سره راغلی ، **ولا یخفی**: اعتراض دادي چې دا خو مصادره علی المطلوب شوه ځکه مدعی دي موقوفه شوه په دلیل باندي او دلیل دي موقوف شو په مدعی مدعی دي دا وه چې الضارب زید دا ممتنع دي او دلیل دي دا وو چې وضعف الواهب الخ .. او دلیل دي ځکه موقوف شو په مدعی باندي چې وجه دضعف د دا اوښودله چې لامتناع مثل الضارب زید ،

اللهم: جواب مراد په ضعف سره دادي چې دلیل پدي شعر سره دا ضعیف دي ځکه په وعبدها کښې جر دا نص او صریح بلکه احتمال دنصب هم لري چې دادي منصوب شي او حمل دشي په محل دالمائة باندي اویا دمفعول معه شي او یادا چې کله حمل کولی شي په معطوف کښې هغه شي چې نه شي حمل کولی په معطوف علیه لکه په رب شاة وسخلتها کښې ځکه رب دا نه داخلیږي په معرفه باندي **والبیت بتمامه**: دي سره تشریح دشعر کوی **واما لانه قاسه**: دي سره توطیه او تمهید ذکر کوی متن اتی ته فراء وائی چې الضارب زید دا جایز ځکه دي چې الضارب الرجل دا جایز دي **وهو جر الاضافة**: بیان دوجه مختار، دویم اتمام دمافات دماتن. دریم دلیل دجواز، اول غرض: وجه مختاره په احسن الوجه کښې هغه جر د الوجه دي په اضافت سره **وفیه وجهان**: دي سره تتمیم دمافات دماتن کوی چې دي الحسن الوجه کښې دوه وجه نوري هم جایز دي رفع ددي بناء برفاعلیت او نصب ددي دوجې دمشابهت نه دمفعول به سره .

ووجه الحمل: دي سره دلیل دجواز دي چې دا حمل دي په الحسن الوجه باندي او وجه داشتراك ددي دواړو په مینځ کښې داده چې مضاف په دواړو کښې صفت دي او مضاف الیه پکښې جنس دي او معرف باللام دي او دا اشتراك مفقود دي په الضارب زید کښې او په حسن الوجه کښې . **والضاربك**: دا څلورم دلیل دفراء دي چې الضاربك زید دا جایز دي ځکه چې الضاربك جایز دي نو مصنف ترینه جواب کوی **ای فی قول من**: تعین دفیمن قال کوی چې هغه سیبویه دي او دده اتباع دي **دون من قال**: دي سره فایده دفیمن قال ذکر کوی چې الضاربك عطف دي په ضاربك په نزدي دسیبویه باندي نه په نزد دهغه چا چې وائی چې دا غیر مضاف دي او کاف دا منصوب دي محلاً دوجې

دمفعوليت نه او تنوين دا محذوف دي دوجې داتصال دضمير نه نه دوجې داضافت نه
اى لمحموليته: دفع داعتراض، هلکه؛ قاعده داده چې فاعل دفعل او دمفعول له دايو وي دلته فاعل دجاز هغه الضارب الرجل دي او حملاً دا صفت دمتکلم دي؟
جواب: حملاً په معنى دمحمول سره او محمول دا خو کلام وى نو فاعل د دواړو يو شو
وبيانه انهم: دليل دمتن ذکر کول دي، دويم دليل آخر، دريم تشريح دمتن بعبارة أُخري اول غرض: دليل دمتن، ضاربك ځکه جايز دي چې کله نحات اسم فاعل او اسم مفعول دا پيوسته کړي دمفعولاتو سره او دا مفعولات ئې مضمرات وى او متصلات وي نو دوى اضافت لازموى او دوي تحقيق دتخفيف ته نه ګوري اګرکه تخفيف په اضافت سره نه حاصليږي بلکه په اتصال ددنفس ضمير سره حاصل شو نو ددي وجې نه ئې الضاربك دا هم حمل کړو پدي باندي ځکه دا دواړه ديو باب څخه دي.
ولقائل ان يقول: دي سره دليل اخر ذکر کوى دپاره دحمل دالضاربك په ضاربك باندي. **واعلم**: دي سره تشريح دمتن کوى په عبارت اخر سره هغه داسې چې مونږه داقول چې وضعف او الضارب الرجل او الضارب حمل کړو په خپلو امثالو او جواب مو وګرځولو د استدلالا تو دفراء نه دمصنف دطرف نه او دا هم جائز ده چې هر يو ددي دريو ترکيبونو نه ځانته ځانته مسئله وګرځوى مناسب دحکم د امتناع د الضارب زيد سره ، **ولا يضاف موصوفة الى صفته**: دفع داعتراض، دويم ليل ، اول غرض: دفع داعتراض، هغه دا چې هلکه مونږه خو په کتابونو کښې اوريدلى چې دا اضافت دقبيلى داضافت دموصوف نه دي صفت ته ، ته څرنګه وائى چې ولا يضاف موصوف الى صفته ؟ **جواب**: اضافت دموصوف صفت ته نشى کيدى چې کله هغه معنى وصفى باقى وى په خپل حال که نه وه پاتى بيا کيدى شى. **لان لكل**: دليل ذکر کوى چې ځکه ترکيب توصيفى نه ترکيب اضافى نشى جوړيدي ځکه چې ددي دواړو په مابين کښى منافات دي. **فلا يقال**: توضيح بالمثال ، دويم اختلاف ، دريم توطيه او تمهيد ، اول غرض: مسجد الجامع په ځاي دالمسجد الجامع سره نشى ويلى.
خلافا للكوفية: کوفيان وائى چې مسجد الجامع او المسجد الجامع دايو شى دي او همدارنګه جرد قطيفة او قطيفة جرد دا يو شى دي، **ويرد على القاعدة الاولى**: دي

سره توطیه او تمهید ذکر کوی **فان کل واحد**: دي سره متن ذکر کوی چی دي ټولو ترکیبونو کښی اضافت دموصوف شوي دي صفاتو خپلو ته. **فمسجد الجامع**: بیان دتاویلونو. دویم اعتراض، دریم جواب، څلورم توطیه او تمهید. اول غرض: **مسجد الجامع** دا مؤول دي په مسجد الوقت الجامع او دا احتمال دوو معانیو لری، اول دا چی مسجد مضاف او الوقت موصوف شی او دا مضاف الیه شی او الجامع صفت شی دپاره د الوقت او دویم دا چی الوقت محذوف شی او الجامع صفت قائم مقام د الوقت شی، نو په دواړو صورتینو کښی اضافت دموصوف صفت ته را نغلو. او همدارنګه صلوة الاولی او بقلة الحمقاء پدي قیاس کړه.

لکن هذا التاویل: بیان داعتراض هغه دا چی هلکه دا تاویل مونږ په جانب الغربی کښی نشو کولی ځکه که هلته مونږ مقدر کوو نو مکان به مقدر کوو او زمونږ مقصود هغه توصیف دجانب په جانب الغربیه سره نه توصیف دمکان په الغربیه سره. **اللهم الا ان یقال**: جواب دلته دوه مکانه دي یو جز او بل کل دي هغه مکان چی اضافت ئی شوي جانب ته دا جزء دي اویو هغه مکان چی معتبر دي جانب په نسبت سره هغه ته هغه کل دي نو توصیف کول دکل په الغربیة سره دا داسي دي لکه موصوف کول دجز نو لهذا اضافت دجانب موصوف خپل صفت ته ندي راغلی. **ویرد علی القاعدة الثانیة**: دي سره توطیه او تمهید ذکر کوی متن ته، **فان اصلهما**: سره تشریح دمتن ذکر کوی. **با نهم حذفوا**: بیان دتاویل کوی تاویل پکښی داسي شوي چی قطیفة جرد کښی ئی قطیفة حذف کړو نو جرداً دا جنس پاتی شو نو دوي پکښی دتخصیص قصد وکړو نو اضافت ئی قطیفة ته وکړو نو دا اضافت دصفت موصوف ته ندي بلکه اضافت داسم جنس دي بل جنس ته.

او غیر مترادفین: سره تتمیم دمافات دماتن کوی، **بخلاف**: دي سره شارح قاعده کلیه ذکر کوی چی اضافت دعام جایز دي خاص ته. **فانه**: دي سره تعین دضمیر کوی. **ای یصیر خاصا**: تشریح دمتن، دویم توطیه او تمهید متن آتیه ته، اول غرض: دا مضاف چی کوم عام د په اضافت سره خاص ځکه مضاف الیه به ئی خاص وی. **ویرد علی قولهم**: دي سره توطیه تمهید ذکر کوی متن آتیه ته او غرض پکښی دفع

اعتراض او هغه دا چې هلکه ته وائی چې لا يضاف اسم مماثل زه به درته وښايم چې اضافت د اسم به راغلی وي خپل مماثل ته لکه سعيد کرز دا پشان دليث اسد دي **بحمل احدهما**: بيان دتاويل ، دويم دفع داعتراض. اول غرض: تاويل دلته داسي شويدي چې دا يو اسم حمل دي په مدلول او بل په لفظ باندي نو ددي ترکيب چې جاءنی سعيدِ کرز معنی داده چې جاءنی مدلول هذا اللفظ. **ولم يقولوا کرز سعيد**: دفع داعتراض، هلکه چې ديو حمل په دال او بل په مدلول جايز وو نو دادي هم جايز شي چې کرز سعيد ، ؟ **جواب**: داسي ځکه نشو ويلی چې مقصود په اضافت سره هغه توضيح ده او لقب دا اوضح وي داسم نه غالباً : **واذا اضيف الاسم الصحيح**: وهو دي سره تعريف داسم صحيح کوی ، **وانما کان ملحقا**: وجه دالحاق باالصحيح ذکر کوی ځکه چې حرف علت چې دسکون نه بعد واقع شي نو په ده باندي حرکت ثقيل نه وی دوجې دخفت دسکون نه ځکه دا معارضه کوی ذحرکت دثقل سره نو ګويا دا حرف علت داسي دي لکه په اول دکلمه کښی چې راشی ،

للتناسب: دليل، دويم توضيح بالمثال : ، اول غرض: مکسوره به وی ماقبل دياء نه دپاره دمناسبت دياء دويم غرض مثال، لکه ثوبی داري اوظبی اودلوی. **وقد اختلف**: دي سره شارح مسئله اخري ذکرکوی چې دي يادمتکلم کښی فتحه اصل ده او که سکون، صحيح داده چې مفتوحه وی دا ياء ځکه اصل په هغه کلمه کښی چې په يو حرف وی هغه حرکت دي د پاره ددي چې لازم نشی ابتدا باالساکن حقيقتاً ځکه دا مستقله کلمه نه ده نو ګويا دلته حقيقتاً ابتدا الساکن نه راځی ځکه ډير حروف ندي راغلی او حکماً ابتدا لساکن راځی ځکه دا مستقله کلمه ده. او بل دا چې اصل په هغه شی کښی چې مبنی کولی شی په حرکت سره هغه فتحه ده او سکون دا خو عارضاً راځی دپاره دتخفيف نو فتحه ځکه اصل شوه

ای الالف: بيان دضمير ، دويم اشاره ونیوکړه اختلاف ته چې الف به په لغت فصيح سره ثابتولی شی. لعدم موجب الانقلاب .دي سره دليل ذکر کوی، **نحو عصای ورحای**: توضيح بالمثال ، **تقلبها**: بيان دضمير کوی چې الف ته راجع دي او دويم غرض دا چې لغير التثنيه دا حال دي دتقلبها دضمير نه. **لمشاکلته**: دليل ، دويم

توضیح بالمثال. دریم فائده دلغیر التثنیه. اول غرض: هذیل قبیلی والاوائی چی دا الف الف به په یاء باندي ځکه بدلوي چی دا د یا سره شاکل دي ځکه الف واو یاء نه جوړ دي. دویم توضیح بالمثال لکه عصی او رحی. **ولا تقلب**: دي سره فائده دلغیر التثنیه ذکر کوی، ځکه که دتثنیه الف بدل کړي نو په حالت نصبی او جري کښی هم بدل شوي نو بیا التباس راځی دهغی سره.

اخر الاسم: دي سره بیان دضمیر کوی. **لاجتماع المثلین**: دلیل، دویم توضیح بالمثال، اول غرض: یاء به په یاء کښی ځکه مدغم کولی چی دا پشان کلمه واحده دي، دویم غرض: لکه مسلمین نه مسلمی جوړ شوي، **لاجتماع الواو والیاء**: دلیل، دویم توضیح بالمثال، اول غرض: لاجتماع الواو والیاء والاولی منهما ساکنة سره ذکر کوی، دویم غرض: لکه مسلمون **لانها لما انقلبت یاءً**: دلیل ذکر کوی او دویم غرض توضیح بالمثال کوی دومسلمی سره، **وفتحت الیاء**: تعین دیاء کوی چی مراد ددینه یاء دمتکلم ده، **التی مرالبحث**: دفع اعتراض، هغه دا چی اسماء سته خو مونږ نه پیژنو؟ **جواب**: اسماء سته خو معلوم دي مخکښی ئی ذکرتیر شوي **ای فالحال**: قاعده کلیه ذکر کوی چی حال په اخ او اب ددغه اسماء سته څخه چی کله ئی اضافت وشی یاء دمتکلم ته نواخی او ابی به ویلی شی بغیر د رد دمحذوف نه پشان د (یدي) او (دمی) او هغه محذوف به نسیا منسیا وګرځوی، **ویرد لام الفعل فیهما**: دلیل، دویم جواب: اول غرض: مبرد وائی چی لام کلمه به را واپس کوی په دي اخی او ابی کښی او دلیل دیو شاعر قول پیش کوی چی هغه داشعر دي لکه وابی مالك ذولجار بدار، **واجاب عنه المصنف**: دي سره جواب وکړو مصنف چی دا دقیاس او استعمال دنحاة نه خلاف دي او ماتن وائی چی دا احتمال هم لري چی پدي شعر کښی مقسم به دا جمع وی ابی جمع داب اصل کښی ابین وو نون دوجی داضافت نه یاء دمتکلم ته ساقط شو او یاء په یا کښی مدغم شو او ددي مثال هم شته ذي، شعر

فلما تبین اصوتنا وابکین وفدیننا باالابینا

وانما فصلهما عن اخی وابی: دفع اعتراض، هلکه! بناء دمتونو په اختصار سره وی نو حمی او هنی به دي هم د ابی او داخی سره ذکر کړی وی؟ **جواب**: دا موځکه

جدار راوړل چې پدیکښې دمبرد نه خلاف ندي منقول په قول مشهور سره اویو قول غیر مشهور سره هغه پدیکښې هم خلاف کړي. **ای جواز حم**: معنی دمطلقاً ذکر کوی چې په حم کښې په مثل ددغه اسماء اربعه وو جواز شته دي په حالت دافراد او اضافت دواړو کښې. **ای فی الافراد والاضافة**: معنی دمطلقاً ذکر کوی. **لانه وضع وصلة**: دلیل، دویم دفع اعتراض، دریم بیان داعتراض، څلورم جواب: اول غرض: دلیل د ذو اضافت اسم ضمیر ته څکه نه کیږي چې دا وضع کړي شوي دپاره دتوصیف دشی په اسم جنس سره. **اضیف الیه**: دفع اعتراض: هلکه! ته وائی چې اضافت د ذو اسم ضمیر ته نه کیږي زه به درته وښایم چې ذو اضافت به ضمیر ته شوي وي شعر:

انما یعرف ذو الفضل من الناس ذؤووه:

جواب: دا شاذ دي **ولوقیل**: بیان داعتراض: هلکه! دلا یضاف الی مضمر په ځاي ئې چې لا یضاف الی غیر اسم الجنس ویلی وي نو دا به ډیر اشمل وو څکه هغه ضمیر چې اسم جنس وی نو هغی ته به هم شامل شوي وي او هغه اسم ظاهر چې اسم جنس نه وی هغه به ترینه وتلی وي. **وکانه خص المضمر**: جواب: خلاصه دجواب داده چې دلته مونږ د ذو تول احکامات نه ذکر کوو بلکه خاص حکم ئې ذکر کوو چې هغه دا چې د ذو اضافت ضمیر ته نه کیږي او هر چې اسم ظاهر ته کیږي او که نه هغی سره ئې زمونږ کار نشته دي. **ولا یقع**: دلیل ئې دادي چې مقطوع عن الاضافة څکه نه راځی چې ګرځولی دذي وسیله دپاره دتوصیف په اسم جنس سره دا نه وی مګر په اضافت دده سره اسم جنس ته.

د توابع بیان

هر کله چې فارغ شو مصنف دمتبوعاتو نه نو شروع ئې وکړه په توابعو کښ **وهو جمع تابع**: دفع اعتراض: دویم دفع اعتراض: اول غرض: هلکه! توابع جمع تابع ده او فاعل دا جمع کیږي په فاعلون سره نه په فواعل سره نو تا څرنګه تابع جمع کړي په فواعل سره؟ **جواب**: توابع دا جمع دتابع ده او تابع دا په وزن دفاعل دي او دا دصفتي نه اسمی ته نقل شوي او فاعل اسمیی دا جمع کیږي په فواعل سره نه په فاعلون سره نوځکه تابع جمع شوي په توابع سره. **والمراد بها**: دفع اعتراض، هلکه ته وائی چې تابع

دا کل ثان باعراب سابقة ته وائی نو تعریف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه (اِنّ اِنّ) او ضرب ضرب څکه دوي کل ثان دي او باعراب سابقه ندي معرب څکه ان دا حرف او ضرب فعل دي او دا خو مبنی وی؟ **جواب**: مراد په توابع سره هغه توابع دمرفوعاتو او دمنصوباتو اومجروراتو دي کوم چی اقسام داسم دي او ان دا خو حرف دي او ضرب فعل دي. **ای کل متاخر**: دفع داعتراض، دویم متعلق دباعراب دپاره، اول غرض دفع داعتراض، هلکه تعریف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه تابع ثالث او رابع څکه دا خو کل ثان ندي؟ **جواب**: مراد د ثانی نه هر متاخر دي چی په اعتبار دمخکښی سره ئی واخلی نو هر یو بل ته ثانی دي نو ثالث او رابع هم پکښی داخل شو. **متلبس**: دا متعلق دباعراب دپاره دي او مجرور څکه دي چی صفت دي دپاره دثان.

ای بجنس اعراب: معنی باعراب سابق، دویم متعلق دمن جهة واحدة ، اول غرض دا چی تابع به معرب وی په جنس داعراب دسابق باندي یعنی دمتبوع ، دویم غرض: من جهة واحده دا متعلق دي په ناشئ پوري او دا هم صفت دي دثان دپاره، **شخصیة**: دفع دتوهم ، دویم توضیح بالمثال، دریم فوائد دقیودو، څلورم دفع داعتراض، پنځم بیان داعتراض، شپږم جواب : اول غرض : دفع دتوهم متوهم به دا وهم کولو چی مراد دوحدت نه به وحدت جنس وی نو بیا خواعراب دتابع عام دي که مرفوع وی که مجرور که منصوب وی څکه دا دریو واړه دجنس دسابق نه کیدي شی نو دۀ دا توهم دفع کړو چی مراد دوحدت نه وحدت شخصی دي چی وحدت به ئی ورسره په شخصیت کښی که سابق مرفوع وی خودا به هم مرفوع وی او که منصوب او مجرور وی نو دابه هم مجرور وی او منصوب به وی. **مثل جاء نی زید العالم**: دي سره دویم غرض توضیح بالمثال ذکر کوی، **فقوله کل ثان**: دي عبارت سره فواید دقیودو ذکر کوی **واعلم ان المعتبر**: دفع داعتراض هغه دا چی تعریف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه دا ترکیب چی جاءنی هو لاء الرجال دلته الرجال ثان دي او معرب باعراب سابقه ندي؟ **جواب**: مراد داعراب دسابق دا عام دي لفظاً وی که تقدیراً وی او که محلاً وی او بیا حقیقتاً وی او که حکماً وی نو هو لاء دلته محلاً مرفوع دي څکه که

پدي ځائی یو اسم معرب واقع وي نو هغه به خامخا مرفوع وی.

ثم ان لفظة کل: بیان داعتراض ایراد دکل په تعریفاتو کښی دا مستکره دي ځکه د ا راځی دپاره داحاطی دافرادو او تعریف دماهیت په افرادو سره نه کیږي بلکه دماهیت په ماهیت سره کیږي ، (ځکه دافرادو تعریف دچند خانو تول دي چی یو تلی بل به ترینه پري وځی .)

والحد مدخول کل: جواب تعریف دلته دمدخول دکل نه شروع شوي نو لهذا په تعریف کښی دا داخل نشو او دویمه وجه داده چی یو اصطلاح دمنطقیانو ده او هغه دلته نده مراد او بله اصطلاح داهل عربیه ده او نحات یعنی اهل عربیه کل دا راوړي په تعریفاتو کښی دپاره دجامعیت او مانعیت ځکه کل چی کله داخل شی په تعریف نو دمحدود په ټولو افرادو حد صادق شی نو مانع وګرځی په دي صورت کښی او محدود منحصر شی په خپلو افرادو کښی، یعنی دتعریف په افرادو کښی نو جامع وګرځی خپلو افرادو لره،

د نعت بیان

نعت ئی مقدم کړو په نورو توابعو باندي ځکه چی دا په متابعت کښی دماقبل سره اؤفر وی (یعنی مکمل) وی او دویم دا چی دا اکثر استعمالاً دي. **جنس**: دي سره فوائد دقیودو ذکر کوی **ای یدل بهیاة**: بیان دمتن کوی، **ای دلالة مطلقة**: معنی دمطلق ، دویم فائده ددي قید ، اول غرض: دا نعت به دلالت کوی په هغه معنی چی په متبوع کښی وی غیر مقیده په یوي خاصی مادي پوري دموادو نه . **احتراز عن سائر التوابع**: فائده دمطلقا قید. پدي مطلقا قید سره دنورو توابعو نه احتراز راغی ځکه نور توابع په یوه خاصه معنی باندي دلالت کوی بغیر دمتبوع نه او نعت سره دومتبوع نه چی دا دواړه مرکب واخلی په یوه معنی باندي دلالت کوی نه دا چی تابع چی دا نعت دي په یوه خاصه معنی ځانته دلالت کوی.

ای فائده النعت: دي سره بیان ضمیر کوی، **اذ الوحدة تفهیم**: تطبیق دمثال دممثل سره کوی، دویم توطیه او تمهید، اول غرض تطبیق ، په نفخة واحده کښیواحده دپاره دتاکید دي ځکه وحدت دا دنفخة دتاء نه معلومیده نو واحده سره پکښی تاکید راغلو. **ولما کان غالب مواد الصفة**: دي سره توطیه او تمهید دپاره دو لا

فصل متن ته ذکر کوی، **ای لافرق**: دي سره معنی د لافصل ذکر کوی، **فی صحة وقوعه**: دفع اعتراض : هغه دا چی هلکه فرق خو په مابین دنعت مشتقه او جامده کښی شته یو مشتق دي او بل جامد؟ **جواب**: په اعتبار د ذات سره خو پکښی فرق شته خو په اعتبار دصحت دوقوع دنعتیت کښی پکښی فرق نشته. دواړه نعت واقع کیدي شی.
اذا کان وضعه: ای وضع غیر المشتق: دي سره بیان دضمیر کوی دوضعه ای لغرض الدلالة دي سره شارح اشاره کوی چی مراد دمعنی نه خاص معنی مراد ده او غرض ئی پکښی دفع داعتراض ده او هغه دا چی هلکه دي قید ته چی لغرض المعنی هیڅ ضرورت نشته ځکه چی لفظ موضوعه شو نو هغه خو په یوه معنی دلالت کوی؟ **جواب**: مراد دمعنی نه هغه خاصه معنی ده کومه چی په متبوع کښی ده، **ای فی جمیع الاستعمالات**: دي سره معنی دعموماً ذکر کوی، **فان التمیمی**: دي سره تطبیق دمثال دممثل سره بیانوی ای فی بعض الاستعمالات ، معنی دخصوصاً دویم فرق اول غرض دا چی دلالت به کوی په بعض موضعو کښی په حصول دمعنی باندي په یو ذات کښی او دویم غرض فرق، په دغه کښی چی په بعض مواضعو کښی په حصول دمعنی باندي دلالت کوی په یو ذات کښی نو نعت به واقع کیداي شی او که نه ئی کولو نو نشی واقع کیداي، ای کامل فی الرجولیة: دي سره تطبیق دمثال دممثل سره کوی. **فان هذا**: تطبیق دمثال دممثل سره، دویم اختلاف بیانول دي، دریم وذهب بعضهم ، دي سره اختلاف ذکر کوی بعض وائی چی دلته الرجل دا بدل دي او هذا دا مبدل منه دي، او بعض وائی چی هذا مبهم دي او الرجل دا ورلره عطف بیان دي، **ای بزید**: دي سرتطبیق دمثال دممثل سره کوی، **لان الدلالة**: دلیل ، دویم فایده دجملی خبریه ، اول غرض بړ جمله دا نعت ځکه واقع کیدای شی لکه څرنګه چی مفرد دلالت کوی په دغه معنی وانما قید الجمله الخبریه : دي سره فائده د جملۀ په خبر قید سره ذکر کوی ځکه انشائیه دا صفت دنکري نه واقع کیږي مګر په تاویل بعیده سره. **ویلزم للربط**: دلیل ، دویم توضیح بالمثال ، اول غرض : دلیل، په جمله کښی عاید ځکه ضروري دي چی ماقبل سره دجملی ربط نه وی مستقله وی نو په دغه ضمیر سره به ئی ربط راشی، او دویم غرض توضیح بالمثال لکه جاءنی رجل ابوه قایم. **ای بحال**: دي سره معنی

دتوصیف ، دویم توضیح بالمثال ، اول غرض معنی دیوصف بحال الموصوف داده چی دا موصوف پداسي حال موصوف وي چی قائم وي پدي موصوف پوري دویم غرض ، لکه مررت برجل حسن .

ای متعلق الموصوف: دي سره معنی دمتن ذکر کوی چی دي موصوف لره صفت اعتباري وی چی حاصل دي ده ته په سبب دمتعلق سره، اذ کون الرجل : تطبیق دمثال دمشل سره کوی، **الا اذا کان صفة** : دي سره تتمیم دمافات دماتن کوی هغه دا چی دصفت بحاله مطابقت دخپل موصوف سره ضروري ندي چی کله دا صفت داسي صفت وی چی مذکر او مونث پکښی برابر وی لکه فعول په معنی دفاعل سره لکه رجل صبور او امراة صبور ، یا فعیل په معنی دمفعول سره لکه رجل جریح او امراة جریح . او یا صفت دمونث وي خواطلاق ئی په مذکر هم کیږي لکه علامة **وهی الرفع:** دي سره بیان دخمسة اول کوی‌و وهی ایضاً دي سره بیان دخمسة باقی کوی **یعنی ینظر الی فاعله:** معنی دمتن، دویم توضیح باالامثلة ، دریم اعتراض، څلورم جواب اول غرض معنی دمتن داده چی دصفت فاعل ته به کتلي شی که فاعل اسم ظاهر وو برابره خبره ده چی افراد او تثنیه او جمع وی نو صفت به پشان دفعل واحد راوړي شی او که فاعل دصفت مذکر وی یا مونث حقیقی وي بلا فصله نو صفت به دفاعل سره وجوباً مطابق راوړي هم په اعراب او هم په تذکیر او تانیث او افراد او تثنیه او جمع کښی، او که فاعل مونث غیر حقیقی وو یا حقیقی وو خوسره دفاصل نه وو نو بیا جواز دي په تذکیر او تانیث کښی، **تقول مررت برجل:** ددي ځای نه توضیح باالامثله ذکر کوی، **فان قلت:** بیان داعتراض هغه دا لکه څرنګه وصف بحال متعلقه دا په خمسه باقیه کښی پشان دفعل دي دا رنګی وصف بحاله هم په خمسه باقیه کښی پشان دفعل دي ځکه فاعل دوصف دا پشان دضمیر مستکنه دي په فعل کښی چی راجع وی موصوف دفعل ته او دفعل اسناد چی ضمیر ته وشی نو په افراد تثنیه او جمع او تذکیر او تانیث کښی دفاعل سره برابر وی نو دغه رنګی وصف بحاله د ددغه ضمیر سره برابر شی او پشان ددغه فعل دي شی .

قلنا المقصود الاصلی: جواب : مقصود اصلی په دي مقام کښی هغه بیان دنسبت دوصفی نو دي موصوف ته په اعتبار دتبعی او عدم تبعی سره نو اول دا تابع دي

دموصوف سره په امور عشره ؤ کښې او دي دپاره قاعده وه اګرچې مشابه دي دفعل سره په خمسه باقيه کښې خو دغه مشابهت دي وصف لره دمتابعت نه نه وباسي او هر چې وصف بحال متعلقه دي نو ددي دپاره خمسه باقيه کښې دمتابعت لپاره څه قاعده نه وه نو موښ حکم وکړو په عدم تبعيت سره او دا مو وويل چې دا به پشان دفعل وي، **من ثم**: بيان دمشاراليه کوی شارح ددينه وروسته **لانه بمنزلة**: دي سره دليل ذکر کوی چې قام رجل قاعدون غلمانه ولې ضعيف دي. **ويجوز من غير حسن ولا ضعف قعودٌ غلمانه وان كان قعود**: دي سره دليلين ذکر کوي ددي لپاره چې پديکښې نه حسن شته او نه ضعف: **والمضمر لا يوصف لان ضمير المتكلم**: دليل، دويم دفع اعتراض، اعتراض دادي چې دضمير صفت نشي راتلی ځکه چش صفت راځي دپاره دوضاحت نو صفت موضحه دي نه وي بلکه صفت ذامه او مادحه دي وی جواب وصف موضحه په دي باندي وصف ذامه او مادحه دواړه حمل دي. **ولا يوصف به لانه ليس في المضمر معنى الوصفية**: دليل، دويم تعدد دنسخو، دريم دفع اعتراض، ولهذا اعتذر الشارح رضی. دفع اعتراض هغه داده چې په دوهم غرض چې تعدد دنسخو دي کښې ويل كانه لم يوقع في بعض النسخ نوشارح رضی خو ددي لپاره عذر بيان کړي نو دده عذر خو بيان صحيح نشو عذر شارح رضی داسي کړی چې مصنف دا خبره ذکر نه کړه چې لا يوصف باالضمير وائی ځکه چې دا خبره دماتن ددي قول نه معلوميدله چې والموصوف اخص او مساوٍ له نو بهر حال دشارح رضی عذر صحيح نشو ځکه ماتن خو ذکر کړي چې. **ولا يوصف به**: جواب دا عذر د شارح رضی بناء دي په هغه نسخه چې دا پکښې نشته، **والمنقول عن سيبويه**: دفع داعتراض درجه بندي دمعارفو ذکر کوی، **فلو وقع اخص نعتاً**: دفع داعتراض، اعتراض دادی چې که موصوف اللام وی او صفت ورلره اسم اشاره راشي نو دا به خرنګه وی؟ **جواب**: که چيرته واقع شی اخص نعت لپاره دغير اخص نو دا به محمول وی په بدل باندي موصوف به نه وی. **اى باب اسم الاشارة**: دفع داعتراض، اعتراض دادي چې تاوويل چې موصوف به اخص وی نو پکار داده چې داسم اشاره دپاره ذي اللام صفت راوړلی شی دغه شان موصول دي هم ورلره صفت راوړلی شی او مضاف الى احدهما دي هم ورلره صفت راوړلی شی او سره ددينه چې تاسو وائی

چی وانما التزم وصف باب هذا بذي اللام مثل مررت بهذا الرجل **للابهام**: دي سره جواب ذکر کوی.

د عطف بیان

یعنی المعطوف بالحرف . عطف په لغت کښی امالی ته وائی یعنی میلان دیو شی بل شی ته او دلته هم میلان او راوړل دمابعد دي ماقبل ته په حکم کښی چی دا ما بعد د ماقبل سره پدي حکم کښی شامل دي لکه جاءنی زیدٌ وعمرٌ دلته زید او عمر دواړه په حکم دمجیئت کښی سره یو دي دلته ماتن دعطف معنی لغوی نه ذکر کوی چی ددي تعریف کوی بلکه دمعطوف بالحرف تعریف کوی. **تابع مقصود ای قصد**: دي سره معنی دمقصود ذکر کوی یعنی قصد دنسبت ددي تابع یو شی ته یا نسبت دیو شی دي تابع ته. **بالنسبة الواقعة فی الکلام**: په الواقعة قید ذکر کولو سره شارح اشاره کوی دي خبري ته چی په بالنسبة کښی الف لام عهد خارجی دي مراد پدي سره هغه نسبت دي چی واقع وی په کلام کښی . **فقوله بالنسبة**: دي سره شارح دبالنسبة متعلق ذکر کوی چی بالنسبة جار مجرور متعلق دي په قصد پوري چی کوم فهم کیږي د المقصود نه. **مع متبوعه ای کما یکون**: معنی دمع متبوعه ، دویم توضیح بالمثال، دریم فواید دقیودو، څلورم اعتراض، پنځم جواب شپږم توطیه او تمهید دمتن آتی دپاره، اول غرض : دمتبوعه داده لکه چی څرنګه چی دا مقصود وی په دغه نسبت سره چی کوم نسبت واقع دي پدي کلام کښی دغه شان متبوع ددي تابع هم مقصود دي پدي نسبت سره، لکه جاءنی زیدٌ وعمرٌ. **فقوله مقصود بالنسبة**: دي سره دریم غرض فواید دقیودو ذکر کوی : **قیل**: اعتراض دادي چی تعریف بالحرف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه هغه معطوف چی په، لا، بل، لکن، ام، اما ، او ، او په ای سره وی ځکه خارج شو چی په معطوف بالحرف کښی نسبت واقع وی په دغه کلام کښی او کوم عطف چی په دغه حروف ستة سره وی نو هلته خو مقصود په نسبت سره احد الامرین من التابع او المتبوع وی. **واجیب**: جواب دادي چی مراد دي سره چی مونږه وایو چی دا متبوع به مقصود بالنسبة وی دادي چی نه به وی ذکر دا مبتوع توطیه او تمهید لپاره ددغه ذکرشوی تابع، او چی مونږه دا وایو چی دا تابع به مقصودوی پدي نسبت

سره هغه دا چې نه به وی دا تابع پشان دفرع په متبوع باندي بغير د استقلال دتابع نه يعنی چې تابع مستقل ندي بلکه دا تابع به مستقل وی شك نشته پدي خبره کښې چې معطوف عليه پدي حروفو سره چې کوم دا مخکښی شپږ حروف دي دا دواړه مقصود وی په نسبت سره يو ځای په همدي معنی سره يعنی پدي حروفو سره چې کوم معطوف او معطوف عليه راځی هلته دغه دواړه معانی شته دي نو صحيح شو هغه دواړه معانی نو خارج نشو بلکه متبوع او تابع دواړه مقصود شول

ولما تم الحد: دي سره توطيه او تمهيد ذکر کوی دمتن اتی لپاره، **ولم يكتف:** بيان داعتراض، دويم جواب ،دريم تائيد دخپل ځان دپاره ذکر کوی، څلورم قول آخر، اول غرض : اعتراض دادی چې بناء دمتونو په اختصار سره وی داسي تعريف به دي کړی وي چې العطف تابع يتوسط بينه وبين متبوعه احد الحروف العشرة نو ديته به ضرورت نه وو چې مقصود بالنسبة او تعريف به هم پوره شوي وو . **لان الحروف:** جواب داسي ئی ونه ويل ځکه کله دموصوف او صفت ترمينځ هم دا حروف عشرة راځی نو بيا به په موصوف او صفت باندي تعريف دتابع معطوف بالحرف صادق شوي وي نو تعريف به مانع نه وو دخول دغير نه داخل شوي به وو پکښی موصوف او صفت ځکه چې ددوي په مينځ کښی هم دا حروف عشرة راځی کا الشاعر والدبيرلها جهتان الخ. د ي سره به فرق په مابين دعطف او صفت کښی هم ذکر کړي **وقيل قد جوز الزمخشري:** دي سره تائيدو دخپل ځان دپاره ذکر کوی، **وقال بعضهم:** دي سره قول اخر ذکر کوی، **وذلك لان المتصل المرفوع:** دليل ، دويم فائده دمتصل ، دريم فايده دمرفوع **فان الضمير:** سره دويم غرض ذکر کوی او وکذا ان کان متصلاً منصوباً سره دريم غرض ذکر کوی **بين الضمير المرفوع المنفصل:** دي سره معنی دمتن ذکر کوی، **ای ترك التاكيد:** بيان دمرجع دضمير دترکه ذکر کوی، سواء سره قسمين دفصل ذکر کوی، **بعده:** مثال د دوهم قسم دفصل دپاره، دويم **وانما قال يجوز تركه:** سره بيان دئيوي فائدي ذکر کوی، دريم **واعلم:** دي سره بيان ديوي بلی فايدي هم کوی نو ګويا دا بله فايده هم شته او بيان هم شته او بيان ديو قسمه اختلاف هم پکښی شته دي. **واذا عطف على الضمير المجرور اعيد الخافض حرفاً كان او اسماً:** تعميم، دويم دليل، دريم دفع داعتراض ،

ځلورم دفع اعتراض، پنځم دفع اعتراض، اول غرض دادي چې دا جز علم وی او که حرف وی او که اسم وي. **لان اتصال الضیر المجرور**: دي سره دليل ذکر کوی، **ولیس للمجرور ضمیر منفصل**: دفع داعتراض هغه دا چې کله عطف کوی په ضمیر مرفوع متصل باندي نو دا به موکده وی په ضمیر منفصل سره اولاً او بيا به پري عطف کوی نو دلته هم چې کله عطف کوی په ضمیر مجرور متصل باندي پکار دي چې تاکید ئی وکړي په ضمیر مجرور منفصل سره اولاً او بيا به پري عطف وکړي داسي ولي نه کوی ؟ **جواب**: دادي چي ضمیر مجرور منفصل خو راځی نه نو څنګه به پري دضمیر مجرور منفصل تاکید وکړي. **وفی استعاره المرفوع**: دفع داعتراض، اعتراض داده چې صحیح ده چې ضمیر مجرور منفصل نه راځی لیکن استعاره به وکړو دضمیر مرفوع منفصل لپاره دتاکید دضمیر متصل، ؟ **جواب**: تاکید دضمیر مجرور متصل ضمیر مرفوع منفصل کښې او چت والی دي او چې مونږه ئی استعمال کړو په ضمیر مجرور متصل خو ښکته وی، او بله وجه داده که مونږه داسي کار وکړو نو بيا به التباس راشي هغه داسي چې آيا دا ضمیر مرفوع منفصله تاکید لپاره دي او که دمخکښې فعل لپاره فاعل دي. **ولا یکتفی بالفصل**: اعتراض دا ده چې مخکښې دي وویل چې الاان يقع فصل يعني چې عطف په ضمیر مرفوع متصل باندي کوی نو اولاً به دضمیر مرفوع متصل تاکید وکړي په ضمیر مرفوع منفصل سره او بيا به پري عطف وکړي خو که چیرته فصل واقع شی په مابين دضمیر مرفوع متصل کښې او په مابين دهغه څه کښې چې هغه پدي باندي عطف کیږي نو فیجوز ترکه يعني بيا جائز دي ترك دتاکید چې دضمیر مرفوع متصل تاکید په ضمیر مجرور متصل کوی نو ووايه چې الاان يقع فصلٌ؟ **جواب**: په ضمیر مرفوع متصل کښې چې کله فصل راشي په ترك دضمیر مرفوع منفصل سره نو دلته خو دسره تاکید راتلی نشی نو اختصار به څرنګه وکړو په ترك دتاکید **فالمعطوف هو المجرور**: تطبيق دمثال دممثل سره کوی، دویم بیان دعامل، دريم بيان داختلاف، ځلورم اعتراض، پنځم جواب: **والعامل مکرر**: دي سره بيان دعامل ذکر کوی. **وقیل جره بالثانی**: دي سره اختلاف ذکر کوی په يو ولسمه حاشيه کښې سرخه شته بيا لږ شاته هغی ته هم توجه وکړه چې کوفيان کوم قول دځپل قول

ددليل لپاره راوړی دهغی نه په همدي حاشيه كښی څلور جوابه دي خو پدي جوابونو كښی څلورم جواب هسي يوه خبره ده بلكه څلورم ښه دليل دادي چی تسالون به والارحام كښی دا ارحام منصوب دي مجرور ندي ځكه دا مفعول به ده دپاره دفعل مقدر چی ان تقع الارحام.

فان قيل: اعتراض داده چی تاكيد او بدل او عطف ددوي په مينځ كښی خو فرق نشته دي او سره ددينه چی ته دا خبره كوی كله په ضمير مرفوع متصل باندي عطف كوی نو لم يجز العطف الابعد التاكيد بالضمير المرفوع المنفصل او چی كله عطف كوی په ضمير مجرور متصل باندي نو اعيد الخافض يعنی دا حرف جر به معطوف كښی هم راوړي چی مجرور شی نو څرنګه دا خبره دلته په عطف كښی كوی او په تاكيد او بدل كښی ئی نه كوی او سره ددينه چی ددوي په مينځ كښی فرق نشته دي. **قلنا**: دي اعتراض نه دشارح تفصيلی جواب ذكر كوی هغه دا چی ګوره وروسته په شرحه كښی په جواب كښی يو سخت لفظ دي چی طرفه الاتصال يعنی خالص اتصال معنی ئی ده، **بشرط ان لا يكون**: دي سره بيان ديو قيد كوی او وروسته اذ ما قلنا او انما قلنا سره بيان دفوايدو دقيودو كوی. **واما نحو رب شاة وسخلتها**: دفع اعتراض دادی چی وسخلتها عطف دي په شاة باندي نو دلته خو معطوف په حكم دمعطوف عليه كښی ندي ځكه چی معطوف عليه چی شاة دي نكره ده او رب پري داخل شوي دي ځكه دا درب تقاضا ده او په معطوف كښی چی يو وسخلتها دي د رب دخول نه صحيح كيږي ځكه دلته دسخلتها اضافت ضمی ته شوي دي پدي سره معرفه ګرځيدلی ده او رب خو په نكري داخليږي ؟ **جواب**: دلته دوه جوابونه دي اول دادي چی دلته اضافت دسخله ضمير ته عهد ذهنی دي او دغه شان اضافت دا په قوت دتكري كښی وي مدخول درب نكره شوه، دوهم جواب دادي چی په اضافت كښی دغه ها ضمير نكره ده لكه په دي قول دعربی كښی چی ربه رجلاً دلته ۀ ضمير ده ځكه رب په معرفه نه داخليږي نو چی په سخلتها كښی ضمير نكره شو نو سخله په اضافت سره نكره ونه ګرځيده نو تقدير داسي شو چی رب شاة وسخله شاة **اذ لو نصب**: دي سره دليل ذكر كوی. **ولما كان لقائل ان يقول**: دي سره توطيه او تمهيد ذكر كوی دپاره دما سبق چی دا قاعده دي

منقوضه شوه پدي قول سره چی الذی یطیر فیغضب زید الذباب دلته الذی موصول یطیر فعل ضمیر مستتر پکښې فاعل دي او راجع دي موصول ته موصول سره دصلې نه دا معطوف علیه شو او فیضغب زید دا معطوف دي بیا دامعطوف علیه سره دمعطوف نه دا مبتدا شوه او الذباب ورلره خبر دي مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه، قاعده دا وه چی والمعطوف فی حکم المعطوف علیه نو دلته راشه الذی یطیر دامعطوف علیه دي نو دلته خو یطیر کښې ضمیر شته دي چی راجع دي موصول ته نو معطوف څرنګه په حکم دمعطوف علیه کښې شو او سره ددینه چی دا ترکیب جایز دي پکار خو دا وه چی داترکیب دي جایز نشي نو مصنف جواب ورکړو چی دا ترکیب جایز دي ځکه لانها ای الفاء جوابین ذکر کوی اول جواب دادي چی دا فاء دپاره دعطف نده بلکه لپاره دسبب ده نو اعتراض پرې وارد شو چی فاء خو مونږه دسبب لپاره نده اوریدلی نو ته څرنګه وائی چی فاء سببیه ده؟ **جواب:** فاء دپاره دسببیت دا معنی چی دهغه فاء لپاره نسبت وی سببیت ته یعنې چی معنی ددي فاء سببیت وی نه دعطف لپاره نو وراد نشو نقض پدي قاعده باندي چی والمعطوف فی حکم المعطوف علیه ځکه فاء عاطفه نده او یا فاء لپار دعطف ده خو خالص دپاره دعطف ده خو خالص دپاره دعطف نده بلکه معنی دسببیت پکښې پرته ده نو بیا هم پدي قاعدي څه نقض نه راځی ځکه چی پدي صورت ثانی کښې دا نسبت ګرځی جملتین لره پشان ته دجملې واحدي نو په اوله جمله کښې چی معطوف علیه یطیر دي دیکښې ضمیر دیا چی ربط شته نو په همدي اکتفاء وکړي شوه اګر که په معطوف فیغضب کښې ضمیر نشته دي بس دا پشان دجملې واحدي شو **ویمکن:** دي سره جواب ثانی ذکر کوی هغه دا چی ممکنه ده چی پدي معطوف کښې ضمیر مقدر کړي نو تقدیر به بیا داسي چی الذی یطیر فیغضب زید بطیرانه الذباب نو صحیح شو معطوف په حکم دمعطوف علیه کښې شو ځکه دواړو کښې ضمیر شته دي او راجع دي الذی موصول ته نو ضمیر عام شو که ښکاره وي او که پټ دلته معطوف کښې پټ دي

واذا عطف ای اذا وقع العطف: دفع اعتراض دادي چی اذا عطف دا مجهوله صیغه ده معنی دا چی کله عطف وکړي شو نو بیا وروسته څرنګه ماتن وائی چی لم یجز

يعني چې کله عطف وکړي شی په معمولينو دعاملينو مختلفينو باندي نو دا جائز ندي نو لم يجز صحيح نشو. **جواب:** واذا عطف دلته اسناد دفعل شوي مصدر ته اصل کښې دي اذا اوقع العطف ... نو لم يجز صحيح شو، بناء علی وجود عاملين شارح قيد دوجود راووېستلو اشاره کوی متعلق دعلی عاملين ته. **بان عطف اسمان:** معنی دمتن، دويم جواب ثاني، دريم جواب ثالث څلورم فوائد دقيودو وقال بعض شارحی اللباب، دي سره جواب ثاني ذکر کوی بعض شارحينو دلباب نه، واکثر الشارحين. دي سره جواب ثالث ذکر کوی **وانما قال:** دي سره فوايد دقيودو ذکر کوی، **ای غير متحدين:** معنی دمختلفين، غرض ددي مختلفين قيد، دريم مثال، څلورم دفع اعتراض، **وذالک لدفع وهم:** دي سره غرض دمختلفين قيد ذکر کوی، **وذالک العطف:** دي سره مثال ذکر کوی فهذا وان کان، څلورم دفع داعتراض داده چې دا خو جايز شو دا نه ګوري چې راغلی دي نوځنګه وائی چې لم يجز ؟ **جواب:** دا اګرکه په اعتبار دظاهر سره جايز دي ليکن ندي په نزد د جمهورو په اعتبار دحقيقت سره لان الحرف الواحد سره دليل ذکر کوی چې څرنګه جايز ندي په اعتبار دحقيقت سره، **خلافا للفراء فانه يجوز:** مذهب دده په وعدم جواز العطف سره توطيه او تمهيد ذکر کوی دمتن اتی دپاره **يعنی الافی صورة تقديم المجرور:** قاعده کليه ذکر کوی، دويم لمجيئة الخ ... سره دليل ذکر کوی خلافا لسيبويه مذهب دده تاويل دده ذکر کوی ای حاله شانه عند السامع معنی د امر ذکر کوی چې کوم امر ذکر شوي په التاکيدتابع يقر امر المتبوع کښې راغلی دي چې امر دمتبوع ثابتوی هلکه متبوع خه امر کړي دي چې دا تاکيد ئې ثابتوی ورلره، ای فی کونه منسوبا او منسوب اليه. معنی د فی النسبة ذکر کوی، فايده دتاکيد ذکر کوی په **وذالکاما لدفع ضررالغفلة:** توضيح بالمثال،

د تاکيد بيان

اوفی الشمول ای التاکيد: اشاره کوی قاعدي دعطف ته، معنی دشمول ذکر کوی، **واذا عرفت سره فوايد:** دي سره قيودو ذکر کوی، دفع اعتراض، **وافادتها توضيح متبوعها:** دفع اعتراض داده چې تاويل چې تاکيد ديته وائی چې تابع يقرر امر المتبوع نو صفت خو هم بعضی ځائی کښې يقرر امر المتبوع وی چې هغه توضيح دمتبوع

- راولی نو بیا دیته هم تاکید ووایه، ؟ **جواب:** تاکید چی تقریر دامر دمتبوع راولی دا بالوضع دي یعنی دا تاکید ددي لپاره وضع شوي دي چی یقر امر المتبوع او پاتی شو هغه وضاحت دموصوف دمتبوع راولی خو بالوضع نه ځکه صفت وضع شوي وي دپاره د دلالت په هغه معنی چی کومه په متبوع کښی وي اصل معنی دموصوف وي **ای منسوب الی اللفظ:** دي سره وجه تسمیه ذکر کوی چی تاکید لفظی ته تاکید لفظی ولی وائی نو ځکه چی دا منسوب دي لفظ ته دوجی دحصول ددي تاکید لفظی نه دتکریر دلفظ نه دغه شان په تاکید معنوی کښی هم ځان پوه کړه. **ویجوزای التکریر مطلقاً:** دفع اعتراض داده چی یجري کښی ضمیر راجع دي تاکید ته نو معنی داسي شوه چی تاکید لفظی په ټولو الفاظو کښی جاري کیږي او سره ددینه چی دلته کښی تاکید لفظی صرف په اسما کښی راځی نه په حروفو او فعل کښی ځکه دا خو بحث ذاسم دي؟ **جواب:** په یجري کښی ضمیر راجع دي او مطلق تکرار ته نه هغه تکریر ته چی هغه تاکید اصطلاحی دي او مطلق تکریر بیا عام دي. هغه معطوف چی په بل سره وی دلته خو مقصود تابع دي لکه ما جاءنی زید بل عمرو؟ **جواب:** دا منم چی معطوف کښی مقصود متبوع نه وی بلکه ابتداً مقصود دمتکلم متبوع وی خو لیکن وروسته ورته دا ښکاره شوه چی عدم مجیئت دا خو زید ته ندي ثابت بلکه عمرو ته ثابت دي نو دمتبوع نه ئی اعراض وکړو او قصد دعدم مجیئت ئی عمرو لره وکړو چی زه خطاء شوي یم نو مقصود دواړه شو نو بدل په تعریف کښی داخل نشو معطوف ببل. **فان قیل:** دي سره بیان داعتراض کوی لیکلو ئی ضرورت نشته دي بلکه کتاب کښی ښه واضحه ذکر کوئ، ؟ **قلنا:** دي سره مکمل وضاحت سره جواب لیکلی دي، **ویمکن ان یقصد بنسبة الی شئی:** دي سره دهمدغه فان قیل اعتراض نه جواب اخر ذکر کوی چی هغه دادي ممکنه ده چی نسبت ددي فعل وشی متبوع ته نفیا او تابع ته اثباتاً او دا متبوع به هسي توطیه او تمهید شی لپاره دتابع نو دغه اعتراض وارد شو.

خو لیکن دا جواب ضعیف دي ځکه دا به شامل شی هغه بدل لره چی په الا حرف استثناء سره راغلی وي لکه ما جاءنی زیدٌ الا عمروٌ خو لیکن کوم ځائی کښی چی بدل راغلی وی او په الاسره نه وی نو بیا ورته دا خبره نه شاملیږي لکه ماجاءنی زید

اخوك نو دلته خو دمجيئت نسبت زيد ته هم نفياً دي چې متبوع دي او اخوك بدل ته هم نفيا دي نه اثباتاً ،

د بدل اقسام

وهواى البدل أنواع اربعة: اوس اقسام دبدل ذكر كوي چې بدل په څلور قسمه دي بدل الكل اى بدل الخ . پدي سره وجهٔ تسميه ذكر كوي چې ولې ورته بدل كل وائي **فا الاول:** دي سره تعريف دهر يو ذكر كوي، يعنې متحدان ذاتاً : معنی دمتن دويم دفع دتوهم، دريم اختلاف، اول غرض. فا الاول اى بدل الكل مدلول الاول ددي معنى داده چې په بدل الكل كښې به مبدل منه او بدل متحد وي ذاتاً يعنې په خارج كښې به ما صدق عليه د دواړو يو وي، لان يتحد مفهوما هما : دي سره دفع دتوهم كوي هغه توهم دادي چې چا ويلې چې مفهوم د دواړو به يو وي نو شارح ورته وائي چې نه په بدل الكل كښې به مفهوم د دواړو يو نه وي مفهوم به ئې جدا جدا وي ځكه كه ددواړو مفهوم يو شي نو بيا خو مترادفين شو نو خلاصه داشوه چې مفهوم به ددواړو جدا جدا وي خو ليكن متحد به وي ذاتاً لكه جاءني زيد اخوك نو دلته زيد او اخ اگر كه مختلف دي مفهوماً خو ليكن دواړه متحد باالذات دي.

قال الشارح الرضي: دي سره اختلاف ذكر كوي مكمل په كتاب كښې شته دي **والثانى اى بدل البعض جزؤه اى جزء المبدل منه** ، تعين دضمير كوي چې جزؤه كښې ضمير راجع دي مبدل منه ته، دويم توضيح بالمثال، لكه ضربت زيدا راسه، والثالث اي بدل الاشتمال ، دي سره ئې بيان دثالث وكړو چې هغه بدل الاشتمال دي: **بحيث توجب النسبه:** معنى دملابست، دويم توضيح بالمثال، دريم بيان دفرق، اول او دويم غرض كتاب كښې شته بخلاف زيدا حماره ، دي سره بيان دفرق كوي په مابين دبدل الاشتمال او بدل الغلط كښې، بغيرها اي تكون تلك النسبة دي سره بيان دهما دضمير كوي، دويم بيان دقسم اخر كوي، دريم دفع اعتراض اول غرض دا چې وي به دا نسبت بغير دكليت او جزئيت نه ، **فيدخل فيه:** دي سره بيان دقسم اخر كوي هغه دا چې داخل شو په بدل الاشتمال كښې هغه مبدل منه چې جزء وي دملابست سره چې كوم ملابست په بدل الاشتمال كښې دي لكه نظرت الى القمر فلكه. **وانما لم يجعل:** دي سره دفع اعتراض

هغه داده چی ماتن دغه بدل الکل من البعض قسم اخر یعنی پنځم قسم ولی ونه ګرځولو دبدل نه او مسمي ئی نه کړو په بدل الکل من البعض سره؟ **جواب**: داسي ئی ونه کړل لقلته وندرته بل قیل لعدم وقوعه فی احکام العرب نو هلکه دا مثالونه ئی چی بدل الغلط ان تقصد. ای ان یکون بان تقصد ، اشاره کوی شارح دي خبري ته چی ان تقصد الخ .. دلته عبارت په حذف دجر سره دي **ای ان یکون بان تقصد لان المضمر المتکلم**، دلیل؛ دویم فائده ددي قید چی بدل الکل په بخلاف الخ ... سره عطف البیان ... یوضح متبوعه احترز فایده دقید دیوضح متبوعه او په کتاب کښی مذکور دي، دویم رد ذکر کوی په ولا یلزم من ذالك سره چا ویلی چی عطف بیان دا اوضح وی دمتبوع خپل نه شارح پري رد کوی چی دواړه برابر دي په وضاحت کښی او دا وضاحت به په ذکر کولو دیوه سره نه حاصلیږي بلکه په دواړو سره به حاصلیږي.

فان قوله بشر ان جعل عطف بیان الخ. تطبیق دمثال دممثل سره کوی ، دویم تتمیم دبیت کوی، دریم تشریح دمتن ، څلورم فرق معنوی، پنځم مراد دشعر واخره، دي سره تتمیم دبیت کوی وعلیه الطیر ثانی مفعولی دي سره شارح تشریح دمتن کوی واما الفرق المعنوی دي سره فرق معنوی ذکر کوی والمراد بمثل دي سره مراد دشعر ذکر کوی.

تمت بالخیر

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین

وصلی الله تبارک وتعالی علی خیر خلقه محمد وآله وصحبه اجمعین برحمتک یا ارحم الراحمین

کاتب حبیب الله درویش فاضل امداد العلوم بجامعه درویش پشاور صدر

۲۴ مئی ۲۰۱٤

جدید مکتبه رشیدیه سر پرست مولوی سید محمد پروانی



مکتبہ رشیدیہ
جی ٹی روڈ۔ اکوڑہ خٹک۔ نوشہرہ
0344-9084693

